

پښتانه قبيلی وپيژنئ

ډاکټر لطيف ياد

خېبر وېب پاڼه

www.khyber.org

د د ې کتاب برخې ړومبې وار د بېنوا وېب پاڼې (benawa.com) کښې ښکاره شوي دي۔

سرليکو نښې

1 ابدالیان 13
2 ابراهیم خیل 18
3 اپریدي (افریدي) 18
4 اتمانخیل 21
5 اتمانزي 24
6 اتوال 24
7 احمد زي 25
8 اخکزي 27
9 اد ریمزي (عبدالرحیمزي) 29
10 اد وزي 30
11 ادین خیل 30
12 اسماعیل خیل 30
13 اسحٰق زي 31

14 اکاخیل.....33
15 الیاس خیل.....34
16 امر خیل.....34
17 اوریا خیل.....35
18 الکوزي 36
19 علي زئي.....39
20 اند ړ.....41
21 اورکزي 43
22 اورمړ.....47
23 بابړ 49
24 بابي (بابیاني).....53
25 ږ یخ.....61
26 بنګښ.....70
27 بنوځی.....77
28 بېټنی.....83

29 بابکر خیل.....88
30 بختیار.....89
31 څمکني.....93
32 فر ملي.....96
33 پر به.....99
34 پر انګیان.....101
35 پښي.....102
36 پو پلزي.....105
37 تر کا نې (تر کلا نې).....108
38 تره خیل.....111
39 تر کی.....114
40 ترین.....118
41 تنې.....122
42 توخي.....126
43 توري.....132

44 جبار خېل.....134

45 جد ون.....138

46 جلال زي.....141

47 جلوانې.....142

48 جمريانې.....145

49 ځائي.....147

50 ځد ران.....150

51 څوليزي.....157

52 څينزي.....157

53 حسين خېل.....158

54 خښي، ښخي، خوخي، خانښي خېل، ښاخي خېل.....159

55 خاکواني.....162

56 خټک.....163

57 خدوزي.....170

58 خد وزي و خرڅين.....171

59 خروټي 172
60 خليل 180
61 خوږياني 183
62 خوندي 186
63 خيسوري 187
64 خپشکي 188
65 داؤد زي 193
66 داوي 196
67 د رمان 198
68 د ړې کوټي 199
69 د له زاک 200
70 د ستو خپل 204
71 د وتاني 205
72 د وړ 207
73 د ولت خپل 211

74 د ولت زي.....216
75 دينار خپل.....217
76 رتن زي.....218
77 رځې.....219
78 زاخپل.....219
79 زموخت، زمښت، زويمشت.....222
80 زيرک، ځيرک.....223
81 زېرماني.....225
82 زېراني.....225
83 سافي، ساپي.....227
84 سالار زي.....234
85 سهاک.....236
86 ستانکزي.....238
87 ستانيزي.....241
88 سبري.....242

89 ستورياني 243
90 سد وزي 245
91 سركاني 248
92 سروانې يا شېروانې 249
93 سرپيال 254
94 سړبني 256
95 سلطان خېل (غلځي) 258
96 سلطان خېل (نيازي) 259
97 سلېمان خېل 259
98 سنتيا 264
99 سنځر خېل 265
100 سوري 266
101 سادات يا سېدان 275
102 شلماني 287
103 شملزي 291

104 شيتک 293
105 شيرانې 294
106 شينواري 299
107 طوطا خېل 306
108 علي خېل 307
109 عمر خېل 309
110 عيسى خېل 310
111 غلجي يا غلزي يا غرزي 316
112 غرغښت 320
113 غرشين 321
114 غوريا خېل 324
115 کاسي 327
116 کاکازي 329
117 کاکړ 332
118 قلندر خېل 342

119 قوال خپل.....344

120 کړو خپل.....345

121 کرلانې.....349

سرلیک

ګرانو اوښاغلو لوستونکو! پوهیږم چې د پښتني قبیلو د نومونو سره به زمونږ ډیر ګران هیواد وال اشنا وي، په تیره بیا پښتانه چې په ځانګړي توګه هر یو تن یې د پښتنو په بیلا بیلو قبیلو، خیلونو، ښاخونو و ځانګو پورې اړه لري. البته د پښتنو په اړوند ډیر شمیر ختیځ پیژند ونکو اوپه تیره بیا انګریزي محققینو و څیړونکو ډیر پنډ پنډ کتابونه او ډیرې مقالې کښلي دي چې په هغو کې د پټان د کتاب د لیکوال سر اولف کیرو، د بلیو bellew د افغانستان توکمونه کتاب، د مونټ ستوارت الفنستن د کابل سلطنت بیان و په کلکته کې د بریتانیا دهغې ډکشنرۍ نومونه اخیستلای شو چې په ۱۹۱۰ میلادي کال کښې په انګریزي پوځي اډه کې چاپ شوې وه او The Dictionary of Pathan Tribes نومیږي. له بلې خوا په هند کې دانګریزي واکمنۍ د وخت یو شمیر مسلمانانو هم د پښتنو په باب غټ غټ کتابونه کښلي دي چې د ډېټي کمشنر محمد حیات خان حیات افغاني، د شیر محمد خان ګنډاپور تواریخ خورشید جهان و زردار خان ناغر صولت افغاني چې د پښتنې قبیلو په اړوند په زړه پوري معلومات پکې راټول شوي یاد ولای شو.

همداراز زمونږ دهیواد ګران افغانستان نامتو پوهانولکه اروابناد علامه عبدالحی حبیبي، اروابناداستاداحمد علي کهزاد، اروابناد علامه رشاد بابا، اروابناداستاد عبدالروف بینوا، اروابناد قیام الدین خاد م، اروابناداستاد صدیق الله رښتین، اروابناد حبیب الله تږی، استاد پوهاند کاکړ، ښاغلي استاد محمد ولي ځلمي، ښاغلي و قد رمن محقق قد رت الله حداد، ښاغلي پوهاند عبدالرسول امین، اروابناد حکیم تنیوال او اروابناد د وست شینواري د پښتنو د نسب او توکم په باب د قد روړ خد متونه کړي دي چې د ستاینې وړ دي. پر د ې سر بیره په پښتونخوا کې داروابناد قاضي عطاؤ الله خان، سید بهاد رشاه ظفر کاکا خیل او د سهیلي پښتونخوا د مشهور لیکوال پروفیسر ولې محمد خان سیال کاکړ نومونه یاد ولای شو چې د پښتنو پوره او بشپړه پیژند ګلوي یې راته کړې ده.

په ۱۳٦۷ لمریز کال کې چې ما د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څیړنو په نړیوال مرکز کې د علمي غړي په توګه د نده ترسره کوله نو د دغه مرکز له خوا د پښتني قبیلو په نامه پروژه راکړل شوه چې ما دغه د ري کلنه پروژه په ۱۳۷۰ کال کې بشپړه او د چاپ له پاره برابره کړه چې نومورۍ کتاب د

پښتني قبيلي په نامه په ۱۳۷۰ لمريز کال د کابل په پو هنې مطبعه کې د ٤٠٠٠ ټوکو په تيراژ چاپ شو، خو له بده مر غه د ۱۳۷۱ کال کې کله چې ټوپکمار د ځواک پر ګد ی کښيناستل نو مې وليد ل چې د کابل د ده افغانانو په يوه د وکان کې دهمد ې چاپ شوي کتاب نه د پوړيو کار اخيستل کېده، خدايږو ډير خواشينی شوم. په هماغه کال مې د رې نور کتابونه هم د حيات افغاني، خوشال خټک او داودي تاريخ په نامه په اريانا مطبعه کې چاپ شوي وو چې د د غو چاپ شوو کتابونو پته رانه ورکه شوه وروسته مې چې پته ولګوله نو ټوپکمارو د خپلو خوږو د پخولو له پاره دهمد ې کتابونو د سوځولو نه ګټه اخيسته، خو دوی د د ې نه څه خبر وو چې هره کرښه يې د زړه په وينو ليکل شوې وه او په شپو شپو به د پرښنا د نشتوالی له کبله به تر سهاره د خاورو د تيلو څراغ و ډيوې ته ناست وم. په ۱۳۷۱ کال مې چې حالات ناسم وليد ل او کور مې چور، تالا او وران شو نو دهيواده مهاجر شوم او داد ی دهغې مود ې تر اوسه لا هماغسي د خپل ګران هيواده ليرې پروت يم. خوله نيکه مرغه مې دغه ټول ياد شوي کتابونه د دانش د خپرينډ ويه ټولنې په مرسته له سره بيا چاپ کړل چې د لوې خدای په مرسته مې يو څه روحي ارامتيا تر لاسه کړه.

ګرانو ورونو د پښتنو دغه قبيلې چې انشاء الله د بينوا د ويب پاڼې په راتلونکو پاڼو کې به يې ولولئ دالفبا په ترتيب به د رته وړاندي شي د وې ګټې لري. له يوې خوا به د پښتنو د قبيلو له نومونو سره اشنا شو و له بلې خوا که چيرې ما د ځينو قبيلو د خيلونو، ښاخونو و څانګو د نومونو په برخه کې تير وتنې کړي وي، نو زما نيمګړی کار به بشپړ کړئ چې دا په خپل ذات کې د پښتنو د نسب د شجرو د بشپړولو په اړوند به ستاسو لوی خد مت وی.

قبائل

1 ابدالیان

ابدالیان چې په د رانیانو سره هم شهرت لري د افغانستان په تا ریخ کې یو نا متو ټبر د ی چې د نامه ریښه یې د ٤٠٠ میلادي شا او خوا کې سپین پوستي اریایې قبیلې ته چې اپتل Aptal یا هپتالي نو میږي رسیږي چې د غې قبیلې په با ختر او تخارستان کې یو غښتلی د ولت جوړ کړ او د برتانوي دایرتالمعارف Encyclopaedia Britannica په استناد مور خانو یې نوم ابد لوي هم راوړی د ی[1] ۰ چې په تا ریخو نوکې یې نوم په بیلا بیلو بڼو هپتل(اود ل)=ابد ل=یفتل او ابدال ضبط د ی ۰

دابدال په هکله زیات افسانوي روایتونه هم شته چې د لته به یې راوړل بیځا یه نه وي ۰روایتونه وایي چې داسلامي د وري په تا ریخ کې لو مړنی سړی چې د (ابدال=اود ل)په نامه یاد شوی د ی د پښتني قبیلو مشهور نیکه د ی چې د خپل نا متو کهو ل سره د سلیمان په غره کې او سیده ۰د ی د ترین زوی د شر خبون لمسی او د سړبن کړوسی د ی او د ده نو م په پښتو اد بیاتو او پخوانیو او زړو نسخو کې (اود ل) او د جمع منسوب په بڼه (اود لی=ابدالی) ضبط د ی چې د ٤٤٠ هجري یا ١٠٤٨ میلادي کلو نو په شا او خوا کې یې پښتانه قبایل پر ځان راټول کړي وو او د ده له تو کمه ملک سلیمان د عیسی زوی چې په زیرک سره مشهور و پښتني قبیلي د سلیمان له غره نه کندهارته بوتلې ا وهلته یې مېشته کړې او د خپل ژ وند په پای کې یې خپل زوی ملک بارک پر مشرۍ و ټاکه او تر بارک وروسته د زیرک بل زوی ملک پوپل د خپل نفوذ ساحه داوسني بلو چستان تر شال او ژوبه وغزوله او د ٦٥ کالو تر مشر تو ب وروسته د ٨٩ کلو نو په عمر ومړ ۰

داسې فو لکلوري روایتو نه هم شته چې په پیل کې ابدال بل نوم د ر لود، خو کله چې د خواجه احمدابدال چشتي حضور ته چې د خپل وخت مشهور پیر او ستانه و ورغی او دهغه خد مت ته یې ملا

---

1 عبدالرؤف بښوا، د افغانستان نو میالي، لو مړی ټوک، ٣١٠ مخ

وټله هغه ورته دابدال نوم او لقب ور کړ چې له هغې راهيسې په دغه نوم مشهور او اولاده يې دابدالیانو په نامه يادېږي او پښتا نه په خپلې ورځنۍ محاوره کې ابدال داود ل په نامه هم ياد وي [2] خو دا روايت ا فسانوي ار زښت لري ۰

داسې روايت هم شته هغه وخت چې دابدال د پلار تر ين د مړينې وخت را نيږد ې شو نو ويې غو ښتل چې د خپلود ريوزامنو يعنې ابدال، سپين او تور له جملې نه يو تن پر خپل ځای د مشرۍ له پاره و ټاکي چې د تور او سپين د خپګان سره سره يې ابدال د مشرۍ له پاره مناسب او وړ وباله ۰ پښتانه د تاريخ په رڼاکې اثر ليکلي دي چې ابدال يا اود ل د ٤٢٠ هجري کلو نو په شا او خوا کې ژوند کاوه ۰

ويل کيږي چې دابدال تر مړينې ور سته ر ځړ د خپلې کورنۍ مشر شواو ده د خپلو نورو زامنو د جملې نه خپل مشر زوی عيسی په خپل ځای وټاکه ۰د عيسی د زامنو نه سليمان تر ټو لو پوه او هوښيارو نو ځکه د ی په ځيرک يا زيرک مشهور شو چې تر اوسه هم پښتانه هو ښيار سړي ته ځيرک وايی، که څه هم عيسی د ميرک په نامه مشر زوی د رلود، خو سليمان يې دهو ښيارۍ په وجه په خپل ځای وټاکه ۰د زيرک په څلورو زامنو کې مشر بارک نوميده چې پلار يې د ی د کو رنۍ مشر ټا کلی و، خو تر څه مو د ې وروسته مشري د پوپل لا سته ورغله ۰ لوی ابدالي احمد شاه بابا چې د پو پلزيو د سد وزو په څانګې پوري يې اړه د ر لوده د ١٧٤٧ ميلادي نه تر ١٧٧٣ ميلادي پورې يې يوه لويه امپراتوري جوړه کړه چې به تا ريخ کې د د رانيانو دامپراتورۍ او يا د Durani Empire په نامه سره شهرت لري ۰

د رانيان چې د پښتنو د سړبني پښتنو په ټولنيزې ډلې يا ګروپ اړه لري په د وو سترو ښاخونو يعنې ځيرک او پنج پای باند ې ويشل شوي دي چې بارکزی، اچکزي، پو پلزي، الکوزي، محمد زي او سد وزي د زيرک څانګې دي او نورزي، سهاکزي، اليزي، اد وزي او ماکو د پنج پای څا نګې دي ۰دابدالیانو کو رنۍ د ١٧٤٧ميلادي نه تر ١٨١٨ ميلادي پورې پر افغانستان واکمني کړې چې بيا حکومت بارکزيو او دهغو يوې څا نګې محمد زيو په لاس کې وه۔ [3]

---

2 حيات افغاني، د ډېټې محمد حيات خان، پښتو ژباړه ١٤٢مخ، د دانش د خپر ند ويه ټو لنې چاپ، پيښور، ١٣٨٦ کال

1.1 د وداو د ستور

د د رانیو دهرې قبیلې په سرکې یومشر موجود د ی چې کله کله د د غې مشرۍ مو قف په یوې کو رنۍ کې موروثي پاتي کیږي خوکله کله په دغه برخه کې تغیر هم را تلای شي ۰ د د غې قبیلي د ښا خو نو خلک خپلو مشر انو ته پوره او بشپړ د رناوی لري او اکثره لانجې د جر ګو او مر کو له لاري چې د ټو لو پښتنو یو منل شوی د ود د ی اواروي ۰دوی اکثرا په جوماتونواوحجرو کې سره را ټو لیږي او د خپلو ستو نزو داوارولو په اړوند تصمیمونه پکې نیسي ۰د رانیان میلمه پال خلک دي ۰ ښا یسته ځیري، د نګ د نګ قد ونه، ګرد مخونه او پراخې ټنډې لري ۰

د رانیان اکثرا په کندهار، هیلمند، ارزګان، فراه، هرات، باد غیس، فاریاب، بلخ، کند ز اودهیواد په نورو مختلفو بر خو ا او هم په سهیلي پښتونخوا کې په کو یټه، شال، پشین، لور لایي، زیارت، ژوب او نورو ډیروسیمو کې استوګنه لري ۰دایران په ختیځو بر خو کې هم ډیر شمیر د رانیان چې په پخوا وختو نو کې هلته لیږ دید لي دي میشته دي.

1.2 په ملتان کې میشته ابدالیان

هغه ابدالي پښتانه چې د کندهار له شا او خوا نه یې مها جر تو نه کړي او په ملتان کې مېشته شوي دي په او سني وخت کې د ملتاني پټانانو یا افغا نا نو په نامه یادېږي ۰په دوی کې هم د نو رو افغانانو په څیر زي او خیلو نه شته ۰ په تا ریخ کې ملتان ته دابدالیانو تګ پوره معلوم نه د ی، خو د ځینو شو اهد و له مخې داسې اټکل کیدای شي چې دوی به ملتان ته دهند د مغولي واکمن عالمګیر اورنګ زیب او شا عالم د وا کمنیو په وختونوکې هلته تللي وي ۰داسي روایت هم په لاس کې لرو چې په ملتان کې دابدالیانو د ورتلو نه د مخه د ځمند د قبیلي خلک چې هغوی هم سړبني پښتانه دي میشته وو او کله چې دغه پښتانه ابدالیان ملتان ته وکو چید ل نو هلته په رنګپور ګهریان واله کې مېشته شول چې ډیر شمیرو یې د سو داګرۍ له لارې خپله ګوزاره تر سر ه کوله او دابدالیانو هر ښاخ چې په ملتان کې مېشته وو هر یوه یې ځان ته بیل بیل مشران د ر لود ل ۰کله چې دابدالیانو شمېر په ملتان کې زیات شو نو د

3 پښتانه د تاریخ په رڼاکې، سید بهاد رشاه ظفر کاکاخیل، ۱۹٦٥ د لاهور چاپ

دوی او ځمند پښتنو تر مینځ د کر نیزو مسالو په سر شخړې رامینځ ته شوې او په پای کې د دوی تر مینځ خو نړۍ جګړې وشوې چې په نتیجه کې د ځمند پر قبیلې بریالي او هغوی یې له هغې سیمې وشړل ۰همد راز په د غو جګړو کې د ځمند قبیلې ډیر خلک ووژل شول ۰کله چې د د غو پېښو خبر د ډیلي مغولي د ربار ته ورسید نو د ملتان نه یې دابدالیانو د وتلو فر مان ورکړ ۰هغه وخت چې ابدالیانو ته د د ې خبرې پته ولګیده نو خپل د رې تنه استازي یې د ډیلي مغو لي د ر بار ته واستول ۰ مغولي د ربار ته دابدالیانو د پلاوي په رسید و فر مان معطل شو، خو ابدالي مشران تر بل امره پورې بندیان شول ۰

کله چې په د کن کې مر هټه او نورو د مغولي د ربار پر خلاف په بغاوت لاس پورې کړ، نو د ربار له د غو بندیا نو نه غو ښتنه وکړه چې کیرې د د ې قبیلې خلک د دوی سره د مر هټه وو او نورو با غیانو پر خلاف ورسره مر سته وکړینو دوی به دغه مشران له بنده خو شې کړي ۰د غو مشرانو د خپلې قبیلې د جنګیالو سره د کن ته لاړل او ډېرې تو رې یې ووهلي ۰مغولي واکمن پرته له د ې چې دوی د ملتان نه ونه شړل، بلکې ډېر خلعتونه، منصبونه او جا ګیرونه یې هم دوی ته ورکړل چې تر اوسه پورې ځینې په ملتان کې مېشته او د ډېرو شتو او جا یداد ونو څښتنان دي ۰

د ملتان په ابدالي وا کمنانو کې نواب مظفر خان ډیر مشهور سړی تیر شوی د ی چې نو موړی د رنجیت سنګه له خوا چې د لا هور سکه واکمن و په ۱۸۷۵ بکر ما جیتي کا ل [4] کې ووژل شو ۰سکهانو په ملتان کې ډېر پښتانه له تېغه تېر کړل او هغه پښتانه چې د سکهانو د قتل عام نه خو ندي پاتې شوي وو نو دوی له ملتان نه ولیږدید ل او د نواب محمد خان بهاد ر خیل سد وزي سېمو یعني منکیرا او بکهر ته لاړل او کله چې منکیرا هم د رنجیت سنګه د پو ځو نو لاس ته ور غله نو هغوی په د ېره جاتو په تېره بیا په د ېره اسما عیل خان کې مېشته شول ۰

1.3 واکمانان

لاند ې د د رانیو و د د وئي بارکزي څانګې واکمنان نومونه ورکړ شوي دي:

1. د رانیو د کورنۍ نا متو واکمنان

4 بکرماجیتي سنه چې دهند په نېمه وچه کې بکر مي هم ورته وایي تر عیسوي سنې اوه پنځوس کا له مشره ده

1. لوی احمد شاه بابا ۱۷٤۷- ۱۷۷۳

2. تیمورشاه سد وزی ۱۷۷۳-۱۷۹۳

3. شاه زمان ۱۷۹۳-۱۸۰۱

4. شاه محمود ۱۸۰۱-۱۸۰٤

5. شاه شجاع ۱۸۰٤-۱۸۰۹

6. شاه محمود د وهم ځل لپاره ۱۸۰۹-۱۸۱۸

2. د رانیانو د بارکزیو د څانګې نا متو واکمنان

1. امیر د وست محمد خان ۱۸۳٤-۱۸۳۹

2. امیر شیر علیخان ۱۸٦۳ -۱۸٦٦

3. محمدافضل خان ۱۸٦٦- ۱۸٦۷

4. محمداعظم خان ۱۸٦۷

5. امیر محمدیعقوب خان ۱۸۷۹

6. امیر عبدالر حمن خان(ضیا الملت والدین) ۱۸۸۰-۱۹۰۱

7. امیر حبیب الله خان(سراج الملت والدین)۱۹۰۱-۱۹۱۹

8. امیر اما ن الله خان ۱۹۱۹-۱۹۲۹

9. محمد ناد ر شاه ۱۹۲۹- ۱۹۳۳

10. محمد ظا هر شاه (المتوکل علی الله) ۱۹۳۳- ۱۹۷۳

11. محمد داود خان، د افغانستان د جموریت بنسټ ایښود ونکی ۱۹۷۳- ۱۹۷۸

12. حامد کرزی ۲۰۰۱ نه تر اوسه پورې

2 ابراهیم خیل

زمونږ توکم پو هان(نسب پېژند ونکي) ابرا هیم خیل د غلجیو پښتنو د ټولنیز ګروپ او په هغې پورې اړونده قبیلې سلیمان خیلو پورې تړي ۰دابراهیم خپلو قبیلې خلک دافغانستان په ډېرو ولا یتو نو او له هغې جملې نه د کابل ولایت د پغمان په ولسوالی، د میدان او ورد ګو ولایت د میدان ښار دابراهیم خیلو په سېمه، د پکتیا ولایت د مرکز د ګرد ېز ښار په سهیلي برخه، د لوګر ولایت په ښلا ښلو ولسوالیو، د لغمان ولایت د قر غیو په ولسوالیاو یو شمیر هم د افغانستان د بلخ، کند ز غزني، زابل او بکتیکا په ولایتونو کې مېشته دي ۰د لغمان ولایت دابراهیم خپلو شمېر د ۱۳۶۰ کا د سر شمېرنې له مخې د ۲۰۰۰تنو په شا اوخواکې ښو د ل شوی وو چې ښایې اوس به یې په شمېر کې ډیروالی راغلی وي ۰د د غې قبیلې یو شمېر د کرنې او ما لداری په چا رو بوخت دي او ځینې خلک یې د سوداګری او راکړې ور کړې کا رونه ترسره کوي ۰د د غې قبیلې یو شمیر په د ولتي چارو بوخت دي۔ ۰ ابراهیم خیل مېلمه پال پښتانه دي، د دوی حجرې هر وخت د مېلمنو پر مخ پرانېستلې وي ۰دوی د علم او ښوونې او روزنې سره ډېره مېنه لري.

3 اپریدي (افریدي)

اپریدي د کر لانې پښتنو یوه ډېره نا متو، لرغونې او غښتلې قبیله ده چې د عیسی مسیح علیه السلام تر زېږید و ۵۰۰ کلونه وړاند ې یو نا ني مشهور مؤ رخ هروډوتس چې د پښتنو د ځلوروقبیلو کومه یاد ونه کړې ده په هغو کې د یوې قبیلې نوم ابي ریتي یاد شوی د ی چې توکم پو هان یې همدا اوسني اپریدي

بولي چې دا پې ريتي کلمه داپريدي سره د فقه اللغت پر بنسټ هم مطا بقت مو ند لی شي ۰(۱)

د پښتني شجره الا نسابو له مخې اپريد ی د برهان زوی د ککي لمسی او د کرلانې کړوسی د ی ۰داسې ویل کيږي چې په پيل کې دا پريدي نوم عثمان و چې د يوې پيښې او واقعې په سبب په اپريدي مشهور شو ۰

اپريدي په خيبر د ري، کوهاټ او تيراه کې مېشته دي ۰ د دوی ختېزه پوله د ختکو سره نښتې ده۔ سهيل ته يې اورکزي او بنګښ او سپين غر، لويديز ته يې شينواري او شمال ته يې د مومند و سېمه پر ته ده۔ په عمومي توګه داپرېد يو سېمه په څلورو جغرافيايې برخو ويشلې شوې ده چې د خيبر د ره، د بازار د ره، داخور د ره او د پښور او د خيبر د غرونو د لړۍ ترمينځ ميدان نه عبارت دي ۰ اپريدي په يوه غرنۍ سېمه کې ژوند کوي چې په د وو اداري واحد ونو کې تنظيمه شوې ده يعنې د خيبر ايجنسي چې اکثريت يې پښتانه دي او د ۱۹۶۱ ميلادي کال د سرشمېرنې له مخې د دوی شمېر (۲۷۵۳۱۲) تنه ښود ل شوی د ی بله د کو هاټ ضلعه چې هلته اد م خيل اپريدي مېشته دي او د دوی تخميني شمېرد ۶۰۰۰۰ تنو په شا او خوا کې ښود ل شوی د ی ۰ داد م خيلو پورې بله اړونده څانګه حسن خيل دي چې دوی د پښور په شا او خوا سېمو کې او سيږي چې د ۱۹۶۱ ميلادي کال د سرشمېرنې له مخې يې شمېر د ۲۴۰۰۰ تنو په شاو خوا کې ښود ل شوی د ی ۰

اپريدي ډېر زړور او تو ريالي خلک دي ۰دوی هر وخت د ښکيلاکګرو په وړاند ې پراخې مبارزې کړي دي ۰ د لوی سکند ر نه راواخله، تر مغو لو او انګرېزانو پورې په تا ريخ کې د دوی د مبارزو او کا رنا مو يا د ونه شوې ده ۰اپريدي غيرتي، ميلمه پال او په پښتني رواجونونو او د ود ونو ته پابند خلک دي ۰د دوی تر مينځ د وه قبيلوي فراکسيو نونه (ګوند ونه)موجود دي چې د سمل اوګاړي په نامه يادېږي ۰

په اوسني وخت کې داپرېد و قبيله په اتو مشهورو ښا خو نو باند ې وېشلې شوې ده چې هر ښاخ يې ډېرې څانګې لري، چې د د غو ښا خونونومونه او د دوی داستو ګني سېمې په لاند ې ډول دي:

1. ملک دين خيل:په ميدان، شلوبر، تند، چوره، کجوری، خيبرد ره اوشډلي کې استوګنه لري ۰

2. قنبرخيل:په کا هو د ره، شلوبر، ناوه، برشلوبر، باړه اوکجوری کې مېشته دي ۰

3. کوکي خيل:په د وه توري، تورڅپری، راجګل، مخرنې، لاله چېنه او د جمرود نه تر علي مسجده پورې او سيږي ۰

4. زخه خيل:په خيبرد ره، څبري کډو، بازار، الچه، کرمنه، پراګ، بنکو، شنه کمر، توره ویاله، بوکاړ، سنډه پل او شډلي کې استوګنه لري ۰

5. سه پای:په باړه، ترخو کڅ، سنډه پل، لګړي او کجوری کې او سيږي ۰

6. کمرخيل:په ګړي، څاوخ، تخته کلي، غلام علي، بغري، وچ پال، چهل ګزي، ميرود ره او کمزوي کې استوګنه لري.

7. اکاخيل:په باړه، ګلي خيل، وړان، کجوری او داکا خيلو په ميره کې اوسيږي ۰

8. اد م خيل:په اخورد ره او ميدان کې اوسيږي ۰

داپږد ود يوشمېر نو رو څانګو نو مو نه دادي:ګلي، زرغون خيل، محمد خيل، تورسپر، فېروز خيل، شېر خان خيل، کمال خيل، باسي خيل، ميڼاخان خيل، کټيا خيل، زونه خيل، شيخ مل خيل، عبد ل خيل، ونډ، لنډي خيل، برګټ خيل، د لدارخيل، ظفري، عبدالرحمن خيل، احمد خيل، نيکي خيل، اورموزخيل، فتح خيل، بهرام ګور، بکهيا، بوديا، کمل خيل، سلطان خيل، سکند رخيل، شان خيل، د ولت خيل، عمر خيل، مد ر خيل، ميري خيل، ژراکي، شلو بار خيل، زونه خيل، ادیلي خيل، احمد خيل، نصرالدين، بابکرياونور ۰۰۰

د لنډي کوتل، باړه، جمروداواخورد ړې سوداګرېز مرکزونه داپږد و په سېمه کې مو قعيت لري اود د ې له پاره چې په تنګود رو او غر نيو سېمو کې استوګنه لري، نو دوی د کر کېلې ځمکې لږې دي، نو ځکه يې زېات شمېر خلک د کا بل او پېښور تر مينځ د سو دا ګری په چارو بو خت دي ۰

د پښتونخوا سر بېره يو شمېر اپريدي دا فغا نستان په جلال اباد، کابل ا وکند ز کې هم مېشته دي ۰په د ې سر بېره زيات شمېر اپريدي دهند و ستان په جنوب د کن، دهريا نا دايالت په پاني پت، کشمير، بيهاراوداترا پرادېش په قا يم جنګ کې مېشته دي ۰دهند وستان يو پخوانی جمهور رئيس ډاکټر ذاکر حسين هم دهند داتر اپرادېش د قا يم جنګ اپريد ی پښتون و ۰ همداراز په هند وستان کې يو بل ستر شاعر قاسم عليخان اپر ېدي د پښتو ژبې مشهور شا عر تير شوی د ی چې شعري د يوان يې مو جود د ی ۰همداراز د پښتونخوا داپر يد يو لاندينې کسان مشهور تاريخي کسان تير شوي دي:نواب عظمت خان کوکي خيل شيرخان خيل او دهغه زوی عجب خان اپريدي چې په کو هاټ کې دانګر يزي ښکېلاکګرو پر خلاف يو ه مبارزه څېره وه ۰نو موږی دانګرېزانو له لاسه افغانستان ته هجرت وکړ او بيا وروسته په کند وز کې وفات او هورې ښخ شو، چې د ده د د غوکارنامو په ويار په پښتونخوا کې يو پښتو فلم هم جوړ شوی د ی ۰همداراز په اپريد و کې بل مشهورتن خاطر اپرېد ی وچې د ٤۰۰۰۰بيتو په شااو خواکې شعرونه لري او د ۳۲ کلو نو په عمر يې له د ې فاني نړۍ نه سترګې پټې کړيدي ۰په او سني وخت کې داپرېد يو مشهور شخصيتونه دادي:

1. سلمان حامداپرېد ی
2. ډاکټر منور خان
3. مشهور قانونپوه او وکيل لطيف اپرېد ی
4. رحمت شاه اپريد ی
5. او د کرکټ مشهور لوبغاری شاهداپرېد ی

4 اتمانخيل

اتمانخيل د پښتونخوا يوه مشهوره قبېله ده چې د پښتنو په کر لانې ټولنيز ګروپ کې شامل دي اودوی ته د دوی د پلار اتمان باباد نوم په وجه اتمانخيل وايي ۰اتمانخيل په يوه وا حده سېمه کې استوګنه

لري، خو په د ړې اداري وا حد ونو يعنې باجوړ ايجنسی، مو مند و ايجنسیٰاوملکنډ ايجنسی پورې اړه لري ۰

اتمانخيل د څوارلسمې عيسوي پيړۍ په پيل کې د يوسفزيو قبيلې په ګډون د ټاک او ګو مل د غرونو نه د کابل او ننګر هار له لارې پښور ته لاړل او له هغه ځايه په د و ابه او اشنغر کې د يوسفزيويو سره يو ځای په غم او ښاد ی کې شريک شول ۰کله چې د د لازاکو، يوسفزيو او نورو قبيلو تر مينځ د لنګر کوټ په ميره يا ګړي کپوره کې جګړه پيښه شوه، نو په دغه وخت کې دغه قبيله سره له د ې چې د لازاک د دوی سره د قبيلوي خپلوۍ له کبله نږد ې و د يوسفزيو پر خوا ود ريد ل او په د ې تو ګه يې د لازاکو ته ماتې ورکړه، خو يوسفزيو د دوی سره کو مه ښېګڼه و نکړه ۰وروسته اتمانخيل له هغه ځا يه تېراه ته ولېږد ېد ل او کله يې چې له هغه ځايه هم لاسونه لنډ شول نو بيا دارنګ برنګ سېمې ته لاړل چې لا تر او سه هم په همد ې سېمې کې مېشته دي ۰

داتمانخيلو سېمه په عمومي ډول غرنۍ ده چې د لويو او کو چنيو د رو نه جوړه شوې ده چې واړه(کوچني) سېند ونه يې د سوات په سېند کې چې په دغه سېمه کې دابزو په سېند مشهور د ی توئېږي ۰د دوی د سېمې شمال ته د باجوړ سېند بهېږي چې تر کلاڼي او اتمانخيل سره جلاکوي ۰ داتمانخيلو هغه سېمه چې په ملکنډ ايجنسۍ پورې اړه لري د سوات د سيند له خوا خړوبېږي ۰

د باجوړ او مو مند و ايجنسۍ پورې اړونداتمانخيل په عمو مي توګه د کرنې او مالدارۍ په چارو بوخت دي چې د شمو زيو، عليزيو، ماند ل او اصېل ښا خونه يې په با جوړ ايجنسي او د ميا، ملا او بوټ کور ښاخونه يې په مومند و ايجنسۍ پورې اړه لري ۰

اتمانخيل د نورو پښتنو په څېر ډېر غيرتمن او تو ريالي خلک دي او اولسي ټرۍ، نرخونه او څلي يې د باجوړ خلکو ته ورته دي ۰اتمانخيل په عمومي تو ګه بزګران او ځينې يې په انفرادي توګه په سو داګرۍ بوخت دي ۰همداراز داتمانخيلو لاسي صنايع په دغه سېمه کې ډېر شهرت لري ۰لکه چې د مخه وويل شول اتمانخيل په يو ه غرنۍ سېمه کې ژوند کوي چې غرونه يې په ځنګلونو پټ دي ۰د دوی د مشهورو غر ونو نه يو هم د کيمور غرد ی چې مرکزي برخه يې داصيلو، عليزو او ماند لو د سيمو تر منځ پرته ده ۰د دوی په غرونو کې څېرۍ، ګورګورې، ښون او ځنګلي انځرډېر پيدا کيږي ۰

داتمانخېلو په جنو بي خو اکې د د ېر له لوري د پنج کوړې په نامه يو سېند بهيږي چې داتمانخيلو سېمې ته د غر شموزو په برخه کې رانـوزي او د دوی ډېرې سېمې خړوبوي ۰همـداراز د غـر شـموزو د لـر غاو نه هم يو سېند را بهيږي چې د پنجکوړې د سېند سره يو ځای کيږي ۰همـداراز د پـو رتنيـو يـاد و شـو سېند ونو سر ېره په اتمانخيلو کې ډېر شمېر رنې چېنې شته چې خلک يې د څښـلو داوبـو نـه ګټـه اخلـي ۰داتمانخيلو په تند وبي (ابي) ځمکو کې جوار، غنم او اوربشې کرل کيږي او په وچوبو(للمي) ځمکو کـې غنم، اوربشي، شړشم، نسک او مشنګ کرل کيږي ۰د دوی د سېمې صاد رات نسک، شړشـم، غـوړي او د ودانيو لرګي دي ۰همداراز دانګورو، مالټو، الو چو او شفتالو ډېر باغونه هم لري ۰

داتمانخيلو مشهور خيلون دادي: شموزي، ماند ل، بوټ خيل، اصېل، عليـزي، بـا ئيـزي، اسـماعيل خيل، سه صده، ميالا، کيد وخيل، کمپل خيل، سر ني خيل، عمـر خيـل، خمـار خيـل، بلـو خيـل، مامـد خيل، عمر خيل او نور ۰ شموزي داتما نخيلو په شمال ختېز کې کې او سيږي او د باجوړ، سـوات او د ېـر سر ه پو له لري ۰

1. ماند ل: داتمانخېلو په شمال لويديز کې مو قعيت لري او داسې ويل کيږي چې ماند ل په اصل کې داتمان با با مشر زوی و ۰

2. بوټ خيل: چې داتمان خېلو لويد ېز ته موقعيت لري ۰

3. اصيل:دا ښاخ هم داتمانخيلو لويديځ ته پروت د ی ۰

4. عليزي:داتمانخيلو په شمالي برخه کې پروت د ی ۰

مياګان او ملايان هم داتمان بابا اولاده ده چې په اتمانخيلو کې پـه خـوره واره ډول سـره ا سـتو ګنـه لري ۰

داتمان خيلو مشهورکلي خرکی، مياخان، سنګاو او کوه بر مول دي ۰

په هغه سر شميرنه کې چې په ۱۳٦۱لمريز کال په د ې سېمه کې شوې وه داتمان خېلـو ټـول شـمېر

۱۸۵٦۰ تنه ښود ل شوی و چې له هغې نه ۱۲۹۷۰ تنه په با جوړ، ٤۸۰۰تنه په مو منـد و او ٦۸٦۰ تنـه پـه ملکنډ کې استوګنه لري ۰کېدای شي چې اوس په د ې شمېر کې زیاتوالی راغلی وي ۰

5 اتمانزي

که چېرې داتمانزیو د قبیلې د نسب شجره په غور سره وګورو نو دا به راته څر ګنده شـي چـې دوی سړبني پښتا نه دي او د مندړ یو ښا خ ګڼل کیږي ۰اتمـانزي د یوسـفزیو د سـېمې پـه خـټېزه برخـه کـې دابـا سین پرغاړه او د مها بن د غره په سهیلي لمنو کې پر اته دي ۰ټوپي، مینې، کوټه او مر غز د دوی د سـېمې مشهورکلي دي ۰داتمانزیو نور خپلونه په لاند ې ډول دي: ا کازي، کنا زي او علیزي ۰د سد و اولاده که څه هم په اتمـانزیو ور ګډیږي، خـو ځـان تـه یـې بـل نـو م غـوره کـړی د ی ۰داتمـانزیو د قبیلې د ړې واړه ښاخونه د شیخ ملي د ویش له مخې برابرې پلرنۍ برخې لري چې دغـه د ړې واړه ښـا خـو نـه پـه برابـر ډول خپلې پلرنۍ ځمکې کړي او ورنه ګټه اخلي ۰ همداراز د علي زیو د طا هر خیلي څـا نګـه ډېـره مشـهوره او په ګند ګهر نو مي سېمه کې مېشته دي ۰د تاریخ حیات ا فغا ني په استناد دوی په هغـه وخـت کـې ۱۲۰۰ وسله وال کسان د رلود ل ۰

6 اتوال

که چېرې داتوال د قبیلې د نسب شجره په غور سره و ګورو نو دوی په اصل کې غلجي پښتانه دي او په اند ړو پورې یو ټرلی ښاخ د ی چې زیات شمیر یې د زابل ولایـت پـه اړونـد و ولسـوالیو پـه تېـره بیـا د دای چو پان په ولسوالۍ کې استوګنه لري او شمېر یې د ۱۳٦۰کـال د مرکـزي ا حصـائیې د سرشـمېرنې لـه مخې د ۱۸۵۰۰ تنو په شا او خوا کې ښود ل شوی د ی چې ښـایې اوس یـې شـمېر د وه برابـره وي ۰ویـل کیږي چې ا ټوالو په پخو اوختونو کې کو چیانی ژوند د رلود ۰دوی به د مو سی خپلو اند ړو سره یو ځـای د مني په مو سم کې د ناور او ما لستان له غرونو نه شلګر او قره باغ ته راښـکته کېـد ل او لـه د ې خـا یـه به ګندهار ته لېږد ېد ل، خو اوس دوی زیاتره کلیوالي ژ وند غوره کړی ۰اتوال مېلمه پال، د ښـداره او زړور خلک دي۔

7 احمد زي

احمد زي په ا صل کې غلجي پښتا نه دي او په سليمان خېلو ور ګډ ېږي، خو نن د سليمان خېلو نه د لېري والي او هم د شمېر ر ډېروالي په و جه د پښتنو ډېره پياوړې او غښتلې قبېله شمېرل کيږي ۰د د غې قبېلې خلک دافغانستان په ډېرو ولايتونو او په تېره بياپه پکتيا، لوګر، ننګرهار، لغمان، مزارشريف، بغلان، هرات، کند ز او فارياب کې هم استوګنه لري ۰داحمد زيو قبېله د پکتيا د مهمو قبېلو په ډله کې شمېرل کيږي چې زيات شمېر يې د ګردیز په شما ل ختېز او جنوب کې د روداحمد زي او ميلن په سېمو کې استوګنه لري ۰د پکتيا و لايت احمد زي د منګلو، تو تا خېلو، خد رانو، زرمت او لو ګر د ولايت سره پوله لري او د ١٣٥٤ کال د يوې سروې له مخې د دوی شمېر په پکتيا کې د يو سلو زرو تنو په شا او خو اکې ښود ل شوی و ۰د لوګرولايت احمد زي د دغه ولايت په ځېنو سېمولکه ازره، التمور، سرخاب،، داوبازک په د ښته او محمداغه کې ژوند کوي ۰

د ننګرهار ولايت احمد زي د دغه ولايت په مر ګز جلال اباد، د سره رود ولسوالۍ داحمد زيو په کلي، د چپرهار د ولسوالۍ د د ولت زيو په کلي، د حصارک غلزايي په اولسوالۍ او د کامې په او لسوالۍ کې استوګنه لري ۰د لغمان ولايت احمد زي د دغه ولايت په مرکزاو هم يو شمېر يې د کابل او لغمان تر مينځ د کابل سيند پر د واړو غارو مېشته دي ۰

داحمد زيويوه پياوړې ځانګه د موسی خيلو په نامه سره شهرت لري چې اکثره خلک يې کو چيان دي ۰زه د د ې مقالې ليکوال په ١٣٥٤ لمرېزکال کې د ميدان او ورد ګو ولايت د بهسود و د ويمې حصې ولسوالۍ ته تللی وم او هلته مې داحمد زيو کو چيانو په زر ګو نو کيږد ی ليد لې وې ۰، ځکه همدا احمد زي او نورکو چيان د د وبي په موسم کې ايلبند ونو ته تلل او د دوی د ځارويو له پاره دغه سېمه ډېر ښه څړ ځای شمېرل کېده ۰

په پښتنو قبېلو کې تر بلې هرې قبېلې داحمد زيو د قبيلي خلک په جر ګو کې ښه مهارت لري او د دوی جر ګې د رنې ګنډل کيږي او په پښتنو کې دوی څلي او نر خونه ډېر اهميت لري ۰ په پخوا وختو نو کې به که چېرې د نورو پښتنو تر مينځ کو مه شخړه او لانجه پيښه شوه نو خلکو به داحمد زيو د قبېلې

جر ګه ما رانو ته ورتلل او د دوی په مر سته او منځګړتوب به يې شخړې او لانجې اوارولې چې بيا به وروسته د واړو خواووته د منلو وړ وي او عمل به پرې کېده ۰

احمد زي زړور او په هېواد مين خلک دي ۰دانګر يزي ښکيلاکګرو پر خلاف د دوی د غيرت او ميړانې نمونې په تاريخ کې ثبتې دي ۰ د روسي يرغلګرو سره د مبارزې په ترڅ کې هم دوی د مبارزې سنګرونه تاوده ساتلي وو چې زمور هېواداو تاريخ پرې ويارې ۰

د افغانستان پخوانی جمهور رئيس او د وطن ګوند مشر نجيب الله هم داحمد زيو د قبيلې پورې اړه د رلوده او په اصل کې د پکتيا ولايت د روداحمد زي د ميلن د کلي او سيد ونکی احمد زی پښتون و ۰ همداراز په احمد زيوکې د جنرال شا هپور ا حمد زي او د مالیي د پخواني وزيرد کتور اشرف غني احمد زي نو مو نه هم ياد ولای شو ۰

داحمد زيو ځينې ځانګې او خپلو نه په لاند ې ډول دي ;اله دين خيل، عيسی خيل، يحيی خيل، ځنډي خيل، مو سی خيل، ابرا هيم خيل، معروف خيل، جبار خيل، ستانکزي، عبدالر حيمزي (اد ريمزي)چې دغه ځا نګې بيا په لاند نيو کو چنيو ښا خو نو ويشل شوي ديچې الله دين خيل په با دين خيلواو کو چي خيلو، عيسی خيل په سا د و خيلو، با زو خيلو، محمد علي خيلو، پا د شاه خيلو، خواجه خيلو، توره خيلو ا و ما ني خيلو با ند ې ويشل شوي دي

1. همداراز يحيې خيل: په فتح الله خيلو، سلام خيلو، کامران خيلو، خا نه خيلو، ازک خيلو او فيروزخيلو.

2. ځنډي خيل: په شاه خيلو او خورم خيلو،

3. موسی خيل:په کړو خيلو، پا ينده خيلو او منصور خيلو,

4. معروف خيل:په با دين خيلو، شکر خيلو، محمد خيلو، عبدالرحمن خيلو او سر کي خيلو با ند ې ويشل شوي دي ۰

8 اخکزي

اخکزي د پښتنو يوه خورا نامتو، غيرتي، مېلمه پاله او په خپلواکۍ مينه قبېله ده چې د ګران افغانستان په تا ريخ کې و ياړلی نوم لري ۰زمورږپښت پوهان اخکزي د پښتنو د سړ بن د ګروپ نه شميري چې په اصل کې د راني پښتانه او د ځيرک د څا نګې پورې تړلي دي۔ ۰ که چيرې داخکزيو پښتنو د نسب شجره په غور سره تر ستر ګو تېره کړو په لو مړي سرکې په د و لو يو نبا خو نو ويشل شوي دي چه ګو جين او با دين نو ميږي ۰د ګو جين څانګې په لاند ې ډول دي :حميد زي، ملي زي، اشيزي، عثمان زي، اليزي، نصرت زي، غني زي، خد رچي زي، صالح زي، متک زي، اد وزي، ملايزي، سلطانزي، شکرزي، اسحق زي اوګبرزي ۰همداراز د با دين نباخ هم په لا ند نيو څا نګو ويشل شوی د ی:کاکوزي، غيبي زي، شمشو زي، پير علي زي او پا نيزي ۰

8.1 داخکز يو داستو ګڼې سېمې

اخکزي هم په ا فغا نستان کې مېشته دي او هم په سهيلي پښتونخو ا کې ۰هغه ا خکزي چې په ا فغا نستا ن کې ژوند کوي نو دوی د سپين بو لد ک په ولسوالی، ريګ، د کندها ر د نبار په مرکز او د ډنډ په ولسوالی، دهلمند په ولايت، ارزګان، هرات، باد غيس او کا بل کې استوګنه لري، خو هغه ا خکزي چې په سهيلي پښتونخواکې اوسي نو زيات شمېر يې په کو يټه، چمن، کلای عبدالله، ګلستان، کوږک، خواجه عمران افغاني، پښين، توبه، جلګه او زيارت کې استوګنه لري ۰په کندهار پورې اړوندا خکزي د سپين بو لد ک په ولسوالی، د ريګ په ولسوالی، د دامان په ولسوالی او د ډنډ او پنجوايي په ولسواليو کې استوګنه لري چې شمير يې د ريو سوو زرو تنو ته رسيږي ۰

دهلمند په ولايت کې مېشته ا خکزي دهلمند ولايت په مرکز لشکر ګاه، د ناد علي په ولسوالی، د ګرمسير په ولسوالی او د ناوه بارکزا يي په ولسواليو کې مېشته دي چې په نو موړي ولايت کې يې شمېر د ديرش زر و تنو په شا او خواکې اټکل شوی د ی ۰

دهرات ولايت اخکزي دهغه ولايت په مرکز او همداراز دانجيل، پښتون زر غون، ګلران او د غو ريا

نو په ولسوالیو کې مېشته دي چې شمېر یې په نو موږي ولایت کې د شلو زرو تنو په شا او خواکې ښو د ل شوی د ی ۰

دارزګان ولایت ا څکزي دهغه ولایت په مرکز تیرین کوټ، د چوره په و لسوالی، د خاص ارزګان په ولسوالی، د ګیزاب په ولسوالی، د کجران په ولسوالی، د دهراود په ولسوالی، د شهید حساس په ولسوالی (ښایي اوس د د ې ولسوالی نو م بل څه وي)او د نیش په ولسوالی کې استوګنه لري او داڅکز یو ټول شمېر په دغه ولایت کې تقریبا د د وه سوه زرو په شا او خو اکې ښو د ل شوی د ی ۰

د باد غیس ولایت ا څکزي دهغه و لایت د بالا مر غاب د ولسوا لی په بیلا بیلو کلیو کې مېشته دي چې د دوی د سر شمېرنې په برخه کې راسره مؤ ثق معلو مات نشته ۰

مشهور ا نګریز مؤرخ مو نټ سټوارټ الفنسټن په خپل نامتو اثر(د کابل سلطنت بیان)کې لیکلي دي :" اڅکزي اکثره کروند ګر او پوونده دي که څه هم یوه انداز ه ځمکې لري، خو د خپل ژ وند له پاره په ځمکو اتکا نه لري ۰د دوی ځاروي د خو اجه عمران په غرونو او د توبې په هسکه سېمه کې سا تل کیږي، په داسې حال کې چې او ښان یې د شوراوک په شګلنه سېمه کې پوول کیږي ۰اڅکزي په داسې ځمکه پراته دي چې یا خو لغړ غرونه دي او یا سپېره ډاګونه او یا هم خا لصې شګې، د دوی د کر نې ځمکې خورا لږې دي ۰"د کندهار اڅکزي د کر نې پر ته د سو داګرۍ په چا رو هم بو خت دي ۰د دوی یو شمیر خلک کو چیا ني ژوندهم لري ۰

8.2 ښاغلی خلک

اڅکزي د تاریخ په او ږد و کې د ښکېلاکګرو په و ړاند ې ډېرې مېړانې او سر ښند نې هم کړي دي چې د دوی دغه مبارزې زمو ږ د ویاړلي هېواد ګران افغانستان په تا ریخ کې په زرینو کر ښو ثبتې دي۔ ۰

داڅکزیو په نا متو مبارزینو کې یو هم غازي عبدالله خان ا څکزی و چې د ۱۸٤۱زېږد ېز کال په ملي پا څون کې یې انګریزي ښکېلاکګرو ته مر ګوني ګو زارونه ورکړي دي چې د ده په ویا ړلي نو م هر

افغان ویاړي ۰

داځکزیو بل نا متو او غیرتي شخصیت غازي مېداد خان ا ځکزی د ی چې دافغان-انګرېز په د ویمه جګړه کې یې د میو ند د فاتح غازي محمدایوب خان تر څنګ یې دانګرېزانو غو ږونه ښه ورتاو کړیدي او هغوی ته یې ښه ماتې ورکړېده ۰د غازي مد د خان پلار بدین خان او نېکه یې ګل محمد خان هم میړني خلک تېر شویدي ۰همداراز داروخان ا ځکزی هم داځکزیو یو ډېر معزز او د د رناوي وړ مشر تیر شوید ی۔ ۰

په سهیلي پښتونخواکې داځکزیو په ملي مبارزینو کې د خان شهید عبدالصمد خان و یاړلې مبارزي د پښتنو د مبارزو په تا ریخ کې یو ویاړلی باب د ی چې د پښتنو او بلو څو د حقه حقو قو له پاره یې مبا رزي کړي او په پای کې د پاکستاني جرنیلانو له خواپه شهاد ت ورسید چې اوس د ده زوی محمود خان اځکزی د پښتونخوا ملي عوامي پارټی مشر د پښتنو د حقو قو د تر لاسه کو لو له پاره چې په پاکستان کې تر پنجا بیانو وروړسته د وهم ستره اتنیکه ډله ده، خوله بده مرغه له هره پلوه د خپلو حقو قو نه بې برخه او محرومه ساتل شوي دي د مبارزې بیرغ ر پا نده سا تلی او د خپل شهید پلار و یاړلې لاره تعقیبوي ۰همدا را ز په ا ځکزیو کې د خان محمدایوب خان اځکزي مبارزې، داځکزیو د مشهور و علمي شخصیتونو هر یوه شاعر اولیکو ال ملا عبدالر حیم اشیزی او هم داروابناد محمد علم بځرکي نو مو نه نه یو ازې داځکزیو ویاړونه دي، بلکې د د ې هیوادهر افغان پر ي ویا ړي ۰

9 اد ریمزي (عبدالرحیمزي)

که چیرې داد ریمزیو د نسب شجره په غور سره تر څېړنې لاند ې ونیسو نو جو ته به شي چې دوی غلجي پښتا نه دي یعني د د غې قبیلې خلک د غلجیو پښتنو یو ښاخ د ی چې زیات شمېر خلک یې د لو ګر ولایت په ښلا بیلو ولسوالیو کې استوګنه لري ۰یو شمېر اد ریمزي د لغمان ولایت د قرغیو په اولسوالي اود عزیزخان کځ په سېمه کې میشته دي ۰

اد ریمزي خورا زړور، توریالي او میړني خلک دي ۰د روسي یر غلګرو او تیري کوونکو پر خلاف

يې د مبارزې سنګرونه تاوده سا تلي وو ۰ داد ریمزیو قبیلي یو شمېر خلک کو چیانی ژوندهم لري ۰د د غې قبیلې یو شمیر خلک د سو داګرۍ او راکړې ورکړې کارونه هم سر ته رسوي ۰ داد ریمزیو د قبېلې په نا متو مشرانو کې یو هم عبدالملک خان عبدالرحیمزی و چې دافغانستان د ټولواک اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د واکمنۍ په وخت کې دافغانستان د ما لیې وزیر تیر شوی د ی ۰

10 اد وزي

اد وزي د پښتنو د سړبني په ټولنیزې ډلې پورې یوه اړونده قبېله ده چې د پنج پای څانګې پورې اره لري ۰د د غې قبېلې شمېر پنځه زره کو رنۍ ښود ل شوي دي، خو د شوروي مشهور اتنو ګرافر ستا نیشفسکي داتنو ګر افیکو معلو ما تو له مخې د شلمې پېړۍ په نیمایي کې د دوی شمېر ۱۳۰ زره تنه ښود ل شوی د ی چې زیاتره یې د کندهار د معروف په اولسوالۍ، داوروزګان ولایت د دهراود په اولسوالۍ او همداراز دهلمند ولایت د ګر مسیر په او لسوالۍ کې میشته دي ۰

11 ادین خیل

ادین خیل په اصل کې غلجي پښتانه دي او په سلیمان خیلو پښتنو چې یوه خورا غښتلي قبېله ده ور ګډه ېږي ۰د د غې قبیلې اکثره خلک د پکتیکا په مرکز شرنه او د پکتیا ولایت د زرملې په اولسوالۍ کې چې په زرمت سره هم مشهوره ده استوګنه لري ۰د د غې قبېلې یو شمېر خلک د غزني ولایت د ګېرو په او لسوالۍ کې هم استوګنه لري ۰

12 اسماعیل خیل

اسماعیل خیل په اصل کې د کر لانې پښتنو په ټولنیزې ډلې پورې یوه اړونده قبېله ده چې د خوست په ولایت کې د شمل سیند په جنوبي کنډو منډ وزیو ته نږد ې میشته دي ۰د منډ وزیو د قبېلې لوید ېز ته ځد رانې او جنوب ته یې د تنیو قبېله پر ته ده ۰د منډ وزیو د قبېلې په ختېز او د شمل سیند په

شمالي څنډو کې هم اسما عیل خیل استوګنه لري ۰د ۱۳٦۰ کال د مرکزي احصائیې د سر شمېرنې له مخې د دوی شمېر ۱٦۰۰۰ تنه ښود ل شویدي، چې ښا یې اوس به یې شمېر د وه برابره وي ۰

اسماعیل خیل اکثره د کرنې په چارو بو خت دي، یوشمیر خلک یې د ولتي د ند ې هم سر ته رسوي ۰د دوی یو شمېر په عربي هیواد ونولکه سعودي عر بستان او کویټ او یو شمیر یې هم د خلیج په هېواد ونو لکه متحده

عربي امارات، قطر، د وبۍ، شارجه، ابو ظبي او د خلیج په نورو ښارونو کې په مزد وری او غړبی بوخت دي ۰

13 اسحٰق زي

اسحق زي چې د ساکزیو په نامه سره هم شهرت لري د پښتنو د سړ بن په ټو لنېز ګروپ کې یوه ډېره مشهوره قبېله ده چې خلک یې هم په کلیوالي تو ګه ژوند کوي او هم یې یو شمېر کو چیاني ژوند لري ۰ د تاریخ حیات افغاني لیکوال ډپټي محمد حیات خان په خپل دغه نا متو اثر کې چې د افغانستان د بیلا بېلو قو مونو او په عمده تو ګه یې د پښتنو قو مونو او قبېلوپه اړوندبې کښلی د ی داسحق زیو یا سا کز یو پښتنو په باب داسې وایې:" ساکزي د کندهار لو یدیز خواته په شګلنه سیمه کې دارغنداب د سیند پر غاړه د بست تر کلا پورې او همداراز څو سیمې یې د چکه علا قې په ښکتنۍ برخه کې دهیلمند سین په ختېزه غا ړه کې پر تې دي۔ ۰ ځینې ځمکه وال خلک یې په ګر مسیر، فراه، شین ډنډ، لاش وجوین، دهرات جنوب لو ېد ېز، د سیستان په شمال او ځینې یې هم په هرات کې مېشته دي۔ ۰ همدا راز د سا کزیو د قبیلې پورې اړونده د وې معتبرې کورنۍ دیاد ولو وړدي چې یوه یې د سر دار سالو خان کو رنۍ چې د لاش و جو ین په سیمه د د رناوي او واک خاونده ده او بله یې د ګر مسېر د کلای خا نشین په سېمه کې د رئیس سردار مد د خان کو رنۍ ده چې په د غې کو رنۍ کې موسی ډونګی یو مشهور سړی

تېر شوید ی ۰[5,6]

13.1 اسحٰق زو ولایتونه

په اوسني وخت کې اسحق زي یا سا کزي پښتانه دافغانستان په لاند نیو ولایتونو کې میشته دي:

1. د کندهار په ولایت کې: اسحق زي د کندهار ولایت په مرکز، د میوند په ولسو الی، د پنجوایي په ولسوالی، دارغنداب په ولسوالۍ او د معروف په ولسوالۍ کې میشته دي چې په دغه ولایت کې د دوی تخميني شمېر د سلو زرو تنو په شا او خواکې ښود ل شوی د ی.

2. دهلمند په ولایت کې: دهلمند په ولایت کې هم یو زیات شمېر ساکزي اوسېږي ۰په دغه ولایت کې دوی دهلمند په مرکز لشکر ګاه، د کجکي په ولسوالی، د ریګستان په ولسوالی، د خانشین په ولسوالی، د نوزاد په ولسوالۍ او د نهر سراج په ولسوالۍ کې استوګنه لري چې په نو موړي ولایت کې د دوی ټول شمېر څه د پاسه سل زره تنه ښو د ل شویدي

3. د فراه په ولایت کې: د فراه ولایت په مرکز او د لاش و جوین په ولسوالۍ کې هم زیات شمېر اسحق زي یا سا کزي میشته دي چې په نو موړي ولایت کې د دوی شمېر پنځوس زره تنه ښود ل شویدي

4. دهرات په ولایت کې: په هرات کې د ساکزیو شمېر دهېواد د ټو لو ولایتو نو په پر تله ډېر د ی ۰په دغه ولایت کې ساکزي دانجیل، شین ډنډ، پښتون زر غون، ګلران، کشک، غوریان او کهسان په او لسو الیو کې میشته دي چې دهرات په ولایت کې د سا کزیو مجمو عي شمېر تر یو سلو پنځوس زرو تنو زیات ښود ل شوی دي

---

5 تاریخ حیات افغاني، ډېټي محمد حیات خان، پښتو ژباړه، ۱۵۹ مخ، د دانش خپر ند ویې ټولنې چاپ، پېښور ۲۰۰۷ کال

6 پښتني قبیلې، د کتور لطیف یاد، د رېم چاپ، دانش خپرند ویه ټولنه، ۱۶-۱۷ مخونه، ۲۰۰۷کال، پېښور

5. د باد غيس په ولايت کې: په دغه ولايت کې ساکزي د مر غاب او غورماچ په ولسوالیو کې مېشته دي

6. په فارياب ولايت کې: د فارياپ په ولا يت کې او په تېره بيا د پښتون کوټ په اولسوالۍ کې ساکزي پښتانه اوسي ۰ زه د د ې مقالې ليکوال کله چې په ۱۳۵۷ کال ميمني ته تللی وم نو ما د ميمني د لويد ېز په پنځه کيلو متری کې يو شمېر کو چيان ولېد ل چې په کېږ د يو کې او سيد ل او ځانونه يې اسحق زي بلل

7. د جو زجان په ولايت کې: په دغه ولايت کې هم داسحق زيو يو شمير کو رنۍ مېشته دي

8. د بلخ په ولايت کې: د بلخ په ولايت کې هم يو زيا ت شمېر سا کزي استوګنه لري چې د حيات افغاني مؤلف د دوی شمېر په ۱۸٦۵ عيسوي کال کې چې له نن نه ۱٤۳ کلونه پخوا کيږي د دوی شمېر د بلخ په ولايت کې تر زرو کو رنيو زيات او په ټول افغانستان کې تر يولس زره کو رنيو نه زيات ښود لی د ی ۰

14 اکاخيل

اکاخيل په اصل کې غلجي پښتا نه دي چې د سليمان خيلو يو ښا خ ګڼل کيږي چې زياتره يې په پوونده ډول ژوند کوي او ځانته کو مه ځانګړې سېمه نه لري ۰دوی اکثره په کېږد يو کې ژوند کوي او د ټغرو، کيږ د يو او جو الو نو په او بد لو کې ښه مهارت لري ۰د تا ر يخ حيات ا فغا ني د ليکوال ډېټي محمد حيا ت خان په قول داکا خيلو يو شمير د غزني و لايت په مقر کې هم ا ستو ګنه لري [7] ۰ يو شمير اکا خيل په ا فغا نستان باند ې د شوروي تر ير غل وروسته له هيواده وليږ ديد ل او پاکستان ته کډ وال شول چې دهغه هبواد په مختلفو ښارو نو لکه پېښور او کر اچۍ کې استوګنه لري ۰ اکا خپل زيارکښه خلک دي، ځيني خلک يې د سو داګر يو په کا رونو بو خت دي ۰دا کا خيلو ځو انان په ا تن کې ډېر تکړه دي او د خو ښيو او خو شاليو او ود ونو کې د دوی ځو انان چې ښا يسته او ړد ې څنې لري په

7 حيات ا فغاني، محمد حيات خان

خپلو ماهرانه اتنو نو سره محفلونه تاوده ساتي ۰

د روسي نامتو اتنو ګرافر داتنو ګر افیکو څېړ نو له مخې داکا خیلو شمېر د شلمې زېږ د ېزې پېړۍ په نیمایې کې د ۳۵ زره کو رنیو په شا او خوا کې ښود ل شوی د ی ۰

15 الیاس خیل

الیاس خیل په ا صل کې غلجي پښتا نه دي ۰د دوی یو شمېر کو چیان او هم یو شمېر خلک یې د ځمکو خا و ندان دي چې اکثره یې د کابل او ننګر هار تر مینځ وادي کې د کابل سین په د واړو غا ړو کې ژ وند کوي، خو د دوی د شمېر په اړوند ز ما سره بشپړ معلو ما ت نشته ۰

16 امر خیل

امر خیل په ا صل کې غلجي پښتانه دي او په سلیمان خیلو ور ګډ یږي ۰ دا سي ر وایتو نه مو جود دي چې دامر خیلو د قبیلې مشر نېکه امر بابا نو مېده چې زیار ت یې د ننګرهار په سېمه کې د ی ۰امر خیل د ننګر هار، میدان، لغمان، پکتیکا او جوزجان په و لا یتو نو کې مېشته دي ۰ د میدا ن و لایت ا مر خیل د دغه و لایت د نرخ داولسوالۍ او چا ر یکه په سېمو کې استوګنه لري او په دغه ولایت کې دوی په لا ند نیو خیلو نو ویشل شوي دي: یار خان خیل، الله د وش خیل، یو سفزي، ممي خیل، غو نډا خیل او بو ړ خیل ۰ همداراز یو شمېر امر خیل د ننګر هار و لا یت د سر ه رود د ولسو الۍ د پېتاوي امر خیل په کلي کې چې د ننګر هار و لایت د د رونټی بند ته نږد ې مو قعیت لر ي او سیر ي ۰همدا راز د ننګر هار ولایت د چپر هار داو لسو الۍ د سپین جو مات او سنګینه په سیمه کې هم دا مر خیلو قبیلې یو شمېر کو رنۍ مېشته دي ۰یو شمېر امر خیل د با میانو په ولایت کې هم او سیږي, خو هغو ی کو چیا نې ژ وند لر ي ۰ د جوز جان په و لایت کې دوی داقچې په او لسو ا لۍ کې مېشته دي ۰ د ۱۳٦۰ کال د مرکزي احصا ئیې د سر شمېرنې له مخې د میدان په و لا یت کې دامر خیلو شمېر ۱۲۰۰۰ تنه، د ننګر هار ولایت دامر خیلو شمېر ٤٨٤۲ تنه او د لغمان و لایت دامر خیلو شمېر ۲۱۸۸ تنه ښو د ل شوي وو، چې

ښا يې دا شمېر اوس د وه ګوڼې وې ۰

امر خيل مېلمه پا لونکي، غيرتي او د علم سره ډېره مينه لري ۰په دوی کې يو زيات شمېر ښوونکي، استادان، اکاد ميک او پو هان او نظامي منصبداران شته ۰ د ميدان ولايت په امر خيلو کې داعليحضرت محمد ظا هر شاه د وا کمنې په و خت کې په ولسي جرګې کې د ميدا ن ولا يت د خلکو استازی ار واښاد حفيظ الله خان امر خيل مشهور]قو مي مشر تير شوی د ی ۰ همداراز دهغه زوی خدای بخښلی سر محقق عزيزالله امر خيل دا فغا نستان د علو مو داکا ډيمې د ژ بو او اد بيا تو د مرکز علمي غړی و چې په پښتو فولکلور کې يې د ستاينې وړ علمي خد متو نه سر ته رسولي دي ۰

17 اوريا خيل

اور يا خيل هم په اصل کې غلجي پښتا نه دي چې د د غې قبيلې زيات شمېر خلک د کابل و لايت د پغمان په او لسوالۍ کې استوګنه لري او په نو مورې ولسوالۍ کې د دوی مشهور کلی او سېمه د خالدار يو په نامه سره يادېږي ۰ يو شمېر اوريا خيل د کابل د لويديځ په للند ر او يو شمېر هم د ميدان په و لايت کې استوګنه لري ۰

يو شمېر اور يا خيل د پکتيا ولايت د زرمت(زرملې) په اولسوالۍ کې هم مېشته دي۔ ۰ د لغمان ولايت اوريا خيل د لغمان ولايت په مرکز مهترلام او دغه ولايت د قر غيو په او لسوالۍ کې استوګنه لري چې د ۱۳٦۰ لمريز کال د هغې سر شمېرنې له مخې چې د مرکزي ا حصا ئيې له خوا تر سره شوې وه د لغمان په ولايت کې د دوی شمېر ۱۲۱۸۸ تنه ښود ل شوی د ی چې ښايې په دغه و لايت کې او س د دوی شمير د وه چنده وي ۰همداراز يو شمېر اوريا خيل د کابل و لايت د قره باغ په اولسوالۍ کې هم مېشته دي ۰

اوريا خيل ميلمه پالو نکي، زړور، غيرتي او په خپلواکۍ مين خلک دي ۰ د روسي تيري کوونکو په وړاند ې يې د غيرت او مېړنتوب کارنامې ز مور د ويارلي هېواد ګران افغانستان د تاريخ ځلانده بابو نه دي۔ ۰

18 الکوزي

الکوزي د پښتنو یوه تا ریخي او لر غونې قبیله ده چې په زړو او پخو انیو تاریخي یو نانې متو نو کې د دوی سېمه داراکو زیا په نامه سره یادیږي چې دالکوزي د نامه سره یې ور ته والی دامکان نه لیرې خبره نه ده ۰ په پښتو، فارسي، ارد و او انګر یزي تا ریخي کتا بو نولکه: تا ریخ حیات ا فغاني، تواریخ خو رشید جهان، پښتانه د تا ریخ په رڼاکې، د پښتنو تاریخ، صولت ا فغاني، د سر او لف کیرو د پټان او د بلیو د پټان په ډکشنرۍ او په تیره بیا د پښتنو په شجرو کې الکوزي سړبني پښتانه ګڼل شوي دي چې د زیرک زوی او دابدال لمسی د ی او پوپل، بارک، اخک او مو سی یې ورونه دي چې بیا الکوزي په ډېرو نورو نبا خو نو او څا نګو ویشل شوي دي چې مشهور نبا خو نه یې په لا ند ې ډول دي :

صفوزي، شکر زي، اپل یا اپو زي، سر کا نې، زکوزي، میلازي، یعقوب زي، د ولتزي، ابراهیمزي، مو سی زي، عمر زي، خانخیل، اکا خیل، سید خیل، پروټ، زنګي، بو ستان زي، نسوزي، پانیزي، کو تې زي، خالوزي، باروزي، نکروزي، بیان زي، فیرو زي، جیلاني زي، خدایډ د خیل، راموزي، اولالګي خیل.

18.1 الکوزو ولایتونه

الکوزي دافغانستان په لا ند نیو ولایتو نو کې مېشته دي:

1. د کندهار په ولایت کې: دالکو زیو د قبیلي خلک د کندهار ولایت په مرکز، دار غنداب، خاکریز، ار غستان، معروف، میونداو پنجو ایي په او لسو الیو کې مېشته دي چې د ۱۳٦۰ کال د مرکزي اداري د سر شمېرنې له مخې په کندهار کې د دوی مجمو عي شمېر د ۸۰۰۰۰ زرو تنو په شا او خو اکې نبو د ل شوی وو چې نبا یي اوس یې شمېر د وه چنده وي ۰

2. داروزګان په ولایت کې: دارز ګان د و لایت الکوزي داوروزګان په مرکز تیرین کوټ، د دهراود په ولسوالۍ او دهغه و لایت په ځینو نورو ولسو الیو کې مېشته دي چې مجمو عي شمېر یې په دغه

ولايت کې د پنځه زرو تنو په شا او خواکې ښود ل شويدي ۰

3. د زابل په ولايت کې: د زابل ولايت الکوزه ولايت د ميزان، ترنک او جلد ک په اولسوالیو کې استوګنه لري چې شمېر يې په نو موړي ولايت کې د شلو زرو تنو په شا او خوا کې ښود ل شويدي ۰

4. دهلمند په ولايت کې: دهلمند ولايت الکو زي د دغه ولايت په مرکز لشکر ګاه او د ناد علي، بغران، زميندا‌ور او ګر شک او نو زاد په او لسوالیو کې مېشته دي چې مجمو عي شمېر يې په نو مو ړي ولايت کې د ٤٠٠٠٠ تنو په شا او خو اکې ښو د ل شوی د ی ۰

5. د فراه په ولايت کې: د فراه ولايت په بيلا بيلو ولسواليوکې هم الکوزي شته چې شمېر يې د ٧٠٠٠ تنو په شا او خو ا کې ښو د ل شوی د ی ۰

6. دهرات په ولايت کې: دهرات ولا يت الکوزي د دغه ولايت دانجيل، ګذري، پښتون زر غون، اوبې، کرخ، زنده جان، اد رسکن، کهسان او يو شمېر نو رو ولسواليو کې مېشته دي۔ ۰ په دغه و لايت کې دالکو زيو ټول شمېر د سلو زرو تنو په شا اوخواکې ښود ل شويدي ۰

7. د باد غيس په ولايت کې: يو شمېر الکوزي د با د غيس ولايت په بيلا بيلو ولسواليو په تېره بيا د مرغاب او غور ماچ په ولسواليو کې هم ميشته دي ۰ د کو نړ په ولايت کې:

په پور تنيو ولايتونو سر ببره يو شمېر الکوزي په فارياب، جو زجان، سرپل، کند ز او کا بل کې هم مېشته دي ۰

8. د کو نړ په ولايت کې دالکو زيو يو ه ځانګه چې د سر کا نيو په نامه سره يادېږي د دغه ولايت د سر کا نيو په اولسوالۍ کې مېشته دي چې دوی په اصل کې د ځينو عو املو له کبله ډېر پخوا له کندها ره د ې سيمې ته را لېږد يد لي او د لته مېشته شوي دي چې شمېر يې د شلو زرو تنو په شا او خواکې ښود ل شويدي چې زياتره خلک يې د کرنې او سو داګرۍ په چارو بو خت دي او د چارتراشو سوداګري هم کوي ۰

9. په سهيلي پښتونخواکې: د سهيلي پښتونخوا په تېره بيا په کوټه، چمن او د بلو چستان په ځينو نورو سيمو کې هم الکوزي استوګنه لري .

10. په پښتونخوا کې: پرد ې سر بېره د پښتونخوا د د و ابې په سيمه کې او د پيښور په شاوخوا کې هم يو شمير الکوزي استوګنه لري .

11. په پاکستان کې: د پاکستان د راولپنډی د چهچه نومي سيمه کې هم ډېر شمېر الکوزي مېشته دي چې د سر کا نيو په نامه يوه سيمه کې دالکو زيو د نسوزي ښاخ خلک مېشته دي .

12. په جنو بي هند وستان کې: دالکوزيو يو شمېر د جنوبي هند وستان د د کن او حيد ر اباد په سيمه کې هم مېشته دي، خو له بده مر غه ځينو بې خپله خو ږه ژبه پښتو له لاسه ور کړي او په هندي ژبه ګړيږي .

18.2 ښاغلی خلک

الکوزي زړور، غيور تي او ميلمه پاله خلک دي .په علم او پو هي مين دي .دوی د روس داستعماري او ښکيلاګړو ځو ا کو نو پر خلاف د خپل هېواد د خپلواکی له پا ره ښې توري وهلي دي .

دالکوزيو په تا ريخي کسانو کې د د غو لاند نيو کسا نو نو مو نه ا خيستلی شو چې ز مو ږ دهيواد په تاريخ کې مشهوردي:

1. عبدالغني خان چې دالکو زيو د زيرازي له څانګې و او د مير ا فغا ن په نامه يادېده

2. دهرات والي يار محمد خان زين الد وله چې دالکوزيو د نسوزي څا نګې نه و او يو ډېر با تد بيره شخصيت تير شوی د ی

3. دافغانستان د ستر ټولو اک اعليحضر ت احمد شاه بابا مور زر غونه انا چې دالکو ز يو د نسو زي ښاخ پورې پې اړه د رلوده

4. مولوي محمد سرور خان و اصف د لو مړني مشر وطه غو ښتو نکو د ټو لنې مشر چې په اصل کې د کندهار دارغستان د ولسوالیو او بیاور وسته زنداني شو او د کا بل په شیر پور کې د خپل ورور سعدالله خان او د خپل پلار داکا د زوی عبدالقیوم خان سره یو ځای اعدا م شو

5. بابا عبدالعزیز خان الکوزی د مشروطیت د د ویم غو رځنګ غړی و ۰

19 علي زئي

که چیري دالیز یو پښتنو د نسب شجره په غور سره و څیړو نو دوی سړ بنې پښتانه او د د رانیو د پنجپای په ښا خ پورې اړه لري چې نورزي، ساکزي، اد وزي او ماکو بې ورونه قبیلي دي ۰

ډپټي محمد حیات خان د تاریخ حیات ا فغا ني په کتاب کې چې ۱٤۳ کلو نه د مخه یې کښلی د ی دالیزیو پښتنو په اړوند داسي لیکلي دي:" الیزي د کندهار په ز مینداور کې اوسیږي ۰د دوی د وداو د ستور دالکوزیو په څیر د ی ۰دالیزیو او الکوزو تر مینځ پو له دهلمند سین د ی ۰د دوی سیمه هم دالکو ز یو سېمې ته ورته والی لري، خو دالکو زیو زیا تره سېمه د رود ونو په اوبو او دالیزیو سېمه په کا ریزو نو خړ و بیږي ۰"

الیزي(علیزي) زیاتره د کر ني او ما لداری په چا رو بو خت دي او خورا غښتلي، غیر تي، میلمه پا لو نکي او دهیواد په خپلواکۍ مین خلک دي ۰دافغان-انګریز سره د خپلواکۍ په جګړه کې بې د میړانې او غیرت کار نامې ښود لي او د روسي و حشي یر غلګرو سره په مېړ انه جنګید لي دي ۰

په او سني وخت کې الیزي په لا ند نیو سیمو کې مېشته دي:

1. دهلمند په و لایت کې: دهلمند ولایت الیزي د دغه و لایت د ناد علي، کجکي، بغران، موسی کلا، ګرمسیر او نو زاد په ولسوالیو کې مېشته دي۔

2. د کندهار په ولایت کې: د کندهار ولایت الیزي د کندهار ولایت په مرکزاو د دامان،

میوند، ار غنداب، معروف او ژیړي په ولسوالیو کې میشته دي ۰

3. دارزګان په ولایت کې: دارزګان ولایت الیزي د دغه ولایت په مرکز ترین کوټ او دهراود، ګزاب او شهر ستان په ولسوالیو کې استوګنه لري ۰

4. د فراه په ولایت کې: د فر اه و لایت الیزي د نو موړي و لایت په مرکز او د با لا بلوک په او لسوالی کې میشته دي ۰

5. دهرات په ولایت کې: دهرات د ولایت الیزي دانجیل، ګذړې، کشک، غوریان، زنده جان، کهسان، پښتون زر غون، اد رسکن او شین ډنډ په ولسوالیو کې میشته دي ۰

6. د با غیس په ولایت کې: د باد غیس و لایت البزي د نو موړي ولایت د مر غاب او غور ما چ ولسوالیو په بیلا بیلو کلیو او با ندو کې میشته دي ۰

پر پورتنیو ولایتونو سر بیره یو شمیر الیزي په فاریاب، جوزجان، سرپل، بلخ او کند ز په و لایتو نوکې هم استوګنه لري ۰

7. په پښتونخواکې: یوشمیر الیزي د پښتونخوا د ټانک او دیر ه اسما عیل خان په سیمه کې استوګنه لري

8. په پاکستان کې: په پاکستان کې الیزي د پنجاب ایالت د راولپنډۍ په اسلامګړ کې چې د حسن ابدال ختیز لوري ته پرته ده او همداراز په ملتان کې استوګنه لري ۰

د تاریخ حیات افغاني په قول داسلام ګړ د سیمي دالیزیو د قبیلي مشر محمد شر یف خان و چې د رئیس بر هان په نامه سره هم یا دیده چې په نو موړي سیمه کې څو کلي یې د جا ګیر په تو ګه تر لاسه کړي وواو د ده په زامنو کې شیر د ل خان، پر د ل خان، سرورخان او حسین خان مشهور کسان تیر شویدي ۰ همداراز د راولپنډۍ د چهچه په سیمه کې هم ګڼ شمیر الیزي استوګنه لري ۰

په ملتان کې دالیزیو د قبیلي نه نواب فو جدار خان یو مشهور نواب تیر شوی د ی۔ ۰ همداراز د ده نیکه خدایار خان او یو شمیر نور الیزي مشران لکه عاشق محمد خان، محمد خان او غلام حسن خان الیزی نامتو خلک تیر شویدي.

9. په ایران کې: یوشمیرالیزي دایران په خټیزه برخه کې د قاین په سیمه کې چې دافغانستان پولي ته نږد ې د ی هم استوګنه لري ۰

10. دهند وستان په د کن کې: دهند وستان په جنوب په تیره بیا په اند را پرادیش کې هم یو شمیر الیزي استوګنه لري ۰

د روسیي د نامتو اتنو ګرافر ستا نیشفسکي په حواله په ټول افغانستان کې د شلمې عیسوي پیړۍ په نیمایي کې د دوی مجمو عي شمیر ۳۰۰ زره تنه ښود ل شوی د ی ۰

20 اند ړ

که چیرې داند ړو د نسب شجره په غور سره و څیړو نو څر ګنده به شي چې دوی په اصل کې غلجي پښتانه دي ۰اند ړ د موسی زوی، دابراهیم لمسی او د غلجي کړ وسی د ی ۰ د شجرو له مخې یې تر ه کی او سهاک ورونه ګڼل کیږي [8,9]۰

داند ړو شمال ته د غزني مرکز، جنوب ته یې د تر ه کو او سلیمان خیلو قبیله، خټیز ته یې زرمت چې زرمله یې هم بولي، لو یدیز ته یې دهزاره وو قوم او په ضمن کې د کره باغ سیمې سره پو له لري ۰

داند ړو د قبیلې ښا خو نه په لاند ې ډول دي: بازید خیل، جلال زي اولکن خیل چې با زید خیل بیا په خو اجه خیلو، مر جا ن خیلو، پیر خیلو، مو سی خیلو او ابر ا هیم زیو، جلال زي په خا ني خیلو،

---

8 تاریخ حیات ا فغاني، پښتو ژ باړه، ۱۳۸٦-۲۰۰۷کال چاپ، دانش خپر ند و یه ټو لنه، پیښور

9 پښتني قبیلي، لطیف یاد، ۱۳۸۵، د دانش خپر ند ویه ټو لنه، پیښور

الله يار خيلو او مصري خيلو او لكنې خيل د پو مي خيلو او بشال خيلو په څا نګو ويشل شوي دي ۰

دا ند ړو د قبيلې خلک زياتره په غزني، پکتيا، زابل، پکتيکا، بغلان ميدان او کا بل کې مېشته دي چې په لا ند ې تو ګه د ر پيژ ند ل کيږي:

1. د غزني په و لايت کې: اند ړ د غزني ولايت داند ړو، جغتو، شلګر، جامراد، ده يک او زنه خان په ولسوالیو او سيموکې مېشته دي چې په نو موړي و لايت کې د دوی مجمو عي شمير ۲۰۰ زرو تنو ته ر سيږي ۰

2. د پکتيا په ولا يت کې: اند ړ د پکتيا ولايت په مرکز ګر ديز، زرمت او ځمکنيو په ولسو اليو کې ميشته دي چې په نو موړي ولايت کې يې ټول شمير د ۵۰ زرو تنو په شا او خوا کې ښود ل شوی د ی ۰

3. د پکتيکا په ولايت کې: د پکتيکا ولايت اند ړ په شرنه او ميتا خان کې استوګنه لري چې مجمو عي شمېر يې په دغه ولايت کې د ۲۰ زرو تنو په شا او خو اکې ښود ل شوی د ی ۰

4. د زابل په ولا يت کې: د زابل ولايت اند ړ د دغه ولايت د شا ه جوی په ولسوالۍ کې استوګنه لري چې مشهور کلي يې عبدالرؤف کلا، داند ړو کو ټي، داند ړو کلی او سرور کلا نو ميږي ۰داسي ويل کيږي چې دوی د غزني ولايت د شلګر ولسوالۍ نه د ې سيمې ته ليږ ديد لي او د لته ميشته شوي دي ۰ همداراز د زابل ولا يت د دای چو پان په ولسوالۍ کې هم داټوالو په نامه داند ړو يو ښاخ استوګنه لري چې شمير يې د ۲۰ زرو تنو په شا او وا کې ښود ل شو ي دي

5. د بغلان په ولايت کې: د بغلان ولايت اند ړ د دغه ولايت د نهرين په ولسوالۍ کې ميشته دي او داند ړو د لکنې خيلو د ښا خ پورې اړه لري ۰

6. د کابل په ولايت کې: د کابل ولايت اند ړ د چهاردهي ولسوالۍ د کلای بها د ر خان په کلي کې استوګنه لري چې شمېر يې ۵۰۰ تنو ته رسيږي ۰

اند ړ ډير ميلمه پال، غيرتي او دهيواد سره مينه د دوی په پښتني خته کې اخښل شوې دهـ ۰ دا نګرېز انو سره دافغانستان د خلکو په د ري ګو نو جګړو کې د دوی ونډه د رنه ده,د بيلګې په توګه د ۱۸۷۹ ميلادي کال د د سامبر د مياشتې په عمو مي پا ځون کې اند ړ د ملا دين محمداند ړ په مشرۍ چې په ملا مشک عا لم سره يې شهرت د رلوداو همداراز د ګل محمد خان اند ړ په مشرۍ چې يوملي شخصيت و په غزني کې يې په انګرېزانو ځمکه تبۍ و ګر ځوله او د يو ملي ځواک په تو ګه يې دانګر يزانو په وړاند ې سره يو مو تی او د ښمن ته يې خوله ما تووڼکي ګو زارونه ورکړل ۰

د روسي ښکيلاکګرو په و ړاند ې هم اند ړو ډېرې سر ښند نې کړي دي او دافغاني غيرت او تورې په زور يې روسي غليمانو ته هم غاښ ما تووڼکي ځو ابو نه ور کړي دي ۰

21 اورکزي

اورکزي د پښتنو يوه نا متو قبيله ده چې ز مو ږ پښت پو ها ن (نسب پيژ ند و نکي) يې د کر لانۍ پښتنو د ټولنيز ګروپ نه شميري ۰

داو رکزيو د قبيلې زيا تره خلک داورکزيو په ايجنسۍ او يو شمير يې په کو رمه ايجنسۍ کې استوګنه لري ۰ چې مرکز يې دهنګو ښارد ی ۰ او رکزي د کو هاټ په شمال لويديځ، د سپين غره په ختيز او د تيراه په جنوب کې پراته د ی ۰ شمال ته يې داپريد و قبيله، شمال لويديز ته يې پړه ځمکني، لويديځ ته يې توري، جنوب ته يې بنګښ او ختيز خو ا ته هم داپر يد و اوبنګښو سره پوله لري ۰

داو رکز يو دايجنسۍ مجمو عي نفوس ٤٥٠٠٠٠ تنه د ی چې په او رکزيو سر بيره نور پښتا نه هم يکې اوسي لکه: علي خيل، ميشتي خيل، ملا خيل او شيخان خيل ۰

اور کزي په لا ند نيو مشهورو ښا خو نو با ند ې ويشل شوي دي چې بيا هر يو ښاخ يې په نورو ځا نګو با ند ې ويشل شويدي ۰ د د غو مشهورو ښا خو نو او ځا نګو نو مو نه په لاند ې ډول راوړل کيږي:

1. اسماعيل زي: چې دا ښاخ په ر ابيا خيلو، ابا خيلو، مامازي، بهريم خيلو، خادي زي، عيسي خيلو او سادا خيلو با ند ې ويشل شوي دي ۰

2. موسي زي: چې په لنډي زي، علي زي او خواجه خيلو با ند ې ويشل شوي دي ۰

3. لشکر زي: چې په علي شير زيو او ما مو زيو باند ې ويشل شوي دي ۰

4. د و لت زي: چې په فيروز خيلو، اتمان خيلو او بيزو تي با ند ې ويشل شويدي ۰

5. محمد خيل: چې په بر محمد خيلو، عبدالعزيز خيلو، ما ني خيلو او سه پای با ند ې ويشل شويدي۔

6. ستوري خيل يا علي زي: چې په باړه ستوري خيلو او تيراه ستوري خيلو با ند ې ويشل شوي دي ۰

په دوی کې ځيني ښا خو نه شيعه مذ هبه او ځيني يې هم سني مذ هبه دي۔ ۰ د د ې نه پر ته د دوی تر مينځ يو بل ډول قبيلوي ويش هم مو جود د ی چې سمل ګو نداو ګا ړي ګو ندېې بو لي چې د د غې قبيلې ځيني خلک په سمل او ځيني په ګاړه پورې اړه لري ۰

تا ريخ حيات ا فغاني داو ر کز يو په باب ليکي: " داسي ويل کيږي چې د بنګښو نه د مخه په کو ها ټ با ند ې اور کز يو واک د رلوداو تقر يبا پنځه سوه کلونه د مخه بنګښو داورکز يو نه د کو هاټ سيمه ونيوله چې د د غې سيمي د نيولو له پا ره د دوی تر مينځ خو نړی جګړې وشوې او د يوه افسا نوي روايت له مخې د دوی تر مينځ دغه شخړه او لا نجه د (دای) په نامه يوه تن اواره کړه، په د ې تو ګه چې يو ځل د بنګښو او اورکز يو ملکان د سيمو د ويش له پاره په د رسمند کې سره را غو نډ شوي وو او هرې يوې غاړې غو ښتل چې زر خيزې سيمې تر لاسه کړي، له همد ې کبله د دوی تر مينځ سو له ونه شوه او نږد ې و چې د دوی تر مينځ بيا جګړه ونښلي، په دغه وخت کې دای نو مې چې پر اس سپور و له ليرې را ښکاره شو ۰د د ې له پاره چې بنګښ او اورکزي د واړه له جنګ جګړو نه په تنګ راغلي وو نو دوی په د ې خبرې با ند ې سره اتفاق و کړ چې دغه دای نو مې سپور کله چې دوی ته نږد ې راشي نو دوی به ورته د بنګښو او اور کز يو تر مينځ د سيمو د ويش سؤال مطرح کړي او هر څه پريکړه چې ده

وکړه نو د واړو غاړو ته به د منلو وړ وي ۰په دغه وخت کې نو موږی سپور راورسیداو د واړو خواوو د د غې شخړ ې داوارولو له پا ره له ده سره خبرې وکړې، هغه په داسي حال کې چې هما غسي پر اس سپور و په پښتو ژبه يې دغه بيت ووايه:

دای خو داسي وايي.....چې سمه د بنګښ، غر داورکزی

ويل کيږي چې له هماغه ورځې وروسته د دای ويش عملي شو او تر اوسه هم د چلند وړ د ی"۔ [10]

اورکزي په غر نی سيمه کې ژوند کوي چې د وبی يي معتد ل او ژمی يې خورا سوړد ی، په تيره بيا د مرغومي، سلواغې او کب په ميا شتوکې چې د جنوري، فبروري او مارچ د ميا شتو سره سمون خوري ۰ د دوی زيا تره خلک د کرنې په چارو او لږ شمير خلک يې په پوونده ډول ژوند کوي ۰ د ځمکو لږه برخه يي په روانو او بو خړوبيږي، خو د ځمکو ډيره برخه يې وچوبه(للمي) دي، مګر ډيرې زرخيزې دي، ان چې د وه فصله حا صلات ور کوي ۰دوی په خپلو ځمکو کې وريجي، غنم، جوار، اوربشي، لو بيا، کد و ان، تيپر او دار چيني کري چې د دوی د سيمي خوراکي پيداوار د دوی اړتياوې پوره کو لای شي ۰

داورکزيو ايجنسي د سمند ر نه تر ۷۰۰۰ فو ټو پورې لوړوالی لري او ټوله ر قبه يې ۱۸۰۰۰ کيلو متره ښو د ل شوې ده ۰

مشهور سيند ونه يې تاجلي، خرماني، د ماموزو رود، ګندا‌و، انګوري، تبي، کړمان، ابی د ری، مستوره او د خانکي توی سيند ونه دي ۰

داورکزيو دايجنسی هيډ کوارټر هنګود ی او اصلي ښا ر يې د ره اد م خيل د ی ۰اورکزي خپل با زارونه د ميله په نامه ياد وي چې دهغو نه يې لاندينې ميلې مشهورې دي: ډبوري ميله، ميشتي ميله، فيروزخيل ميله، کا لايا ميله، غلجو ميله، ساما مموزي ميله، انجاني بازار، کده بازار او کوريز ميله ۰

---

10 تاريخ حيات افغاني، د ډپټي محمد حيات خان

داورکزیو ایجنسۍ د لید و وړ ځا یونه، کلا یا، فیروز خیل سا ما نه، ډوبرۍ، کول او بد ن دي ۰

داو رکز یو دایجنسۍ سر بیره یو شمیر او رکزي او دهغو جملي نه مسوزي او نیمایي لښکرزي د کورمې په ایجنسۍ کې هم استوګنه لري ۰د پاکستان په نورو ښارونو لکه کراچۍ، راولپنډۍ، اسلام اباداو لاهور کې هم یو شمیر او رکزي میشته دي ۰ په بیښور کې هم زیات شمیر اورکزي استوګنه لري ۰

اورکزي غیر تمن، جنګیالي، میلمه پالو نکي او په پښتنولۍ ټینګ خلک دي ۰ دوی دانګریزانو سره په هغه وخت کې چې دهند نیمه وچه د دوی تر استعماري واک لاند ې وه په ډیره میړانه جنګید لي دي او داسي ویل کیږي چې دوی په هغه وخت کې ۲۸۰۰۰ زره تنه وسله وال ځو انان د رلود ل ۰

د اورکزیو په ټو لو څانګو کې د ولټزي او مسوزي په شمیر کې زیات دي ۰داورکزیو مجمو عي شمیر د ۳۰۰ زرو تنو په شا او خواکې ښود ل شوی د ی چې له هغې جملې نه ٦۰ زره تنه یې د کورمې په ایجنسۍ او پا تې بې داورکز یو په ایجنسۍ کې میشته دي

21.1 اورکزي په هند وستان کې:

اورکزیو په هند وستان کې داتلسمې پیړۍ په لو مړۍ نیمایي کې د دغه هیواد په مدهیا پرادیش کې چې مرکز یې د بهو پال ښارد ی یو لوی پښتني ریاست جوړ کړ چې بنسټ ایښود ونکی اورکزی پښتون نواب د وست محمد خان د ی ۰نو مورې د دغه پښتني ریاست بنسټ په ۱۷۲۳ زیږدیز کال کې په بهو پال کې کیښود ۰نومړی دهند وستان د مغو لي واکمن عالمګیر اورنګ زیب د زوی سلطان بهاد رشاه په زمانه کې له تیراه نه چې په هغه و خت کې دافغانستان د خاورې برخه وه هند وستان ته راغلی و ۰په بهو پال کې تر د وست محمد خان نه وروسته داورکزیو پښتنو د پاتو نوابانو نو مو نه په لاند ې ډول دي:

نواب سلطان محمد خان، نواب یار محمد خان، نواب فیض محمد خان، نواب حیات محمد خان، نواب غوث محمد خان، نواب جها نګیر محمد خان، نواب نظیر محمد خان، نواب شاه جهان بیګماونواب سلطان جهان بیګم ۰

د بهوپال پښتني نوابانو د بهو پال د ښار په ودانولوکې ډیرې هلې ځلې کړې دي چې د ستا يني وړدي ۰د دوی د نو ابيو په وخت کې ډير جو ماتونه، مد رسې، کتابتو نو نه، پلونه، رو غتونونه او نور ډېر عام المنفعه کارونه تر سر ه شوي دي ۰

22 اورمړ

د پښتني شجرو پر بنسټ اورمړ سړ بني پښتانه دي چې د جنو بي و زير ستان په کانېګروم، د پښبور په شا اوخوا او د افغانستان د لو ګر په و لايت کې مېشته دي ۰داورمړ اصلي نوم عمر دين و چې وروسته داورمړ په نامه مشهور شوی د ی ۰(۱)پښتني توکم پو هانواورمړ د شر خبون زوی او د سړبن لمسی ګنلی د ی ۰

د تاريخ حيات ا فغا ني مؤ لف ډپټي محمد حيات خان داورمړو په اړوند داسي ليکلي دي:" جوته ده چې داور مړ پلار امر دين د شر خبون له پنځو زامنو په جمله کې تر ټو لو کو چنی و ۰ده يو زوی د رلود چې اورمړ نو ميده او قبيله يې هم د ده په نامه نو مول شوې ده او تر اوسه هم په همد ې نامه سره يادېږي ۰ داسي ويل کيږي چې اورمړ شل زامن د ر لود ل او هر ځوی يې چې چيرته پيدا شوی د ی دهما غه ځا ی نوم يې پرې ايښی د ی او يوه منظو مه چې حضرت ميا عمر څمکني(رح) ويلي نو په هغې کې هم اورمړ ته شل زامن منسوب شوي دي، په د ې ډول: سنګتوی، منتوی، مشکور، شکتوی، زيق، مشوی، جلو يان، کانېګروم، حوان، کو نيخ، خصيران، رنګ، د لجا، ملاڼي، سيداني خان، د و توي، سين، خليل و بورکي ۰" [11]

نوموړی مؤرخ د دوی داستوګني سيمي موږ ته داسي معر في کوي:" داورمړو داستو ګني سېمه د سليمان د غره هغه برخه ده چې اوس پکې د وزير واو مسيد و قبيلي استوګنه لري ۰ د کا ڼيګروم ښار چې د وزيرو او مسيد و د بد ر په سيمه کې پروت د ی داورمړو له خوا جوړ شوی د ی چې اوس هم داورمړو پنځه ښا خونه په کا ڼيګروم کې په د ې ډول او سېږي: خيکني شپيته کوره، خرم چاني څلويښت کوره،

---

11 حيات افغاني، پښتو ژباړه، ۱۸۰ مخ

ملا تا نې شپیته کوره، بیکسي د وه سوه کوره او جرانې شل کوره چې ټول د ۳۸۰ یا ٤۰۰ کو رنیو تر مینځ په خپل پخوا نې ټاټوبي کې استوګنه لري ۰ "[12]

د کانیګروم اورمړ په خپلو مینځو کې په اورمړي ژبې ږغیږي چې بر ګستا، بورکي او بر کي بې هم بولي چې د پښتو، هندي او پارسي ژبي لغوي جوړښتونه پکې شته، خو هغو اورمړو چې خپله ژبه بې ساتلي ده د دوی په ژبه کې له څیړنو داسي معلومیږي چې په مشکله کیدای شي هغه د پښتو ژبې یو دایلیکټ(لهجه) وګڼل شي ځکه چې د د غې ژبې فو نو لو جي، مور فو لوجي، سین تا کسیس، لیکسیالوجي او نور پ ژ بنی ځا نګړ تیاوې دا جو توي چې د دوی ژبه لرغوني او د ختیزو اریایي لهجو ځیني شمیرله کیږي او داریایي ژبو په کو رنی کې شا مله ده ۰[13]

په اوسني وخت کې داورمړو داستو ګني ځایونه دادي:

1. د جنوبي وزیرستان په کا نیګروم کې چې د ۱۹۹۲ زیږدیز کال د سر شمیرنې له مخې یې شمیر ۳۰۰۰ تنه ښود ل شوی د ی ۰

2. د پیښور د جنوب ختیز په لس کیلو متری کې داورمړو د ړې کلي شته چې د برو اورمړو، ښکتني اور مړو او منځني اور مړو په امه یادیږي ۰

3. په جنوبي وزیر ستان او پیښور سر بیره یو شمیر اورمړ د پښتونخوا په کورمې ایجنسی، کهرک، اورکزیو ایجنسی او سوات کې هم میشته دي، خو په د غو یاد و شوو سیمو کې دوی شمیر خورا لږ د ی ۰

4. دافغانستان د لو ګر په ولایت کې: د تاریخ حیات افغاني د مؤ لف ډپټي محمد حیات خان په حوالە د دوی یو شمیر ٦۰۰ کلونه د مخه د وزیرو قبیلي د غلبي په وجه او هم د کاختی(قحطی) په

---

12 پښتانه د تاریخ په رڼا کې، د سید بهاد رشاه ظفر کاکا خیل لیکنه، ۱۲۸۳ مخ

13 د افغانستان ژبې او تو کمو نه، سر محقق د وست شینواری، ۱٦۸-۱٦۹ مخونه

سبب د جنو بي وزير ستان نه د لو ګر د برکي برک سيمي ته ولېږديد ل .دافغانستان د علو مو اکېډيمۍ د ژبو او اد بيا تو دانستيوت د غړي ښاغلي د کتو ر خليل الله اورمړ په قول چې خپله هم يو ژبپوه د ی ماته بې په په ۱۳٦۹لمريز کال کې د لو ګر داورمړو په اړوند وويل چې د لوګر اورمړ د عبدالصمد خان، نورالله او تقي په کليو کې استوګنه لري او په هغه وخت کې بې ما ته په نو موړي ولايت کې داور مړو مجمو عي شمير د ٤۰۰ او ٥۰۰ تنو تر مينځ و ښود، چې ښايي اوس به د دوی په شمير کې ډيروالی راغلی وي .

5. دهند وستان د پنجاب ايا لت د جلند رهر په ښار کې هم ډير لږ شمير اورمړ شته .

اورمړ غيرتي، ميلمه پالونکي او په ملګرتيا کې تکړه خلک دي .

د روښاني غورځنګ بنسټ ايښود ونکی او د خيرالبيان او حالنا مې مؤ لف حضرت بايزيدانصاري چې په پير رو ښان عليه الر حمته ۱٥۲٥-۱٥۸٥زيږديز مشهورو او د مغو لو پر خلاف يې د ويړه ډکې مبا رزې کړي دي اورمړ پښتون و .

د وزير ستان په اور مړو کې دغه لاندينې اورمړ نا متو کسان دي: جنرال وحيد علي بورکی، سکند ر افضل خان دالبورکي قو مي مو منټ مشر، ملک عبدالرؤف بورکی په کانيګروم کې د بورکي قوم مشر، ملک محمد قريب خان بو رکی او ستر جنرال فاروق احمد خان .

همداراز دافغانستان د لو ګر داورمړو له جملې نه ښا غلی د کتورخليل الله اورمړ نه يا د ونه کوم چې دافغا نستا ن د علو مو اکډمی علمي غړی او محقق د ی چې په پښتو او اورمړي ژبو کې څيړ نې کوي .

23 بابړ

که چيري د بابړو د قبيلي د نسب شجره په غور سره وڅيړو، نو جو ته به شي چې دوی په اصل کې سړ بني پښتا نه او د شير ا نيو د قبيلي يوه څا نګه ده . دوی وروسته د شيړ انيو نه بيل شوي او او لاد

ې يې ځا نته بيل نوم غوره کړی د ی او نن ورځ د يوې جلا قبيلې په تو ګه ژوند کوي ۰

د تاريخ حيات افغاني د شجرې پر بنسټ بابر د ود م ځوی، د شيراني لمسی، د شر خبون کړوسی او د سړبن کود ی د ی ۰ همداراز بابر دانجر او سنجر په نامه د وه زامن د رلود ل چې سنجر بيا د مسعود خيلو، اسما عيل خيلو، ابراهيم خيلو، يعقوب خيلو او غو ريا خيلو په څا نګو با ند ې ويشل شوي دي ۰

د با بړو داستو ګنې اصلي ځای د سليمان غر ګنل شوی د ی چې وروسته د شمير د ډير والي او يا هم ښا يې د نورو عو املو له کبله له خپل اصلي ټا ټو بي نه خواره و اره شوي او په نورو ځا يو نو کې مېشته شوي وي.

ويل کيږي چې د با بړو د قبيلي خلک د پخوانۍ زمانو ر اهيسي د تجارت او سو داګرۍ د کارونو سره ډيره ليوالتيا د رلوده او د د ې قبيلې خلکو دهند وستان او د منځنۍ اسيا (بخارا او سمر قند) تر مينځ د بيلا بيلوسوداګريزو مالونو لکه پو ستينونونو، اينجې او قيمتي وريښمينو ټو کرانو سو داګري کوله او دوی په خپلو سو دا ګريزو د ند و کې، ريښتوني، ايمانداره، حليم او د ښه چلند خا وندان وو، ان تر د ې چې انګريزي نا متو مؤرخ او د کابل د سلطنت بيان مؤلف مونټ ستوارټ الفنسټن هم د د ې خبرې سره موافق د ی چې دوی د سو داګرۍ په چارو کې ډېر ماهر وو ۰ همداراز دوی په اقتصادي پلان جوړونې او حسابي چارو کې د ومره مهارت د رلوداو په د ې کارونو کې د ومره بر يالي وو چې د افغانستان د بنسټ ايښود ونکي لوی احمد شاه بابا په وخت کې نور محمد خان بابر مستو في المما لک او ګل محمد خان بابر ته دامين الملک(لوی خزانه دار) مهمې د ند ې سپارل شوې وې ۰

په او سني وخت کې بابر په لاند نيو ځا يو نو کې مېشته دي:

1. په کندهار کې: په کندهار کې بابر د دغه ښار د بابړو په کوڅې، د پنجوايي په ولسوالۍ او د کندهار دارغنداب په سوزني نو مي سيمه کې ژوند کوي چې په دغه ولايت کې د بابړو مجمو عي شمير د ۲۰ زرو تنو په شا او خواکې ښود ل شوی د ی ۰اروابښاد سترعلا مه پو هاند رشاد بابا(۱۹۲۱-۲۰۰۵ ميلادي) چې ټول پښتانه پرې ويارې او پښتو ژبې، اد ب، تاريخ او فر هنګ ته يې د ستا يني او قد ر وړ خد متو نه کړي دي اوما د د ې مقالې ليکوال هم دهغوی دارزښتناکو علمي

لارښوونو نه ډيره ګټه او چته کړي ده هم بابړ پښتون و چې د کندهار ښار د بابړو په کو څه کې يې د ې نړۍ ته ستر ګې پرانبستلې وې ۰

2. په ننګر هار کې: د ننګر هار ولايت د جلال اباد ښار لويديز خواته د بابړ يانو يوه لو يه محله شته چې د علي خيلو سره په ګا وند کې ده ۰

3. د جوزجان په ولايت کې: يو شمير بابړ د جوزجان په بيلا بيلو ولسواليو او دهغې جملې نه د خواجه د وکوه، اقچې، فيض اباداو خانقاه په ولسواليو کې هم مېشته دي ۰ د شبر غان د ښار بابړ د دغه ښار په مرکز او همداراز د دغه ښار ته څيرمه سيمو لکه شکرک، افغان تپه، شير خيل، شوبي، خواجه د وکوه افغانيه او تابين کې ژوند کوي ۰ په اوسني وخت کې د جوزجان د بابړو نه يو تن ګو هر خان بابړ د جوزجان ولايت د فيض اباد د ولسوالۍ ولسوال د ی ۰

4. د فارياب په ولايت کې: يو شمير بابړ د فا رياب ولايت د قيصار په ولسوالۍ کې هم ميشته دي ۰

5. د با د غيس په ولايت کې: بابړ د دغه ولايت د غورماچ او مرغاب په ولسواليو کې استوګنه لري ۰

6. د بلخ په ولا يت کې: د بلخ په ولا يت کې مېشته بابړ د دغه ولايت د بلخ په ولسوالۍ کې استوګنه لري.

7. د کند ز په و لايت کې: يو شمير با برد دغه ولايت د د شت ارچي په ولسوالۍ کې هم مېشته دي۔

په پورتنيو ولايتو نو سر بيره يو شمير بابړ په هيلمند، لوګر او کو نړ کې هم مېشته دي، خو دهغوی د د قيق شمير په اړوند زما سره کوم معلو مات نشته ۰

داسي تاريخي شواهد شته چې د دوی ۵۰۰ کورنۍ کو چياني او ۷۰۰کورنۍ نيمه کو چياني ژوند لري چې د دوی د ليږد مسير اولاره دهرات دهريرود نه نيولې د باد غيس، فارياب، جوزجان، بلخ او کند ز پورې دي چې د کال په بيلا بيلو مو سمونو کې په نو موړو ځا يو نو کې خپلې کيږد ی د روي او خپل

مالونه او رمې په ورشو ګانو کې خروي ۰

8. په سهيلي پښتونخواکې: د سهيلي پښتونخوا د مشهور ليکوال، مؤرخ او فولکلور پيژند ونکي پروفيسور سيال کاکړ په حواله يو شمير بابړ په ژوب، کوټه او پښين کې هم مېشته دي ۰

9. په پښتونخواکې: په پښتونخواکې د بابړو سيمه د ميا خيلو سهيلي برخې ته پرته ده چې لو يديز لورته يې سختې غرنۍ سيمې پر تې دي ۰ اوس دوی د پښتونخوا د ديره اسماعيل خان په چو دهوان او دامان کې مېشته دي۔ ۰ اوس دامان د تانک په نامه يادېږي چې د ديره اسما عيل خان يو د ستړکټ(ولسوالي) ده ۰ همداراز په سيهره نومي سيمه کې هم چيرې چې شيراني اوسي بابړ مېشته دي ۰ يو شمير بابړ په پښور کې هم استوګنه لري چې انګريزي ژبېوه ميجر را ورتې په دامان يا اوسني تانک کې د دوی مجمو عي شمير د ۷۰۰۰ کو رنيو په شا او خواکې ښود لی و چې ۷۰۰ تنه جنګيالي ځوانان يې د رلو د ل ۰

10. په سند کې: د پروفيسور سيال کاکړ داثر پښتو او پښتانه په سهيلي پښتونخواکې پر بنسټ يو شمير بابړ د پاکستان هيواد د سندايالت په ګړهي ياسين، سلطان کوټ او شکار پور کې هم مېشته دي ۰

11. په هند وستان کې: لکه چې د مخه ورته اشاره وشوه بابړ و د سو داکرۍ په چارو کې ډير مهارت د رلوداو دهنداو منځنۍ ايشيا تر مينځ يې د سو داکرۍ چارې پر مخ بيولې، چې د د غو با بړو د جملې نه يو شمير په هند وستان کې مېشته شوي دي چې دهند په مختلفو ايالتو نو لکه مهاراشټرا، اندهراپرديش، مدهيا پراديش او ګجرات کې مېشته دي، خو له بده مر غه چې خپله خوږه پښتو يې له لاسه ورکړې ده ۰

تاريخ حيات ا فغاني د بابړو د د وداو د ستور په اړوند ليکي:" هغه بابړ چې په افغانستان کې اوسي نو د ود ونه او رواجونه يې دهغو بابړو سره تو پير لري چې د شيرانيو په ګا ونډ کې اوسي ۰ هغه بابړ چې د

شیرانیو په ګا وند کې اوسي نو دهغوی رواجونه کټ مټ د شیرانیو په ځیر دي." [14,15,16,17]

24 بابي (بابياني)

زمور پښت پو هان (نسب پیژند ونکي) د بابي یا با بیانو قبیله د پښتنود غر غښت د ټولنیز ګروپ پورې تړي ۰

د پښتني شجرو له مخې بابي څلور زامن د رلود ل چې میرزی، سرو، عزرائیل او کتوزی نو میـد ل چې میرزی په شلو خیلو، یحیی زیو او حید رزیو او کتوزي په یاسین زیو، اد ریس زیـو او صـایب زیـو بـا نـد ې ویشل شوي دي ۰ د تا ریخ حیات افغا ني په قول چې د مخزن افغـاني نـه یـې روایـت کـړی د ی وایي چې بابي په پیل کې په خپلو څلورو زا منو با ند ې د څلورو سپیڅلو او مقر بو پر ښتو(ملائکو) نومونه ایښي وو، چې نورو پښتنو هغه ملامت کړاو هغه هم دهغوی نو مو نه بد ل کړل، خـو یـوازې د عـزرا ئیـل نـوم پـه خپل پخواني حالت تر او سه هم پاتي د ی ۰

بابیان په کندهار ۰کند ز، کلات نصیر خان او د سهیلي پښتونخوا په بـوري، چمـن او د کـوئیټې پـه شا بو نو مي کلي کې مېشته دي ۰د پاکستان د سنده ایالت په مرکـز کـر اچـی کـې هـم یـو شـمیر بـا بیـان استوګنه لري ۰ همـداراز دهنـد و ستان د ګجرات ایالت پـه جـو نـاګړه کـې هـم بابیـان اسـتوګنه لـري او د 1747 میلادي کال نه تر 1948میلادي کا ل پوري با بیانو د جو ناګړه په سیمه کـې یـو پښـتني ر یاسـت د رلود ۰

---

14 مونټ سټوارټ الفتسټن، د کابل سلطنت بیان، د وهم ټوک، ٦٢ مخ

15 پښتانه د تاریخ په رڼا کې، ١٢٧٦ مخ

16 تاریخ حیات افغاني، ٢٥٥ مخ

17 پښتو او پښتا نه په سهیلي پښتونخواکې، د پروفیسور سیال کا کړ تالیف

ډپټي حيات خان په خپل مشهور اثر تاريخ حيات افغاني کې چې په ارد و ژبه کښل شوی او وروسته په انګريزي او بيا په کابل کې په پښتو تر جمه او چاپ شوی د ی د بابي پښتنو په اړوند داسي ليکلي دي:" بابيان په کندهار او کلات نصير خان کې ډير با همته سو داګران دي او د خپل غوره سلوک اونرم چال چلند په و جه د نبه ژو ند ځښتنان او اکثره يې شتمن دي ۰همداراز د د غې قبيلې خلک په ميړانه کې هم نبه شهرت لري".

د بابيانو د ستور کټ مټ نورو ګاونډي پښتني قبيلو ته ورته د ی ۰

د روسي نا متو اتنو ګر افر ستا نيشفسکي داتنو ګرا فيکو معلو ما تو پر بنسټ د شلمې پيړۍ په لو مړۍ نيما يې کې د بابيانو شمير په افغانستان او سهيلي پښتونخواکې ۸۵ زره تنه ښود ل شوې د ی ۰بابيان ډير نبه شا عران، ليکو الان او هنر مندان لري ۰په او سني وخت کې لطيف جان بابی د پښتو خوږ ژبې سند ر غاړی د ی ۰ دهند وستان د جو نا ګړه د پجود د سيمي نواب او دهندي، ارد و او ګجراتي ژبو مشهور شاعر عما دالدين خان بابي چې په رسوا مظلوم سره هم متخلص و د روان ۲۰۰۸ ميلادي کال داپريل په ۲٤ نيټه يې له د ې فا ني نړۍ نه ستر ګي پټې کړې ۰ همداراز دهند د سينما فلمي اداکاره پروين بابي ۱۹٤۹-۲۰۰۵ ميلادي هم بابي پښتنه او د جو نا ګړه د بابي پټانانو(پښتنو) په کو رنۍ پورې يې اړه د ر لوده ۰

24.1 دهند وستان د ګجر ات ايالت د جونا ګړه د سيمي بابي نوابان

د جو ناګړه سيمه چې دهند د ګجرات په ايالت کې مو قعيت لري يوه تا ريخي او پخوانۍ سيمه ده چې د سنسکرت په پخوانيو او زړو متو نو کې يې ذکر او يا د ونه شوې ده ۰په دغه ښار کې ډيرې لر غو ني کلا ګاني او تا ريخي ودانۍ شته چې د معمارۍ دهنر له مخې د ډير اهميت ور ګنل کيږي۔ ۰ پر د غې سيمې باند ې مو ريانو، سلونکيانو، مغولو، افغا نا نو او انګريزانو واکمني چلولې ده، خو د لته زمور د بحث مو ضوع هغه پښتا نه با بيان دي چې پر دغه سيمه يې تقريبا ۲۰۰ کلونه واک د رلود ۰ د پښتنو بابي نوا بانو د جملې نه لا ندييني نوابان د ر پيژنو ۰ بايد وويل شي چې د غو بابي نو ابانو ته خانجي هم وايې، ځکه چې هنديان په مجموع کې افغانان او په تيره بيا پښتانه يا پټها نان ته خان صا حب او خا

نجي هم وايي ۰

24.1.1 نواب بهاد رخان بابي

نواب بهاد رخان د صلابت خان زوې، د صفد ر خان لمسی او د جعفر خان کړ وسی د ی ۰ویل کیږي چې د دوی کورنۍپه اصل کې له کندهاره د جو نا ګړه سیمې ته تللي او هوري میشته شوي دي۔ ۰ نواب بهاد ر خان با بی دهند وستان د مغو لي واکمنۍ په وخت کې د پو هې او میړ نتوب په وجه د د یوان خطاب تر لا سه کړ او د ګجرات په ایالت کې د وې سیمې ده ته د جا ګیر په تو ګه ور کړل شوې ۰ده همداراز ده داحمداباد د حا کمانو سره هم ډیرې ښې اړیکي د ر لود ې، همدا وجه وه چې دوی ورته د بیرم ګام، بیجا پور او بار ها رچه سیمي داجارې په تو ګه ور کړې ۰ نواب بهاد ر خان بابي د مهارا شټرا د پو نې د پیشوا سره هم د و ستانه اړیکې ټینګې کړې وېاو د پیشوا له خوا هم ده ته د سر بلند خان لقب ور کړل شوی و ۰

د نواب بهاد رخان بابي د نوابۍ په وخت کې یوبل بابي پښتون ته چې کمال الدین خان بابی نو مید د بالاجي راؤ له خوا په ګجرات کې د پیران پټن، برنګر، بیس نګر، سمي، مینچور، تهراد، بیجا پور او کمرالو سیمي د جا ګیر په تو ګه ور کړل شوې ۰

په ۱۸۰۲ میلادي کال هغه وخت چې پیلاجي نومي د جو نا ګړه د نیو لو پریکړه وکړه، نو نواب بها د ر خان با بي د خپلې پو هې او تد بیر په و جه دهغه سره سو له و کړه ۰نو موړی نواب په ۱۸۰۲ میلادي کال کې له د ې فاني نړۍ نه ستر ګي پټې کړې ۰

24.1.2 نواب مها بت خان بابي

نواب مهابت خان د نواب بهاد ر خان زوی د ی او هغه وخت یې چې لا پلار نواب بهاد ر خان بابی ژوند ی و نو ده ته یې د نوابې د نده او چارې ور سپارلې وې ۰د ده د نوابۍ په وخت کې یو تن چې جګنات جهاله نو میداو یوه اندازه پو ځي ځواک یې تر لاسه کړی و، د نواب مها بت خان په سیمه کې یې په لاس وهنو لاس پورې کړ، خو نواب مهابت خان نو موړی تنبیه او غو ږو نه یې ور تاو کړل، چې بیا

وروسته جګنات نو مې د پور بند ر سيمې ته وتښتيداو دا هغه وخت وچې ا نګر يزانو داوړيسا سيمه د نواب سراج الد وله نه نيولې وه او ابدالي احمد شاه بابا د مر هټه وو د ځو اکو نو سره په جګړې بو خت و ۰

نواب مهابت خان په ۱۸۱۸ ميلادي کال کې د يوه تن له خوا چې ځان يې مسلمان عرب ګڼا نه ونيول شو او داوپر کو ټ په کلاکې بندي شو، خو کله چې د نواب مهابت خان اکا، نواب کمال الدين خان بابي له د ې پېښې خبر شو د پيران پټن له سيمې يې لښکرې راټولې کړې او پر مظفر خان باند ې چې د نواب مهابت خان پر ځاې ټاکل شوی و برید وکړ او نواب مهابت خان يې له بنده و ژغوره او د نواب صاحب د خور خا وند شها مت خان بابې چې د شيخ ميا يلاول سره بندي و د د يوان جي په مر سته خو شي کړ ۰

نواب مهابت خان د خپلې نوابۍ په و خت کې ډيرې سيمې ونيولې چې دهغو د جملې نه د کو تيا نه تلاجه او د منګلور د کلاوو نيول دي ۰ همداراز نواب مهابت خان هغه کسانو ته هم سزا ورکړه چې د مالیې د ور کو لو نه به يې سر غړ ونه کو له او دها لار جهالا، اراوداو د کچ د سيمو د خلکو شتمنۍ به يې لو ټولې ۰ نواب مها بت خان د د يوان جي په مر سته د بابر پاوړ په نامه هغه لو ټمارې ډلې هم و ځپلي چې د نا ګهر، کا تهياوار او لا ونګ پر سيمو يې بر يد ونه کول ۰

نواب مهابت خان بابي د منګلور پر سيمې له د ې کبله برید وکړ چې د پټن د پر ګني خلکو ده ته شکايت وکړ چې د سو ترا پالارا د سيمې جا ګير دار چاند پټني له لاسه پوزې ته راغلي دي، نو هماغه و چې نواب مهابت خان امر وکړ چې د سو ترا پالارا کلا د ې فتحه شي او هما غه و چې د يوې ميا شتې په تر خ کې يې نو موړې کلا ونيوله، خو چاند پټني په عذر او زاريو لاس پورې کړ، وروسته يې نو موړې کلا ور خوشې کړه او چاند پټني د ګورکهه مدهي سيمې ته و تښتيد ۰

تر د ې سو بې وروسته نواب مهابت خان بابي داولکه د وارکان د کلا د نيو لو هوډ وکړ ۰ دا داسي کلکه، پياوړې او پخه کلاوه چې تر اوسه پورې يې څوک په نيو لو نه و بر يالي شوي ۰نواب مهابت خان بابي دغه کلا په ډيرې ميړانې ونيوله او هغه شتمني او لوټ شوي ما لو نه چې د ځينو لوټمارانو له خوا د عر بو په سمند رګې اود مسقط په سواحلو کې د عر بو، سندهيانواو پر نګيانو نه لوټ شوي وو او

په د ې کلا کې مو جو د وو د نواب صا حب لاس ته ورغلل ۰تر د غې سو بې ورو سته نواب مهابت خان په ۱۸۳۱ میلادي کال کې له د ې فاني نړۍ نه د تل له پاره ستر ګې پټې کړې ۰ لنډه دا چې د نواب مهابت خان د خپلې سپیځلتیا او زړورتوب په وجه د ټو لو خلکو په زړونو کې ځای د رلود ۰

24.1.3 نواب حامد خان بابي

نواب حامد خان بابي د نواب مها بت خان ځوی و ۰کله چې یې پلار وفات شو نو د ی په جو ناګړه کې نه و او کله چې د خپل پلار له مړ ینې خبر شو نو ډیر ژر یې ځان جو نا ګړ ه ته را ورساوه ۰د ده مور سبحان کنور نو مید له او هغه وخت چې نو موړی د جو ناګړه د سیمې د نوبی پر ګد ی کښیناست نو ا ته کلن و ۰ په دغه وخت کې یو شمیر جا ګیردارانو لکه عبد ل خان بابي او مختارخان با بي د بغا وت جنډې پو رته کړې، خو وروسته نواب حامد خان بابي پر هغوی پر ید وکړ او د بفتهلي پر کلا یې چې قبضه کړې وه هغه یې بیر ته ځینې ونیو له ۰ په دغه وخت کې د پو نې د پیشوا یو تن صوبدار چې امرت راؤ نو مید د مالیې د راټو لولو په پلمه د دوی پر سیمې یر غل وکړ، خو وروسته د دوی تر مینځ سوله وشوه او امرت راؤ احمدابا د ته لاړ څو په هما غه ځای کې د یوه عرب له لاسه ووژل شو ۰

تر هغه وروسته نواب حامد خان بابي د واګهر پر سیمې برید وکړ او د نسوه کلا یې ونیو له او د ډیرو سو غا تونو او غنیمتو نو سره جو نا ګړه ته ور ستون شو ۰همداراز نو مو ړی دامریلي کلا هم ونیوله او جیو راجي سالم ته یې ما تې ور کړه او شیخ میا قا ضي نو مي چې د منګلور په سیمه کې یې د فساداورونه بل کړي وو تنبیه کړ، خو وروسته نواب دهغه ټو لې ګناوې وبخښلې ۰ همداراز د نواب حا مد خان بابي د نوابی په وخت کې د یوړه، خا ګیسري، د لوړهاو داد نه پیاوړې کلا ګانې هم فتحه شوې ۰

نواب حامد خان بابی یو پراخ نظره انسان و ۰ ده د ټولو مذ هبو نو پیروانو او لارویانو ته د رناوی کا وه او دهند وانو دهو لي او د یوالي په جشنونو کې به یې ګډون کاوه ۰

د نواب حامد خان بابي او د ده د مخا لفینو تر مینځ ډیرې جګړې وشوې چې په د غو جګړو کې نواب حامد خان بابي ډیرې سوبي کړي دي چې د د غو سو بو په لړ کې د لا ند نیو کلا ګا نو نیول شا مل دي ۰

د سوترا پاراه، کیسوج، مالیه او کو تیانه د کلاوو فتحه ۰

نواب حامد خان بابي په ۱۸٦۷ میلادي کال کې وفات شو ۰ده ۳٦ کاله، د ړې میا شتي او پنځه ورځې نوابي وکړه ۰د ی یو غریب پا لونکی او د ښو کړو وړو څښتن و ۰ د سیمي خلک پرې ډیر ګران وو او تل به یې دهغوی مر ستې ته ور دانګل ۰

24.1.4 نواب بهاد ر خان بابی

نو موږی د نواب حامد خان بابي زوې واو په ۱۸۵۱ کال کې د کنور بائي له بطنه و زیږید ۰دي اتلس کلنو چې د جو ناګړه د سیمې د نوابی پر ګد ی کښیناست او دا هغه وخت وچې انګر یزان دامر یلې او کو ړي نار سیمې لاند ې کړې وې ۰په ۱۸٦۹ میلادي کال کې په ګجرات کې کاختي راغله ځکه چې بارانونه نه وو اورید لي او ډیر خلک د لوږې له لاسه مړه شول ۰همداراز په ۱۸۷۵ میلادي کال کې په ګجرات کې سخته زلزله وشوه چې ډیر خلک پکې ست او تبا ه شول ۰له بلې خوا انګرېزي پو ځونو خپل پر مختک ته ادا مه ورکوله، څو په ۱۸۸٦ میلادي کال یې بیلسن نومی انګریز د جونا ګړه د سیمې نا ظم وټاکه ۰

نواب بهاد ر خان بابي په ۱۸۹٦ میلادي کال کې د ٤۵ کلونو په عمر وفات شو ۰

تر نواب بهاد ر خان بابي وروسته نواب محمد رسول خان بابي ۱۸۹۲- ۱۹۱۱ او ورپسي نواب محمد محبت خان ۱۹۱۱-۱۹٤۸ پورې د جو ناګړه د سیمي پښتانه نوابان وو، چې دهند تر خپلواکی وروسته ۱۹٤۷ م پورې د د غې نوابی ټغر هم مخ په ټو لید و شو ۰

24.2 با رکزي

با رکزي په اصل کې سړ بني پښتانه او د د رانیو د زیرک په څا نګې پورې تړ لي دي ۰بارکزي، اخکزي، پو پلزي او الکوزي سره ټولې ورونه قبیلي دي ۰بارکزي په نو رو ډیرو نبا خو نو او څا نګو ویشل شوي دي چې په د ې ډول پیژ ند ل کیږي : باکل زي، ګورجي زي، خانچه زي، خواجک زي، ملک

دين زي، نسي زي، شير زي، انگيزي، غيبي زي، نورالدينزي، عبدالله زي، نصرت زي، مدي زي، جنک زي، عمر خان زي، بيان زي، تاروزي، خونسي زي، اتما نزي، ولي زي، جمال زي، بورزي، خواجي زي، ابازي، اين زي، شيخي زي، بايزي، سنجر زي، سليمانزي، سوند رزي، موسي زي او محمد زي ۰

د حيات افغاني ليکوال ډپټي حيات خان د بارکزيو په اړوند داسي کښلي دي:"بارکزي د شمير له مخي تر پو پلزيو ډير دي او دوی د کندهار جنوب ته په ارغستان او دهيلمند د سيند ونو پر غا ړو پر وچ ميدان ميشته دي ۰ د بار کزيو هغه برخه چې کندهار ته نږد ې دار غستان او هيلمند د سيند ونو پر غاړو ميشته دي د ښو ځمکو د د رلود لو په وجه په کر نې بو خت دي، خو ځيني نور يې د وچ بيا بان په مينځ کې په ډيرې سختۍ او زحمت سره د کر کيلې په چارو بو خت دي ۰ دغه خلک ډير زړور او جنګيا لي دي ۰ .د وزير فتح خان با رکزي له وخته دغه خلک ډير مشهور شول، په تيره بيا کله چې امير د وست محمد خان د کا بل د واکمنۍ پر ګد ۍ کښينا ست، نو دهغه په سبب د دوی په شهرت کې نور هم ډير والی تر ستر ګو شو ۰." [18]

امير د وست محمد خان په ۱۸۳۷ زيږ ديز کال کې په افغانستان کې د بارکزيود واکمنۍ بنسټ کيښود چې تر هغه وروسته د بارکزيو قبيلي نه لاندينې واکمنان په قد رت کې پا تي شوي دي: امير شير علي خان، امير محمدا فضل خان، امير محمديعقوب خان، امير عبدالر حمن خان، امير حبيب اله خان، امير امان الله خان، محمد ناد رشاه، محمد ظاهر شاه او دافغانستان د جمهوريت مؤ سس شهيد محمد داؤد خان، چې په مجموع کې بار کز يو پر افغانستان ۱٤۱کلونه واکمني چلو لې ده.

په او سني وخت کې بارکزي په افغانستان کې په لا ند ې ډول مېشته دي:

1. د کندهار په ولايت کې: د کندهار بارکزي د کندهار ولايت په مرکز، د دامان، شاه ولي کوټ، ار غنداب، پنجوايي، ار غستان او معروف په ولسو اليو کې مېشته دي او د ۱۳٦۰ کال د سر شميرنې له مخې په دغه ولايت کې د دوی شمير تر سلو زرو تنو لوړ د ی

---

18 حيات افغاني، ۱٥۳ مخ

2. دهيلمند په ولايت کې: په دغه ولايت کې با رکزي دهلمند په مرکز لشکر ګاه، د ناد علي، واشيو، ناوه بارکزايي، نو زاداو نهر سراج په ولسو اليو کې او سيږي او د ۱۳٦۰ لمر يز کال د سر شميرنې له مخې د با رکزيو مجمو عي شمير ۱۸۰۰۰۰ تنه ښو د ل شوی د ی ۰

3. د نيمروز په ولايت کې: د دغه ولايت با رکزي د نو موږي ولايت په مرکز زرنج، او د کنګ او چار بر جک په ولسواليو کې ا و سيږي چې ټول شمير يې د ۱۲۰۰۰ تنو په شا او خواکې ښود ل شوی د ی

4. د فراه په ولايت کې: با رکزي د دغه ولايت په مرکز او د با لا بلوک او ګلستان په ولسو اليو کې ميشته دي ۰ د فراه په و لايت کې د دوی مجمو عي شمير د ۱۳۰۰۰۰ تنو په شا او خو اکې ښو د ل شوي دي ۰

5. دهرات په ولايت کې: بارکزي په هرات کې د دغه ولايت دانجيل، ګذرې، پښتون زر غون، ګلران، غو ريان، زنده جان او اد سکن په ولسو اليو کې ميشته دي چې د ۱۳٦۰ لمر يز کا ل د سر شميرنې له مخې د دوی مجمو عي شمير ٦۷۰۰۰ تنه ښود ل شوي دي ۰

6. د با د غيس په ولايت کې: د دغه ولايت با رکزي د مر غاب او غور ما چ په ولسو اليو کې ميشته دي چې شمير يې د لسو زرو تنو په شا او خواکې ښو د ل شوي دي ۰

24.3 بارکزي کو چيان

يوډير شمير با رکزي په کو چيا نې ډول ژوند کوي ۰ دوی د ليږديد و او کو چ له پاره بيلا بيلې لارې لري د بيلګې په تو ګه يو شمير با رکزي کو چيان د د وبي په مو سم کې له خپلو رمو سره له هراته د غور د جنو بي څنډو پورې ځي او خپل ما لونه لکه پسو نه او وزې په د غو ورشو ګانو کې څر وي ۰د ويمه ډ له يې له با د غيس نه د غو رماچ په لاره د فاريا ب ولايت د قيصار او جلاير له لارې ځا نونه تير بند تر کستان ته رسوي ۰د د غو بارکز يو کو چيان د ختيز کند ز(نو اباد) نه د بغلان د شت بای سقال، پورتني اند راب، او خوست او فر نګ ته ځا نونه رسوي، په داسي حال کې چې بله ډله يې ځا نو نه د بد

خشان د شت سيوه ته رسوي ۰ بايد ووايو چې دافغانستان په شمالي ولايتونو کې د بارکزيو کو چيانو مجمو عي شمير ۲۲۰٤ کو رنۍ ښو د ل شوی د ی ۰

با رکز يان غير تمن، ميړني، ميلمه پالو نکي خلک دي ۰ د علم او پو هې سره زياته مينه لري ۰په دوی کې ګڼ شمير عا لمان، ليکوال او شا عران تير شوي دي او همدا اوس هم شته ۰ حنان بارکزی د پښتو ژبې مشهواو وتلی شاعر تير شوی د ی چې د با رکزيو له قبيلې سره يې تړاو د رلود ۰[19,20]

25 بړ يخ

بړ يخ د پښتنو يوه مشهوره قبيله ده چې زمونږ پښت پو هان (نسب پيژ ند ونکي) يې د سړ بن د ټولنيز ګروپ پورې تړي او په سړ بني پښتنو کې د ښر خبون په ښاخ ور ګډيږي ۰

دهند په کيمبريج تا ريخ (Cambridge History of India) کې د لر غو ني ار يا يې کتاب رڼ ويدا په حواله داسي ليکل شوي دي:" د لسو ملکا نو(وا کمنا نو) جګړه د ويدي زماني مشهوره جګړه وه ۰ په د ې جګړې کې لس اريا يې قبيلې ملګرې وې او د بها رتيه نو مې ار يا يې قبيلې د واکمن سو داسه پر خلاف وجنګيد ل او په د غو لسو قبيلو کې يوه قبيله پکتهان نو ميده چې او سنی پکتون=پختون=پښتون=پټهان ځينې مراد د ی ۰

د دغه سو داسه پلار يا نيکه(Devadasa) هم د خپلې قبيلې نا متو واکمن و ۰د ی د خپلې وا کمنۍ په ز ما نه کې له څو ار يا يې قبيلو سره جنګيد لی چې په هغو کې يوه(Brisaya)ده."

افغا ني مؤ رخينو لکه ارواښاداستاداحمد علي کهزاداو ار واښاد علامه عبدالحی حبيبي دغه په ويد کې راغلې"بر يسيه" قبيله بړيخ بولي ۰

---

19 پښتني قبيلي ۳۸-۳۹مخو نه

20 ۳-Dictionary of Pathan Tribes

25.1 د بړ يخو د قبيلې خيلونه

بړ يخ په لو مړي سر کې په د وو پلارو ويشل کيږي چې يو يې "اوتغ " او بل يې" اوسين" د ی۔ ۰ اوتغ په لا ند نيو خيلو نو ويشل شو ي دي: داؤد زي، چو پا ن زي، مليزي، بد ل زي، ثا بت زي، شکرزي او بروکي زي ۰ او سين هم په لا ند نيو خيلو نو ويشل شويدي : با رکزي، زکو زي، مند و زي، سبازي او راوزي ۰

حا فظ الملک حافظ رحمت خان بړ يخی چې په ۱۱٤۸ هجري قمري کال کې يې دهند وستان داتهرا پراديش دايالت په رو هيل کهنډ کې خلا صته الانساب ليکلې د ی هلته داسې وايي: " اوس بړ يخي په خپل اصلي وطن ښو راوک کې يوازې پر د غو خيلو نو ويشل شوي دي: بد ل زي، زکو زي، مدي زي ۰ چو پا ن زي او مليزي د يوسفز يو سيمې ته را کو چيد لي او ز يا تره بيا له هغه ځا يه هند وستان ته تللي دي ۰د د غو د وو(زيو) خلک چې په ښو راوک کې پا تې دي ځا نته خاني او د ځمکو ټا کلي جلا برخه لري ۰ د شکر زيو، راوزيو او نورو(بارکزيو، سبازيو، بروکي زيو) شمير لږ وو ۰دوی هم په هغو د ر يو زيو کې مد غم شوي دي ۰

د حا فظ ر حمت خان دغه ليکنه وروسته تر ۲۵۰ کلو نو هم اوس هم رښتيا کيږي او د ښوراوک د کر نې ځمکې پر نو موړو د ريو زيو (بد ل زيو، زکو زيو ۰مند و زيو) با ند ې په د ې ډول ويشل شوي دي:

1. د بد ل زيو برخه: د پښين خو اته له غل د رې نه تر باد وز يو پورې (د ښوراوک ختيځه سيمه).

2. د زکو زيو برخه:له پنج پايه د ريګ تر ولسوالۍ پورې.

3. د مند و زيو برخه: له کا ريزه نيولې د بلو ځانو تر بريده پورې(د ښوراوک لو يديزه سيمه)۰

د لته دا هم با يد و ويل شي چې د مند و زيو په برخه شير اني هم اوس شر يک شوي دي او د بړ يخو د ځلورم خيل په تو ګه پيژ ند ل کيږي ۰ په خلا صته الا نساب کې بد ل زي پر د غو لا ند ې پنځو

ښا خو نو با ند ې ويشل شوي دي: سا لارزي، بيسين زي، اد وړي زي، ملا خيل او د ولت خيل ۰

حا فظ رحمت خان داهم زيا توي: او ريد ل کيږي چې ملا خيل او د ولت خيل اوس په ښو راوک کې نه دي، پا تي د يو سفز يو سيمې ته راغلي او زيا تره يې بيا له هغه ځا يه هند وستان ته را ليږ ديد لي دي ۰ په خلا صته الا نساب کې دا هم راغلي دي چې مند وزي او زکو زي هم د بد ل زيو په څير پر څو پښو ويشلي دي، خو دهغوی نو مو نه يې نه دي راوړي ۰

25.2 د بړ يځو ټا ټو بی

د بړ يځو پخوانی ټا ټو بی د بست تا ريخي سيمه وه چې پښتانه يې کلا بس بولي چې اوس هم هلته بړيځي يا بړ يځان استوګنه لري، د فتح خان او رابيا د نکل قهرمان (پتي خان) د کلا بس له بړ يځو نه و ۰ د تاريخ حيات افغاني په قول د پتي خان پلار اسلام خان نو ميده [21]، پتي خا ن د کو مې خبرې په و جه له خپل پلاراو کو رنې نه خپه او خوا بد ی شو شواو د خپلو څو تنو ملګرو او د و ستانو سره چې د پښتنو په نکلو نو کې يې شميز شپيته بړ يځي راغلي دي دهند وستان خو اته لاړ ۰دا هغه ز مانه وه چې پر هند وستان با ند ې مغولي واکمن نو رالدين جها نګير واکمني د رلوده ۰ويل کيږي چې پتي خان د خپلو زړورو ملګرو سره د سيالکوټ په سيمه کې د دغه مغو لي واکمن د پو ځو نو سره په ډيرې زړورتيا مقا بله وکړه چې د خپلو ټو لو ملګرو يا شپيتو بړ يځوسره ووژل شو ۰ خو څر نګه چې د ی په مسا پرې او پر ديسې کې ووژل شو، نو ځکه په دغه کيسه کې له سوز او ګدازه ډکې جملې راغلي دي چې دامنظو مه کيسه د پښتنو په حجرو، محفلونو او مجلسو نو کې د ساز او سرود سره يو ځای ويله کيږي چې پښتانه يې په ډير شوق او ذوق سره اوري ۰[22]

په دغه نکل کې دهلمند پر غاړو باند ې د بړ يځو ګڼه ابادي ښيي ۰ کله چې په ۱۰۵۸هجري قمري کال پر کندهار با ند ې دايران صفوي واکمن د ويم شاه عباس۔ ۱۰۵۲-۱۰۷۷هجري ۰ق بريد وکړ

---

21 حيات افغاني، د ډپټي محمد حيات خان تاليف

22 د افغانستان جغر افيوي قا موس، ۱۳۳۸، کابل

نو پرد ل خان ېر يځي د خپل قبيلوي لښکر سره دايراني پو ځو نو په مقا بل کې پنځه پنځوس ورځې د کلا بس کلا بندي وسا تله، دغه پېښه هم داسي نښيي چې تر يوولسمې هجري سد ی پورې لا دهلمند پر غاړو په تيره بيا په کلای بس کې ډير ېر يځي ميشته وو او د کلا بس پر شا او خوا ېر يځو خپله خا ني د ر لوده او خان بې او رنګ خان نو ميده ۰

دهلمند پر کينه غاړه باند ې د ګر مسير او سيستان تر مينځ په لنډي او پلالکه کې اوس د رې سوه کوره ېړيځ ميشته دي او دغه ېړيځ د زکو زيو په ايسا زي پښې پورې اړه لري۔ ۰ لنډی او پلالکه د وې ويالې دي چې ېر يځو پخپله کيند لي دي ۰ لنډی وياله لو يديزې او پلالکه وياله ختيزې خو اته پرته ده چې د د واړو تر مينځ تقر يبا لس کيلو متره وا تن شته ۰لنډی او پلالکه له اداري پلوه دهلمند ولايت د ديشو په ولسوالی پو رې اړه لري ۰ د د غې ولسوالی ختيز لورته د ګر مسير ولسوالي پر ته ده ۰

د کندهار په ښار کې هم د ېر يځانو څو کوره شته، مګر د دوی داستو ګنې تر ټولو لو يه سيمه ښوراوک د ی چې د لنډی او پلالکه ويالې بې شما ل لو يديز ته پر تې دي ۰

ډپټي حيات خان په حيات افغاني کې چې ۱٤۳ کلونه د مخه يې کښلی د ی ليکي چې اوس په ښوراوک کې تخمينا د رې زره کوره ېر يځ استوګنه لري ۰ د حيات افغا ني په دغه شمير کې شيراني هم راځي ۰ د ښوراوک د خلکو شمير د " اتلس قر يه هاى افغانستان" په ۱۳٤۹ مخ کې ليکلي دي تقريبا يوولس زره تنه دي چې په د غو کې تقر يبا د وه زره تنه ېر يځان دي او دهغې سر شمير نې له مخې چې په ۱۳۵۳ لمرېز کال په کا بل کې خپره شوې ده د ښوراوک د ېر يځو شمير پر ته له شير انيو نهو زرو تنو ته رسيږي.

د (Dictionary of the pathan Tribes) په ۲۱۰ مخ کې ليکل شوي دي"څه ېړيځي په کوټه، پښين او ځاګې کې او سيږي، د دغه قبيلې زياتره خلک دافغانستان په ښو راوک کې ميشته دي."

د ولس مجلې د ۱۹٦۸ زيږديز کال داکتو ر په ګڼه کې عا بد کښلي دي:" ېړيځي د کو يټي ډويژن په شرارود نو مي ځای کې له عيسى خيلو سنټيا کا کړو سره ميشته دي او په کو يټه کې هم ېر يځ او سيږي."

د پټهان کتاب چې دانګړېزي مؤ رخ سر او لف کيرو له خوا ليکل شوی د ی په سلم مخ کې داسي راغلي دي:" د ېر يځو څو کوره د کويټې د بو لان د حکو مت په ځا ګي کې هم شته او څه ېر يځي په نو شکي کې هم اوسي ۰ څه اکازي، اليک زي او وسمي زي ېړيځي(چې له نسبي لحا ظه په مند و زيو ور ګډ يږي) په بو لان کې له سنجر انيو بلو څو سر ه ميشته دي او اوس يې خپله ژبه له لا سه ور کړې ده ۰ د د غو ېر يځو شمير سلو مړو ته رسيږي ۰

ملک صالح محمد لهري د بلو چستان نو مې کتاب په ٥٥ مخ کې ليکلي دي:" په ۱۹٥۱ ع کال کله چې په بلو چستان کې د نفو سو سر شمير نه وشوه د بلو چستان د ېر يځو شمير ٤۹٦٥ تنه و و ۰ "

په صولت افغاني کې چې د زردار خان ناغر تا ليف د ی راغلي دي:" ېر يخ په هند و ستان کې هم اوسي او د جهجرو پر ګنه د ېر يځا نو دهـ ۰ په ۱۸٥۷ کال کې چې هند وستانيان دانګر يزي ښکيلاکګرو نه د خپلواکۍ د تر لاسه کو لو له پاره را پورته شول د جهجر ېر يځی رئيس هم د د غو غا ز يا نو ملګری و، انګرېزانو چې بری وموند دغه ېر يځی رئيس يې هم پر دار و ځړاوه."

د جهجر پر ګنه د ډهلي او عليګړ تر مينځ پر ته ده، په اداري لحاظ داتهراپرديش ايا لت د سکند ر اباد په ډسټرکټ (ولسوالی) پورې اړه لري ۰سکند ر اباد دهند پښتون واکمن سلطان سکند ر لودي(۸۹٤-۹۲۳هجري قمري) ته منسوب د ی ۰

همداراز ېړيځ دهند داتهراپرديش دايالت د رو هيل کهنډ په ښا رونو کې هم شته په تيره بيا د بريلي سيمه د ېر يځو نه ډکه ده ۰

د پټهان د کتاب په سلم مخ کې راغلي دي چې دهند د مهارا شټرا په ايالت کې د بړوچ په نامه ښار هم ېر يځو ته منسوب د ی ۰

25.3 ښوراوک

د ښوراوک سيمه داوسني کندهار په جنوب لو يديزه څنډه کې پر ته ده چې ځا نته جلا ولسوالي

ده، د ریګ په نامه یوه علا قه داري هم په د غې ولسوالۍ پو ري تړ لې دﻩ ۰ د ښوراوک د سیمې شمال لویدیز ته ریګ(ریګستان) پروت د ی ۰ دغه ریګستان په شمال کې د سپین بو لد ک تر حدود و او په لو یدیز افغانستان کې د غر بي پو لې پورې غځید لی د ی ۰لمر خاته خو اته یې د خو اجه عمران غر د ی چې له پښینه ښوراوک جلا کوي ۰ د جنوبي ډډې غر ونه یې د بر اهوي بلو څو تا ټو بی د ی چې په نو شکي پورې اړه لري ۰ د ښوراوک ځمکه ښوی ډاګ د ی اود دغه ډاګ په مینځ کې هیڅ غر نشته، ځمکه یې متینه ده ۰ د ښوراوک د پر اخوالي په اړوند د صو لت افغاني د تاریخ په ۳٤۷ مخ کې راغلي دي:" ښوراوک نسبتا مربع شکله پروت د ی چې هره ضلعه یې شپیته میله او ږد والی لري." [23]

د صو لت افغا ني دغه لیکنه د حیات افغاني د ۱۵۳ مخ نقل د ی ۰ داتلس قر یه های افغانستان په ۱۳٤۹ مخ کې د ښوراوک د ټو لې ولسوالۍ پراخوالی ٤۹٦٤ مر بع کیلو متره راغلی د ی، خو اروښاد قا ضي عطاؤالله خان په خپل اثرچې د پښتنو تا ریخ نو میږي د ښوراوک ټو له سیمه شپیته میله ښو د لې دﻩ ۰ داروښاد قا ضي صاحب دغه لیکنه داسې تو جیه کید لای شي چې ده یو ازې د ښوراوک ابادە ځمکه شپیته مر بع میله بللې وه چې د بړ یځو کر وند ې او تا ټو بی د ی او د نوي او زاړه ښو راوک په نامه یادږي ۰

په قا موس جغر افیایي افغانستان کې د ښوراوک کلي ۲۷ ښو د ل شوي دي ۰ په د غو کلیو کې تر ټو لو لوی کلی د باد رزو د ی چې تقریبا ۱۲۰۰ پکې اوسي ۰ په زیا تره کلیو کې د وه د ریې کوره بر اهو یان هم شته چې نا رینه یې د کلي سا روانان او شپا نه دي او ښځمنې یې کمبلې، جو الونه، خورجینونه او د ستر خو انونه اوبي.

25.4 کلي او کو رونه

د ښوراوک د بړ یځو کور په یو ه ساده کو ډی(کو ډله) کې وي چې په بیضوي بڼه د غزو له پنډو لښتو نه جوړه شوې ده چې څلور پنځه دانې یې یو ځای په ځمکه کې له یوې خوا او بلې خوا د نیمې دایرې په توګه سره اینجتې کړي وي چې پر سر یې کیړه ور اچوي ۰کیړه د غزو له لښتو یاغوړګو او کړ کو

23 صو لت افغاني، د زردار خان ناغر تالیف

نه د ټغر په ښه جوړ شوي وي چې د خو نو په پو ښښ کې يې پر تير انو اچوي ۰ هغه کو ډې چې د ژمي له پاره وي پر کيږه سر بيره يې ا خيږوي ۰ خو ني يې څلور د يوالونه لري او چت يې له يوه او ږده تير او د غزه له لښتو نه داسې جوړ کړی د ی لکه عصري څاد ر پو ښه کو رونه ۰ دغه خونې او کو ډلې يوه د بلې اړخ ته په بيضوي يا مستطيله ښه يو لړ پر له پسې پر تې وي ۰ پر شا وخوا با ند ې د ښاري ډوله کو رو نو په څير د يو الو نه لري او زياتره کو ډلې بې د روازې وي، دا ځکه چې په ږ يڅو کې مخ پټی او غلا نشته ۰

25.5 کښت او کر

د ښوراوک د وبی ډير تودا و ژمی يې معتد ل د ی ۰ څه شمير تره کې او خروټې کو چيان د ژمي په مو سم کې ځا نو نه ښوراوک ته رسوي ۰ د ښو راوک کښت په باران د ی، يوازې يو کا ريز ګی پکې شته چې پر هغه هم د وه د رې کوره اباد دي او نورې بها ند ې او به نه لري ۰غنم، اوربشي او با جرې په للمي ډول کرل کيږي ۰څه للمي پا ليزونه هم کري ۰

د ښو راوک د ږ يڅو سپين ږيري وايي زمور نيکه ګانو چې په ښو راوک کې واړول کښت يې په با ران و او له لوړې نه يې ځمکې نه خړو بيد لې ۰لوړه د يوه رود نوم د ی چې د تو بې له غره نه راوځي چې اوږد والی يې ۲۵۰ ميله د ی، لوړه ژوره ده او غاړو ته يې اوبه نه خيژي ۰

ستر ستانه حاجي محمد خيشکي دوی و هڅول چې ويالي وکاږي او له لوړې نه اوبه خپلو کر ونـد و ته و خيژوي ۰ږ يڅو د حا جي نيکه خبره ومنله، ليڅې يې را ونغښتلې او لو ړې ته يې او مه بنـد ونـه وا چول ۰دوی لويې ويا لې ځينې وکښلې ۰يوه وياله د بد ل زيواو زکو زيو وه او بله وياله د منـد وزيـو وه چې شير اني هم پکې شر يک شول، له د غو ويالو نه يې بيا کو چنې ويا لې جلا کړې چې په د غـو کې شپږ ويالې يوازې د مند و زيو دي ۰

وروسته داوبـو دهغـه بنـد په اغيزه چې د پښين په ملـوزو کې لـوړې تـه واچـول شـو، د لـوړې اوبـه ښوراوک ته ونه رسيد ې او ښوراوک يې په يوه بې او بو ميره بد له کړه ۰اوس د ښوراوک د خلکـو کښـت وکر د باران په او بو د ی ۰څه اوبه په اوښا نو لـه څـاه ګـا نـورا کـا ږيـ ۰ څـاه ګـا نـې يـې شـپيته اويـا متره

ژوړې دي ۰ د څاه ګانو او به يې تروې دي، نو ځکه دوی ناوران(څلیرونه) هم لري۔ ۰ په نا ورانو کې د باران او به زیر مه کوي ۰ د څاه او ناور په اوبو د ښوراوک خلک خپلې اړتیاوي پوره کوي، ځینې یې اود سو نه تا زه کوي، لو ښې او کا لي پرې مینځي او څا روي پرې اوبه کوي ۰ د څاه ګانو او نا ورونو او به د و مره نه دي چې د کښت او کر له پاره ځیني کار وا خلي ۰ د ښوراوک ځمکه ډیره ده او اوبه یې لږې دي، ځکه نو ځینو ځمکو ته د کر هڅې وار پس له څلورو پنځو کلو نو ور رسیږي، له دغه املـه یې ځمکه خورا زوروره وي، ډیر حا صل ورکوي او سرې ته یې اړتیا نشته ۰

د ښوراوک ټول خلک په پښتو خبرې کوي او د خلکو په محا وره کې یې د ډیرو متلو نـو د کـارولو نه داسي څر ګندیږي چې د فو لکلوري اد ب خزانه یې ډیره بډایه ده ۰

د بړ یځو ډیر شمیر وګړي په هند وستان کې استوګنه لري او دا هغه پښتا نـه دي چې دافغا نـي فا تحینو سره هند ته تللي دي اوس یې پاتي کسان ځا نونه هغو کسا نو ته منسوب ګڼي چې دهنـد وستان په تا ریخ کې نوم او نښان لري ۰

یو له د غو کو رنیو نه د حا فظ الملک رحمت خان بړیځ کو رنی ده چې په اصل کې د کنـدهار د ښوراوک و چې دهند وستان په رو هیل کهنډ کې حکمران و ۰ حا فظ رحمت خـان په هنـد کې دابـدالي احمد شاه د فتو حا تو او سو بو ملګری و او د ده زامن او وریرونه د رو هیل کهنډ ډیر نا متو حکمرانـان وو ۰ پخپله حا فظ رحمت خان دافغا ني فر هنګ په بډاینه کې ډیره لو یه وندې اخیستې وه او ځینې داسي تـا ریخي متون د ده په پا ملرنه د ورکید و او هیرې نه ژغورل شوي دي چې هغه نن د سترو علمي اسناد و په جمله کې ډیر هسک ځای لري ۰

تواریخ حا فظ رحمت خاني چې پیر معظم شاه ته منسوب د ی، اصلي متن یې د حـا فـظ رحمـت خان په سپا رښت لیکل شوی د ی او دا یو داسي غنیمت اثر د ی چې د پښتني اقوامو او قبـایلو د لیـږ دیـد نو او نورو ټولنیزې او سیا سي منا سبا تو ډیرې خبرې په کې پر تې دي ۰

د ۱۸۵۷ع کال په ډسمبر کې انګرېزانو د ډیلي پر ښار یر غل وکړ ۰ مغولي واکمن بها د ر شاه ظفر په ډ ار سره ځان انګر یز انو ته تسلیماوه، خو پښتون جنرال بخت خان هغه ته ډاډ ورکاوه چې دانګـر یزانـو

مخه به ونيسي ۰ جنرال بخت خان دانګريزانو په وړاند ې د و مره خلګونه را مينځ ته کړل چې د کشميري د روازې او لال کلا تر مينځ واټن انګر يزان په پنځو ورځو کې وواهه.

دغه جنرال، پا چا د تسليميد و نه ونه شو ګرځولای، نو کله چې پا چا تسليم شو، جنرال بخت خان له ډيلي نه لکهنو ته لاړ او له هغه ځا يه دهند وستان غر ونو ته وخوت او پسي ورک شو چې تر ننه پې بيا چا پته ونه مو ند له ۰

د ښوراوک خلک وايې کله چې د ډيورنډ کر ښه ټا کل کيد له نوا نګر يزانو په خپله نقشه کې ښوراوک دافغانستان نه ايستلی و، خو سمند رخان بړ يځ د خپلو سپرو سره پر کو يټي بر يد وکړ او د و مره لوی خطر ونه پې انګر يز انو ته متو جه کړل چې هغوی په د ې را ضي شول چې ښو راوک د ډيورنډ د کر ښې افغاني خواته وټاکي ۰

بړيځ قوي او پيا وړي خلک دي ۰ دوی د کار نه تر فا رغيد و وروسته بيلا ييل سپور ټو نه لري چې عمده سپو ر ټو نه پې غيږ ده ۰ د ميلو په ور ځو او ود ونو کې اتلونه کوي او د بړ يځو اتڼ ځا نته نوم لري۔ ۰ دوی په اتڼ کې ټو پکونه خو ځوي او کله چې اتڼ تود شي نو په همد ې ټو پکو ډزې کوي ۰ د سپوږمۍ په څو ار لسمه شپه د سپو ږمۍ په رڼا کې ځو انې ښځې او پيغلې اتلونه کوي او سند ري وايې۔ ۰ دوی د زوی زيږيد نه نيکمر غه بولي او په هغه کورنۍ کې چې زوی وزيږي خير اتو نه کوي او دهلک د نوم دايښود لو پر وخت سند ري وايې او اتلو نه کوي ۰

25.6 د بړيځو نامتو مشاهير

1. شيخ بستان بړيځ مړ ۱۰۰۲ هجري کال چې بستان الا وليا د ده تاليف د ی ۰

2. حا فظ الملک حا فظ ر حمت خان چې په ۱۱٤۸ هجري قمري کال يې په رو هيل کهنډ کې خلا صته الانساب ليکلی د ی او په هند وستان کې د پر نګيانو سر سخته د ښمن و ۰

3. جنرال بخت خان بړيځ چې په هند کې د پر نګيانو پر خلا ف مبارزه کوله ۰

4. شیخ ثا بت ہړیخ

5. ملا فا ضل ہړیخ

6. فتح خان ہړ یخ

7. پرد ل خان ہړ یخ

8. نو رخان ہړیخ

9. محبت خان ہړیخ

10. سمند ر خان ہړیخ

همداراز پو هاند د کتور نور احمد ہړ یخ چې دافغانستان د عامې رو غتیا وزیر وا و یو پوه او تجربه لرونکی متخصص او علمي شخصیت و هم د ہړ یخو له قبیلې نه و ۰

ماخوذونه ده ([24]، [25]، [26]) نه۔

26 بنګښ

که چیرې د بنګښو پښتنو د نسب شجره په ژوره تو ګه تر څیړ نې لا ند ې ونیسو، نوجو ته به شـي چې بنګښ کرلانې پښتا نه دي ۰

---

24 د پښتنو تاریخ، د قا ضي عطاؤالله خان تالیف، د کا بل چاپ

25 Cambridge History of India

26 اتلس قریه های افغانستان، د کابل چاپ

تاريخ حيات افغاني د بنګښو د لو مړ ني استو ګنځي په اړوند داسي ليکي:" د د غې قبيلې لوی نيکه اسمعيل نو ميده چې د ګر ديز د سيمې په زرمت(زرمله) کې او سيده ۰ وروسته بيا د د غې قبيلې د غړو تر مينځ کو رنۍ جګړې پيل شوې چې په نتيجه کې دوی پر د وو ګو ند ونو و ويشل شو ل چې يوه بې سمل او بله بې ګاړه نو ميږي ۰ هغه و خت چې په زرمت کې د د غې قبيلې د خلکو شمير مخ پر ډير يد و شو او له بلې خو ا بې د غلجي قبيلې زور او ځواک وليد نو تقر يبا ٦٥٠ کلونه د مخه يې دغه سيمه پر ينښود له او وتلو ته اړ شول، چې وروسته بيا دوی په کورمې، پيواړ او شلوزان کې چې د سپين غره په سهيل کې مو قعيت لري خپله قبضه ټينګه کړه، خو داورکزيو او د دوی تر مينځ خوا بدي پيداشوه په هغه وخت کې خټکو هم د بنګښو سره مر سته وکړه او تر يوې سختې جګړې ورو سته بې داو رکز يو لاس له کو ها ټه لنډ کړ او خپلې واګې بې ور با ند ې ټينګې کړې، څو په پای کې د بنګښو او او رکزيو تر مينځ سر حد وټا کل شو ۰ ميدان او هغه د ره چې اوس بنګښ پکې استو ګن دي د بنګښو او د شمال غر نيزه سيمه او رکزو ته ورسيده ۰" [27]، [28]، [29]

د تا ريخي رو ايتو نو سره سم داورکزيو سيمې ته د دوی راتګ په کال ١٣٩٨ ع کال کې تر سره شوی د ی، چې بيا ورو سته بې د کو هاټ سيمه يې هم له هغو نه ونيوله ۰ د يوه افسانوي ر وايت له مخې د دوی تر مينځ دغه شخړه د دای په نامه يوه تن اواره کړه ۰ په د ې تو ګه چې يو ځل د بنګښو او اورکزيو ملکان د سيمو د ويش له پاره په د ر سمند نو مي ځای کې سره را غو نډ شوي وو او هرې يوې خوا غو ښتل چې زر خيزې سيمې تر لا سه کړي ۰ له همد ې کبله د دوی تر مينځ سوله ونه شوه او نږ د ې و چې د دوی تر مينځ بيا جګړه ونښلي ۰ په دغه وخت کې د دای په نامه يو سپور سړی له ليرې را ښکاره شو ۰ څر نګه چې د واړه قبيلي يعني او رکزي او بنګښ له شخړو او لا نجو نه په تنګ شوي وو، نو دوی په د غې خبرې سره اتفاق وکړ که چيرې دغه سپور راشي، نو دوی به ورته د بنګښو او اورکزيو د قبيلو تر مينځ د ځمکو او سيمو د ويش سؤ ال مطرح کړي او هر هغه نظر چې دای ورکړ د واړه خو اوې

---

27 حيات افغا ني، پښتو ژباړه، ٤٥٧، ٤٥٦، ٤٥٨ او ٧٤٣ مخونه، د پيښور چاپ

28 د پښتنو تا ريخ، لو مړی ټوک، د قا ضی عطاؤالله خان اثر، ٣٩ مخ، د کابل چاپ ١٣٥٦

29 پښتو نستان، عبدالرؤف بينوا، ٢٧ مخ، ١٣٣٠ کال، کابل

به يې مني ۰ په دغه وخت کې دای نو می سپور را ور سیداو د واړو غا ړو د د غې شخړې داوار ولو په سر له ده سره خبرې وکړې، دای په داسې حال کې چې پر اس سپور و په پښتو ژبه يې داسي وويل چې :

دای خو داسي وايي

چې سمه د بنګښ، غر داو رکزي

ويل کيږي چې له هما غې ور ځې د دای ويش عملي شو چې تر او سه پو ري د چلند وړ ی ۰[30]

26.1 د بنګښو خيلونه

بنګښ په ډيرو خيلو نو ويشل شوي دي چې دغه خيلو نه په لا ند ې ډول دي:ميران زي، بايزي، سمل زي، باده خيل(بډه خيل)، حسن زي، عمر خيل، ايلم خيل، حسن خيل، لنډي خيل، مياوي، کا غذي، کمال خيل، مند و خيل، داؤد خيل، شادي خيل، د ودا خيل، او داخيل، يو سف خيل، خا خيل، مير ا حمد خيل، علي شير زي، عليزي، خدي زي، وردي خيل، ستوري زي، خواجه ا حمد خيل، بر ستوري زي، کوز ستوري زي، موزو خيل، نسيو خيل، تاتا خيل، کله سور خيل، وانک زي، لابي خيل، ازي خيل، شا هو خيل، لو دي خيل، شني خيل، ګل خان خيل، عزت خيل، د ولت خيل، ګل شاه خيل، متو خيل، فتح خيل بلند خيل، لغماني، جمشيدي او نور ۰۰۰

26.2 د بګښو د سيمې مو قعيت

بنګښ په کو هاټ او هم په کو رمې ايجنسۍ کې استوګنه لري ۰

د بنګښو سيمه د د ري په بڼه ده چې د ختيز نه لو يديځ ته د غرو نو تر مينځ پر ته ده چې لمر خاته او جنوب ختيز ته يې خټک، جنوب ته يې وزير او لو يديز ته يې تو ري او سيږي ۰د دوی ميداني يا

30 Selection from the poetry of the Afghan from the 16 to 19 century, by Henry George Raverty, 2008

اواره سيمه زر خيزه او بډايه ده چې ورته کوز بنګښ وايي او غر نۍ سيمه يې د بر بنګښ په نامه يادېږي .

26.3 د بنګښو داستو ګڼې سيمې او ځا يو نه

بنګښ په کو هاټ، هنګو، ټل، کو رمې، پيوړ، شلوزان او پا ړه چنار کې استوګنه لري. هغه بنګښ چې په کو رمې ايجنسۍ کې او سيږي، نو د دوی سيمه د پيوړ او پاړه چنار په نامه يادېږي . همداراز بلند خيل، يو سف خيل او خا خيل بنګښ د ټل ښار ته نږد ې د وزيرو په ګا ونډ کې ا ستو ګنه لري . مير احمد خيل او عليشير زي په هنګو او دهغه په شا او خواکې استوګنه لري .

د بنګښو د مشهورو ځا يو نو او کليو نو مو نه په د ې ډول دي: نرۍ اوبه، ټل، د رسمند، هنګو، اوسترزي، کسا ئي، تر غه، توره وړۍ، کځ او مد خوزه .

په پو ر تنيو سيمو بر سيره ډير شمير بنګښ په پيښور، کر ا چۍ او اسلا م اباد کې هم ميشته دي .

بايد وويل شي چې د دوی پر سيمه تل بهر نيو ير غلګرو لکه مغولي تيمور، بابر، سکهانو او انګر يز انو بر يد ونه کړيدي، خو د د ې ځای غير تي خلکو ور ته په ميړاني غا ښ ما تو ونکي ځو ابونه ور کړي دي .

26.4 په هند وستان کې ميشته بنګښ

26.4.1 نواب غضنفر جنګ محمد خا ن بنګښ

بنګښو دهند داتهرا پر اديش دايا لت په فرخ اباد کې د پښتنو يو ځا نګړی رياست د رلود، چې بنسټ ا يښو د ونکی يې نواب غضنفر جنګ محمد خا ن بنګښ و . ده په پيل کې د ډيلي په شا هي پو ځ کې يوه کو چنۍ پو ځي د نده د رلوده، خو د شهزاده فرخ سير په ملا تړ يې يو زريز منصب تر لا سه کړ، چې د خپلې پو هې او زړورتيا په وجه يې په کراره کراره اووه زريز منصب تر لا سه کړ چې په پای کې د ٥٢ زريز منصب خاونداو دهند و ستان په خلکو کې يې په(باون هزاري) سره مشهور شو .

کله چې ايراني نا د رشاه دهند وستان نه بير ته خپل هيواد ته ستنيده، نو يو شمير يو سفزي پښتانه ور سره بنديان وو، خو نواب غضنفر جنګ محمد خان بنګښ د خپلو پښتنو ورو نو د ژغو رنې او خلا صون له پاره ايراني نا د ر شاه ته د ري لکه رو پې ور ولېږ لې چې نو موږې يو سفزي خو شي کړي چې همداسې هم وشول ۰ نواب صا حب ډير با تد بيره، زړور او ښه اداره چې و چې د ده تر واکمنۍ لا ند ې خلک ور نه ډير خو شا له وو ۰ د ده تر مړ ينې وروسته يې زوی قا يم الد وله قا يم جنګ نواب قا يم خان د فر خ اباد د سيمې نواب شو ۰ ([31])

26.4.2 نواب قا يم خان قا يم الد وله قا يم جنګ

نو موږی د ډيلي د واکمن له خوا د فرخ اباد د سيمې د نو ابۍ پر مسند و ټا کل شو، خو وروسته د نواب منصور علي خان صفد ر جنګ له خوا ووژل شو ۰ نو موږي نواب د فر خ اباد د سيمې واګې په لاس کې و نيولې او خپل نا ئب رای نول ته يې د فر خ اباد سيمه وروسپا رله ۰ په دغه و خت کې د نواب قا ئم خان مور خپل بل زوی نواب احمد خان چې د خپل ورور نه خپه شوی او په ډ هلي کې او سيده ور و غو ښت او نو موږې د مئو او نورو سيمو د ر ئيسا نو په ملا تړ رای نول وواژه او کله چې نواب صفد ر جنګ د ر ای نو ل له و ژلو خبر شو، نو د جګړې له پاره ور د مخه شو، خو نواب قا يم جنګ بنګښ هغه ته ما تې ور کړه ۰ نواب صفد ر جنګ مجبور شو چې د بهر تپور د واکمن را جا سورج مل نه مر سته و غواړي او هغه هم په د ې شر ط چې نو موږې ته به د ورځې ۳۵ زره رو پې ورکوي، څو په فر خ اباد بر يد و کړي، خو په پای کې مر هټه وو د دوی تر مينځ سو له وکړه ۰

26.4.3 نواب تفضل حسين خان بنګښ

د نواب ا حمد خان تر مړ يني ورو سته نواب تفضل حسين خان د فر خ اباد د سيمې نواب شو، خو په ۱۸۵۷ عيسوي کال کې هغه و خت چې دهند وستان ازادي غو ښتو نکو دانګريزي ير غلګرو پر

---

31 د ميزان جريده، په هند کې افغا ني النسله نو ابان او دهغوې د واکمنۍ سيمې او ريا ستو نه، د ۲۰۰۱ کال د جنورۍ مياشتې ٦٧ ګڼه، دهند چاپ ۰ چې په هغې کې په هند و ستان کې دافغا ني قبيلو او د دوی د رياستونو او نو ابيو په اړوند زما له خوا معلو مات چمتو شوي وو او په پر له پسې ګڼو کې راغلي دي

خلاف عمو مي پا څون وکړ، نو پر نګيان د نواب تفضل حسين خان نه خپه شول ۰ انګر يزانو د فرخ اباد ريا ست ضبط او نواب تفضل حسين خان بنګښ يې د خپل ريا ست او نو ابی نه بيو اکه کړ او مکې معظمې ته يې تبعيد کړ چې بيا هوري وفات شو ۰

علا مه رشا د بابا د حيات افغاني د پيښور چاپ په ۷٤۳ مخ کې د فرخ اباد د نوابانو په اړوند داسي ليکلي دي:"په شمالي هند وستان کې تر ټولولوی او مشهور سيند ګنګا د ی ۰ د دغه سيند په لو يديځه غاړه با ند ې د فرخ اباد نوابي واقع ده ۰ د فرخ اباد ښار په ۱۱٥۳هجري قمري کال غضنفر جنګ محمد خان بنګښ (مړ ۱۱٥٦)هجري قمري کال ودان کړ او د وخت پا چا فرخ سير(۱۱۲٤-۱۱۳۱هجري قمري) په نسبت يې فرخ اباد نوم پرې کيښود . د فرخ اباد د نوابی لو مړی نواب غضنفر جنګ محمد خا ن بنګښ واو په ۱۱۲٦ هجري قمري کال يې د د غې نوابی بنسټ ايښی د ی ۰د ې نوابی تر ۱۲۷٤ هجري قمري کال پورې پا يښت وکړاو وروستی نواب يې تفضل حسين خان وچې دهند و ستان دازاد ی په پا څون (۱۸٥۷ عيسوي) کې د لاس لر لو په تور پر نګيا نو حجاز ته فرار کړ او هلته په ۱۲۸۸ هجري قمري کال مړ شو ۰ نواب غضنفر جنګ محمد خان، دهغه زامن نواب قا يم خان او نواب احمد خان د د غې کو رنی مشهوره نوابان تير شوي دي ۰

نواب احمد خان د پاني پت په مشهوره غزاکې ګډون د رلوداو د لوی احمد شاه بابا له ټينګو ملګرو نه و ۰نواب احمد خان چې په ۱۱۸٥ هجري قمري کال کې مړ شو پر ځای يې زوی مظفر جنګ د لير همت خان د فرخ اباد نواب شو، شپږ ويشت کا له يې نو ابي وکړه او ۱۲۱۱ هجري کال مړ شو ۰

د ۱۸٥۷ ع کال پا څون چې دهند وستان دازاد ی له پاره نا کام شو، د د غې بنګښې کو رنی څو تنه په دغه پا څون کې د لاس لر لو په جرم پر نګيا نو په دار و ځړول ۰"

په فرخ اباد سر بيره په قايم جنګ، شاه جهانپور او په ډهلي کې هم بنګښ او سيږي ۰ په ډهلي کې د بنګښو محله مشهوره ده ۰

همداراز يو شمير بنګښ دايران په ما زند ران او خر اسان په ايا لت کې هم ميشته دي ۰

یو زیا ت شمیر بنګښ په سعودي عر بستان، کو یټ او د خلیج په عر بي هیواد ونو لکه د وبی، قطر، ابو ظبي، عمان، مسقط او شا ر جه کې هم استوګنه لري چې اکثره یي په ټکسي چلولو او نورو خواریو او غر یبیو بو خت دي ۰

26.5 د بنګښو نا متو شخصیتونه:

د بنګښو قبیله په خپله غیر کې ډیر پو هان، سیاسي مشران، نوابان، لیکوالان، شا عران او هنر مندان روزلي دي چې د ځینو نومو نه یې دادي :نواب غضنفرجنګ محمد خان بنګښ، قایم ا لد وله قا یم جنګ نواب قایم خان بنګښ، نواب تفضل حسین خان، نواب احمد خان، مظفر جنګ د لیر همت خان او نا صر جنګ امداد حسین خان چې دهند داترپرادیش د فرخ اباد د سیمي بنګښ نوا بان وو ۰

داورنګزیب عالمګیر د زماني مشهور پښتو شا عرخواجه محمدهم د بنګښ په قبیلي پورې اړه د رلو ده ۰

په سیا سي مشرانو کې د مزد ور کسان پار تی مشر افضل بنګښ چې په پښتونخواکې یې د مزد ورانو او خواریکښانو د حقو قو له پاره مبارزې کړي دي هم بنګښ پښتون و ۰

دهند د مو سیقي ستر استاد ښا غلی امجد علي خان چې د سروداستاد د ی او دهغه زامن ښا غلي امان او عیان هم بنګښ پښتا نه دي ۰

په د وبی کې د بنګښ پرا پر تیز چیر مین ښا غلی عبدالنبي بنګښ چې د پښتو ژبي او پښتنو سره ډیره مینه لري او په د وبی کې پښتانه پرې را ټول دي او په د رنه ستر ګه ور ته ګوري هم پښتون بنګښ دي۔

26.6 د بنګښو مجمو عي شمیر

حیات افغاني ۱٤۱ کلونه و ړاند ې د بنګښو مجمو عي شمیر ۱۸ زره کور ه ښو د لی دي ۰

خو هغه ورو ستی سر شمیرنې چې په دغه سیمه کې شوي دي په مجمو عي تو ګه د ټو لو بنګښو شمیر که هغه په کور مه ایجنسۍ کې اوسي او که په کو هاټ کې د ۳۰ زرو تنو په شا او خواکې ښود ل شوي دي ۰

27 بنوخی

زمونږ پښت پو هان(نسب پیژند ونکي) بنو څي د پښتنو د کرلانې ټولنیز ې ډلې نه شمیري ۰ د تا ریخي رو ایتو نو له مخې د بنو څیو لوی نیکه شاه فر ید نو میډ چې ورو سته په شیتک مشهو ر شو ۰ د شیتک مور ککۍ نو میده چې د ده د زیږ ید و په وخت کې په لنګوال مړه شوه ۰ پلار یې پر ده با ند ې د شاه فر ید نوم کیښود ۰ داسي روایتونه هم مو جود دي چې شیتک د ریې میر منې د ر لود ې، چې د لو مړۍ میر منې نه یې چې با نو نو میده د وه زامن چې کیوي او سو رانې نو میډ ل و زیږید ل چې د دوی د مور د نوم له کبله دوی ته با نوزي یا بنو زي ویل کید ل چې د بنو د سیمي پښتانه یې بنو څي بولي او د بنو د سیمي د تسمیې وجه همدا میر من ده ۰ د بلې میر منې او لا ده یې تنې او د وړ دي ۰ د د ریمې میر من او لاده یې جیلم او هوید وو ۰

ډپټي محمد حیات خان په خپل مشهور اثر تاریخ حیات افغاني کې چې د ده له خوا ۱٤۱ کلونه وړاند ې په ارد و ژبه کښل شوی و او بیا ورو سته په انګر یزي او پښتو ژبو ژبا ړل شوی د ی د دوی د پخو انۍ سیمي او د بنو سیمې ته د بنو څیو د راتلو په اړوند داسي لیکلي دي:" د بنو څیو داستو ګني اصلي ځای د سلیمان د غره یوه لړۍ یعني د شوال غر و او د بنو څیو تر راتګ د مخه په بنو کې دهني او منګلو قبیلي میشته وې، چې بیا ورو سته د د غو قبیلو پیر شیخ شاه محمد رو حاني(رح) د دوی نه له د ې کبله خپه شو چې د غلو دانو عشر یا لسمه برخه یې چې هغه ته ور کو له ور باند ې بنده کړه، چې له هما غه و خته نو مورې پیر د شیتک له او لاد ې نه د کیوي او سورانې اولاده د خپل زوی شاه نیکبین سره یو ځای د شوال د غره نه د ې سیمي ته راو لیږل او اجازه یې ورکړه چې دوی باید دهني او منګلو قبیلي له د ې ځایه وباسي او دغه سیمه چې د بنو څیو تر راتلو د مخه په ډنډ با ند ې مشهوره وه په خپل واک کې راولي ۰ څر نګه چې د شیتک اولاده د شوال په غره کې د وزیرو قبیلې د زور زیاتي په وجه په

تنګ شوي وو، نو د نو موړي پير دغه خبره يې غنيمت و ګڼله او د غې سيمې ته يې ډله ايزه لېږ ديد نه پيل کړه چې لو مړی د تو چې سين سهيل او د ګبر غره په شمالي لمنې ورغړ کې ميشته شول ۰ بنو خيو د خپل پير د زوی شاه نيکبين په غو ښتنه د رې کو ترې راوړې۔ ۰ د يوې کو ترې نه يې هيڅ بنکې ونه ايستلي، د د ويمې کو ترې نيما يې بنکې او د د ريمې کو ترې ټو لې بنې يې وايستلې او د رې واړه کو ترې يې د خپل يوه استازي په لاس دهني او منګلو قبيلو ته واستولي او دا پيغام يې ور وليږه که چيرې هر هغه څوک چې خپل مالونه له ځا نه سره واخلي او له د ې ځايه و ليږدي نو دوی به دهغې کو ترې په شان په امن کې وي چې بنکې يې نه دي ايستل شوي او دوی ته به هيڅ ډول ځا ني او مالي زيان ور ونه رسيږي او هغه خلک چې په د ې کار کې ځنډ وکړي نود دوی سره به دهغې کو ترې په څير چلند وشي چې نيما يي بنې يې ايستل شوي وي يعني دوی ته به ځا ني او ما لي تا وانونه ور ورسيږي او پښيما نه به شي او هغه څوک چې نه ځي موږ به هغه د خپل پير په بر کت دهغې يې بنکو کو ترې په څير لوخ کړو ۰ کله چې هني او منګلو قبيلو د کو ترو دغه حال وليداو نو موړی پيغام يې واوريده نو په خپلو مينځو کې يې سره سلا او مشوره وکړه چې که چيرې له دوی سره جګړه وکړي نو د بر يالېتوب هيله نشته ۰ همداراز دوی د خپلې بې اتفا قۍ او د خپل پير د خپګان په وجه خو اشيني وو ۰ له بلې خوا بنو څيو د دوی کرنې او زراعت ته تا وانونه رسول، چې په پای کې هني او منګل قبيلې مجبوره شوې چې خپله سيمه پر يږدي ۰ دهني يو شمير خلک دهند وستان خو اته وليږ ديد ل او لږ شمير د منګلو سره د سپن غره په سهيلي برخه کې ميشته شول او په د ې تو ګه بنو څيو پر د غې سيمې خپله واک ټينګ کړ او په بشپړه تو ګه يې دغه سيمه په خپله ولکه کې راوسته ۰ که څه هم د بنو څيو له خوا د د غې سيمې د نيو لو نيټه نه ده معلومه، خو دوی د شيخ شا ه محمد روحاني(رح) په وخت کې چې د شاه رکن عالم همعصره او مر يد و د لته ميشته شوي دي او شا ه رکن عالم د ۸۸ کلو نو په عمر په(۷۰۵لمريز) کال له د ې نړۍ نه ستر ګې پټې کړي دي ۰"

خو علامه استاد رشاد (رح) د حيات افغا ني د پښتو ژبا ړې، پيښور په ۵۱۰ مخ په پايليک(پاورقي)کې د شيخ رکن ا لعالم په باب داسي کښلي دي:" شيخ رکن العا لم د شيخ صد رالدين عارف زوی او د شيخ بهاؤ الدين زکر يا ملتا ني سهر وردي لمسی د ی، د ده د مړ ينې کال په مقا ما ت ار شا ديه (۸۵) مخ کې، د خز ينته الا صفياپه ۲/۵۱ مخ، داو ليا ملتان په ۱۹۸ مخ او داوليا هند و پاکستان په ۳۱۳ مخ کې ۷۳۵ هجري قمري ليکل شوي دي ۰"

27.1 د بنو څيو تر مينځ په خپلو کې د سيمو ويش

دهني او منګلو تر وتلو وروسته د غو خلکو د خپل پير پر لار ښوونه د بنو سيمه په خپلو مينځو کې په د ې ډول سره وويشله چې د کيوي د مشر ځوی او لا د ې ته يې سهيلي برخه، چې اوس په مير ي مشهوره ده د ککي تر ختيزو بر خو پورې چې په هغه وخت کې ز يا ته ابا ده وه ورکړه ۰ د کيوي د ويم زوی سمي ته يې په مينځ کې تر نا ر پورې ځمکې او د سو رانې او لاد ې ته د کو رمې د رود شمال ته تهل پورې سيمې ور کړل شوې ۰

په هغه وخت کې د سو را نيو برخه ځمکه زيا تره په ځنګلو نو پټه وه، خو اوس ډيره ښه او لو مړی د رجه ځمکه ده ۰

د ميري داولاد ې برخه(شمال) ته: د با رکزيو د واړه تپې، د نورړ تپه، د مه خيل تپه او د ککي او بهر تهه د واړه تپې

د سو را نې داو لاد ې برخه(شمال او لو يديز): د مندا خيلو تپه چې په با زيدهم مشهوره ده ۰ ولادين تپه چې په دهر مه خيل هم مشهوره ده ۰ د کو تې تپه چې په حسين هم مشهوره ده ۰ د ولا خيلو تپه چې په خلعت هم مشهوره ده ۰

د سمي داو لاد ې برخه(منځنی): د تپې د واړه تپې اود عيسکي او فا طمه خيلو تپې۔ ۰ همداراز د سمي او لا د ې ته د داؤد شاه، شمن خيلو او امندي تپې په جهيز کې ورکړل شوي دي ۰

27.2 د بنو په سيمه کې د پخو انيو او سيد و نکو په اړوند لنډ معلو مات

د تا ريخي معتبرو منا بعو په حواله په پخوا نيو ز ما نو کې د لته دهند وان او يو نا نيا ن او سيد ل، چې د پو رتنيو خبرو ثبوت دهغو زړو او لر غو نو سکو او ودانيو نه ښکاري چې د لر غو ن پيژ ند ونکو د څيړ نو په نتيجه کې لاس ته ر اغلي دي ۰ د لته د پخو انيو زړو ودانيو کنډ والې، د يو الو نه، زړې کلا ګانې او نور تا ريخي ځا يو نه او اثار شته او هغه سکي چې لر غون پو ها نو تر لا سه کړي دي هغه ز يا

تره د يو نا نيا نو او هند وانو له خوا ضر ب شوي دي ۰

داسي تا ريخي رو ايتو نه هم مو جو د دي چې په بنو کې د سبکتګين يا د غز نو ي سلطان محمود د واکمنۍ تر پيله د بد ني په نوم يو قوم چې هند وانو ور ته مذ هبي عقيده د ر لو ده او سيد ل، څر نګه چې سلطان محمود د خپلو پر غلو نو په وختو نو کې چې پر هند وستان به يې کول ځيني و ختو نه له همد ې لارې تير يده، نو د مذ هبي تعصب او مخا لفت په وجه د دغه قو م او مشر انو سره چې دار الر ياست يې د ستر ام يا او سنی اکرا ښار و وجنګيده او هغوی ته يې ما تې ور کړه ۰ د سلطان محمود لښکرو د غې سيمې او خلکو ته د و مره تبا هي و اړوله چې ډير يې ووژل شول او هغه لږ شمير خلک چې بچ پا تې شول نو هغوی د د غې سيمې پر ينښو د لو ته اړ شول ۰ تر هغې وروسته دغه سيمه ور انه پر ته او په ځنګله بد له شوه ۰ څو د غوري شهاب الدين د واکمنۍ په و خت کې دهنې او منګلو قبيلې په دغه سيمه کې ميشته شوې ۰

بايد ووايو چې په هند کې د مغولي امپر اتور عالمګير په وخت کې دهغه زوی بهـا د ر شاه دغه سيمه ونيوله او سيد حسن نو می يې د دغه ځای حا کم وټاکه ۰ تر او رنګزيب ور وسته دا سيمه خو د مختاره وه ۰ دابدالي احمد شاه د واکمنۍ په وخت کې دغه سيمه د ده په قلمرو کې شا ملـه او د کال د ولس زره روپۍ ما ليه به يې تر ينه ا خيستله چې قلنګ بلل کيد له ۰ د د ې سر بيره يې شپږ زره رو پۍ د سو رسات په نامه چې د پا چا هي لښکرو خر څ او اذوقه وه را ټو لولې چې مجمو عا اتلس زره رو پۍ کيد ې ۰

د سد وزي تيمو ر شاه په وخت کې په دغه ما ليه کې کو م بد لو ن رانغي، خو سد وزي زمان شاه د د وړود سيمي ما ليه چې د کا ل د و لس زره رو پۍ کيد ې د ککه پير د غو ښتنې له مخې چې يو رو حا ني شخصيت و وبخښله او هما غه د و لس زره رو پۍ يې د بنو پر سيمه کيښود لې چې په مجمو عي تو ګه يې د بنو له سيمې په يو ه کال کې دير ش زره رو پۍ مالیه يا قلنګ را ټو لو لې۔ ۰ د د ې قلنګ نه پر ته د د ې ځای د راني حا کما نو دهند وانو نه يو ډول ما ليه د جز يې په تو ګه تر لا سه کو له ۰

هغه وخت چې په ۱۸۸۰ بکر مي کا ل يا ۱۸۲۳ عيسوي کال کې ر نجيت سنګه دافغا نستا ن د واکمنۍ د کمزورۍ له کبله د بنو سيمې ته راغی او دغه سيمه يې په خپل واک کې راوستله نو ده هم پـر د

غو خلکو با ند ې د کال یو لک رو پی ما لیه وټا کله ۰ چې دغه مالیه د سکها نو مختلفو حا کمانو لکه نو نهال سنګه، تا را چنداو را جا سو چیت سنګه هم له د غې سیمې را ټو لو لې۔ ۰ هغه وخت چې فتح خان ټو انه د سکهانو له خوا پر دغه سیمې حا کم و ټا کل شو هغه دغه ما لیه یو نیم لکه رو پیو ته لو ړه کړه ۰ د رې کا له ورو سته سکهانو جر نیل ګورد ت سنګه د غې سیمې ته د ما لیې د را ټو لو له پا ره ور ولیږه چې هغه دغه ما لیه د وه نیمو لکو رو پیو ته لو ړه کړه او په دغه برخه کې یې د و مره زور زیاتی پیل کړ چې زیا تره خلکو خپلې ځمکې پر ینبود ې او تینبتي ته اړ شول ۰

په ۱۹۰۵ بکر ما جیتي کال چې ۱۸٤۸ عیسوي کال سره سمون خوري انګر یزي سر کار پر یو ه فصل با ند ې ۲٤۲۸۲ روپی تر لا سه کړې چې بیا په ۱۸۵۲ عیسوي کال په منځني ډول تقر یبا د کال ۸۵۰۰۰ زره رو پی ما لیه ر ا ټو لیده چې ا نګر یزان د غې ته د بنو په سیمه کې د ما لیې لو مړ نی انتظا م وایې ۰ د ما لیې په د ویم انتظا م کې چې د میجر جنر ال نکلسن له خوا تر سره شو دغه ما لیه ۹٤٤٤٦ رو پیو ته لوړه شوه ۰ د بنو د سیمې د مالیې په د ریم انتظام کې یې اندازه لو مړی ۱۰۷۱۰۵ رو پیو او تر هغې ور و سته ۱۱۱۰۵۸ ته لو ړه شوه ۰

27.3 د بنو د سیمې جغر افیوي مو قعیت

د بنو سیمي لو یدیز ته د وزیرو غر، ختیز ته بې شا ه پور د ضلعې پو له، د متهه ټو انه سیمه او د جیلم د ضلعې د تله کنګ تحصیل یوه برخه، سهیل ته یې دیره اسما عیل خان، شمال ته د لو یدیز نه نیولې د سنده د ر یاب تر ښی غا ړې پورې کو هاټ او د ختکو غر نی سیمه پر ته دهـ ۰ بنو د کهرک، لکهي مروت او وزیر ستا ن سره هم پو له لري ۰ بنو د پینبور جنوب په ۱۹۲ کیلو متری کې مو قعیت لري۔ ۰

اوږد وال یې له لو یدیز نه چې هلته د کو رمې سیند د غره نه اوارې سیمې ته راځي، ختیز خو اته د شا ه پور تر ضلعې پورې ۱۰ میله او منځنی پلنو الی له شماله تر جنو به تر څلو ینبتو میلو لږ زیا ت د ی ۰

بنو یو پراخ میدان د ی چې د کو رمې په سیند سره خړوبیږي ۰په د وبي کې یې هوا توده او په ژمي کې داسي سړه وي چې انسان یې زغملای نه شي ۰

27.4 حا صلات

شولې، غنم، جوار، ګڼي، تمباکو، کورکمن او اد رک(زنجبيل) دي ۰

27.5 ميوې

خټکي، تو تان، نارنج، ليمو، سنتره، چکو تره، کيله، ام، خرما، انګور، انځر، انار او بيري ۰

27.6 ګلان

ګلاب، چنبيل، رانبيل، داودي، لمر ګلی، عباسي، بند رابني، ګل خيرو، جعفري، ببري ګلی، پيغمبري ګل او داسي نور ۰

27.7 په بنو کې ميشته نور قو مونه

په بنو کې پر بنو څيو سر بيره نو رقو مونه لکه خټک، مروت، وزير، اپريدي، اوان، هند وان، کشميريان او لږ شمير بهاريان هم استوګنه لري، خو خلک يې په سلو کې ۹۹ پښتا نه دي ۰د خلکو ژبه يې پښتو ده، خو اينکو يا هند کو، پنجا بي او ارد و هم پکې مروجه ده ۰

27.8 د بنو څيو مشهور خيلونه

لکه چې د مخ مو وويل د شيتک لو مړی مير من بانو نو ميده چې زامن يې کيوي او سو رانې نو مید ل چې دوی د بنوزيو يا بنو څيو په نامه سره شهرت لري ۰د کيوي د ښاخ مشهورې څا نګې دادي: ميري، سمي، بارکزي، ککی، بهر تهه، نورړ، دهر مه خيل، ممه خيل، احمد خيل، بر هيم خيل، عا لم ګل خيل، خد ر خان خيل، بورا خيل، مو سي خيل، سرکي خيل، نقره دين، وله خيل، قلندر خيل، برت خيل، ميټا خيل، سکند رخيل، جهند وخيل، مندان، سليم خيل، بډاخيل، سيناور، اسما عيل خيل، او نور---

د سورانۍ مشهورې څانګې دادي:منداخيل، ولادين، کوټي، ولا خيل، خوزک، کځ زي، هيبک، ملي زي او نور ۰

28 بټنی

د د غې قبيلې خلک د خپل لوی نيکه بيټ يا بټن د نامه له کبله په بيټنو سره شهرت لري ۰ دا سړی په پښتنو کې ډير مشهور نيکه تير شوی د ی او له پخوا زمانې نه تا ريخ ليکو نکو د ده نوم او حال ليکلی د ی ۰په پښتني عنعنه کې دا سړی يو خورا لوی پښتون او مشهور نيکه ګڼل کيږي.

د د ې عنعني تصديق په بهر نيو مؤ ر خينو کې ابو الفضل علامي(١٠٠٦ هجري) دهند د مغولي واکمن جلا ل الدين محمداکبر د د ربار مؤ رخ په د ې ډول کوي:

"په پښتنو کې د ري ورونه بيټنی، غر غښت او سړ بن ډير مشهور نيکو نه دي". [32]

د بيټ نيکه نوم په تا ريخو نو کې بيټنی او بټن هم راغلی د ی او نعمت الله هروي چې په(١٠١٨ هجري) کې مخزن افغا ني تا ليف کړی د ی هم د شيخ بيټني او د ده داو لاد ې احوال په بشپړه تو ګه راوړی او ځينو نورو تا ريخو نو ته حواله ورکوي چې مجمع الا نساب ا، معد ن ا خبار احمدي او تا ريخ ابرا هيم شا هي له هغو نه دي او تر ده د مخه ليکل شوي دي. [33]

د رو ا يتو نو له مخې بټن د قيس عبدالر شيد زوی د ی ۰ بيټ نيکه [34] د خپلو د وو ورو نو يعني غر غښت او سړ بن نه په عمر کو چنی و، خو د خپل نيک خوی، زهداو تقوی په وجه يې ډير شهرت تر لاسه کړ ۰ په کو چنيوالي کې يې تر عر بستان او عر اق پورې سفر و نه وکړل چې د د ې سفر و نو په تر

---

32 ائين اکبري، لو مړی ټوک، ١٩١ مخ

33 د پښتو اد بيا تو تا ريخ، د ريم ټوک، ١٠٥ مخ

34 په سا نسکريت کې Bhutt د دانشمنداو فا ضل په معنی رائې

څ کې يې د ډيرو خلکو سره ليد نې کتنې وکړې او دهغوی له صحبته يې فيض تر لا سه کړ. [35]

اخو ند د رويزه ننګر هاری چې تر (۱۰٤۸ هجري) پورې ژ وند ی و هـم د شيخ بيتنې او د ده داو لا د ې يا د ونه کوي او د پښتنو له نو ميا ليو او مشاهيرو نه يې ګڼي ۰ خو تر د غو ټو لـو پخـو انـی او زوړ کتاب چې د بيټ نيکه ذکر او د ده اشعار پکې را غلي دي د بـا رک خـان د زوی سـليمان مـا کـو تـذ کـر ت الا وليا د ی چې له(۲۱۲هجري) نه ورو سته ليکل شوی د ی ۰ د د ې کتاب هغه يـو څـو پـا نې چې شته د شيخ بيتنې ذکر داسي کوي:" نقل کا ندي هسي يا رانو چې په روزګار د شيخ بيتنې د ده ورور چې سړ بن نو ميده او پر شيخ بيتنې هم خورا ګران و، سړبن نه د ر لود زامن او هـر کلـه بـه يـې ويـل خپـل ورور ته، بيتنې خپل زوی اسما عيل ورکا او لوی شو د سړ بن په کا له، خدای مهر بان داسـما عيـل پـه بـر کـت سړ بن ته نصيب کړل د و مره زامن چې اوس شو ګڼون دهغو ۰۰۰".[36]

لوی استاد علا مه عبدالحی حبيبي د پښتو اد بيا تو تا ريخ په د وهم ټوک کې د بيټ نيکه په اړوند دا سي ليکلي دي:" د بيټ نيکه نور ا حو ال مو ږ ته نه د ی معلـوم او نـه د ده ژونـد مؤ ر خـانو تصـر يـح کړی د ی، فقط د پټې خز انې د ليکلو څخه ښکاري چې اسـما عيـل د بيـټ نيکـه زوی د ښـر خبـون معـا صـر او دغـه سړ ی پـه کـال(٤۱۱ هجـري) کـې مړ شـوی د ی۔ ۰ نـو چـې داسـما عيـل د ژونـد وخـت(٤۰۰هجري) حدود وي ښا يي پلار او اکا يې هم د (۳٥۰ هجري) په حدود و کې ژ وند ی وي." [37]

د تا ريخ حيا ت افغا ني د ليکوال ډپټي محمد حيات خان په حـواله بيـټ نيکـه د سـليمان پـه غـر ه کې ميشته و، خو وروسته د غزني په شاوخو اکې ښخ شو.[38]

---

35 تو اريخ خورشيد جهان، د شير محمد ګنډ اپور تاليف، ۲۰٦ مخ

36 د پښتو اد بيا تو تاريخ، د ويم ټوک، ۱۰٦ مخ

37 نو موړی اثر، ۱۰۷ مخ

38 حيات افغاني، د پيښور چاپ، ۲٦٦ مخ

شیخ بیټني یو رو حاني شخصیت و . سلیمان ما کو په خپل کتاب تذ کرت الا ولیا کې د ده یو منا جا ت راوړی د ی چې په لا ند ې ډول بې وړاند ې کوو"

لـــویه خـــدایه لـــویه خـــدایه ســتا پــه مینــه پــه هــر ځــایه
غــر ولاړ د ی د رنــاوي کــی تــوله ژوي پـــه زاري کښـــې
د لتـــه دي د غـــرو لمنـــې زمـوږ کـېږد ی دي پکـې پلنـی

دا وګـړي ډېـر کـړې خـدایه
لـــویه خـــدایه لـــویه خـــدایه

د لتــه لــږ زمــوږ اوربــل د ی وړ کـورګی د ی، وړ بورجـل دد مـړو وده لـه تـا ده
مینـه ستا کـې مـوږ میشـته یـو ی
هسک او مځکه نغښته ستا ده بـل د چـا پـه ملـه تلـه نـه یـو

دا پـــا لنـــه ســـتا ده خـــدایه
لـــویه خـــدایه، لـــویه خـــدایه!

شیخ بیټني د ریې زامن د ر لو د ل چې اسما عیل، وړسبون او کجین نو مید ل او په د غو زامنـو سر بیره بې یوه لور هم د ر لوده چې بي بي متو نو میده او د شا ه حسین غوري میر من وه چې او لاده بې متو زي پښتا نه دي. [39]

د بیټ نیکه په ز امنو کې د وړ سبون او کجین او لاد ې ته بیټني وایي.[40]

---

39 نومورې اثر، ٢٦٦ مخ

40 ښتني قبیلي، زما اثر، د پیښور چاپ، ٦١ مخ

په پخوا و ختو نو کې د د غې قبيلې خلک د سليمان غره په لو يديزه خو اکې او سيد ل، خو په هند و ستان کې د پښتون واکمن د سلطان بهلول لودي د زوی سکند ر لو دي د و ا کمنی په و خت کې د غلجيو د قبيلي د غلبي په وجه د خپل اصلي او پخو اني ټا ټو بي نه و کو چيد ل او د سليمان غره په لمر خا ته د ګو مل د سيند پر غاړه او په ټا نک کې ميشته شول ۰ وروسته بيا د د غې قبيلي زيا تره خلک د سو داګری او نورو د و لتي چارو د تر لا سه کو لو له پاره هند وستان ته ولاړل ۰ د د ې له پاره چې په هغه و خت کې په هند و ستان کې پښتنو واکمنانو ځواک د رلوداو ټول قد رت د دوی په لاس کې و، له همد ې کبله د بيټني قبيلي ځيني کسان هم د لو يو ر تبو خا وندان شول چې يو له هغو نه فتح خان بيټنی د بنګال د ګور د سيمې خود مختاره او مشهور صو بدار او يا ګورنر و، چې تر هغه وروسته دغه مقام د کرلاني قبيلي لاس ته ورغی. [41]

هغه شمير بيټني چې د ګو مل په د ره کې او سيد ل، نو دهغوی په شمير کې زيا تو الی راغی، چې د خپل ملک په لو يولو او نورو سيمو په نيو لو يې پيل وکړ، ان تر د ې چې(د وتو) چې کا نيګرام ته نږ د ې مؤ قعيت لري ور سيد ل ۰ دوی د لته د وزيرو او مسيد و سره مخا مخ شول او په هغه جګړه کې چې د دوی تر مينځ پيښه شوه نو بيټنو ما تي وخوړه او شا ته تلو ته مجبور شول او د کر نګې له کلا نه هم په شا شول، چې اوس نو موړې کلا د مسيد و قبيلې د بهلو ل زيو د ښا خ د شنګې څا نګې په لا س کې ده ۰ کله چې وزير او مسيد د دوی د مقبو ضه ملک د نيو لو پر ته دهغوی پر سيمې باند ې هم تيری پيل کړ، نو په دغه وخت کې ځيني خلک له خپلو کو رو نو نه لاړل او چير ته چې دوی ته پناه ور کړل شوه هلته ميشته شول، خو د کجين داو لاد ې زيا تره برخه او دهغې نه د وړ سبون او لا ده د سليمان د غره په ختيزه کې ميشته دي ۰

داسي ويل کيږي چې په هغه وخت کې د ګبر غر چې د بنو جنوب او د ټانک شمال ته پروت د ی او د ورګا ړا يا او ګاري ښاخ د وړ سبون بيټنيو په قبضه کې و، چې ورو سته بيا په نو مو ړي ښا خ با ند ې د ګو ربزو قبيلې ير غل وکړ او بې شميره ورګاړي بې ووژل او د دوی سيمه بې و نيو له.

---

41 ياد شوی اثر، ٦١ مخ

28.1 د بیټني قبیلې داستو ګنې سیمې

1. په پښتونخواکې: بیټني د جنو بي وزیر ستان په سهیل او د دیره اسما عیل خان د ضلعې په لو یدیځ کې ا ستو ګنه لري، چې د جغر ا فیوي پلوه په جنو بي و زیر ستان، خو په اداري لحا ظ په دیره اسمعیل خان کې مو قعیت لري ۰د دوی سیمه له ۱۲ نه تر ۱۵ میله پورې پلنوالی او تقر یبا ۵۰ میله او ږد والی لري ۰ د دوی اصلي مرکز د جنډ وله په نامه یادېږي، چې په جنو بي و زیر ستان کې د ټا نک پورې اړونده سیمه ده ۰ همداراز د د غې قبیلې خلک په بنو، لکهې مروت کې هم میشته دي ۰ په او سني و خت کې په بنو او دیره اسما عیل خان کې د دوی شمیر د ۲۵۰۰۰ زرو په شا او خواکې اټکل شوی د ی ۰سر بیره یو شمیر بیټني په پیښور، کراچۍ او د پاکستان په نورو ښا رو نو کې هم استوګنه لري

2. په ا فغا نستان کې: په افغانستان کې دوی په پکتیکا، غزني او ننګر هار ولا یتو نو کې میشته دي۔ ۰ داسي ویل کیږي چې په غزني کې د دوی څلور پنځه کلي شته ۰ یو شمیر بیټني په نیمه کو چي ډول ژوند کوي چې د کابل او ننګر هار تر مینځ لیږد کوي ۰ د ننګر هار ولایت د چپر هار د ولسوالۍ په ځینو کلیو کې هم یو شمیر بیټني میشته دي ۰ دا فغا نستان پښتانه بیټنیو ته د بیټ نیکه د رو حاني شخصیت له کبله د رناوی کوي ۰په ټول افغانستان کې د دوی شمیر د ۶۰۰۰ تنو په شا او خواکې ښو د ل شوی د ی ۰

3. په هند وستان کې: لکه چې د مخه وویل شول یو شمیر بیټني په پخوا زمانو کې کله چې لودي او سوري پښتنو پر هند وستان باند ې واکمني د رلوده دغه هیواد ته ولیږ دید ل د د غو واکمنا نو تر حما یې او سیوري لاند ې د غټو غټو منصبو نو خا وندان شول، په تیره بیا په بنګال کې دوی ډیر پو ځي منصبو نه د ر لود ل ۰ چې همدا اوس هم دهند په بنګال، بیهار، اوړیسا او اتهراپرادیش ایا لتو نوکې بیټني پښتا نه میشته دي، خو ژبه یې له لا سه ور کړې ده ۰

28.2 د بيتني قبيلې ښا خو نه

لکه چې د مخه مو وويل د بيټ نيکه په زا منو کې د وړ سبون او کجين اولا د پ ته بيتني وايي چې په لا ند پ ډول به د دوی ښا خو نه د ر وپيژند ل شي:

1. د وړ سبون ښا خو نه

مزيانې، کزبونې، ورګاړي، غړون، فتح خيل، مندي خيل، اد م خيل، سن خيل، ما ني خيل، رسول خيل، معروف خيل، خواجي خيل، چارګل خيل، رحيمداد خيل، الفدين خيل، جاني خيل، حسن خيل، لا لي خيل، سمر زي، د ري خيل، ملا خيل، تا جو خيل، يو سف خيل، لښکري، عمر خيل، کلي خيل، سر مست خيل، اورک زي، زکني، غوري زياو نور ۰۰۰

2. د کجين ښا خو نه

تتا، د نا، کټا، کوټې، رتنزي، بو يا يې، بو يک، توران خيل، کټه ګرام، مندانه، شيخا يې، تر ايي، څپلا ي، شهمير، بالمير، شنګر لا ني او نور ۰۰۰

بيتني زړور، ميلمه پا لونکي، جنګيالي او د ښه مزاج خا وندان دي ۰دوی د وداد د ستور وزيرو ته ورته د ی ۰ د حيات افغا ني مؤ لف ډپټې حيا ت خان ۱۴۳ کلو نه وړاند پ د دوی د وسله والو جنګيا ليو شمير ۳۰۰۰ تنه ښو د لی دي ۰

29 بابکر خيل

که چيرې د با بکرخيلو د نسب شجره وګورو نو دا خبره به جو ته شي چې دوی په اصل کې غلجي پښتا نه دي ۰ د دوی يو شمير د پکتيا ولايت د ځائې ميدان او خو ست ولايت تر منځ د باک په ولسوالۍ کې استوګنه لري چې د د غې سيمې داو سيد ونکو شمير(۱۰۰۰۰) تنه ښود ل شوي دي چې ډيره کي يې با بکر خيل دي ۰ د باک د سيمې با بکر خيل په يوه شنه او اوره سيمه کې ژوند کوي چې

زياتره يې د کر نې په چارو بو خت دي ۰

د د لغمان ولايت په مرکز پورې تړ لو څو کليو کې هم چې خان کلا، سه صده او هر مل نو ميږي يو شمير با بکر خيل استوګنه لري ۰ د لغمان د ولايت با بکر خيل د شمير له مخې د ۱۵۰۰ تنو په شاا و خوا کې ښو د ل شوي دي ۰ يو شمير با بکر خيل د کابل او ننګر هار تر مينځ د سرو بي و لسوالۍ په جګد لک او تيز ين کې هم استوګنه لري ۰ دغه راز د کابل د خاک جبار د خورد کا بل په سيمه کې هم يو شمير با بکر خيل ميشته دي چې دغه سيمه داداري پلوه د کا بل د بګر اميو په ولسوالۍ پورې اړونده سيمه ده ۰ په د ې سر بيره د کا بل د چهار اسياب په ولسولۍ کې هم يو شمير بابکر خيل استوګنه لري ۰ د لو ګر ولايت په يو شمير سيمو کې هم با بکر خيل ژوند کوي ۰

با بکر خيل زړور، جنګيالي، ميلمه پال او په پښتو او پښتو نولۍ با ند ې ټينګ خلک دي ۰ دانګر يزانو پر خلاف بې ډيرې توري وهلي او ډيرې ميړانې بې ښود لي دي ۰ دافغان او انګرېز تر مينځ په لو مړۍ جګړه کې غا زي محمد شا ه خا ن غلجی چې په اصل کې د لغمان د بديع اباد د با بکر خيلو له مشر انو نه و د ۱۸٤۱ ميلا دي کال د نو امبر په ۲۸ مه نيټه چې د ۱۲۵۷ هجري کال د شوال د ميا شتې د ديا رلسمې نيټې سره سمون خوري د غازي مير مسجدي خان او غا زي سر دار محمداکبر خان په ملګر تيا د نورو ملي مبا رزينو په ګډون سره يو ځای شول، څو دانګر يز انو په مقا بل کې د ملي پا څون ليکي نورې هم پياوړي کړي چې په پای کې د خلکو د پا څون په بر کت دانګر يز انو ير غلګر ځو اکو نه د ې ته اړ شول چې د ۱۸٤۲ کال د جنورۍ په ٦ مه نيټه کا بل خو شي کړي او وتښتي ۰

د روسي ير غلګرو ځواکو په وړاند ې هم د با بکر خيلو د شاه ځلميو مبا رزې زمور د ويا ړلي هيواد ويا ړلي افغانستان د تا ريخ زرين بابو نه جو ړوي ۰

30 بختيار

د بختيارو پښتنو په اړوند مؤ رخينو او تو کم پو هانو بيلا بيلې نظر يې راوړي دي، د بيلګې په توګه ډپټي محمد حيات خان په خپل مشهور اثر حيات افغا ني کې د نعمت الله هر وي د مخزن افغاني د

کتاب پر بنسټ داسي لیکلي دي:" اسحق نو می چې په اصل کې د یوه سید زوی و په اوش(*) نو مي ځای کې چې د بغداد له تو ابعو نه د ی، د ژ وندانه د پیښو او ستو نزو له کبله د ې ته اړ شو چې په سفر لاس پورې کړي، نو هما غه و چې د سلیمان غره ته د شیر انیو سیمي ته راغی او له یوې نجلۍ سره یې چې شیخی نو میده واده وکړ، چې د د غې میر منې نه یې یوازې یو زوی پیدا شو چې ابو سعید نوم یې ور با ند ې کیښود چې نو موږی ما شوم یې د ده د ښو طا لعو او نیکمر غۍ په وجه یې په بختور شهرت و مو ند چې د و خت په تیر ید و سره په بختیار مشهور شو چې اوس د ده او لاد ې ته بختیار وایي۔ ۰ محمد حیات خان دا هم زیاتوي:" ځیني خلک دوی سیدا ن بولي ۰ دا خلک په اصل کې له ایرا نه راغلي دي چې د د غې قبیلې یو شمیر دایران داصفهان په لو یدیز او یو شمیر یې په بخا را کې ژوند کوي ."

داوش په اړوند کې چې ما د د ې مقالې لیکوال کومه څیړ نه وکړه هغه د بغداد له تو ابعو نه نه و، بلکې اوش Osh د ما ورالنهر له ښا رونو نه شمیرل کیده چې همداوس د قر غیز ستان د ویم لوی ښارد ی چې د فر غا نې په واد ۍ کې مو قعیت لري ۰ سر بیره پر د ې اوش داسلامي علو مو لوی مرکز او ډیر شمیر اسلامي عا لمان یې په خپلې غیږ کې روزلي دي ۰

شیر محمد خان ګنډا پور په خپل مشهور تا ریخي اثر توا ریخ خو ر شید جهان کې چې په ۱۸٦۷ عیسوي کال کې په لا هور کې چا پ شوی د ی د محمد حیات خان هغه قول رد وي چې د مو نټ ستوارټ الفنستن پر استنادیې بختیا ر ایرا نیان بللي دي۔ ۰ شیر محمد خان ګنډ ا پور بختیار پښتانه بللي اودایر اني بختیاري قبیلې نه یې په بشپړه تو ګه جلا ګڼي، ځکه پښتا نه بختیارهیڅکله هم ځا نو نه دایر اني بختیاري قبیلې سره یوډول نه ګڼي او نه د دوی تر مینځ کو مې تا ریخي اړ یکي شته ۰ د غسي روایتو نه ډیر دي چې ځیني تو کم پو ها ن کله د پښتنو یوه قبیله او کله هم بله په سیدانو یا نورو عر بي الا صله قبیلو پورې ټړي چې په حقیقت کې افسا نو ي رنګ لري ۰

په او سني وخت کې بختیار د سلیمان غره په شا او خوا، د رابټ او مر غه کې استوګنه لري چې د حیات افغا ني مؤ لف ۱٤۳ کلو نه د مخه د د رابټ په سیمه کې د د غې قبیلې شمیر ۸۰۰ کو رنۍ او د مر غه په سیمه کې یې ۵۰۰ کو رنۍ ښو د لي دي ۰د مخزن افغاني او د پښتنو نورو تو کم پو ها نو په یوه

اتفاق دا خبره تا ئيد وي هغه بختيار چې په د را بې کې او سيږي، نو دوی د ميا خيلو سره په ګډه او تا وان کې شر يک دي ۰ د بختيار د قبيلې ځيني پوونده سو داګر د ډير کلک هوډ خا وندان او د سو داګرۍ په چاروکې رښتيني او اما نتدار دي ۰

بختيار په لا ند نيو قبيلو ويشل شوي دي

- کو رتي
- اکو
- اتو
- پري
- توري
- سيد محمد
- خواجه الياس
- خواجه يحيي کبير : چې او لاده يې د شيخ زي په نامه يادږي
- مر غچي: هغه بختيار دي چې په مر غه کې دا يمي استوګنه لري
- مقر زي: پوونده بختيار دي چې د خپل لو مړ ني استو ګنځي له کبله يې مقرزي بو لي
- نظر زي:دوی هم پوونده سو داګر او د بختيار قبيلې يو ښاخ د ی

د بختيار قبيلې يو ستا نه او ولي حضرت خو اجه قطب الدين الدين بختيار کاکي(٦٠٠هجري) و چې نعمت الله هروي په مخزن افغاني کې د ی اقطب افغان بولي او د ده د قبيلې د نورو مشاهيرو ذکر

کوي چې په هغو کې د خواجه يحيي بختيار، شيخ شهاب بختياراوشاه ابو بکر بختيار نو مو نه يا د ولای شو.د ده زيارت د ډيلي د ښار په مهرولي کې د ی چې خلک له ليري ليري ګو ټو نو نه د ده مزار ته راځي او ډير ارادت ور ته لري .

پښتون مؤرخ سليمان ما کو(٦١٢ هجري) په خپل کتاب تذ کر ت الا وليا کې د دغه ستر ستا نه ذکر کوي او وايي:" بختيار په پښتو سند ري کړ ينه- اوښي تو يو ينه- خدای ته نارې کړي غلبلي کړي- پاړکي لر ينه"- چې يو داد ی:

ويـر مې زړه سوری سوری کړ راتـــه وګـــوره ملـــو کـــې!
پـه بيلتـون کـې د ې وبـا سـم لـه خـو ږمنـه زړګـي کـوکې

راتـــه وګـــوره ملـــو کـــې!
راتـــه و ګـــوره ملـــو کـــې!

د بيلتـــون اورونـــه بـــل دي هـر ګړۍ مې زړګی سو ځي
ليـــو نـــی يمـــه د مينـــي سـر خـم زه لکـه پيلـو ځـی

راتـــه وګـــوره ملـــو کـــې!
راتـــه و ګـــوره ملـــو کـــې!

غـــوړولی د ې وربـــل د ی اور زمـا پـه زړه کـې بـل د ی
زه بختيـار خـاورې ايـرې سـوم په اور سوی مې ګو ګل د ی

راتـــه وګـــوره ملـــو کـــې!
راتـــه و ګـــوره ملـــو کـــې!

31 څمکنې

څمکنې چې څو کنې یا چمکنې یې هم بولي د پښتنو یوه مشهوره قبیله ده چې زمونږ پښت پو هان یې د پښتنو د سړ بن ټولنیزې ډلې نه شمیري چې بیا په سړ بنې پښتنو کې د کند په ښا خ پو ري اړه لري۔ ۰ کند په خپل وار په د وو لو یو څا نګو ویشل شوی د ی:

1. غوري یا غو ریا خیل: چې مو مند، داؤد زي، زیړاني او څمکنې پکې راځي ۰

2. خښي: چې یو سفزي، مندړ او تر کلا نې پکې را ځي ۰

د پښتو نا زکځیا ل شا عر حمید ما شو خیل دغه د وه څا نګې دا سې یا د ې کړي دي:

چې دا ستا د نا مې بوی اخلي حمیده!
څه به نه وي خوش د ما غه غوري، خښي

دا سي روایتو نه شته دي چې د غو ر یا خیلو او لاده په پیل کې د کندهار په ار غستان کې میشته وه، چې د وخت په تیر ید و سره د غز ني لو یدیزو او سهیلي بر خو ته را غلل چې په اغلب ګو ما ن سره ۹۱۰ هجري کال او د با بر د وا کمنۍ لو مړۍ شپې او ور ځې وې ۰ ویل کیږي چې په هغه وخت کې د د غې قبیلې خلک پوونده او د څړ او ما لدارۍ په چارو بو خت وو ۰ څر نګه چې ورو سته د د غې قبیلې د خلکو په شمیر کې ز یا تو الی راغی نو بیا د غز ني نه د کا بل پر لوري را و لیږ دید ل ا و بیا له هغه ځا یه د ننګر هار خواته لاړل ۰ کله چې غور یا خیل ننګر هار ته ورسید ل، نو څمکنیو د سپین غره په لمنو کې استوګنه غوره کړه ۰ تا ریخ حیات افغاني دافضل خان د تا ریخ مر صع په حو ا له د خپلو ورو نو نه د د ې قبیلې د بیلتون وجه خپګان بولي او ا خو ن د ر ویزه هم د نورو ورو نو نه د څمکنې جلا والی مرور تو ب ښود لی د ی، خو ښا یې پو ر تنی ر وایت افسا نوي بڼه ولر ي ۰

د څمکنیو داستو ګنې سیمې: څمکنې یا څو کنې په لا ند نیو سیمو کې مېشته دي

1. د پکتیا په ولا یت کې: د پکتیا ولایت ځمکني د دغه و لا یت د ځمکنیو په او لسو الې کې چې د د غې قبیلې په نامه ور ته د ځمکني و لسو الي وا یي ۰ ځمکني یوه ښکلي د ره ده چې د پیواړ د غا ښي جنوب لو یدیز خو اته مو قعیت لري، شمال ته یې د منډ هیر مشهور ځنګل او لو یدیز خو اته یې د بکیاد غر ونه را څر خید لي دي ۰

2. په تیرا ه کې: د ځمکنیو د قبیلې هغه شمیر خلک چې په تیراه کې میشته دي د پړه ځمکني په نامه یې یا د وي چې د تیراه په ښکلو غر و نو کې استوګنه لري چې د سپین غره په سهیلي بر خو کې ژ وند کوي ۰ ختیز ته یې اپر یدي او او رکزي، لو یدیز ته یې توري، شمال ته یې سپین غر او د جنوب خو اته د تو ري او او ر کزي قبیلو سره ګډه پو له لري ۰ پړه ځمکني دافغانستان نه د سپین غره په و ا سطه جلا شوي دي او کله یې چې خلک افغانستان ته سفر کوي نو داپرېد یو او کو رمې له لارې تګ او ر ا تګ کوي ۰ د دوی سیمه داداري پلوه د کو رمې په ایجنسۍ پورې ا ړ ه لري او زیاتره د کړ مان په د ره کې ژ وند کوي ۰

پړه ځمکني خوار یکښ او جنګیالي خلک دي ۰ ښځي او نا ر ینه یې ټول په ګډه کار کوي ۰ د دوی د سیمي زیا تره با راني او للمي دي، خو د مو سم د سو ړ و الي په و جه د غنمو، جوارو او او ر بشو ډیره ښه کر نه پکې کیږي، خو دغه ځمکې د دوی ور ځنۍ اړ تیاوې نه پوره کوي ۰ همداراز د دوی په سیمه کې ډول ډول میوي لکه منې، زردالو، انګور، شفتالو هم پکې پیدا کیږي۔ ۰ دغه خلک په خپلو منځو کې شخړې نه کوي او ډیر سو له خو ښو ونکي خلک دي۔ ۰ د پړه ځمکنیو مشهورې څا نګې او ښا خو نه دادي: ازي خیل، خا ني خیل، خو اجه خیل، اسیا بي، غر بینه او ګا نداره ۰

3. په پیښور کې : یو شمیر ځمکني د پیښور په شپږ میلۍ کې او سیږي چې د دوی کلی د ستر او لوی ستا نه حضرت میا عمر(ر حمته ا لله علیه) د مزار په و جه مشهور کلی د ی او د ځمکنیو په نامه یادېږي ۰ همدا راز د ځمکنیو ختیز ته په اته کیلو متری کې دازي خیلو کلی پر وت د ی۔ ۰ ازي خیل د ځمکنیو یو ه پښه ده ۰ په پیښور کې د ځمکنیو د نورو مشهورو محلو نو مو نه دادي:

a. قا د ر خیل، یا سین خیل، بهرام خیل، مصطفی خیل، خو ا جه خیل، چو غه خیل، با زار

ګهړي، د قصا بانو محله، د مو چيانو محله، د قا ضيانو محله، خا لق اباد، اول نمبر او د ويم نمبر کو ټهی، سيدان، مسکين اباد، زرين اباد، ميا ګان، جمروداباد، جان خان ګهړی، حا جي اباداو بابا خيل ۰

31.1 د څمکنيو د قبيلي ښا خو نه

1. ازي خيل: چې د د ر په خان خيل، د رې پلاره، ابراهيم خيل، خو تي زي، نصر خيل، حسين خيل، لشکري خيل او قمر خيلو په څا نګو ويشل شوي دي ۰

2. خاني خيل: چې د مموت خيل، مدي خيل، ګو ر ګه خيل، مبارک خيل، سلطان خيل، مصطفی خيلو، تو له خيل، جمال خيل او شير خا ن خيل په څا نګو و يشل شوي دي ۰

3. خو اجه خيل: چې په د ري خيل، مير زا خيل، ګل شير خيل، جلال خيل، لنګر خيل، شوي خيل، حکيم خيل، ولي خيل او فتح خيل په څا نګو ويشل شوي دي ۰

ويل کيږي چې د څمکنيو د قبيلي مجمو عي شمير که هغه په افغانستان کې دي او که په پښتونخوا کې دي دي د ۵۰۰۰۰ زرو تنو په شا او خوا کې ښو د ل شوي دي ۰

31.2 د څمکنيو د قبيلي مشهور خلک

1. د څمکنيو حضرت ميا عمر [42] (رح) چې د څمکنيو په ميا عمر هم مشهور د ی او مزار يې د پيښور په څمکنيوکې د خا صو او عا مو زيارت ځای د ی ۰ د دغه ستر ستانه په اړوند په پښتو کې يوه داسي لنډی شته:

په پيښور کې وليان ډير دي

---

42 رشاد، عبدالشکور، د څمکنيو مياعمر، دا جتما عي علو مو مرکز، دا فغا نستا ن د علو مو ا کا ډيمي، کابل، ۱۳۶۵

کړې جنډې په میا عمر ولاړې دینه

د دغه ستر ستانه د د رناوي او ستر مقام له کبله دافغانستان د جلال اباد په ښار کې یو ښوونځی هم شته چې د میا عمر په ښوونځي سره یادېږي ۰

2. حا جي د ر یا خان با با عبد ل خیل چې لوی علمي شخصیت و او په اسلا مي علو مو کې یې لوی لاس د رلود ۰ ویل کیږي چې نو موږی د څمکنیو د میا عمر صا حب استا دهم و او مزار یې د پیښور په څمکنیو کې د ی ۰

3. ار وا ښادهدایت الله خا ن څمکنی چې د صو به سر حد داسا مبلي سپیکر و ۰

4. حا جي محمد څمکنی چې یو وخت دافغانستان په و لسي جر ګه کې د پکتیا ولایت د څمکنیو د ولسوالی منتخب استازی و او بیا په ۱۳٦٥ لمرښ کا ل کې د یوې لنډې مو د ې له پاره د جمهوري ریا ست مؤ قتي سر پر ست پا تې شوی د ی ۰

5. اروانښاد فضل ا لر حمن څمکنی په ولسي جر ګه کې د پکتیا د خلکو منتخب استازی چې سږ کال داپر یل په میا شت کې د مجا هدینو د بر یا لیتوب د ورځې د لما نځلو په مر اسمو کې د ډزو په تر څ کې په شها د ت ور سید ۰

32 فر ملي

پر ملیان په پښتنو کې یوه ډیره لر غو نې قبیله ده چې د غر غښت په ټولنیز ګروپ پورې اړه لري او ځا نو نه د کا کړو یو ه څا نګه بو لي ۰ [43، 44]

---

43 تا ریخ شا هي چې په تا ریخ سلا طین ا فا غنه سره هم یادېږي، داحمدیاد ګار تا لیف، ۱۹۳۹، کلکته

44 داؤدي تا ریخ، د پیښور چاپ، کابل، ۲۰۰۷ کال

د دوی داستو ګڼې اصلي ټا ټو بی پر مل یا بر مل د ی چې د سلیمان د غرو نو لړی او د پکتیکاپه و لایت پورې یوه اړونده ولسوالي ده ۰

ډپټي محمد حیات خان په خپل مشهور اثر تا ریخ حیات افغا ني کې د پر ملیا نو په اړ وند لیکي:" پر ملیان زیا تره په ارګون او د خرو ټو د سېمې په منځنۍ برخه کې او سیږي."

البیروني د قا نون مسعودي په د ریم ټوک کې د پر ملیا نو د سیمي مو قعیت د غز ني او ملتان تر مینځ ښو د لی د ی ۰ همداراز د صو لت افغا ني د تاریخ مؤ لف زردار خان نا غر د پر ملیا نو د سیمې د مو قعیت په اړوند لیکلي دي:" بر مل د غز ني په تو ابعو کې د یوې سیمې نوم د ی او هغه کسان چې د بر مل په سیمه کې استو ګن دي د پر ملیانو په نامه یادېږي."

دافغانستان نا متو او وتلی مؤرخ اروا ښاداستاداحمد علي کهزادهم د پر ملیانو اصلي ټا ټو بی اورګون ښو د لی چې پر ملیان پکې ژوند کوي ۰

که څه هم د پر ملیانو د تو کمیزو(نژادي) اړیکو په اړوند بیلا بیلې نظر یې څر ګند ې شوي او د ځینو په اند دوی دیفتلي شهزاده ګانو او لاده ده چې د عر بو د فتو حا تو او سو بو له و خته د غز نوي وا کمنۍ پورې تر اوسه په سلیمان او سپین غر کې مېشته دي.

همداراز د پر ملیانو په اړوند د ریم نظر داد ی چې دوی غلجي پښتا نه دي، خو د تا ریخي شو اهد و پر بنسټ دوی د پښتنو د غر ځښت د ټولنیز ې ډلې پورې اړه لري ۰

هغه وخت چې المتو کل علی الرحمن پښتون واکمن بهلول لودي د ډیلي سلطنت تر لا سه کړ نو د یوه فر مان له مخې یې پښتا نه قبا یل هند ته ور و بلل تر څو د خپلې وا کمنۍ ستنې پیا وړې او مضبو طې کړي او له بلې خوا پښتنو ته د خپلې وا کمنۍ په قلمرو کې جا ګیرونه او منصبو نه ور کړې ۰ د بهلول لو دي په د ې فر مان کې را غلي وو:" ما ته خدای دهند وستان تخت راپه برخه کړ، خو د د ې تخت سا تنه هغه څوک کو لای شي چې د قوم او قبیلې خا وند وي ۰ نو پښتنو ته په کار دي چې د دوی ډیر شمیر هند و ستان ته ر اشي او نه یو ازې د واکمنۍ په پیا وړ تیا کې برخه وا خلي، بلکې د غې

وا کمنی ته پر ا ختیا ور کړي او جا ګیر ونه تر لا سه کړي ۰ "

د دغه فر مان په ځواب کې ډیر پښتا نه قبا یل چې په هغه کې لو ا نیان، نیا زیان، لو دیان، سروانیان، پنې، ترین، سړ بني، سو ریان، میا نه، کاکړ، کرلانې او پر ملیان(فر ملیان) هم شا مل وولـه افغا نستا نه دهند لور ته لاړل چې ډیرو یې لوړ لوړ منصبو نه او جا ګیرونه تر لا سه کړل چې مورږ کـو لای شـو د لو دي او سوري د و اکمنا نو په وخت کې د ځینو مشهورو امر اوو نو مو نه وا خلو چې پر ملي پښتا نـه وو ۰

32.1 خا نخا نان فر ملي

1. د سلطان بهلول لودي د مشهورو امر اوو نه شمیرل کیده چې د ده د واکمنۍ په و خت کې د ده د سو بو یو پیا وړی ملګری پا تې شو ی د ی ۰ ده د را جپو تا نه یا او سني را جستان په اودیپور کې دهند وانو د مشهور او پیا وړي را جپوت جنرال رانا خوریي چتر سال ته ما تي ور کړې وه ۰

2. د ولت خان فر ملي: د بهلول لودي د مشهورو امیرانو نه و ۰

3. کالا پهاړ فر ملي: د لو دي او سوري وا کمنانو د واکمنۍ په وختو نو یو ډیر مشهور امیر و ۰

4. شیخ سعید فر ملي: چې د سلطان سکند ر لودي له امر اوو نه و ۰

32.2 د پر ملیانو داستو ګنې سېمې

په او سني وخت کې پر ملیان په افغانستان کې په لا ند نیو سیمو کې مېشته دي:

1. زوړ ار ګون: چې داو سني اور ګون په شپږ کیلو متری کې پروت د ی او ویل کیږي چې په دغـه ځای کې د پر ملیانو تقر یبا څلور زره کو رنۍ ژوند کوي ۰ د زاړه او رګون پر ملیان په د وو ښا خـو نو ویشل کیږي: شرف او سپري. شرف بیا د با لشتي، سیل احمداو ملت کلان پـه څـانګو او علـي خیل او قره خیل د سپري په ښا خ پورې اړه لري ۰

2. د کابل د چها ردهي په ولسوالۍ کې: هغه پر ملیان چې د کا بل د چها ردهي په ولسوالۍ کې او سیږي نو د دوی د سیمو او محلو نو مو نه دادي:

a. کلای قاضي، کلای غیبي، اقا علي شمس، ده مراد خان، چهلستون، سر اسیاب، مو سهي، پر ملیان، کلای کا شف، یو سف بنګي، بر پر ملي او کوز پر ملي چې د ګلبا غ په سیمې پورې اړه لري، کلای غیب الله او کلای بهاد ر خان پر ملي ۰

همداراز د کا بل د رخت شنګ ته نږ د ې په کوز پر ملي کې هم پر ملیان ژ وند کوي ۰یو شمیر پر ملیان د مزار شر یف په چار کنت ا ود لو ګر، غزني، هلمنداو کندهار په و لایتو نو کې هم او سیږي ۰ د پښتونخوا په صو ابۍ او د پاکستان په پنجاب کې هم یو شمیر پښتانه پر ملیان استوګنه لري ۰

32.3 د پر ملي قبیلي پورې اړوند مشهور خلک

1. د کتور محمد عثمان صد قي: چې تاریخپوه و او د کا بل د چهاردهي د کلای قا ضي پر ملي و ۰

2. ار وا ښاد معاون سر محقق محمد محسن فر ملي چې دافغانستان د علو مو غړی او د څه مود ې له پاره د نو مو ړې ا کیډ یمې سر پر ست پا تې شوی او داعلیحضرت محمد ظا هر شاه د واکمنۍ په وخت کې په ولسي جر ګه کې د کا بل د چهاردهي و لسوالۍ د خلکو استا زی و ۰

33 پړ به

که چیري د پړ به قبیلې د نسب شجره په غور سره وڅیړو، نو څر ګنده به شي چې پړ به په اصل کې کرلانې پښتا نه او بیا په کرلانیو کې د خو ږ یا نیو یا خو ګیا نیو د قبیلې یو ه څا نګه ده، خو له ډیرې مو د ې را هیسي د خو ږ یا نیو له نو رو پا تي څا نګو او ښا خو نو نه د و مره لیرې ژ وند کوي چې دوی پخپله هم نه پو هیږي چې له خو ږ یا نیو سره کو مې اړ یکې لري او کـه نـه؟ ځکـه د خـو ږیـا نیـو قـبیله د ننګر هار ولایت د خو ږ یا نیو او پچیر او اګام په و لسو الیو کې استوګنه لري، په دا سې حال کې چې پړ به د خو ست په و لا یت کې ا ستو ګنه لري ۰

داسي تا ريخي شو ا هداو اسناد مو جو د دي چې په پيل کې د خو ست پر ټو لې سيمې بانـد ې د کرلانې پښتنو د خو ږيا ډيو او نورو ښا خو نـو واک د ر لـود ۰ دهنـد د مغـو لـي وا کمـن نـو ر ا لـدين جهـا نګير(۱۰۱٤-۱۰۳۷هجري) د وا کمنۍ په و خت کې د غلجي پښتنو ځيني ښا خو نه او ځا نګې د پکتيا د زر مت له سيمې نه چې زر مله يې هم بو لي را ووتل او د خو ست پر سيمه يې بر يد و کړ ۰ په پا يله کې يو شمير خو ږ يا نې له خو ست نه د ننګر هار و لا يت دا و سني خو ږ يا ډيو سيمې ته و ليږ ديد ل او ډير کمزوري شول، خو د خو ږ يا ډيو د پړ به ځا نګه چير ته ونه ليږ ديد لـه او په خـو ست کې پا تې شوه ۰

سيد بها د ر شاه ظفر کا کا خيل په خپل اثر' پښتانه د تا ريـخ پـه ر نـا کې' د دوی د کمـزورۍ بـل علت د دوی خپلمنځۍ جګړ ې بـولي او ليکـي:" د مغـو لـي واکمـن شـهاب الـدين شـا ه جهـان (۱۰۳۷-۱۰٦۸هجري) د و اکمنۍ په و خت کې د دوی تر مينځ کو رنۍ جګړې پيل شوې او دوی پـه هغـو جګړو کې ډير کمزوري شول ۰ "

د تا ريخ حيا ت افغا ني مؤ لف ډپټي محمد حيات خان چې خپل دغه مشهور اثر يې ۱٤۳ کلـو نـه وړاند ې ليکلی د ی د پړ به د و سله والو کسانو په اړ وند داسي کښلي دي:" په تيرو و ختـو نـو کـې د پړ به قبيلې د وسله والو ميړ ونو شمير ۳۰۰۰ تنه وو، خو اوس د دوی د وسله والو کسا نو شمير ۱۰۰۰ تنو تـه ر سيږي." چې شير ممحمد خان ګنډ ا پور په خپل مشهور اثر (توا ريخ خو رشيد جهان) کې هـم د دوی د وسله والو کسا نو شمير ۱۰۰۰ تنه ښو د لي دي ۰

پړ به د کر کيلې په چا رو بو خت دي، خو يو شمير خلک يې سـو داګـر ږزي د نـد ې هـم سـر تـه رسوي ۰ د دوی ټول رو اجو نـه، د ود ونـه، نـر خـو نـه او ځلـي د خـو سـت د خلکـو پـه ځيـر دي ۰ دوی ميلمه پال، غير تمن او په پښتو او پښتو نو الې با ند ې ډير ټينګ دي ۰

د پړ به قبيله په لا ند نيو ښا خو نو او ځا نګو با ند ې ويشله شو ې ده:

مردي خيل، ميا خيل، بسي خيل، سر دار خيل، محمو د خيل، نري زي، ملي زي، اشي زي، ډډه خيل او بو چي خيل ۰

34 پړ انګيان

پړ انګيان د پښتنو يوه قبيله ده چې په لوديا نو ور ګډ يږي. ۰ د د غې قبيلې لوی نيکه ابر اهيم نو ميد چې په لودي مشهور و ۰ د تا ر يخي رو ايتو نو پر بنسټ بيټ نيکه چې د سړ بڼ او غر غښت ورور و خپله لور بي بي متو بې شا ه حسين غوري ته ور کړه چې له هغې نه د وه زا من پيدا شول چې يو يې غلجی او د بل نو م ابر ا هيم و چې بيا ورو سته ابر ا هيم په لو دي سره مشهور شو ۰

تا ر يخ حيات ا فغا ني په لو دي با ند ې دابرا هيم د مشهور کيد لو په اړ وند داسي ليکلي دي:" داسي رو ايت د ی کله چې شيخ بيټنی له کلي نه بير ته هغه غره ته ستون شو چې د ده ا ستو ګنځی و، نو خپلې مير منې ته بې و ويل چې بسم ا لله کړه اوپه پخو اني نغري ډو ډی پخه کړه او ما ته يې راوړه چې زه هغه ډو ډی پخپله وويشم او راته څر ګنده شي چې ز ما په لمسيا نو کې کو م يو ډير بختور د ی ۰ کله بې چې مير منې ډوډی پخه کړه نو د بي بي متو کو چني زوی ابر ا هيم منډه کړه او هغه پخه شوې ډوډی بې خپل نيکه شيخ بيټني ته راوړه، بيټ نيکه ډير خو شا له شو او وې ويل چې ابرا هيم لوی د ی چې له هما غې ورځې ابر ا هيم د لودي په نامه شهرت ومو ند چې د ده او لا ده د لودي او يا لو ديا نو په نامه يادېږي ۰"

لودي په د ريو غټو قبيلو و يشل شوي دي چې هغه سيا نې، د و تا نې يا د فتا نې او نيا زي دي ۰

پړ انګی د سيا نې زوی او د لودي لمسی د ی ۰ په پيل کې پړ ا نګيان په لو يديز ا فغا نستان کې او سيد ل، خوو رو سته له هغه ځا يه د سليمان غره ختيزې خوا ته د دا مان سيمې په ټاک او رو ړي کې ميشته شول چې د ډېر ې مو د ې را هيسې دغه سيمه د دوی په واک کې وه، خو دهند د مغو لي وا کمن ظهير الدين محمد با بر د واکمنی په و خت کې د د ولت خيلو، ميا خيلو، مر وتو او د لوانې(نو حانې) او پرا نګيا نو نه دا سيمه په زور و نيول شوه چې په نتيجه کې ډير شمير پړ انګيان ووژل شول، هغه چې بچ پا تي شول خواره واره شول او د خپلې قبيلې له نو رو څا نګو سره دهند وستان خو اته لاړل او دهند وستان په بيلا بيلو بر خو کې ميشته شول ۰اوس په ا فغا نستان او پښتونخوا کې ان څوک د پړ ا نګيا نو له نامه سره اشنا يي نه لري، خو دهند و ستان په مختلفو ځا يو نو کې دوی خلک د لودي افغا نا

نو يا پټا نا نو په نامه پيژ ني ۰ دهند و ستان د پنجاب ايا لت په رو پړ او لو دهيا نې کې هم د د غې قبيلې خلک ميشته دي ۰ همدا راز دهند و ستان په د کهن کې هم يو شمير پړ انګيان استوګنه لري ۰

له دغه پړ انګي قبيلې نه په هند و ستان کې ډيرمشهور وا کمنان د ډيلي پر تخت نا ست و و چې په دوی کې د سلطان بهلول لو دي، سلطان سکند ر لودي او سلطان ابر ا هيم لودي نو مو نه يا د و لای شو۔ دوی ډير علم پا لو نکوي وا کمنا ن و و او دهند و ستان په ودانو لو کې يې پيا وړې ونډه اخيستې ده۔

همداراز د لودي او سو ري واکمنا نو په ز مانه کې دغه لا ندييني شخصيتونه چې پياوړي پو ځي د ند ې يې د ر لو د لې او د پړ انګي په قبيلې پورې اړه لري ديا د ونې وړ دي: جلال خان، حسين خان، اعظم هما يون، سلطا ن شاه، ملک فيروز، ملک محمد، خو اجه محمد، ملک نا صر، ملک بهرام، ملک کا لا، بار بک شاه، مبارک شاه او مو سی خان ۰

پړا نګيان په لا ند نيو ښا خو نو او ځا نګو ويشل شوي دي۔ ۰: ا ړند، زيتو ن خيل، ريدي، عمر خيل، اسحاق، شا هو خيل، يو سف خيل، يا سين خيل، احمد خيل، محمو د خيل، مر چي خيل، تاتار خيل، د ولت خيل، رستم خيل، شموزي، اسحا قزي، شيخ زي، حسن زي، يو سف خيل، پيا را خيل، عمر زي، ا حمد خيل، مجيد خيل، ګدايي خيل، محمود زي، الف خيل او زکر يا خيل ۰

35 پښي

ز موږ تو کم پو هان(نسب پيژ ند و نکي) پښي د پښتنو د غر غښت د ټولنيزې ډلې نه شميري چې په سهيلي پښتونخوا، افغانستان، پاکستان، بنګله ديش او هند و ستان کې ميشته دي ۰

په پخوانيو تا ريخو نو کې چې د د غې قبيلې يا د ونه پکې شوې ده هغه تا ريخ خا نجها نې يا مخزن افغا ني د ی چې مولف يې خواجه نعمت الله هروي نورزی و چې دهند د مغولي واکمن جلا ل الدين محمداکبر د د ربار مؤ رخ و ۰ همداراز په انګر يزي مؤ رخينو کې ميجر را ور تې، مو نت ستوارت الفنستن او د پټان د کتاب مؤلف سر اولف کيرو هم په خپلو ا ثا رو کې د پښي قبيلې يا د ونه کړې ده ۰

د سهيلي پښتونخوا مشهور اديب او تا ريخپوه پرو فيسر ولي محمد خان سيال کا کړ په خپل ر اثر[پښتو او پښتا نه په سهيلي پښتونخوا]کې د پښتنو په اړوند داسي ليکلي دي:" د پښي قبيلي اصلي مرکز د کا کړ ستان د ژوب نا وه او د بوري تا ريخي سيمه ده، خو بيا پښيو خپله پلر نۍ سيمه پر پښې او د لو يې تا ر يخي پښتونخوا نورو سيمو ته ليږ ديد لي دي ۰ هغه وخت چې پښيا نو خپل اصلي ټا ټو بی کا کړ ستان پر پښود نو ځينې يې په پښين کې ميشته شول او ځيني يې د سيوۍ په تا ر يخي سيمه کې اباد شول ۰"[45]

د پښتونخوا مشهور مؤ رخ سيد بها د ر شاه ظفر کا کا خيل په خپل اثر[پښتا نه د تا ريخ په رڼا کې] ليکلي دي:" پښي هم د کا کړو په څير مشهوره او پخوا نۍ قبيله ده چې جر ړې يې تر ويدي زما نو پورې رسي، چې د دوی ځينې خلک په افغانستان او ځيني هم په د کن کې استوګنه لري ۰"[46]

د تا ريخ حيات افغا ني مو لف ډپټي محمد حيات خان له نن نه ۱٤۳ کلو نه د مخه د پښيو د قبيلې په اړوند دا سي ليکلي دي:" د د غې قبيلې د نسب له شجرې نه د د غې قبيلې د ښا خو نو او څا نګو ويش ډير ښکاره او وا ضح د ی ۰ د د غې قبيلې ښا خو نه هم په کا کړو ور ګډ يږي او د پښي د قبيلې سيمه چې سيوۍ نو ميږي د کا کړو په سيمه پورې اړه لري ۰ کله چې يو مسا پر د ډاډر له سيمي نه په لو مړي مزل د شمال خو اته لاړ شي نو سيوۍ ته ر سيږي. د سيوۍ سيمه د کلکې خاورې نه جوړ شوي ميدان د ی، چې په ځينو ځا يو نو کې يې غر نۍ ويا لې را وځي چې د ځمکو په خړ وبو لو کې ور ځينې ګټه اخيستل کيږي ۰ د سيوۍ او ډاډر نيل ډير غوره جنسيت لري چې په کندهار او ايران کې د ملتان د نيل په پر تله زيات پير ښد و نکي لري او د خير پور د نيل سره بر ابر شميرل کيږي۔ ۰ د د غې قبيلې دايسوټ او مو سی خيلو ښا خو نه د کا کړو د سيمې ختيز خو اته په يوه غره او صحرا کې او سيږي او د مو سی خيلو له د وو څا نګو نه د بليل د څا نګې نسل د شمير له مخې زيات د ی چې زيا تره يې د کر

---

45 پښتو او پښتا نه په سهيلي پښتونخواکې، د پر و فيسر ولي محمد خان سيال کا کړ تاليف، ۹٤ مخ، کو يټه، ۱۹۷٦

46 پښتا نه د تاريخ په ر نا کې، د سيد بهاد ر شاه ظفر کا کا خيل تاليف، پيښور يو نيور سټي بک ا يجنسي، ۱۳۲۹ مخ، د ۱۹٦۲ کال چاپ

نې په چا رو بو خت دي او د ويمه څا نګه يې چې لهر زي نو ميږي او شمير يې د بليل د څا نګې په پر تله لږ د ی، نو زيا تره خلک يې په ما لداری او د غو ا يا نو په سا تنه بو خت دي۔ ۰ د پښي قبيلې د لهون ښاخ د چخن او کند ر په سيمه کې او سيږي، چې د کا کړو د سيمې لو يديز ته پر تې دي او د دوی داستو ګنې له سيمې نه ما لګه د ځمکې د ښوريې نه تر لا سه کيږي او دغه کسب خلک دا ما لګه ټو لوي اوپه او ښا نو او غوا يا نو با ند پ يې کندهار او د کا کړو د مند و خيلو سيمې او نورو شا او خوا سيمو ته د خر څلاو له پاره وړي او په عمو مي تو ګه يې له غلې سره تبا د له کوي ۰ ځينې وختو نه چې د غلې بيه لوړه وي نو د غلي سر ه يې په يوه وزن ور کوي او کله هم د وه چنده اور بشي او جوار ور باند پ اخلي ۰

د پښي ښاخ د خلکو د وداو د ستور کټ مټ کا کړو ته ورته د ی، خو د پښو يوه څا نګه چې امر زي نو ميږي او د ستو ريا نيو د قبيلې لو يديز ته پر اته دي، نو دهغوی د وداو د ستور د شير ا نيو د قبيلې خلکو ته ور ته والی لري ۰د پښي د قبيلې ټول شمير چې په خپلې پخو انۍ سيمه کې پر اته دي ۸۰۰۰۰زرو تنو ته ر سيږي ۰"[47]

د راو لپنډۍ په چهچه او هم دهزاره په سيمه کې د پښي په نامه يوه سيمه شته چې پښي پکې او سيږي ۰ دهند وستان په د کن کې هم د پښو په نامه يوه سيمه شته چې تقر يبا ۲۰۰۰ تنه پښي پکې استوګنه لري ۰له د پ نه پر ته دهند دهر يانا دايا لت د رو هتک د ضلعې په کو ها نه کې هم پښي استوګنه لري چې شمير يې تر ۵۰۰۰ تنو زيات د ی۔ ۰ دهند داتهرا پرا ديش دايالت په خو رجه نو مې سيمه کې هم ډير شمير پښي استوګنه لري ۰ يو شمير کا کړ دهند د لو يديز بنګال په ايالت کې هم او سيږي ۰ دهند داندهرا پرادیش په ايالت کې هم پښي ژو ند کوي ۰خو هند و ستا ني پښو خپله ژبه له لا سه ور کړي ده ۰ دهند و ستان په تا ريخ کې پښو ډير رول لو بولی د ی، په تيره بيا داؤد خان پښی چې په ۱۷۱۳ ميلادي کال کې دهند د مها شترا دايالت د خا نديش د سيمي تا متو صو به دار تير شوي دي [48]۰

---

47 پښتني قبيلي، د کتور لطيف ياد، د پيښور چاپ، ۲۰۰۷ کال، ۷۰-۷۱ مخو نه

48 تاريخ حيات افغا ني، د ډپټي محمد حيات خان تا ليف، د پيښور چاپ، ۲۰۰۷کال، ۲۵۸-۲۵۹ مخو نه

35.1 د پښي قبيلې ښا خو نه

د پښتني شجرو سره سم پښي د داني زوی او د غر غښت لمسی د ی ۰ لا ندیني ښا خونه د پښي او لا ده ده: ختا ني، مر غزايي، سين، مر غستن، قا سم، سا هنګ، زمری يا مزری، با بکر زي، خو ژک، ايسوت، شکون، لهون، سا می، وهپال، اتما نخيل، شدي خيل، موسی خيل، علي خيل، بليل، لهر زي، حمزه خيل، ملهي زي، عمر خيل، ممي زي، مرد و خيل، نصر زي، انځر زي، حسن زي، مولي زي، با بړ زي، اعزز خيل، هيبت خيل، د رې پلاري، سين زي، مغد ود زي، کما ل زي، جلال زي، خد وزي، احمد زي، ادين زي، ملي زي، شها لم زي، عمر کټ زي، کر مو زي، شادي زي، تو لا زي، کرم زي، طو طي زي، داروزي، ادينه زي، خاتوزي، کا نوزي، خو اجک زي، با زي، مر سينزي، کا بل زي، بهر زي، با ئيزي، بهدين زي، هر زان خيل، مکي زي، خان زي، خو يداد خيل، زرو خيل، هلال زي، ګهدازي او نور۔

36 پو پلزي

ز مور پښت پو هان(نسب پيژ ند ونکي) پو پلزي د سړ بنې پښتنو په ډله کې شميري چې د د را نيو پښتنو يوه ځا نګه ده ۰ د را نيان په د وو سترو ښا خو نو ويشل شوي دي چې يو بې ځيرک او بل يې پنج پای نو ميږي، چې بيا ځيرک د با رکز يو، اخکز يو، الکو زيو او پو پلز يو په ځا نګو او پنج پای د نو ر زيو، سا کزيو(اسحق زيو)، اليزيو، اد وزيو او ما کو په ځا نګو ويشل شوي دي ۰

36.1 د پو پلزيو د قبيلې ښا خو نه او ځا نګې

حبيبزي، ايوب زي، بارو زي، اسما عيل زي، حسن زي، قلندر زي، با ميزي، بهلولزي، سد وزي او نور ۰۰۰

د پو پلز يو مشهور او نا متو خلک چې د ځينو په نو مو نو د د غې قبيلې ښا خونه نو مول شوي دي:

ايوب، بارو، حبيب، حسن، اسما عيل، با مى، نصرت، غني، معروف خان، عمر خان، ملک سد و، خو اجه شير، اسدالله خان، خضر خان، مست خان، د ولت خان، رستم خان، محمد زمان خان، نظر محمد خان، خداداد سلطان، حسين خان، زعفران خان، کامران خان، يحيي خان، مو سى خان، هارون خان، فتح الله خان، رحمت الله خان، بها د ر خان، اسما عيل خان، کمال خان، محبت خان، علي خان، جعفر خان، غازي خان، با رخان، نواب محمد خان، خدا يار خان، مؤ من خان، عظمت خان، حليم خان، ملک صا لح، اد م خان، بهلول خان، علي خان، شا هيا، مستى ۰

همدا راز پو پلزي د نورو د ر انيا نو د څا نګې په پر تله ځکه مشهوره ده چې دافغانستان بنسټ ايښو د ونکى ابدالي احمد شاه بابا او د ده اولاده په همد ې څا نګې پورې اړه لري۔ ۰ د افغانستان ولسمشر حامد کرزى چې په اصل کې د کندهار او سيد و نکى د ى د پو پلزيو قبيلې ته منسوب د ى ۰

36.2 د پو پلز يو د قبيلې داستو ګنې سيمې

پو پلزي د نورو پښتني قبيلو په پر تله د شمير له مخې خور ا ډير دي۔ ۰ دوى زيا تره د کر نې په چارو بو خت دي، خو يو شمير يې د سو داګرى په چارو او د و لتي ملا زمتو نو بو خت دي۔ ۰ دوى زړه ور، هيواد پا لو نکي، جنګيالي، ميلمه پال او علم خو ښوونکي خلک دي۔ ۰ اوس دافغانستان په بيلا بيلو ولا يتو نو کې د دوى داستو ګني سيمي او شمير په اړ وند معلو مات وړاند ې کوو ۰

1. د کندهار په ولايت کې: هغه شمير پو پلزي چې د کندهار په ولايت کې استوګنه لري زيا تره يې د کندهار ولايت په مرکز، د شاه ولي کوټ، دامان، ارغنداب، خاکريز، پنجو ايي او ار غستان په ولسوالیو او د غورک په علا قدارى کې استوګنه لري، چې د کندها ر په ولايت کې د دوى مجمو عي شمير د څه د پا سه ۱۰۰۰۰۰ سلو زرو تنو په شا او خوا کې ښود ل شوى د ى ۰

2. دهرات په و لايت کې: پو پلزي دهرات ولايت دانجيل، ګذرې، پښتون زرغون، غوريان، زنده جان، اوبې او کرخ په ولسو اليو کې ميشته دي چې دهرات په ولايت کې دوى ټول شمير د ۳۰ زرو تنو په شا او خوا کې ښود ل شوى د ى ۰

3. دهلمند په ولايت کې: دهلمند ولايت پو پلزي د دغه ولايت د ناوه بارکزايي، نوزاداو د واشيو په علا قه داری کې استوګنه لري، چې ټول شمير يې د ۲۰ زرو تنو په شا او خوا کې اټکل شوی د ی .

4. د زابل په ولايت کې: د زابل ولايت پو پلزي د دغه ولايت د ترنک او جلد ک په ولسوالیو او همداراز د ميزان په علا قداری کې استوګنه لري، چې په نو موړي ولايت کې يې مجمو عي شمير د ۱۰ زرو تنو په شا او خواکې اټکل شوی د ی .

5. دارزګان په ولايت کې: په دغه ولا يت کې پو پلزي د دغه ولايت په مرکز تير ين کوټ او د خا ص ارزګان، ګيزاب، دهراوداو د شهيد حساس(ښا يې اوس يې نوم بد ل شوی وي) په او لسو اليو کې استوګنه لري چې په دغه و لايت کې د دوی شمير د ٤٠ زرو تنو په شا او خواکې ښود ل شوی د ی.

6. د باد غيس په ولايت کې: يو شمير پو پلزي د باد غيس ولايت د مر غاب او غور ماچ په او لسوا ليو کې هم ميشته دي چې شمېر د ۳۰۰۰ تنو په شا او خواکې ښود ل شويد ی .

په د ې سر بيره يو شمير پو پلزي په کابل او دهيواد په شمالي ولا يتو نو لکه بلخ، فارياب، سر پل، جوزجان، کند ز او بغلان کې هم ميشته دي .

يو شمير پو پلزي د سهيلي پښتونخوا په کو ئيټه، چمن او نورو سيمو کې هم ژوند کوي . د پاکستان د ملتان او کر اچی په ښا رو نو کې هم پو پلزي شته .

با يد زيا ته کړو چې يو شمير پو پلزي کو چيا نی ژوند لري او له يوې سيمې نه بلې ته ليږدي، خو شمير يې زيات نه د ی .

ماخوذ د [49، 50] نه .

37 تر کا نې (تر کلا نې)

تر کا نې (تر کلا نې) د پښتنو یوه ډیره مشهوره قبیله ده چې د سړ بن په ټولنیز ګروپ پورې تړ لې ده . ترکا نې د پښتنو د نورو قبیلو په لړ کې یوسفزیو، مندړو او ګګیا نیو ته ډیر نږد ې او دغه د رې واړه قبیلې د تر کا نیو په ګډون د ښا خي خیلو یا خو ښي خیلو په نامه سره یادېږي .

دغه قبیله په پخو ا نیو متو نو کې او له هغې جملې نه داخوند د رویزه په" تذ کرت الابرار والا شرار" کې د تر کلا نې په نامه یا ده شوې ده، خو اوس معمو لا د تر کا نې په لیکد ود لیکله کیږي .

یو سفزي، مندړ، ګګیا نې او تر کا نې چې په مجمو عي ډول د ښا خي خیلو په نامه یادېږي د دوی اصلي او لو مړ نی ټا ټو بی د کندهار دار غستان د سیمې په حدود و کې د غو نډان او سره غره په شا او خواکې هغه ځمکه ده چې د غوړې مر غې په نامه یادېږي . دوی چې د تر ینو پښتنو په ګا وند کې او سید ل د تر ینو د فشار له کبله یې خپله سیمه پر یښوده او د غو ریا خیلو له خوا د مقر په کښې کې په ور کړل شوې ځمکه با ند ې د څه وخت له پاره میشته شول، خو له غوریا خیلو هم خو ابدي شول او هغه ځمکه یې هم پر یښوده چې په نتیجه کې د کابل خواته را و خو ځید ل .کا بل . د راتګ په وخت کې اتما نخیل هم ورسره ملګري شو ل اوبیا د کا بل په شا او خوا ورشو ګا نو کې میشته شول .

په هغه وخت کې په کا بل کې د تیموري کو رنۍ مرزا ابو سعید واکمن و چې ور پسې یې زوی مرزا الغ بیګ دهمد غو پښتنو په مر سته په کا بل او غزني کې په ۱٤٦۹ میلادي کال کې واکمن شو . له دغه ځا یه د د ې خبرې اتکل کیدای شي چې ښا یي ښا خي خیل پښتا نه به د کا بل ور شو ګا نو ته د پنځلسمې عیسوي پیړۍد لو مړۍ نیما یي په ورو ستیوکلونو کې را غلي وي .

---

49 معلو مات مختصر د ر باره اقوام و قبایل سر حدي کشور، ۹۷-۹۸ مخونه، د کا بل چاپ

50 د کا بل سلطنت بیان، د ویم ټوک، ۸۷ مخ، د کا بل چاپ

مرزا الغ بیګ چې تر څو پورې کمزوری و دهمد غو پښتنو نه یې مر سته غو ښته او په همد غو پښتنو به یې ځان سا ته، خو کله چې په خپلو پښو ود ریداوپیاوړی شو د پښتنو سره یې په مخا لفت لاس پورې کړ ۰ په پای کې الغ بیګ وپتییله او هوډ یې وکړ چې د دوی پیاوړی ځواک مات کړي ۰ همـا غـه و چې د ښا خي خیلو پښتنو مشرانو ته یې د وکه ورکړه او هغه دا چې د ښا خي خیلـو پښـتنو مشـرانو تـه یـې یوه میلمستیا جوړه کړه او په ډیر چل ول سره یې دهغوی د ۹۰۰ تنو په شا او خـو اکـې یـې پـه یـوه شـپه لـه تیغه تیر کړل چې ادیره یې د کابل د مر نجان د غو نډی د سیاه سنګ د غـره پـه لمنـه کـې پـر تـه دهـ ۰ دا پیښه په غالب ګو مان د ۱۴۸۰-۱۴۹۰ عیسوي کلو نو تر مینځ رامینځ ته شوې ده ۰

ترد ې خو نړۍ او خو اشینوونکې پیښې نه ورو سته ښا خي خیل پښتا نه د کا بل نه د ننګر هار خو اته ولیږ دید ل، خو ترکا نیو په لغمان کې واړول ۰ یـو سـفزي، ګګیـانې او اتمـا نخیـل پـه ننګـر هـار کـې او سید ل چې بیا نو موږې د ړې قبیلې په سوات کې میشته شوې، خو تر کا نې چې په لغمان کې استو ګـن شوي وو د لغمان خلکو د دوی له لا سه په کا بل کې مغو لـي واکمـن تـه د دوی لـه لا سـه شـکایت وکـړ چې بیا د مغو لي پو ځو نو د فشار په و جه د ې ته اړ ایستل شول چې د لغمان سیمه پـر یـږدي او بـا جـوړ ته لاړ شي چې له هما غه و خته د با جوړ په سیمه کې استوګنه لري چې دافغانستان د کو نړ ولایـت سـره ګډه پو له لري ۰

37.1 قبیلوي جو ړښت

تر کا نې په لا ند نیـو ښـا خـو نـو بـا نـد ې ویشـل شـوي دي: سـالار زي، مـا مونـد، ابراهیـم زي، اسوزي، او اسما عیل زي ۰

1. سالارزي: چې د با جوړ په لر امد ک، بر امد ک، لر سدین، بر سدین، ښار، ناوه ګی، کـو ټکـی، الیکی، چار منګ، بابو قره اورود کې میشته دي ۰ په سالارزیو کې د برم او لاده بـرم خیـل او هلال خیل د دانګام او اسمار د تا ریخ سره نه شلید ونکي تړاو لري ۰په با جوړ سر بیـره دافغانسـتان د کـو نړ ولا یت کې هم ډیر شمیر سا لارزي استوګنه لري اود دوی داستو ګني ځا یو نـه پـه لانـد ې ډول دي:

a. دانګام، شو نکړی، اغز باغ، اسمار، ساو خوړ، ناړی، څو کی، بار ګام، ازیر ګل، بر یکوټ، ډمبرو، حصاره، کراړه، د م کلي، نر نګ، کنجګل، د و نایي او تا نکو د ره کې میشته دي

2. ما موند : ما موند په د وو مهمو ښا خو نو ویشل شوي دي ۰ لوی ما موند چې کا کازي هم ور ته وایي او واړه ما موند ۰

د ماموند لوی اکثریت په با جوړ کې او سیږي ۰ د دوی ختیز ته سا لارزي، شمال ته یې دا نګام، شمال لویدیز ته یې شوړ تن او د مروري د ري، لویدیز ته یې چا رمنګ او سهیل ته یې د ښار ریا ست پروت د ی ۰ لوی ما مو ند د ما مو ند و په شمال او لو یدیز کې میشته دي ۰ په ختیز کې د لو یو ما مو ند و او سا لارزو تر مینځ بر ید (حد) د ملا سید غر د ی او د لو یو او وړو ما مند و تر مینځ بر ید لوی خوړ د ی ۰ د لو یو ما مو ند و د څا نګو او خیلو نو نو مو نه دادي: مسعود خیل، عمر خیل، یو سف خیل، سلیمان خیل او خلوزي ۰ د وړو ما موند و خیلونه بړوزي، اوریازي او برم کازي دي ۰

د لو یو ما موند و کلي دادي: غاښی، شښتر، ذکي کوټ، ګیري، زري او تر خو ۰ د وړ ما مو ند و کلي دادي: څپري، مو ضی، ککګی، وړوکی خرکی، با نډه، شا هي تنګی، لوی خرکی، بدان، ډ مه ډوله او ډبر ۰

3. ابراهیم خیل: په ټو له تر کانې قبیله کې ابراهیم خیل د مشر توب او اعتبار څښتن دي۔ ۰ دوی په اصل کې په سا لارزیو ور ګډ یږي، خو له کو مه وخته چې ابر اهیم نو می د با جوړ د سالارزیو مشر د خپلې سیمې د ازاد ی له پاره د مغو لو دامپر اتوری سره ډیرې جګړې وکړې او د با جوړ د سیمې خپلواکي بې په ډیرې میړاني سره وسا تله، نو دهغه ځای د پښتنو له خوا ده ته د خان لقب ورکړ چې دغه مشري تر ډیرې مو د ې له پاره د ده په کو رنی کې پا تې شوه او او لاده یې دابر اهیم خیلو په نامه سره یاده شوه ۰

4. اسوزي: په میدان او براول کې استوګنه لري ۰

5. اسما عيل زي: چې په ميدان او براول کې استوګنه لري .

د باجوړ نه بر سيره تر کانې په دير او د افغانستان د کو نړ په ولايت کې هم استوګنه لري چې په دير کې ميشته تر کا نې په براول، ميدان او جند ول کې استوګنه لري .

ترکاني زړور، ميلمه پا لو نکي او غير تي خلک دي. په با جوړ کې د تر کا نيو شمير د ۱۸۰۰۰۰تنو په شا او خو اکې ښود ل

شوي دي، همداراز په دير کې ۸۰۰۰۰ تنه او د افغانستان د کو نړ په ولايت کې د تر کا نيو شمير د ٤٥۰۰۰ تنو په شا او خواکې ښود ل شوي دي .

ماخوذ د [51، 52، 53، 54، 55] نه .

38 تره خيل

تره خيل په اصل کې غلجي پښتا نه او داحمد زيوقبيلې پورې تړلی ښا خ د ی چې د کابل ولايت د د ده سبز ولسوالۍ په تره خيلو کې، د لغمان ولايت د تبۍ کو نج او تره خيلو په سيمو او يو شمير هم په کو هدامن کې ميشته دي .

---

51 د پښتنو ټولنيز-اقتصادي جوړښت، د پښتو څيړنو بين المللي مرکز، د افغانستان د علومو اکا ډمي، ۱۳٦۰ کال

52 پير معظم شاه، تواريخ حا فظ رحمت خاني، پيښور، پښتو اکيډ يمي، ۱۹۷۱ کال

53 تذکرت الا برار والاشرار، داخوند د ر ويزه تاليف، اداره اشاعت سر حد، پيښور، ۱۹٦۰ کال

54 تا ريخ حيات افغا ني پښتو ژباړه، د محمد حيات خان تاليف، د پيښور چاپ، ۲۳٤ مخ

55 پښتني قبيلي، د کتور لطيف ياد، د پيښور چاپ ۷۵- ۷٦-۷۷او ۷۸ مخونه

د ده سبز ولسوالي چې د کابل په شمال ختیز اته کیلو متری کې پر ته ده د خلکو مجموعي شمیر یې (۱۰۰۱۳۶ تنه د ی چې په سلو کې ۷۰ خلک یې پښتا نه او زیا تره تره خیل دي ۰

د ده سبز ولسوالي د شکر د ري، میر بچه کوټ، کلکا نو او د قره باغ سره ګډه پو له لري۔ ۰ د ده سبز ولسوالي مرکز د تره خیلو په پل سنګي کې مو قعیت لري۔ ۰ د ده سبز ولسوالي د لا ند نیوکلیو او با ندو نه جوړه شوې ده : تره خیل، ده یحیي، بختیاران، خواجه چا شت، د پای منار پا چا صا حب، خاص ده سبز، اب د ره، قلعه شاه محمد، کټه خیل، نوار، سورخي، ابد ره بالا، جارو اوده سبز بالا ۰ په افغانستان با ند ې د رو سانو دیر غل په د وران کې د د غې ولسوالی زیا تره خلک اوله هغې جملې نه تر ه خیل له خپلې سیمې نه مها جرت ته اړ شول او پیښور ته ولیږ دید ل او زیاتره یې داکوړې او زا خیلو په کیمپو نو کې او سید ل ۰ داسي ویل کیږي چې د تپل شوې جګړې په تر خ کې د دوی په سلو کې ۸۰ کورونه ویجاړ او د کر نې ځمکې یې شاړې شوې ۰

تره خیل زیا تره د کر کیلي اوباغو نو په چا رو بو خت دي ۰ د کر نې محصو لات یې غنم، جوار، خټکي او هند وانې دي ۰دوی په خپلو بنو نو کې د توت، زردالو، انګوراو بادامو ونې لري، خو د پنبه ګل په نامه د تاکونو نا روغي د دوی دانګورو حا صلاتو ته ډیرتا وان رسوي ۰په پخوا وختو نو کې د دوی ځمکې د کابل د سینداو هم د کاریزونو په ذریعه خړوبید لې، خو د دیرش کلن تباه کوونکې جګړې په تر خ کې د دوی داوبو لګو لو سیستم بیخي ویجاړ شو، په تیره بیا پر له پسي وچکا لیو د دوی کرنې او ونو بو ټو ته ډیر زیات ز یا نو نه واړول اواوس د ژورو څا ه ګا نو په ذریعه خپل د کر کیلې چارې پر مخ بیا یې، خو اوس یې هم ډیرې ځمکې داوبو د نشتوالي له کبله شاړې پر تې دي ۰حیوانات یې پسونه، وزې او غواګانې دي ۰

تره خیل زیا تره د کر کیلي اوبا غداری په چارو بو خت دي، خو لږ شمیر یې د بیلا بیلو کارونو د تر سره کو لو له پاره کا بل ته ځي ۰ د ده سبز ولسولي په عمو مي ډول او په تیره بیا د تره خیلو سیمه په ځا نګړي تو ګه کوم رو غتون نلري، خو یوازې د وه رو غتیا یې کلینیکونه لري چې د ډاکټرانو او نر سا نو مجمو عي شمیر یې ۸ تنو ته ر سیږي چې د دوی د سیمې له پاره کفا یت نه کوي ۰ د ده سبز ولسوالي په مجمو عي تو ګه ۲ لیسې او د ګو تو په شمیر لو مړ ني ښوونځي لري ۰

تره خيل غير تي، ميلمه پا لو نکي، نرم مزاجه او د ښو اخلاقو او کړو وړو څښتنان دي۔ ۰ د روسي ير غلګرو په وړاند ې ښه په ميړانه جنګيد لي او خپل هيواد نی رسالت يې تر سره کړی د ی ۰ دوی د علم او ښوونې او روزنې له چارو سره هم ځانګړې مينه لري ۰د دوی قو مي مشران او سپن ږيري هم ډير د رانه خلک دي ۰

د تره خيلوخلک د سپورټ سره هم ځا نګړې مينه لري لکه غيږه نيونه، تيږه اچول اوپه ځا نګړي تو ګه توره وهل يا شمشير بازي پکې زيات رواج لري چې د لوبي په وخت کې د مخصو صو ډالو نو نه پکې کار اخلي او په د ې کار کې خورا مهارت لري ۰

په او سني وخت کې لا ندیني بهر نی مو سسي ده سبز ولسوالۍ د بيا ودانولو په چارو کې مر سته کوي:

1. UNOPS- د ده سبز د ده يحي د ليسې او د سړ کو نو د جوړو لو په برخه کې مر سته کوي ۰

2. KOHINOOR- چې د کا ريزو نو په برخه کې مر سته کوي ۰

3. CARE-چې د روغتيايي چارو او پو هنې په برخه کې مر سته کوي ۰

4. UNICEF-د پوهنې او ښوونې او روزنې په برخه کې ۰

5. DACAAR- داوبو او پاکوالي په برخه کې ۰

6. IAM-د خوړو او روغتيا په برخه کې ۰

7. SCA- د روغتيا او ټولنيزې سو کالۍ په برخه کې ۰

8. WFP- د خوړو په برخه کې ۰

9. PAYANA- د تره خيلو د ښوونځي په برخه کې ۰

10. ARKAR- د کاریزو نو په برخه کې ۰

11. ICRC-د پا ییونو په برخه کې ۰

په د ې ورو ستیو وختو نو کې د افغانستان د بیا رغا ونې وزارت پټیلې ده چې په ده سبز کې به یو ښار ګو تی چې د ښار جوړولو په نړ یوالو معیارونو سره به برابر او د ۲۰ زره تنو له پاره به کورونه ولري جوړ کړي چې دا په خپل ذات کې د ده سبز د ولسوالی په غوړید و اد پر مختګ کې ستر رول لو بولای شي ۰

39 ترکی

د پښتنود عنعنوي شجرو له مخې تره کي د غلجیو په ټولنیز ګروپ پورې اړه لري۔ ۰ تره کی د موسی زوی دابر اهیم لمسی او د غلجي کړ وسی د ی۔ ۰ تر ه کي زیاتره د غزني ولایت د مقر، نا وې، ګیلان او اب بند په ولسوالیو کې میشته دي چې ۲پر ۳ برخه خلک یې په کلیو او با ندو کې او یوه برخه خلک یې په پو ونده او کو چیا ني ډول ژوند کوي چې د دوی د شمیر په تنا سب دهغوی سیمه وړه او کو چنی ده ۰ د د ې په وجه چې د مقر د سیمې زیا ته برخه د علي خیلو او خد و زیو(خد رزیو) په لاس کې ده نو ځکه د ځمکې د لږ والي له کبله یې یو پر ۳ برخې خلک په شپو نتوب او د پسونو، میږو، وزو او غواګانو په روزنه او پا لنه ژوند کوي ۰

د تره کي قبیلي جنوب او جنوب ختیز ته د سلیمان خیلو او تو خي قبیلې، ختیز ته یې سلیما ن خیل، شمال ته یې علي خیل، اند ړ او هزاره او جنوب ته یې سیمه د ډیورنډ پر کر ښه د کا کړو پښتنو سره نښتي ده ۰

د تا ریخ حیات افغا ني مؤ لف ډپټي محمد حیات خان په خپل دغه تا ریخي اثر کې چې ۱٤٤ کلو نه د مخه یې کښلی د ی د تر ه کو پښتنو په اړ وند داسې لیکلي دي : " په افغانستان کې د تره کو د قبیلې شمېر پنځلس زره کو رنیو ته رسیږي چې له ۲ پر د ریو نه زیات خلک یې دایمي استو ګنځي لري او یوه د ریمه برخه خلک یې په پوونده او کو چي ډول ژوند کوي ۰ د دوی اصلي تا ټو بی د مقر او ناوې

سیمه ده چې د دوی د سیمې په پر تله دهغوی سیمه وړه ده ۰ د د غې قبیلې خلک د مني مو سم په پیل کې د ژمي د تیر ولو له پاره کندهار ته ځي او په پسر لي کې بیر ته د مقر سیمې ته را ستنیږي چې د دوی د د ې تګ راتګ په اړوند د پښتو یو مشهور متل د ی چې داسې وایې:

[چې چو نګښې وایې قر، تره کي وایې مقر چې چو نګښې وایې غار، تره کي وایې کندهار]

د د ې متل مقصد داد ی چې کله د ګر می د مو سم په پیلید و سره چو نګښې د قر غږ پو رته کوي، نو په دغه وخت کې تره کو کو چیانو ته خپل وطن او تا تو بی ور په یاد شي، نو د د وبي د تیر ولو له پاره بیر ته مقر ته راځي، خو کله چې چو نګښې دیخنی د رار سید لو له کبله د غار نارې وهي نو تر ه کي د ژمي د تیر ولو له پاره کندهار ته ځي چې دغه متل ډیر شهرت لري ۰

د تره کي قبیلې نبا خو نه

د تره کي قبیله په لاند نیو نبا خو نو ویشله شوې ده:

با دین خیل، ناخیل، ساک خیل، تسویل خیل، ګر بز خیل، با رک خیل، مصري خیل، حسن خیل، حا تم خیل، لالو خیل، جما ل خیل، ګربز خیل، حریف خیل، ګلان خیل، شباب خیل، تراب خیل، سلیم خیل، کنجو خیل، میري خیل، کلو خیل، نوروز خیل، تا جو خیل، اناري خیل، صا بر خیل، نازک خیل، د لدار خیل، شیکي، المري، قد رت خیل، د وران خیل، خجل خیل، شاګل خیل، شیرین خیل، سد و خیل، شیخ نور خیل، نور خا ن خیل، سد و خیل، خیرو خیل، کبیر خیل، سالي خیل، قتال خیل، اکبر خیل، زرین خیل، تري خیل، بستام خیل، لا جمیر خیل، شهباز خیل، قباد خیل، سیني زي، نورزي، ملک دین خیل، موسی خیل، ګران خیل، بر ا هم خیل، زلو خیل، خان خیل، صا حبداد خیل، فراق خیل، بیګو خیل، شاه عبدال خیل ۰

39.1 د تره کي قبیلې داستو ګني سیمې

1. د غزني په ولایت کې : لکه چې په پیل کې مو یا د ونه وکړه چې د د غې قبیلې اصلي تا تو بی د

غزني ولايت د مقر، ناوې، ګيلان او اب بند ولسوالۍ دي ۰ په تيره بياپه مقر او ناوه کې زيات شمير تر ه کي ژوند کوي ۰

2. د زابل په ولايت کې : تره کي د زابل ولايت په مرکز کلات او هم د شاه جوی په ولسوالۍ کې ژوند کوي ۰

3. د کندهار په ولا يت کې: د د غې قبيلې کو چيان په عمو مي تو ګه په ژمي کې د کندهار ولايت د ريګ ا و اخکز يو په سيمو کې او همدا راز د کندهار په نورو بر خو کې ليد ل کيږي، د دوی يو شمير د ډيو رنډ له کر ښې تير يږي او د کا کړو د قبيلې سيمې ته ليږدي او تر پشينه پورې ځي ۰

4. دهلمند په و لا يت کې: د تر ه کيو د قبيلي يو شمير خلک د دغه و لايت د ناد علي او ګر مسير په ولسو اليو کې هم ژو ند کوي ۰

5. د باد غيس په ولا يت کې : د با د غيس په ولايت کې تره کي د دغه ولايت د مر غاب ولسوالۍ د بو کن په کلي کې چې مشر يې ملک عبدالر حمن خان د ی استوګنه لري ۰ پرد ې بر سيره د نو موړي ولا يت د غو ر ما چ د ولسو الۍ په څو کليو کې هم تره کي ا ستو ګنه لري ۰

6. د فارياب په ولايت کې : د دغه ولايت د قيصار او پښتون کوټ په ولسو اليو کې هم تره کي شته، چې يو شمير يې کو چياني ژوند لري ۰

7. د سر پل په ولايت کې: د دغه ولايت په ځينو کليو کې هم تره کي استوګنه لري ۰

8. د کند ز په ولايت کې : د دغه و لايت په ځينو ولسواليو کې هم تره کي استوګنه لري ۰

9. د ننګر هار په ولايت کې: د دغه و لايت د چپر هار د ولسوالۍ د تره کو په کلي کې هم زيات شمير تره کي استوګنه لري چې شمير يې ۳۰۰۰ تنو ته رسيږي ۰

10. په سهيلي پښتونخوا کې: د سهيلي پښتونخوا په کو ئيته، پشين، ژوب، سيوی او کچلاغ

کې هم یو شمیر تره کي استوګنه لري، چې په سهیلي پښتونخوا کې د دوی ځیني نا متومشران دادي: تادین خان تره کی، چار ګل خان تره کی، الحاج شیر محمد خان تره کی، حاجي عبدالغفور تر ه کی، محمد یو سف خا ن تر ه کی او حا جي ګلاب خا ن تر ه کی ۰

39.2 د تره کو د قبیلې نومیالي او مشران

د تاریخ حیات افغا ني په قول ۱٤٤ کلو نه وړاند ې په مقر او نا وه کې د دوی مشران او نو میالي خان تر ه کی، محمود خان تر ه کی، زمان خان تر ه کی، هارون خان تر ه کی، مر تضی خان تر ه کی او میر احمد خان تر ه کی ول ۰

د افغانستان د خلک ډیمو کر اتیک ګو ند مشر او دانقلابي شورا رئیس نور محمد تره کي چې د ۱۹۷۸ کال د ثور د کو د تا په نتیجه کې بې ځواک تر لا سه کړ هم د غزني د مقر ولسوالۍ د سور کلي تره کی و ۰

سر بیره پرد ې عبدالقدیر تره کی دافغانستان د سترې محکمې لو مړنی رئیس و، چې داعلیحضرت محمد ظا هر شاه له خوا پر دغه د نده ګو مارل شوی و ۰

د کابل پو هنتون د حقو قو د پو هنځي پخوانی استاداو سیا ستپوه ښاغلی د کتور رو ستار تر ه کی هم د تره کی قبیلي ته منسوب د ی ۰

تره کي غیر تي، میلمه پا له، هیواد پا لو نکي او په پښتني ننګ او پښتنواله با ند ې ټینګ خلک دي ۰ دانګریزي یر غلګرو سره په د ري ګو نو جګړو کې بې ښې تورې و هلي دي چې ښه بیلګه یې د ستر غازي صاحب خان په مشرۍ د دوی دغه و یا ړلې مبا رزې وې چې زمونږ د ګران هیواد افغانستان په ویا ړلي تا ریخ کې ثبت دي ۰

د روسي یر غلګرو او د دوی د لاسپو ځو پر خلاف هم د تره کو د قبیلې مبارزې د ستا ینې او شا بسي وړدي ۰

40 ترين

ترين په سړ بني پښتنو کې يوه مشهوره قبيله ده چې په افغانستان، سهيلي پښتونخوا، پښتونخوا او په پاکستان کې استوګنه لري ۰ د پښتني روایاتو او د نسب د شجرو نه جو تيږي چې ترين د شر خبون زوی او د سړ بن لمسي د ړې زامن د ر لود ل چې ابدال، سپين او تور نو ميد ل چې د سپين او تور اولا ده د خپل پلار په نامه په تر ين سره مشهور شول ۰ د ترين هغه زوی چې تور وزمه و هغه په تور تر ين او هغه بل زوی يې چې سپن رنګی و په سپين تر ين مشهور شو چې د دوی دهر يوه او لاده د سپينو او تورو تر ينو په نامه يادېږي ۰

40.1 ښاښونه

د حيات افغاني مؤ لف ډپټي محمد حيات خان د تور ترين او سپين تر ين په اړه داسي ليکلي دي:

40.1.1 تور تر ين

تور تر ين د د رانيو د ملک سهيل ته په پشين کې او سيږي چې لو يديځ ته يې د شوراوک سيمه چې د ښ يخو قبيلې ټا ټو بی د ی او سهيل ته يې د شال سيمه چې د تکتو غر د د غو سيمو تر مينځ پو له جوړوي ۰ د پشين سيمه تقر يبا ۸۰ ميله او ږد والی لري او دغه او ږد والی د شمال ختيز نه د تو بې ختيز خو اته غز يد لی د ی، چې تر ټولو سورور ځای يې ٤٠ ميله پلنوالی لري ۰

د پشين سيمه د ښ يخو د سيمې يعنې شو راوک نه لوړه ده او سطحه يې هم د شوراوک نه ډير لوړ والی او ژور والی لري، خو د شوراوک په پر تله ډيره اباده او شنه ده ۰ د لته د ځمکې يوې کو لو له پاره داو ښا نو په پر تله له غوا يا نو نه زيات کار اخيستل کيږي، که څه هم په يوې کو لو کې کله نا کله داو ښا نو نه هم ګټه اخلي، نو ځکه د دوی په سيمه کې او ښان هم روزل کيږي ۰ که څه هم تو رترين ز يا تره په کر نې او ما لداری با ند ې خپله ګو زاره کوي، خو يو زيات شمير يې د سنده اوکندهار تر مينځ په سو داګری بو خت دي ۰ د د غې قبيلي ځينې د ود ونه او روا جو نه د ر انيا نو ته ورته دي او د دوی

خان د د رانیو د خان سره یو شان حیثیت لري ۰

د کابل امیر او د کندهار حا کم پخوا د د غو خا نا نو په چارو کې لاسو هنه نه کوله، خو د غو خا نا نو په ټا کلي شمیر سپاره د کابل دامیرد د ربار چو پړ ته استول، چې دغه کار به د قلنګ په بد ل کې تر سره کیده او کله کله به هم د دوی خا نان د ربار ته ور غو ښتل کید ل ۰

د پښین د ټولو او سید ونکو شمیر تخمینا کور نی ۱۰ کو رنۍ شمیرل شویدي، چې په دغه سیمه کې سیدان هم او سیږي، چې په د غو سیدانو کې ډیر تکړه سو دا ګران هم شته دي ۰ د تور تر ینو شمیر تقر یبا ۶۰۰۰ کورنۍ ښود ل شوی د ی ۰

40.1.2 سپین تر ین

دغه قبیله په شمیر کې له تورو تر ینو نه لږدي، دوی په ځلورو ښا خو نو بیل شوي دي او د ژوره په نامه وادي کې چې د ټل او چو ټیالې په میداني برخه کې پر ته ده او سیږي ۰ د دوی او تورو تر ینو تر مینځ یو څه د کاکړو ملک پروت د ی، خو دوی په د وداو د ستور کې له تورو تر ینو سره یو والی لري۔ ۰ دوی قوي او متور خلک دي ۰ د د واړو تر ینو یعني هم د تورو تر ینو او هم د سپینو تر ینو مشري او ریا ست سره له د ې چې سره لیږې پر اته دي د یوه خان په لاس کې ده او د پښته پښته مشري او خاني د تورو تر ینو د بټي زي په ښا خ پورې اړه لري ۰ د د ې خبرې د ثبوت له پاره دغه لا ندینی متل مشهورد ی :

خاني ده په د وه کوره--- په تر ین کې په بټي ده--- په لو حانې کې پر کټي ده

د د ې متل مقصد داد ی چې خاني په د ووکو رنیو پورې اړه لري، د لو دیا نو په لو حا نې قبیلې کې د کټي زیو په ښاخ کې او بل د تر ین د قبیلې د بټي زي په ښا خ، چې دا خبره پوره ثا بته ده چې په د واړو تر ینو کې یو خان د ی او نو موړی هر کال د سپینو تر ینو سیمې ته د قلنګ د را ټو لو لو له پاره ځي او که څوک ونه غواړي نو کري وکړي، نوله هغه نه د دغه کار په بد ل کې پیسي اخلي، کله چې د کابل په د ر بار کې بې نظمي را مینځ ته شي، نو پر دوی هم دغه بې نظمۍ او فسا د ونه تاثیر کوي او

خپلسري کيږي ۰ اوس د کندهار حا کم د پشين له سيمې نه په ټا کلې اندازه نغد ې روپۍ اخلي.

د سپينو تر ينو د ري واړه سيمې سره نښتې دي ۰ ژوره چې د واد ی نه په پورتنۍ سيمه کې د څپر د غره له نږد ې سيمو نه بيليږي، د غرونو په مينځ کې تنګه، خو کوزې خواته پر اخه ده، ترد ې ځا يه چې ابادي هم پکې ده او د وه لوی کلي هم پکې شته ۰ ټل بيا د دغه ځای په پر تله لږ څه پر اخه د ی او د بوري او چو تيالي ميدا نو نه هم ور سره يو ځای کيږي ۰ د ټل او چو ټيالۍ سيمه د سيوی له سيمې سره پرتله کيدای شي، خو هو ا يې له سيوی نه يوه اندازه ښه ده ۰

داو د ترين د قبيلي په اړوند د ډپټي محمد حيات خان ليکنه چې ١٤٤ کلونه ترې تير يږي او په ښکاره تو ګه معلو ميږي چې په هغه وخت کې د ترين سيمه او پشين دافغانستان د خاورې يوه برخه وه چې د کابل امير او د کندهار حاکم پرې تسلط د رلود ۰

40.1.3 نور ښاښونه

د تر ينو د قبيلي ښا خو نه دادي: وزير، جم، سليمان، او مچي، با بو، ملمو ني، مندېزي، منګل زي، نيک ختاني، بټې زي، تورل زي، ها رون زي، سيکمي، ملکيار، اسما عيل زي، باروزي، حيد ر زي، يعقوب زي، احمد زي، هيکل زي، خانخيل، ترينزي، بد لزي، فيروززي، لا لا زي، مليزي، شادي زي، سخي زي، بلوزي، اغا خيل او نور ۰۰۰

40.2 د تر ين د قبيلې داستو ګنې او سنۍ سيمې

1. په سهيلي پښتونخواکې

ترين د سهيلي پښتونخوا په پشين، ژوب، کو ئيټه، کلای عبدالله، زيارت، هر نايي، سنځاوي، لور لايي، ګلستان، سيوی، شراګه، خو ست، د وکي، اوستا محمد، جهل مګسي، ګنداوه، مستو نګ، کلات او کزدار کې استوګنه لري ۰ د لورلايي او زيارت اکثره پښتانه ترين دي.

2. په افغانستان کې

یو شمیر ترین په کندهار، هلمنداو اوروزګان په ولا یتو نو کې میشته دي۔ ۰ داسي ویل کیږي چې دارزګان ولایت مرکز تیرین کوټ د تر ینانو په وجه په تیر ینکوټ با ند ې یادیږي ۰

3. په پښتونخوا کې

د پیښور د پچکي په کلي کې هم ګڼ شمیر تر ین او سیږي چې ویل کیږي د پشین نه د لته را لیږ دید لي دي ۰ په د ې بر سیره په هر پیور او هزاره ډویژن کې هم زیا ت شمیر تر ین او سیږي ۰ داسي و یل کیږي چې دهزاره د ضلعي تر ینان د کندهار او ژوب له سیمي نه هزاره ته لیږ دید لي دي۔ هغه وخت چې لوی احمد شاه بابا پر هند با ند ې برید کاوه نو دهزاره د سیمي تر ین مشر انو لکه نجیب ا لله خان تر ین، سعاد ت خان اوز بر د ست خان د ده په په پوځ کې لوړې پو ځي د ند ې د ر لود ې ۰ همدارز د سکهانو سره په جګړه کې دهزاره د سیمي مشر انو لکه محمد خان تر ین او بو ستان خان تر ین د میرانې ډیرې کا ر نا مې له ځا نه پر ینبي دي ۰ په او سني وخت کې د هزاره سیمي په تر ینوکې عبدالر حمن خان ترین او دهغه زوی جها نګیر خان دي چې سیاسي او دیپلو ما تیکي د ندي لري ۰

د پاکستان پخوانی جمهور رئیس فیلډ ما رشال ایوب خان ۱۹۰۷-۱۹۷٤، د ده زوی ګو هر ایوب خان او لمسی یې عمر ایوب خان دهر یپور بټي زي ترین پښتا نه دي ۰

ماخوذ د ([56]، [57]، [58]، [59]، [60]، [61]، [62]) نه

---

56 پښتني قبیلي، د د کتور لطیف یاداثر، ۸۱-۸۲-۱۵۹۱و ۱٦۰ مخونه، د پښیور چاپ

57 د پښتنو قبیلو شجرې او مینې، د پو هنوال محمد عمر روند میا خیل تا لیف، ۲۰۰ مخ د کا بل چاپ

58 http://www.khyber.org/pashtotribes/t/tarin.shtml

59 تا ریخ حیات افغا ني، د ډپټي محمد حیات خان تالیف، ۱۷۰- ۱۷۱- ۱۷۲ مخونه، د پیښور چاپ

41 تنې

که چيري د تنيو پښتنو د نسب شجره په غور سره و څېړل شي نو جو ته به شي چې دوی په اصل کې کرلانې پښتا نه دي ۰ تنی د شيتک زوی د ی او دغه قبيله په د ريو عمده څا نګو و يشلې شوې ده يعني ار يوزي، مر يخيل او سينکي ۰

تنې په عمو مي ډول دافغانستان د خو ست و لايت د تنيو په ولسوالۍ کې چې د خو ست جنوب ته مو قعيت لري استوګنه لري ۰ د تنيو سهيل ته ګوربز او مده خيل وزير پر اته دي چې د ډيو رنډ کر ښه مده خيل او تنې سره جلا کوي، لو يديز ته يې ځد رانې، شمال ته يې د شمل سينداو اسما عيل خيل او ختيزې بر خې ته يې هم ګو ر بز پر اته دي ۰

د تنيو قبيله پر ۱۱۲ سترو او کو چنيو کليو و يشلې شوې ده ۰ د دوی لو يديز خواته غر ډير اباداو زياتره خلک يې په غر ونو کې او سيږي ۰

د حيات افغا ني د تا ريخ مؤ لف ډپټي محمد حيات خان په خپل دغه مشهور اثر کې چې ۱٤٤ کلو نه د مخه يې کښلی د ی د تنيو په اړوند داسي ليکلي دي [63]:

تنې د خو ست په لو يديز او جنوب کې ميشته او زيا تره په غر ونو کې او سيږي، خو ځيني خلک يې د غر ونو په لمنو کې هم استوګنه لري۔ ۰ د دوی لوی کلی د د رګې په ميدان کې د ی چې ۵۰۰ کوره لري ۰ ويل کيږي چې د دوی د وسله والو کسا نو شمير ۱۰۰۰ تنو ته رسيږي ۰ د د رګې پر ته چې

---

60 د کا بل سلطنت بيان، د مونټ سټوارټ الفنسټن تاليف، پښتو ژباړه، ۱۲۱ او ۱۲۲ مخونه، د کا بل چاپ

61 تواريخ خو رشيد جهان، د شير محمد خان ګنډ اپور تاليف، ۲۰٤ مخ

62 http://en.wikipedia.org/wiki/Tareen

63 حيات افغا ني، پښتو ژباړه، د پيښور چاپ، ٤۳۳ او ٤۳٤ مخونه

د دوی د سیمې خورا لوی کلی د ی دا لا ند ې کلي هم مشهور دي۔ ۰: حصارک، ګو خه، نر خی او اتمان ۰ تنې په مسقفو یا چت لرونکو کورونو کې ژ وند کوي ۰ د دوی لو یدیز غر ښه شین د ی، ګڼ سیوری لري او د لته ډیر ښکاري با زان هم شته ۰ د تنیو ټول شمیر ۱۲۰۰۰ زره تنه دي، چې له دغه شمیر نه یې ۳۰۰۰ تنه و سله وال دي ۰ د دوی د ټو پکو شمیر د دوی وسله والو کسا نو په پر تله ٤/١ لږ دي ۰ د دوی ۳۰۰۰ تنه تورې لري ۰ په تنیو کې هغه خلک چې ټو پک نه لري، نو تورې او سپر ونه ضرور له ځا نه سره ساتي ۰ تنې ډیر زړور او جنګیالي سر تیري دي ۰ د خوست د سیمې په ګوند یو کې دوی په سپین ګو ند ی کې شا مل دي ۰ تنې زیاتره د کر کیلې په چا رو بو خت دي، ځمکې یې للمي، خو یوه اندازه یې داوبو په ذریعه خړو بیږي ۰ د دوی ځیني خلک د بنو تر سیمې پورې د تنبا کو او نورو شیا نو سو داګري کوي، خو له خپلې سیمې نه یې بهر زیا تره تګ راتګ نه خو ښیږي، که څه هم دوی د خو ست د سیمې د حا کم رعیت بلل کیږي او د کال ۱۰۰۰ روپی ما لیه ور کوي ۰ سره له د ې چې د ومره لږه ما لیه ورکوي، خو بیا هم د خپل غر ور، زړور تیا او سختو غر ونو د شته والي له کبله کله نا کله د خو ست د حا کم نه یا غي کیږي ۰ که څه هم د تنیو تر مینځ کو رنۍ د ښمنۍ نشته، خود د غې قبیلې ښا خو نه په د وو ګو ند ونو ویشل شوي دي چې ار یوزي او سینکي یې په یوه ګو نداو مر یخیل یې په بل ګو ند پورې اړه لري چې د شمیر له مخې د مریخیلو او بیا په مر یخیلو کې داتي خیلو شمیر زیات د ی۔ ۰ په مري خیلو کې د ړې نا مې په یوه خوا او خیبي خیل، اتما نزي او خبر زي په بله خوا دي۔ ۰ ګل خان او ګل هیبت د د ړې نا مې په ښاخ، اسما عیل او داد ګل د خیبي خیلو په څا نګې او خان، فقیر، شیر احمداو د لواز د تنیو د قبیلې ملکان دي

په او سني وخت کې د تنیو ستر کلي دادي: حصارک، ګو خه، نر خی، ایتمان، کو چون، ډبر، وریځی، دیر ملکه، سنګړای، تور خیل او ور ژله ۰

تنې په عمو مي تو ګه لوړې ونې، غنم رنګه او ښا یسته څیري لري ۰ دوی زړور او جنګیالي خلک دي ۰ دهیواد د خپلو اکۍ په د ر یو جګړو کې چې دانګر یزي ښکیلا ککړو پر خلا ف شوې ده د تنیو ونډه ډیره د ر نه ده ۰ د روسي یر غلګرو په وړاند ې هم دوی د مقا ومت سنګر ونه تا وده سا تلي وو ۰

41.1 د تنیو د قبیلې ښا خو نه

لکه چې د د ې مقالې په لو مړ نی برخه کې وویل شول چې تنې کرلانې پښتا نه دي او په د ر یو عمده ښا خو نو ویشل شوي دي، د دوی د پا تي ښا خو نو نو مو نه په لا ند ې ډول دي : د رې نومي، ار یو زي، مر یخیل، سینکي، ګد یو خیل، جنګي خیل، تر خیل، عبدالخیل، اتي خیل، نو کو ر خیل، عیس خیل، زنده خیل، شبو خیل، حا جي خیل، سره، بنده خیل، کول کهول، خند ګي، منتګ، رو شا نه، د ک خیل، خید ود خیل، پیزن خیل، مید ود، ډبري، وتک خیل، اتو نزي، میمي خیل، سیټ خیل، ګو یدا خیل، مینه خیل، خبر زي، تور خیل، ایډ ل خیل، بر یم خیل، ار ګند خیل، حصا رکي، سپیر کي، چیچکي، کا مل خیل، لجي خیل، میران، زرک، شهداد خیل، لا جمیر خیل، انډې خیل، شارزي خیل، پا یک خیل، ار شه خیل، بکر خیل، خو جي خیل، تر ین خیل، ر شید خیل، ابر اهیم خیل او نور ...

41.2 د تنیو د قبیلې شمیر

لکه چې د مخه مو ولو ستل د حیات افغا ني مؤ لف ۱٤٤ کلو نه د مخه د تنیومجمو عي شمیر ۱۲۰۰۰زره تنه ښو د لي وو، خو د ورو ستیو د سر شمیر نو او سر وي ګا نو له مخې د دوی او سنی شمیر تر ۳۰ زرو تنو زیات ښو د ل شوی د ی .

41.3 د تنیو د قبیلې مشهور کسان

تنې په مجمو عي تو ګه د علم او پو هې سره ز یا ته مینه لري چې د علم او پو هې په ډګر کې د یو شمیر کسا نو نو مو نه اخیستلای شو .

1. استاد حکیم تنیوال

چې په یو وخت کې د کا بل پو هنتون ا ستاد و . د ده د پښتنو او پښتنو د ټو لنې په ا ړوند زیاتې مقالې لیکلې او یو اثر یې چې د ښا غلې پو هاند ر سول امین په ملګر تیا لیکلی و د " پښتنو ټولنیز -

اقتصادي جو ړښت " نو ميږي چې په ۱۳٦٥ لمړيز کال دافغانستان د علو مو اکا ډمی د پښتو څيړ نو د نړ يوال مرکز له خوا د ښا غلي د سر محقق د مر ستيال جلات خان حکمتي په سر يزې او ادېټ خپور شوی د ی چې د پښتنو د قبيلوي جوړښت په اړوند يو ګټور کتاب د ی ۰ استاد حکيم تنيوال د پکتيا د و الي په تو ګه هم د نده سر ته رسوله، چې بيا ورو سته په شهاد ت ور سيد ۰

2. استاد ګلداد

په پيل کې د ننګر هار د طب په پو هنځي استاد و چې خپلې زده کړې يې په شوروي اتحاد کې سر ته رسولې وي، ور وسته د لوړو زده کړو وزير او بيادافغانستان د علو مو اکا ډمی د ر ئيس په تو ګه يې هم د نده سر ته ر سوله ۰

3. استاد وزېر تنيوال

دهند په عليګړ ه پو هنتون کې يې د ژ بپو هنې په برخه کې خپله ما ستري ا خيستې وه، د کا بل پو هنتون د ژبو او اد بياتو د پو هنځي د پښتو ډيپار تمنټ استاد واو ورو سته دافغانستان د علو مو په ا کا ډمی کې د خپر ونو مديرو، څه مو ده يې دالمان د بر لين په پو هنتون کې د پښتو ژبې استا دهم پا تې شوی و، چې د ژبپو هنې په برخه کې يې زيا تې مقا لې ليکلي دي ۰

4. د سر محقق مر ستيال مو لا جان تنيوال

د کا بل په پو هنتون کې يې د ليسا نس او المان کې يې د ما ستری تر کچې پورې زده کړې کړي دي ۰ د ی همداوس هم دافغاانستان د علو مو اکا ډمی د ژبو او اد بياتو په مرکز کې علمي غړی د ی او د پښتو د ګر امر او ژبپو هنې په اړوند په څيړنو بو خت د ی او په ژبپو هنه کې يې ډيرې مقالې ليکلي دي۔ ۰

5. احمد جان تنی

د کا بل پو هنتون د فلسفې د څا نګې فا رغ د ی، وروسته يې د ژو رنا ليزم سره مينه پيداشوه، د

ملي د فاع وزارت په نشر اتي بر خو او هم د با ختر اژانس کې يې خپلې د ند ې تر سره کړي دي ۰ دهيواد په ډيرو ور څپا نو او مجلو کې يې ګڼ شمير مقا لې خپرې شوي دي ۰

6. شهنواز تنی

دافغانستان دارد و صا حب منصب و، په شوروي اتحاد کې يې زده کړې کړې دي، ورو سته يې د ډ اکتر نجيب الله په و خت کې د افغانستان د د فاع د وز ير په تو ګه د نده سر ته رسوله ۰

ماخوذ ده [64]، [65]، [66] نه.

42 توخي

تو خي د غلجيو پښتنو په ټولنيز ګروپ کې يوه مشهوره قبيله ده ۰ د پښتني روايا تو او شجرو پر بنسټ تو خی دهو تک بابا(٦٦١-٧٤٠ هجري قمري) ورور، د بارو زوی، د تو لر لمسی او د غلجي کړ وسی د ی، چې د تو خي قبيله د ده په نامه مشهوره ده. [67]

د تو خو قبيلې دهو تکو تر عروج وړاند ې د غلجيو پښتنو په ټولنيز ګروپ کې لو مړ نی مقام او ځای د ر لوداو سلطان ملخی تو خی چې دهند د مغو لي امپر اتور اورنګزيب عا لمګير(1068-1118هجري) معا صر و، د تو خو د قبيلې ډير مشهور مشر او سردار تير شوی د ی. [68] نو موړی د مير

64 معلومات مختصر د ر باره اقوام و قبائل سر حدي کشور، د شير رحمن د وړ تاليف، ٦٧ مخ، کابل

65 پښتانه د تا ريخ په رڼا کې، د سيد بهاد ر شاه ظفر کا کا خيل تا ليف، پيښور ١٣٩٦۰ مخ

66 پښتني قبيلې، د کتور لطيف ياد، ٨٣-٨٤ او ٨٥ مخو نه، د پيښور چاپ

67 پټه خزانه، محمدهوتک بن داؤد، ٩ مخ، د ١٣٣٩ کال چا پ، کا بل

68 تاريخ حيات افغاني، ٢٨٥ مخ، د پيښور چاپ، ١٣٨٦ کال

ویس خان بابا د مور نازو انا پلارو ۰

د تو خو سیمه د کندهار ولایت لمر خا ته ته په ۸۵ میله وا تن کې مو قعیت لري چې په کلات غلجا یې سره مشهوره ده او د تو خو صد ر مقا م ګڼل کیږي ۰ تو خي د تر نک د رود پر څنډو د پل سنګي نه نیولې تر شیباره پورې استوګنه لري [69]

مشهور انګرېز مؤرخ مو نټ ستوارټ الفنستن په خپل کتاب (An Account of The kingdom of Caubul) کې چې دافغانستان د علو مو اکا ډمې د پښتو څیړ نو د نړ یوال مرکز له خوا د کابل سلطنت د بیان تر عنوان لاند ې په پښتو ژبه تر جمه شوی د ی:

په هغه و خت کې د تو خو د قبیلي شمیر ۱۲ زره کو رنې ښو د لي دي، په دا سي حال کې چې د حیات افغاني د تا ریخ لیکوال ډپټي محمد حیات خان ۱٤٤ کلونه وړاند ې د تو خو شمیر ۱۵ زره کو رنې ښو د لي دي [70]

د زابل ولایت دار غنداب د واد ی په شمالي برخه کې چې دهزاره ګا نو د سیمې تر څنګ پر ته ده او هم د میزان سیمه د تو خو په ولکه کې ده ۰ همداراز یو شمیر تو خي د ناوې د واد ی په جنو بي او ښکتنۍ برخه کې استوګنه لري، پاتي یې په شیبار، هلتاغ، ار غنداب، باغر، دای چو پان، جلد ک، کاکړ، نو بهار، کلات، شاه جوی، شملزي او شینکي کې میشته دي ۰

42.1 د تو خو د قبیلې ښا خو نه

د تو خو قبیله په لا ند نیو ښا خو نو ویشلې شوې ده: ر همند، ایوبزي، حسن زي، رستم خیل، پو پل خیل، مغد ود خیل، یو نس خیل، با تا خیل، بسو خیل، بامیو خیل، اکازي، محمد زي، شملزي، جلالزي، با بکر زي، میرا نزي، جعفر زي، پیروزي، پیر خیل، کشیا نې، نتوزي، مو سی خیل، حسن

---

69 هو تکي ها، عبدالرؤف بینوا، ٥-٦ مخونه، کابل ۱۳۳٥ کال

70 مونټ ستوارټ الفنستن، د کابل سلطنت بیان، ۱۲٤-۱۲٥ مخونه، د کا بل چاپ

خيل، عا شو زي، سوري زي، سيد خيل، عر اقي، برانخيل، خو يداد خيل، نظر خيل، شكي خيل، ما مي خيل، عليشير زي، انه زي، متە خانخيل، كا لو خيل، فقير زي، ببري، مو سى زي، شاه حسن خيل، سيكاک، اد م زي، هو تكزي، اقر بي زي، پيركزي، عيسى زي، بر هان خيل، پا تو زي، كر مو نخيل، پيروي خيل، حسن خيل، خان خيل، باركزي، عمر خيل، الي زي، مين خيل، مغلزي، نو ر الدين زي، هوازي، ختي زي، فيروز خيل، د عوت خيل، بهرام خيل، سيان زي، ناز خيل، بهلول خيل او نا جو خيل

42.2 داستوګنې سيمې

په بيلا بيلو ولا يتو نو کې د دوی داستو ګنې سيمې او شمير په لا ند ې ډول د ی :

1. د زابل په ولايت کې :

a. د دغه ولايت په مرکز کې ۲۰ زر ه تنه

b. د شاه جوی په و لسوالی کې ۳۰ تنه

c. دار غنداب په ولسوالی کې ۲۲ زره تنه

d. د شينکی په ولسوالی کې ٦ نيم زره تنه

e. د شملز يو په و لسوالی کې ۳۲ زره تنه

f. د ميزان په و لسوالی کې ٥۰۰۰ زره تنه

2. د کندهار په ولا يت کې

a. د کندهار ولايت په مرکز کې ۱۱ زره تنه

b. د شاه ولي کو ټ په ولسو الی کې ۷ زره تنه

c. دار غنداب په ولسوالۍ کې ۵۰۰۰ زره تنه

3. دارز ګان په و لایت کې

په دغه و لایت کې هم ډیر شمیر تو خي استوګنه لري، خو د شمیر په اړوند مې کو م معلو مات ر لا سه نه کړل

4. نیمروز په ولایت کې

د دغه ولایت د کنګ په ولسوالۍ کې کې هم یو شمیر تو خي استوګنه لري چې شمیر یې د ۳۰۰۰ زره تنو په شا او خوا کې ښو د ل شوي دي ۰

دهرات ولایت په بیلا بیلو ولسوالیو کې هم یو شمیر تو خي استوګنه لري

د حیات افغاني د مؤ لف په قول د تو خو یوه محله د کابل په ده افغا نا نو کې هم شته ۰

دامیر عبدالر حمن خان د واکمنۍ په وخت کې تو خو ډیره شدیده ضر به ولیده او یو شمیر یې د خپلې سیمې نه دافغانستان نورو بر خو ته تبعید شول..

تو خو د تا ریخ په او ږد و کې د ښکیلاکګرو ځو اکو نو پر خلاف له ویا ړه ډکې مبا رزې کړي دي ۰ د مغو لي تیري کوونکو، صفوي یر غلګرو، انګر یزي ښکیلاکګرو او روسي ناتار پر خلاف د دوی د ویاړه ډکې مبا رزې ز مو ږ دهیواد د تا ریخ ځلانده با بو نه دي چې مو ږ پرې ویاړو ۰

42.3 د تو خو د قبیلې نو میالي

1. سلطان ملخی تو خی

سلطان ملخی تو خی دهند د مغولي واکمن عالمګیر اورنګزیب(۱۰۶۸-۱۱۱۸ هجري) معا صر و ۰ نو موړی د میر ویس خان هو تکي د مور نازو انا پلار و ۰ ده ته د غلزیو د قبیلې مشري ور په غاړه وه ۰

ده د جلد ک په حدود و کې د ګرم اب وادي او ځمکي دابدالي قبا يلو د مشر خداداد سلطان سره د غلز يو او ابداليو تر مينځ پو له وټا کله او نو موړې ځمکې يې د د واړو اړ خو نو تر مينځ وويشلي چې تر او سه هم دغه ويش معتبر د ی ۰ سلطان ملخی تو خی په هغه جګړې کې چې دانځر ګي او سر خ سنګ تر مينځ وشوه ووژل شو او د ده تر مړ ينې ورو سته د ده زوی حاجي عاد ل او دهغه زوی بايي خان د قبيلې مشري کو له او پر کلات او ملحقا تو يې واک ټينګ و ۰ دوی د کلات او چغتران په کلاوو کې چې د تر نک پر غا ړه ول او سيد ل، چې ور وسته با ئي خان هم ووژل شو ۰ تر هغه وروسته د علي خان زوی شاه عالم خان چې د سلطان ملخی وراره و او دهغه زوی خو شال خان هم تر يوې مود ې پورې د تو خيو د قبيلې مشري کوله، چې د د ې کو رنی ور وستي کسان اشرف خان او الهيار خان دي چې د خو شال خان زامن ول چې اشرف خان د لوی احمد شا ه بابا له خوا د کلات نه د غز ني تر سيمو پورې حکمران ټا کل شوی و او پر هند با ند ې د برید پر وخت هم داحمد شا ه با با ملګری و ۰ د تيمور شاه په وخت کې داشرف خان زوی امو خان د غلجيو حکمران و ۰

2. ملا باز تو خی

د پټې خز انې د مؤلف محمدهو تک په قول ملا باز تو خی داتغر د سيمې او سيد ونکی و چې دغه سيمه د زابل ولايت د مرکز کلات جنوب ختيزې بر خې ته پر ته دهـ ۰ نـو مـوړی په شعر کې استاد و او غزلې او ربا عی لري ۰ محمدهو تک نو موړی خپل همراز بللی د ی ۰ نـو مـوړې خپلې زده کړې په هنـد وستان کې کړې وې او په فقه، منطق او حکمت کې تکړه و او خپلو شا ګر دانو ته به يې د ر سو نه ورکول ۰

3. نور محمد غلجی

د ی په اصل کې غلجی او په غلجيوکې تو خی و ۰ پلار يې ملا يار محمـد نـو ميـده ۰ د پټې خزانې د مؤ لف په قول د ی په عمر پوخ او اتيا کلن و او په پنجو ابي کې او سيد ۰ د مير ويس نيکـه مير منې او کو چنيانو ته يې ديني تد رېس کاوه ۰ د ی شا عر هم و او د نا فع المسلمين په نـامه يې يـو کتـاب هم کښلی و چې شر عي احکام پکې بيان شوي وو او د فقه او اخلا قو د معتبرو کتا بو نو نه ګټل کيـده ۰ ده په پنجوايي کې خپلو شا ګر دانو ته مشکات شر يف، بخاري شر يف، هدايه، کنز، طر يقه محمـديه او

نور کتا بو نه تد ریس کول ۰ د ده د شعر یوه نمو نه چې مخمس د ی په د ې ډول ده :

نه مؤ من ژوند ی په دین یې زما یاره نـه فـر یـاد ژړا کـوه پـه څـو کـو کـاره
اسـتغفار تـو بـه کـوه د ځـا د پـاره ته هم ځان سا ته پناه غـواړه لـه نـاره

بیداري کړه په سهار کې زما د لداره

4. نازو انا

نازو انا د میر ویس نیکه مور او د سلطان ملخی تو خي لوروه چې په ۱۰۶۱ هجري کال په تازي نـو مي ځای کې زیږ ید لې ده ۰ پلار یې سلطان ملخی تو خی په هغه وخت کې د غزني تر جلد که د غلز یو د قبیلو مشرو ۰ نازو انا په کو چنیوالي کې د علم او پو هي سره مینه د ر لوده ۰ نـازو انـا پـه کـو چنیـوالي د پښتنو میر منو او عالمانو نه لو ست زده کړ ۰ کله یې چې پلار د سـور غـره پـه جګړه کـې ومړ او ورور یـې عاد ل خان د خپل پلار دانتقام له پاره جنګ ته روان شو، نو نازو توره تر ملا وتړله او د نورو جنګیالیو سـره یې د کور او کلا سا تنه کو له ۰ نازو انا ډیره میلمه پاله پښتنه وه او هر کله به چې د مسا پرو قا فلـې دوی سیمې ته راغلې نو د دوی د ډوډۍ بند و بست به یې کاوه او چا به چې کـالي نـه د ر لـود ل کـالي او جـا مي به یې ور کولې ۰ نازو انا د ښالم خان هوتک میرمن وه چې نـو مـوړی د کـرم خـان زوی و ۰ نـازو ا نـا څلور ز امن د رلود ل چې عبارت و له حاجي میر خانه(میـر ویـس نیکـه)، عبـدالعزیز خـان، یحیـي خـان او عبدالقاد ر خان ۰ نازو انا عابده او صا لحه میر من وه او ټول عمر یې خپلو او لا د ونو ته پـه او داسـه شـید ې ورکړې ۰ هغه وخت چې میر ویس نیکه و زیږید نو یوه شپه د پښتنو ستر ستانه بیټ نیکـه یـې پـه خـوب کې ولید چې ورته وایې :

دا زوی ښه تر بیت کا، چې لوی شي ستر کا رونه به وکا او په حج د بیتالله بـه مشـرف شـي او لـه نسله به یې پیدا شي پا د شا هان چې دین به رو ښان کا

په رښتیا هم چې نازو انا داسي زوی ور وزه چـې د ښـمنان د وطـن یـې ورک کـړل او د ده لـه نسـله واکمنان پیدا شول چې پر اصفهان با ند ې یې واکمني کوله ۰ نازو انا شا عره او د د یوان خا وندە وه ۰ د

یوان یې د وه زره بیتو نه د ر لود ل ۰ د نازو انا د شعر بیلګه په لاند ډول ده :

سحرګه وه، د نر ګس لیمه لا نده څاڅکی څا څکی یې له ستر ګو څڅیده
ما ویل څه دي ښکله ګله ولې ژاړې؟ ده ویل ژوند مې د ی یوه خوله خندیده

همداراز د تو خیو نور نو میالي چې دهیواداو د ملي نو امیسو په سا تنه کې یې سر ښند نې کړي دي نو مو نه یې دادي: شهاب الدین خان تو خی، عبدالر حمن خان، سلطا نمحمد خان، د و ست محمد خان، صمد خان، ګل محمد خان، میر علم خان، مهتر مو سی خان،، عز یز خان، محمد شر یف خان او نور ۰۰

نور ماخوذ د [71] نه.

43 توري

توري د پښتنو یوه لر غو نې قبیله ده چې د کرلانې په ټولنیز ګروپ پورې اړه لري۔ ۰ توري په کو رمې ایجنسۍ کې ژوند کوي چې مسا حت یې ۳۳۱۰ کیلو متر مر بع د ی او ۱۹۹۸ زیږ دیز کال د سر شمیر نې له مخې د د غې ایجنسۍ د وګړو شمیر ٤٤٨٣١٠ تنه ښود ل شوي دي ۰

کور مه تر ۱۸۷۹ زیږ دیز کال پورې دافغانستان د خا ورې یوه برخه وه، خو ورو سته پر نګیانو جبرا له افغا نستا نه جلا کړه ۰

د دوی د سیمې شما لي بر خې ته سپین غر، لو یدیز ته یې د پکتیا ولایت، جنوب ته یې ټل او بنګښ او د ختیز خواته داورکز یو د قبیلې سره ګډه پو له لري ۰ د کو رمې ایجنسۍ په د ر یو بر خو ویشلې شوې ده یعنې پو ر تنۍ کور مه، ښکتنۍ کو رمه او منځنۍ کو رمه ۰ پاړه چنار د کو ر مې ایجنسۍ هیډ کوار ټر یعني مرکز د ی ۰ د کورمې ایجنسۍ مشهور ښا رونه سده، علم شیر، باګن، تالو کنج او با

71 شیر رحمن د وړ، معلومات مختصر د رباره اقوام وقبایل ولایات سر حدي کشور، ۸۸ مخ، کابل

ګز ايي دي..

په لر غو نو تا ريخي متو نو له هغې جملې نه په ريګو يدا کې د کورمې د سيمې او د کو رمې د سيندياد ونه شوې ده . دهند مغولي واکمنی بنسټ ايښو د و نکي ظهير الدين محمد با بر هم د ۱۵۰۵ زيږ ديز کال په پيښو کې د کو ر مې د سيمې او د توري قبيلې يا د ونه کړې ده .

د تار يخ حيات افغا ني ليکوال ۱٤٤ کلو نه وړاند ې د تو ريو په اړوند داسې ليکلي دي :[توري د خوست د سيمي شمال او د سپين غره په جنوب کې د کورمې سيند په د واړو غاړو او د کو رمې په نامه سيمه کې او سيږي . دغه سيمه د مخه د بنګښو د قبيلې په لاس کې وه، خو ورو سته دوی دغه سيمه له دوی نه ونيو له . د توريو قبيله په پنځو ښا خو نو ويشلې شوې ده چې دهغوی نو مو نه، د وسله والو کسا نو شمير او دهرښاخ د ملکانو نومو نه په لا ند ې ډول دي :

1. حمزه خيل چې د رې زره تنه وسله وال جنګيالي لري او ملک يې او مک نو ميږي .

2. مستو خيل چې د وسله والو جنګيا ليو شمير يې د وه زره تنه دي او فقير علي او شنبک يې ملکا ن دي

3. د وپر زي د رې زره تنه جنګيالي ميړ ونه لر.ي او دارواښاد محمد علي خان ورور غلام د دوی ملک د ی .

4. علي زي چې د و سله والو کسانو شمير يې د وه زره تنه او د وست محمداو زيد علي يې ملکان دي.

5. غو ندې خيل د وه زره تنه جنګيالي لري او د ملکانو نو مو نه يې نور علي او الله نور دي .

د توريو د وسله والو کسانو مجمو عي شمير ۱۲ زره تنه ښود ل شوي دي. دوی د کر نې په چا رو بو خت دي، خو ځيني د ميوو په خر څولو او نورو شيا نو سو داګري هم کوي . د تو ريو په سيمه کې وريجي، جوار، غنم او اور بشي ډيرې پيدا کيږي، خو مني او نورې ډول ډول ميوې هم پکې شته .

د حمزه خیلو د ښاخ د وه سوه کو رنۍ په کو چیا نې ډول ژوند کوي چې د ژمي په مو سم کې بلند خیلو او ټل ته خپل ما لو نه د خر ځلاو له پا ره بیا یې او د تود و خۍ په مو سم کې سپین غره ته ځي۔ د کورمې په سیمه کې د کا بل واکمن یوه کلا جوړه کړې ده او یو شمیر پو ځیان پکې شته، نو ځکه توري د کابل د واکمن رعیت ګڼل کیږي او دوی ته په هر جر یب ځمکې د کابل یوه نیمه رو پۍ ما لیه ورکوي ۰ همداراز د کا بل واکمن د تو ري قبیلې نه دهر کور په سر د لو ګي په نامه یوه رو پۍ ما لیه اخلي ۰ د توریو د کر نې ټو لې نهري ځمکې د کو رمې له سینده خړو بیږي، دوی شیعه مذ هبه دي او په میلمه پا لنه او پښتني ننګ او د وداو د ستور ټینګ خلک دي ۰ د دوی په سیمه کې کو مې بد رګې ته اړتیا نشته او دوی له سیمې نه کا روا نو نه پر ته له کوم خطره تیر یږي ۰]

لکه چې وړاند ې وویل شول توري شیعه مذ هبه دي او د مذ هبي احکامو په تر سره کو لو کې ډیر ټینګ دي ۰ دوی د خپل قبیلوي د وداو د ستور له مخې د سیدانو ډیر د رناوی کوي او هر یو تن یې د سیدانو مر یدان دي ۰ د غې قبیلې سیدان په ځلورو ډلو ویشل شوي دي چې دوی ورته ډیر معتقد دي دغه سیدان عبارت دي د تیراه سیدان، احمد زي سیدان، د کړ مان سیدان او د ماوره سیدان .

هغه تو ریان چې د تیراه په سیدانو پورې اړه لري د میا مر ید په ټینګ واندې او پا تي نور یې د سست وا ندې په نامه یادږي چې د رې واندې د میا مر ید په مقابل کې سره یو دي۔ ۰ شهید علا مه عارف حسین الحسیني په کو ر مې ایجنسۍ کې ستر مذ هبي لار ښود و چې د ۱۹۸۸ زیږ دیز کال داګست د میا شتې په ٥ نیټه د نا معلو مو کسا نو له خوا شهید شو ۰

په د ې برسېره تور یان په سپین ګو ندي پورې اړه لري ۰ لنډه دا چې توري د پښتنو زړوره، غیر تي او په پښتو او پښتو نواله با ند ې ټینګ خلک دي

44 جبار خېل

جبار خیل په غلجیو پښتنو کې یوه مشهوره قبیله ده چې د ننګر هار ولایت د سره روداو حصا رک غلجا یي په ولسوالیو، د لغمان ولایت د کځ عزیز خان په سیمه، لو ګر او د کابل او جلال اباد تر مینځ

سیمو لکه ګند مک، جګړ لک، تیزین او د کابل ولایت په خاک جبار کې چې د جګړ لک او خورد کا بل تر مینځ مو قعیت لري میشته دي ۰

که د جبار خیلو د نسب شجره په غور سره وګورو نو دوی داحمد زیو غلجیو یوه پښه ده، چې د خپل نیکه جبار بابا د نامه په وجه په جبار خیلو یادېږي ۰ د جبار بابا مزار د کا بل د خاک جبار په و لسوالۍ کې د ی، له همد ې کبله دغه ولسوالي د خاک جبار په نامه سره یادېږي چې د جګړ لک او خورد کا بل تر مینځ مو قعیت لري ۰

د لوی احمد شاه با با د واکمنۍ په وخت کې د حصارک غلجا یي د جبار خیلو مشر لنګر خان نو مید چې نو موړی د جبار خیلو د قبیلې نا متو مشر تیر شوی د ی ۰ دامیر د وست محمد خان د واکمنۍ په وخت کې د جبار خیلو د قبیلې مشران داحمد خان زوی عزیز خان و چې د جبار خیلو د مر یم خیلو په څا نګې پورې یې اړه د ر لوده ۰ د عزیز خان پلار احمد خان د ډیرې مود ې له پاره دامیر د و ست محمد خان د مشر ورور فتح خان د نږد ې مقر بینو نه و چې هغه ور ته د لغمان د کځ په سیمه کې ډیر جا ګیرونه ور کړل چې بیا ورو سته نو موړې سیمه دهغه د زوی عزیز خان د نامه له کبله تراو سه پورې د عز یز خان د کځ په نامه سره یادېږي چې د ننګر هار د د رونټې سیمې ته نږدي پر ته ده او د پښتو د ژبې د مشهور لیکوال او شا عر اروابنادااستاد ګل پا چا الفت مزار هم د کځ عز یز خان په سیمه کې د ی ۰

له بلې خوا دامیر د و ست محمد خان او عز یز خان جبار خیل تر مینځ خپلوي هم مو جو ده وه، هغه دا چې د عزیز خان خور دامیر د و ست محمد خان میر من وم ۰ دافغان- انګر یز په لو مړی جګړه کې عز یز خان، امیر د وست محمد خان ته وفا داره پاتې شو، خو ورو سته په ۱۸٤۰ او ۱۸٤۱ میلادي کلو نو کې نو موړی د محمد شاه خان با بکر خیل سره چې هغه هم دانګر یزي ښکیلاګګرو سر سخته د ښمن و و یو ځای شو او دانګرېزانو پر خلاف دهغه په ملګر تیا په ډیرې زړورتیا او میړانې و جنګید ۰ کله چې امیر د و ست محمد خان د د ویم ځل له پاره دافغانستان واکمن شو نو عزیز خان د حج د مبا رکې فر یضې دادا کو لو له پاره مکې معظمې ته لاړ او د حج تر مر اسمو ورو سته دهغې نا رو غۍ له کبله چې ور پیښه شوې وه په ۱۸۵۵ میلادي کال کې هورې وفات او ښخ شو ۰

د عزیز خان تر مړ ینې ورو سته دهغه ورور کریم خان جبا رخیل دامیر د و ست محمد خان پر

خلاف پو رته شو، نو موږي د غازي محمد شاه خا ن با بکر خيل په ملګر تيا پر چا ر باغ بر يد وکړ او د کابل- جلال اباد لاره يې بنده کړه ۰ په دغه وخت کې د دوی د مبارزې مرکز اوزبين و ۰

دامير شير علي خان د واکمنۍ په وخت کې د عزيز خان جبار خيل زوی غازي عصمت الله خان جبار خيل د جبار خيلو غلجيو مشر و ۰ هغه ته دامير شير علي خان له خوا د حشمت الملک لقب ور کړل شو او په د ربار کې يې د وزير معاد ل صلا حيتونه د ر لود ل او د کابل او د کابل د شا او خوا د سيمو دامنيت مسئول و ۰ په دغه وخت کې ا مير شير علي خان د جبار خيلو د قبيلې يو بل تن مشر د محبت خان زوی ار سلا خان جبا ر خيل خپل سلا کار او د بهر نيو چارو وزير وټا که او د زرمت، خو ست او کټواز د سيمو د چارو مسئو ليت يې دهغه زوی معز الله خان ته و سپاره ۰ د عصمت الله خان جبا ر خيل په څير ار سلا خان دامير شير علي خان په د ر بار کې د ډير ځواک او نفوذ خا وند و، له همد ې کبله وه چې امير شير علي خان د حصارک غلجا يي سيمه د ما ليې د ور کو لو نه معا فه کړه ۰

جبار خيل په پښتني ننګ او غيرت ټينګ، زړور، ميلمه پاله، هيوا د پا لو نکي او په علم او پو هې مين خلک دي ۰ هما غسې چې دانګريزي استعمار او ښکيلاک پر خلاف يې زړورې مبا رزې کړي او توري يې وهلي دي او د بر ايډن لښکرې يې ما تې کړي دي، د روسي سور استبدادي ښا مار پر خلاف هم په ميړ انه جنګيد لي دي ۰

په حصارک غلجا يي کې د جبا رخيلو مشهور کلي دادي: اب زنګياني، غورېزه، ناد ر، ګلا خيل، حليم خيل، ظر يف خيل، سياب، چار توت، سروند، بر جنه، خنجر او کځي ۰ مشهور خيلو نه يې مر يم خيل، نو ګيا نې خيل او نور دي ۰

جبار خيل زيا تره د کر کيلي په چا رو بو خت دي، غنم، جوار او نور حبو بات پکې کر ل کيږي. د حصارک غلجايي د جبار خيلو شمير د ۲۰ زرو تنو په شا او خواکې اټکل شوی د ی ۰

44.1 د جبار خیلو نا متو مشران

1. جبار خان با با چې د جبار خیلو مشر نیکه و او مزار یې د کا بل د خا ک جبار په ولسوالۍ کې د ی او ده د نامه له کبله دغه ولسوالي په خاک جبار سره یادېږي

2. لنګر خان چې داحمد شا ه با با د واکمنۍ په وخت کې د حصارک غلجا یي د جبار خیلو مشر تیر شوی د ی ۰

3. احمد خا ن جبار خیل د جبار خیلو مشر او د عزیز خان جبا ر خیل پلارو ۰

4. عزیز خان جبار خیل چې د لغمان د کځ سیمه د ده په نامه سره مشهوره ده

5. کریم خان جبار خیل چې د خپل ورور عزیز خان جبار خیل تر مړ ینې ورو سته د جبار خیلو مشر و ۰

6. ملي مبارز او دانګر یزي استعمار پیاوړی د ښمن غازي عصمت ا لله خان جبار خیل چې د غازي محمد شاه خان با بکر خیل په ملګر تیا یې دانګر یزانو سره ډیرې جګړې کړي دي او د ملي مبا رزینو مشر و ۰

7. محبت خان جبار خیل چې د حصارک غلجا یي د جبار خیلو غلجیو مشرو ۰

8. ارسلا خان جبار خیل چې دامیر شیر علي خان په د ر بار کې د لوړ مو قف خا وندا و دانګر یزانو سر سخته د ښمن و ۰

9. معزالله خان جبار خیل چې دار سلا خان زوی او امیر شیر علي خان د زرمت، خوست او کټواز د سیمو مسئول ټا کلی و ۰

10. اروابنا د عبدالمجید خان حکمران چې داعلیحضرت محمد ظا هر شاه په وخت کې د کا پیسا حکمران و ۰

11. اروا ښاد وکیل عبدالو هاب خان چې د ملي شورا وکیل و ۰

12. اروا ښاد عبدالله مشهور په لعل اغا چې په سره رود کې او سیداو حاکم او ورو سته د سره رود د خلکو وکیل و ۰

13. شیرین جان اغا چې د لعل اغا ورور و ۰

14. د کا بل پو هنتون پخوانی رئیس او استاد پو هاند طا هر عنا یت ۰

ماخوذ د [72، 73] نه

45 جد ون

جد ون چې د ګد ون په نامه سره هم یادېږي د پښتنوپه غرغښتي ټولنیز ګروپ پورې اړه لري چې د پښتونخوا په جنوب صوابی، ایبټ اباد، هزاره او هر پور کې چې د مها بن د غرونو جنو بي لړی ده استوګنه لري ۰ د تا ریخي روایاتو سره سم دا خلک له پیل نه د خا ښي خیلو په ګو ند ی کې شا مل شوي او د قبایلي لیږد په زما نه کې د یو سفز یو مندړو سره د ې سېمې ته را غلي دي [74]

د مغولي واکمن نو ر الدین جهانګیر د د ربار مؤ رخ خوا جه نعمت الله هروي په خپل مشهور اثر تا ریخ خانجها ني و مخزن افغا ني کې چې په ۱۶۱۲ میلا دي کال یې کښلی د ی جد ون غر غښتي پښتا نه او په غر غښتیو کې د پني او لاده بولي ۰

---

72 State and Tribe in Nineteenth-century Afghanistan, by Christine Noelle, Christine Noelle-Karimi

73 دارو ا ښاد لعل اغا سره زما(د د ې مقالې لیکوال) هغه مر که چې په ۱۳۶۷ لمرېزکا ل کې مې په کابل کې کړې وه

74 پښتانه د تاریخ په ر نا کې، د سید بهاد ر شاه ظفر کا کا خیل لیکنه، یو نیور ستي بک ایجنسي، ۱۹۶۲ کال

سر اولف کیرو په خپل مشهور اثر The Pathan کې جد ون غر غښتي پښتانه او د پښي پښتنو یو ښاخ ګڼلی د ی [75]

د تا ریخ حیات افغا ني لیکوال ډپټي محمد حیات خان ۱٤٤ کلونه وړاند ې د جد ون قبیلې په اړوند داسې لیکلي دي :

دا څر ګنده خبره ده چې دغه خلک خپله قبیله د کا کړو یو ښا خ بو لي، دوی په پیل کې په د وو لو یو ښا خو نو چې د منصور او سا لار په نامه یادېږي ویشل شوي دي چې بیا دغه ښا خو نه په نورو څا نګو ویشلي شوي دي ۰

1. د سالار ښاخ څا نګې په د ې ډول دي : مست خوازي، اتو زي، سلیمان زي، عیسی خیل، عبدالر حیم زي، محمد خیل، علیشیر خیل، قلندر خیل، علي خیل، د ولت خیل ا واد و خیل۔

2. د منصور د ښاخ څا نګې دادي : متي زي، د وله زي، خد رزي، عمرزي، ګو ا خیل، یعقوب خیل، عیسی خیل، کرم خیل، قمبر خیل، باره خیل، ولي خیل، قا سم خیل، شا هي خیل، الهداد خیل، خوا جه رستم کور، ادیزي، شا ئب زي، مامازي، خلیل زي، امرازي، یعقوب زي، شا مان زي، حسن زي، بهلول زي، عید و خیل، توره خیل، زکریا خیل او عباس خیل

تاریخ حیات افغا ني زیا توي

ز یاتره جد ون په ځا نګري ډول سالار دهزاره غرونو د د وړ په نامه ویالې په د واړو غاړو داورش تر سیمې پورې میشته دي ۰دهزاره سیمې د جد و نو ښکتنۍ برخه ډېره ښه شنه او زر خیزه سیمه دهـ ۰ د مغولي واکمن جها نګیر په و خت کې کله چې د د لا زاک قبیله لوټ او تباه شوه، نو دغه سیمه په تد ریجي تو ګه د جد ونو لاس ته ور غله، خو د لته هغه جد ون تر زیا ته حده دیا د ونې وړ دي چې دابا

75 تا ریخ حیات افغا ني، د ډپټي محمد حیات خان تالیف، پښتو ژبا ړه، د پیښور چاپ

سين په لو يديز او د مها بڼ غره په سهيلي بر خو کې ميشته دي ۰ مها بـڼ يـوه لـر غـو نـي هنـدي کلمـه ده چې ريښه يې سنسکريټ ته ر سيږي ۰ په سنسـکر يـټ کـې مهـا= لـوی او بـڼ= ځنګـل د ی يعنـي لـوی ځنګل او د د ې غره د تسميې وجه بيخي صحيح ده ۰ د جد ون د قبيلې د واړه ښا خونه يعنـي منصـور او سا لار د د ې غره له څو کې نه تر کښتنيو بر خو پورې قبضه لري ۰ که څه هم د دوی د کو چنيو با نـډو شمير تقر يبا شلو ته رسيږي، خو د رې لوی کلي لري ۰ په ګند پ کې تقر يبا له شپږ سوو زيات کـو رونـه دي چې دغه ځای د سالار ښاخ لوی او مشهور کلی د ی او داتو زيو تقر يبا ټو لـې څـا نګـې پکـې ميشـته دي ۰ دغه ښاخ په د وو لو يو کليو ګند پ او دالوړې باند ې واک لري، چې اوس مير بـاز عيسـی خيـل، جها نګير عليشير خيل، نواب قلندر خيل، خانی محمد خيل او طو طي علـي خيـل د دغـه ځـای مشـران او ملکان دي۔

د سالار د ښاخ د مست خوازي څا نګه په با بيني نـو مـي ځـای کـې چې دانګـر يـزي سـر کـار پـه سيمه کې مؤ قعيت لري او سيږي ۰ د سالار ښاخ د سليما ن زيو څـا نګـې خلـک پـه پـاده، شـني،، کـو لا کر او پو لا اچپلي کې چې کو چني کلي دي او د مها بڼ په سيمه کې پر تې دي استوګنه لري ۰

د منصور د ښاخ لوی کلی بيسک د ی چې تقـر يبـا د رې سـوه کـوره خلـک پکـې ميشـته دي۔ ۰ د بيسک مشهور ملک عيسی خان ولي خيل د ی چې جر ګو او نورو معا ملـو تـه خلـک لـه هغـه نـه مـر سـته غواړي او د جر ګو او مر کو په کا رو نو کې ډير مها رت لري ۰ همداراز ها شم علي قا سـم خيـل، قـا بـل خان شا هي خيل، مير خان الله داد خيل، غلام شاه او صحبت د د غې څا نګې ملکـان دي۔ ۰ فتـح خـان د وله زی هم يو معتبر ملک د ی ۰ خد رزي په ملکا ګړی کې او سيږي چې زنګـی او هـوس د د ې څـا نګې ملکان دي ۰

د ګند پ او بيسک زياتره د کر نې وړ ځمکې دانګـر يزي سر کار د ميـدان پـه سـيمه کـې پرتـې دي ۰ ګند پ، بيسک او ملکا ګړی د غره په لمنه کې د ميدان د علا قې تر څنګ مؤ قعيـت لري۔ ۰ د د غـو کليو زياتره ځمکي للمي دي، خو هغه ځمکې چې د غرونو په د ننه کې پر تې دي هغه زيا تره شـني، ابـي او حا صلخيزه دي ۰

په مها بڼ کې غنم، جوار او وريجي ډيرې پيدا کيږي ۰ د جد ون قبيلې زيـا تـره خلـک د کـر نـې او

ما لداری په چا رو بو خت دي ۰ د مهابن مینبنې مشهورې او پییورې دي ۰ د دوی د وسله والو کسانو شمیر اتلس زره تنه ښود ل شوي دي [76]

پټه د ې نه وي چې یو شمیرجد ون په کشمیر او د کیمبل پور په سیمه کې هم میشته دي ۰

جد ون په پښتني ننګ او غیرت ټینګ خلک دي۔ ۰ د میلمنو عزت او د ر ناوی کوي ۰ همداراز دوی په خپلواکۍ مین خلک دي ۰ کله چې په ۱۸عیسوي پیړۍ کې سکهانو دوی پر سیمه بر ید وکړ نو دوی په ډیر میړانه ور سره و جنګید ل، په دغه وخت کې د جد ونو مشر سخي جان جد ون و چې د خپلې سیمې نه یې په میړ انه د فاع وکړه او بیا د سکها نو له لا سه شهید شو ۰ همدارا دانګر یزي ښکیلاکګرو په وړاند ې هم د دوی مبا رزې د پښتنو د تا ریخ ویا ړلي او د قد ر وړ بابونه دي ۰

په او سني وخت کې د جد ون د قبیلي مشهور کسان عنا یت الله خان جد ون، ا ما ن الله خان جد ون او سلطان خان جد ون د ی ۰ سلطان خان جد ون په ۲۰۰۱ کال کې د جد ون قبیلې په اړوند یو کتاب هم په انګر یزي ژبې کښلی د ی ۰

46 جلال زي

که چیري د غلجیو پښتنو د نسب شجره په غور سره و څیړو، نو دا به تر ې جو ته شي چې جلا لزي داند ړو یو ښاخ شمیرل کیږي ۰جلالزي د غزني ولایت داند ړ او شلګر په و لسوالیو او واغز نو مي سیمه کې میشته دي ۰ همدا رازد پکتیا ولایت د زرمت په ولسوالۍ چې د زر ملې په نامه سره هم یادیږي یو شمیر جلالزي استوګنه لري ۰ د پکتیکا و لا یت په کټواز سیمه کې هم جلالزي میشته دي ۰

جلالزي ډیر غیرتمن او په پښتو او پښتو نولۍ با ندي ټینګ ولاړ خلک دي۔ ۰ همداراز دوی د علم او پو هي سره ډیره مینه لري ۰ د دوی حجرې تل د میلمنو پر مخ خلاصي وي ۰

---

76 http://en.wikipedia.org/wiki/Jadoon

جلا لز یو تل د خپلو نورو پښتنو په څیر په هیواداو خپلو اکې مین خلک دي، همدا و جه ده چې دانګر یزي ښکیلا ککړو پر خلاف دافغان- انګر یز په د ري ګو نو جګړو کې یې دوی ته خو له ما تووِ نکي ګو زارونه ور کړي دي. . همداراز د سره ښکیلا ککړو یعني د روسي استعما ر او د دوی دیر غلګر پو ځ په وړاند ې د دوی مبا رزي ز موږ د ګران هیوادافغانستان د ویا ړلي تا ریخ زرین با بو نه دي چې موږ تل پري و یا ړو او د د رناوي سر ونه ور ته ټیټوو ۰

جلالزي زیا تره د کر کیلي او با غداری په چارو بو خت دي۔ ۰ د کر نې محصو لات یې غنم، جوار او همداراز د بنونو محصو لات یې انګور، مني، زردالو او نورې میوي دي چې زیاتره د کا ریزونو داوبو په ذریعه خړو بیږي ۰

46.1 د جلالز یو د قبیلي خیلونه

لکه د نورو پښتني قبیلو په څیر جلالزي هم په بیلا بیلو ښا خونو، څانګو او خیلو نو ویشل شوي دي چې د ځینو نو مو نه یې په لا ند ې ډول وړاندي کیږي:

سلیما نزي، خیرو خیل، امران خیل، شایب خیل، عید و خیل، حید ر خیل او، شالي خیل ۰

هغه جلا لزي چې د غز ني و لا یت په واغز کې میشته دي د دوی خیلو نه په لا ند ې ډول دي :

الله یار، خا ني خیل او مسري خیل ۰

47 جلوانې

که چیري د جلو ا نیو د نسب ونه یا شجره په غور سره و څیړو نو څر ګنده به شي چې دوی سړبني پښتانه او د شیرانیو پښتنو له نسله دي۔ ۰ جلوانی د شیرا نې زوی د شرخبون لمسی او د سړبن کړوسی د ی ۰ که څه هم دغه قبیله د شیرانیو اولاده ده، خو نن د یوې جلا قبیلې په نامه سره یادیږي۔

جلوانې په افغانستان، پښتونخوا او هند وستان کې میشته دي . په افغانستان کې که څه هم د دوی شمیر زیات نه د ی، خو د دوی یو شمیر د کندهار، غزني، زابل او پکتیکا په و لا یتو نو کې میشته دي . جلوانې د شیر انیو په غر نیو سیمو کې پر اته دي، د سلیمان غرد دوی په سیمه کې مؤ قعیت لري. . د دوی د سیمې شمال ته د ګو مل د ره او د وزیرو او مسید و سیمې، جنوب ته یې ستور یاني او زمري قبیلې او لو یدیز ته یې هر پیال، کاکړا و د مند وخیلو پښتني قبیلې پر تې دي .

جلوانې منځنی ونې، ډنګر، غښتلي غیر تمن، سخت سرې اوتکړه او فعا له خلک دي. . که څه هم کر وند ې یې لرې دي، خو د دوی په ځمکو کې غنم، جوار، اوربشي، وریجي او تماکو کرل کیږي. . هغه جلوانې چې په غرونو کې استوګنه لري د غو ایانو نه سر بیره د پسو نو او وزو رمې ساتي .

د دوی رواجو نه او د ود ونه کټ مټ د شیر ا نیو په څیر دي .جلو انې د نورو پښتنو په څیر د خپلو کلیو مشر ته په د رنه ستر ګه ګوري او د کلي مشر د دوی شخړې او لا نجې په ښه ډول حل او فصل کوي، چې د د غو مشرانو فیصلې د واړو خواووته د منلو وړوي او داحترام او د رناوي په ستر ګه ور ته ګوري . جلوانیان په خپلو منځو کې د و مره شخړې او لا نجې سر ه نه کوي .

جلوانې مذهبي لار ښود ونکو، دیني عا لمانو او ملا یا نو ته په د رنه ستر ګه ګوري، دهغوی عزت او د رنا وی کوي او هم د خپلوکر نیزو محصو لا تو عشر یا لسمه برخه د غو ملا یا نو ته ور کوي . ملا یان د جو مات داما مت نه پر ته نکا ح ګانې ترې، هلکانو ته لمو نځ او نور مذ هبي فر ایض ور ښیي او مړو ته غسل ور کول د ملا او دهغه د میر منې د نده شمیر له کیږي .

جلوانې د شیر ا نیو په څیر د قر ان کر یم تلاوت کوي، خو ملا یان یې په پښتو ژبه خلکو ته هغه کتا بو نه ور زده کوي چې په مذ هبي مسا یلو پورې اړه لري . خلک یې په عمومي ډول لمو نځ او روژه نه قضا کوي او په مذ هبي چارو کې ډیر ټینګ خلک دي .

یو شمیر جلوانې د لودي او سوري پښتني واکمنانو په وخت کې چې په هند و ستان یې واکمني چلو له له افغانستان او پښتونخوا نه هند و ستان ته تللي او د دوی یو زیات شمیر د لودي او سوري پښتني واکمنا نو په د ر با رونو کې لوړ پو ځي منصبونه او د ند ې د ر لود ې .

با يد وويل شي چې هند وستان ته د ليږد په وخت کې دوی د شير انيو سره يو ځای هلته ليږ ديد لي چې تر او سه هم دهند په بنګال، بيهار، اترپرادیش، راجستهان او ګجرات کې ډير شمير جلو انې د شير ا نيو سره يو ځای استوګنه لري، چې موږ يې د لته په ځينو ايا لتو نو کې داستو ګنې سيمې د ر پيژ نو :

1. د راجستهان د ناګور په سيمه کې د بر نيل، بهينياد، دانته، حميد پور او د و نګاری په کليو کې د نورو شير ا نيو سره ميشته دي .

2. دهند د ګجرات د واد نګر او شيمبير وادا په سيمه کې .

همداراز ويل کيږي چې دهند مغولي واکمن نصير الدين هما يون او جلا الدين محمداکبر د جلو ا نيو او شير ا نيو پښتنود تو ر زنو په زور او متو د ودیا را جپو تو ته د راجستهان او ګو جرات پو لو ته نږد ې سخته ما تې ور کړې وه .

47.1 د جلوانيو د قبيلې ښا خو نه

هغه جلو انې چې د شير ا نيو د سيمې په غر نيو بر خو کې استوګنه لري نو د دوی مشهورې ځا نګې او خيلو نه په لا ند ې ډول دي :

سالار خيل، مروت خيل، سپند زي، کو نکړي، نيکي خيل او مهار .

ماخوذ ده [77، 78] نه

---

77 http://encyclopedia.jrank.org/SHA_SIV/SHERANI_or_SHIRANI.html

78 http://en.wikipedia.org/wiki/Shirani

48 جمریانې

په کا سیو پښتنو کې یوه پښه د جمر یا نې په نامه یادېږي چې په زیاترو تا ریخي کتا بو نو کې د زمر یانې او ژمر یانې په بنه هم راغلی د ی ۰ کا سي پښتا نه د سړ بن په ټولنیزې ډلې کې راځي او د ښر خبون په ښا خ ور ګډ یږي ۰ د حیات افغاني لیکوال ډپټي محمد حیات خان او د تواریخ خور شید جهـان مؤ لف شیر محمد خان ګنډا پور له نن نه ۱٤٤ کلو نه د مخه په افغانستان کې د جمر یا نیو شمیر تقـر یبا یو زر کوره ښود لی او دا یې هم زیا ته کړې ده چې جمر یا نې د تو خو(تو خیو) ستا نه دي ۰

د د غې قبیلې خلک د تو خو په سیمه کې میشته دي، خو له کا بلـه تـر کنـدهاره پـورې پـه زیـا تـره کلیو کې یو یا د وه کوره استوګنه لري ۰ د دوی ځیني خلک د کر نې پـه چـا رو او ځینې یـې هـم پـه سـو داګرۍ او نورو چارو بو خت دي۔ ۰ د تاریـخ حیـات افغـا نـي پـه قـول دوی د سـو داګرۍ پـه چـارو کـې پـر مختګ کړی او د ښو شتو خا وندان دي ۰

ار واښاد علا مه اکاد مسین عبدالشکور رشاد دافغان یاد د مقا لـو د مجمـو عې پـه ۱۵ مـخ کـې پـه خپلې هغه مقا له کې چې جمر یا نی افغان نو میږي او دارواښاد مولوي غلا م محي الدین افغا ن په اړه یـې چې دافغانستان د لو مړ نیو مشرو طه غو ښتو نکو له ډلې و او د ده د قبیلي یعني جمر یا نیو په با ب داسي کښلي دي :

په جمریانیو کې حسین خیل ستا نه دي ۰ په حسین خیلو جمر یا نیو کې په اوو مـه هجـري سـد ۍ کې د شعیب جمر یا نې زوی حسین لوی بزرګ او ستا نه تیـر شـوی د ی۔ ۰ د ی پـه تـو رانـو غلجیـو(هـو تک، تو خي) کې میشت و ۰ د شیخ متي خلیل رحمته الله علیه(٦٢٣-٦٨٨هجري قمري) د زوی یو سـف ظا هر بین سره یې مکا بره پیښه شوې ده او للی تره کی د ده له خلیفه ګا نو نه و ۰ للي زي تره کي دهـم دغه للي نیکه او لاده ګډل کیږي ۰

د حسین نیکه زیارت په کو ند ر کې د ی ۰ کو نـد ر د وازې خـوا پـه خـتیز کـې د وزیـرو او منـد و خیلو پښتنو تر مینځ پروت د ی ۰ کله چې د کندهار کو چیان دیره اسما عیل خان ته ځي له ګـو متـو چـې

بار شي په کو ند ر کې اړوي او له کو ند ره چې بار شي په چچندي کې اړوي۔ ۰ دغه کو چيان د ده داروا د خو ښې له پاره قر با ني کوي او خپل د رانه وري(بارونه) هم په دغه زيارت کې پريږدي۔ ۰ په زيارت کې دغه ما لو نو ته هيڅوک هم لاس نه شي ور وړای او د خپلو خا وندا نو تر راتګه پورې اما نت پر اته وي ۰ داسي ويل کيږي چې د شيخ حسين نيکه له زيارت نه څوک لښته هم نه پري کوي ۰

لکه چې د مخه هم وويل شول د دغه حسين نيکه او لاده د حسين خيلو جمر يا نيو په نامه شهرت لري ۰ همداراز د لو ګر د مو سهي فيض محمداخو نزاده(۱۳۱۹مړهجري قمري) هم حسين خيل جمر يا نې و او د ده او لاده چې په هغه کلی کې او سي نو هغه کلی حسين خيل په نامه سره يادږي ۰

په حسين خيلو جمر يا نيو کې زمور دهيواد يو ستر شخصيت، اديب، عالم او د لو مړ ني مشرو طيت د غړو نه يو هم مولوي غلا م محي الدين افغان و چې د ی هم حسين خيل جمر يا نې و ۰

د علامه استاد رشاد په قول نو موږی په ۱۲۷۹ هجري قمري کال د کندهار په احمد شا هي ښار کې وزيږيده ۰ د ی لا کو چنی و چې پلار يې وفات شو او د ده رو زنه او پا لنه د ده د تره له خوا کيده ۰ د ده اکا ورو سته د د ميوند د نا متو اتل سردار محمدايوب خان په د ر بار کې پيشخد مت و ۰ وروسته چې غازي محمدايو بخان مجبور شو چې ايران ته لاړشي نو مولوي محي الدين افغان او تره يې هم ور سره يو ځای ايران ته لاړل او پوره اووه کلو نه هلته پا تې شول ۰ په پای کې دانګر يزانو د فشار په وجه هغوی له بغداد پر لاري هند وستان ته وليږل شول ۰ افغان دهند و ستان په کا لجو نو کې خپلې زده کړې وکړې ۰دامير حبيب الله خان د واکمنی په وخت کې غلا م محي الدين تر ۲۵ کلو نو تبعيد ورو سته بير ته خپل هيواد ته ستون شو ۰ هيواد ته تر راستنيد و وروسته په حبيبيه دارالعلوم کې د ښونکي په تو ګه و ټاکل شو ۰ د ی په پښتو، فارسي، عربي، سانسکريت، ارد و، هندي او ګور مکهي ژبو پو هيده ۰ د ده پښتو او فارسي مقالي په سرا ج الا فغان کې چا پيد لې ۰

غلا م محي الدين افغان وروسته د کاکا سيداحمد خان لودي، مولوي محمد سرور خان واصف الکوزي، مير سيد قاسم خان لغماني، محمد ظفر خان مروت بنو څي، مولوي محمد حسين خان اورمړ جا لندهري، ډاکټر غني پنجا بي او د ده د وه ورونو نجفعلي او چراغعلي غو ند ې خلکو سره چې د مشر وطيت د غو ر ځنګ د نا متو لار ښو د و نکو نه وتينګې اړيکي لرلې ۰

غلا م محي الدين افغان د ۱۳۳۹ هجري قمري کال د زمري د ميا شتې په ۱۲ نيټه په کا بل کې وفات او په شهدای صا لحين کې خاوروته وسپارل شو .

ماخوذ ده [79، 80، 81] نه

49 ځائي

که چيرې د ځا ځيو پښتنو د نسب شجره په غور سره وڅيړو نو جو ته به شي چې دوی د پښتنو د کرلانې پښتنو په ډله کې راځي . د پښتنو ستر اتل او د تورې او قلم خا وند خو شال خان خټک په خپل بياض کې د تورې او ځا ځي نيا خو نه د کر لانې له نسله ګڼلي دي .

ځا ځيان د پکتيا ولايت له مهمو قبيلو نه شميرل کيږي . شمال خوا ته يې غلجيان، د لو ګر دازرې او د ننګر هار د حصارک ولسوالۍ او لږ څه د خو ږ يا نيو قبيله، لو يديځ ته يې احمد زي، جنوب ته يې مقبل، څمکني، منګل او تو تا خيل او ختيز ته يې د ډيورنډ کر نيه پر ته ده چې د کو رمې ايجنسۍ سره پو له لري اود پيوړ مشهورا و تا ريخي کو تل د د غې قبيلې په سيمه کې مو قعيت لري .

ځا ځيان په پکتيا کې په اريوب، د ځا ځيو په ولسوالۍ، د خوست ولايت په ځا ځي ميدان اود څمکنيو په ولسوالۍ کې او هم په ډنډ پټان کې ا ستو ګنه لري . يو شمير ځا ځيان د کابل په شاه شهيد، نوې کارتې، رحمن مينې او سمټ خانې او ده خدايداد په سيمو کې هم استوګنه لري . د کند ز او بغلان په و لايتو نو کې هم يو شمير ځا ځي ميشته دي . د پښتونخوا د کورمې او اور کز يو په ايجنسيو او په تيره بيا په پاړه چنار، کو هاټ، هنګو، د ر سمنداو پيښور کې هم ځا ځيان استوګنه لري . د تا ريخ حيات افغا ني ليکوال محمد حيات خان له نن نه ۱٤٤ کلو نه وړاند ې د ځا ځيو د و سله والو کسا نو

79 دافغان ياد، د مقالو مجمو عه، د کا بل پو هنتون د ژبو او اد بياتو پو هنځی ۱۳٦۱ کال، ۱۵-۲۵ مخونه

80 تواريخ خو رشيد جهان، د شير محمد خان ګنډاپور تاليف، د لاهور چاپ، ۱۸٦۷ ع . ۲۲۲ مخ

81 جنبش مشرو طيت د ر افغانستان، د علامه عبدالحی حبيبي اثر، ۳۰، ۳۱، ۳۲ او ۳۳ مخونه

شمير ۵۰۰۰ زره تنه ښو د لي وو ۔[82]

49.1 د ځا ځيو د قبيلي خيلونه

احمد خيل، حسن خيل، ها شم خيل، علي خيل، هده خيل، ليو ني، بيا ن خيل، ډبزي، تعدي خيل، سکند ر خيل، با دين خيل، ماما خيل، کو ټکي، خا ن خيل، مير خيل، خوازي خيل، غو نځي احمد خيل، مصري خيل، کټه خيل، شو خيل، همزه خيل، مري خيل، سا تي خيل، ند و خيل، خر منه۔

د ځا ځيو د قبيلې خلک په عمو مي ډول د کر نې په چارو بوخت دي، خو يو شمير يې په سو داګر ۍزو کارونو او په تيره بيا د تر انسپورتي کارونو په سبب خپله ګو زاره کوي ۔ د منډ هير مشهور ځنګل هم د دوی په سيمه کې مو قعيت لري ۔ ځا ځي ميلمه پال، غير تمن، هيواد پا لو نکي او په علم او پو هې با ند ې مين خلک دي ۔ دانګر يزي ښکيلا ګګرو پر خلاف يې ډيرې تورې وهلي دي او هر ځلې يې د خپلو نورو هيواد پا لو نکو په ځير خپله ميړ انه او زړر تيا ثا بته کړې دمـ ۔ د روسي بلو سګرو او تيري کوونکو ځو اکو نو په وړاند ې يې هم خپله ملي او اسلامي د نده په ښه تو ګه تر سره کړې ده او دوی تـه يې خو له ما تووونکي ګو زارونه ور کړي دي ۔

49.2 د ځا ځيو ځيني علمي او ملي ځيرې

ځا ځي سر بيره پر د ې چې د تورې په ډګر کې يې له ځا نه ډيرې ميړ انې ښو د لې دي د علم او پو هې په ډګر کې يې هم يو شمير کسان ټو لنې ته وړاند ې کړي دي چې دا نه يوازې د ځا ځيو د قبيلې له پاره د ويا ړه ډک کسان دي، بلکې مو ږ ټول افغانان پرې ويا ړو ۔ زه به په د ې لړ کې د لته د يو شمير کسا نو نو مو نه ياد کړم :

1. د کتورانجنير جمعه محمد محمدي

---

82 تاريخ حيات افغا ني، پښتو ژ با ړه، د پيښور چاپ، ۳۵٤ مخ

خدای بخښلی د کتور انجنیر جمعه محمد محمدي د پکتیا ولایت د ځا ځیو ولسوالۍ د شاه محمد په کلي کې نړۍ ته ستر ګې پر انیستلې ۰ لو مړنۍ زده کړې یې د خپلې ولسوالۍ په یوه ښوونځي کې تر سره کړې او بیا وروسته په کا بل کې د رحمن بابا په لیسه کې شا مل شو ۰ د رحمن بابا په لیسې کې د زده کړو تر پا یته رسو لو ورو سته د یوه سکا لر شیپ په اخیستلو سره چې د ده د ښه استعداد په وجه ده ته ور کړل شوی و، لند ن ته لاړ او خپله BSC یې د London School Of Economics نه تر لا سه کړه ۰ ور پسې خپله Ph.D د Sussex د پو هنتون نه وا خیسته ۰ کله چې افغانستان کې جمهوري نظام را مینځ ته شو نو انجنیر جمعه محمد محمدي د شهید داود خان په کا بینه کې داوبو او بر ښنا وزیر په تو ګه وټا کل شو ۰ کله چې د غو یي کو د تا وشوه نو خدای بخښلی محمدي د څه مود ې له پاره زنداني و ۰ د حامد کرزي په و خت کې نو موړی دافغانستان د کا نو او صنا یعو د وزیر په تو ګه و ټا کل شو، خو د ۲۰۰۳ کال د فبر وري د میا شتې په ۲٤ نیټه په یوه هو ایې پیښه کې د ده الو تکه را و غور ځیده او ده له د ې فا نې نړۍ نه ستر ګې پټې کړې ۰ خدای بخښلی یو هیواد پال، با تقوااو په هیواداو خلکو با ند ې مین شخصیت و ۰

2. د کتور نبي مصداق [83]

په خټه د پکتیا ځا ځی د ی ۰ خپلې زده کړې یې د کابل د رحمن بابا په لیسه کې سر ته رسولي دي ۰ ورو سته د یوه سکا لر شیپ په تر لا سه کو لو سر ه لند ن ته لاړ او Bs.C Hon یې London School of Languge کې تر سر ه کړې او خپله Ph.D یې د Sussex د پو هنتون نه تر لا سه کړه ۰ وروسته یې په اتیا یمو کلو نو کې BBC را ډیو ته لاړه و مو ند له او د ی په BBc را ډیو کې د پښتو څا نګه تا سیس کړه ۰ ده پر افغانستان با ند ې د رو سانو د تیر ي په اړوند کتا بو نه هم کښلي دي ۰ نوموړی په ۲۰۰۱ کال کې امر یکي ته لاړ او د George Minson په پو هنتون کې یې د پښتو ژبه تد ریس کو له ۰ د ی اوس په ویر جینیا کې د پښتو ژبې د نصاب په اړوند د Diplpmatic languge School سره په کار بو خت د ی ۰

همداراز دافغانستان د علو مو اکا ډمۍ د فلسفې څا نګې غړي ښا غلی سر محقق د کتور خو اجه

---

83 http://en.wikipedia.org/wiki/Nabi_Misdaq

الدين صديقي او دهمد ې اکا ډمی‌د ژبو او اد بياتو دانستيوت غړي ښا غلی سر محقق نو رالله ولسپال او ښا غلي سر محقق محمد عارف غر وال چې د پښتو ژبې خوږ ژبی شا عر هم د ی د ځا ځي قبيلې ته منسوب خلک دي چې هر يو يې د پښتو ژبې او اد ب ته د قد ر وړ خد متو نه کړي دي۔ ۰ دهمد ې قبيلې ته يو بل منسوب شخص ښا غلی تور يالی تور ځا ځی د ی چې د ی هم په پښتو ژبې او اد ب مين سړی د ی او ده دهيواد په مطبو عا تو کې خپلې ژبې ته د ستا ينې وړ خد متو نه کړي دي ۰

ماخوذ ده [84]، [85] نه

50 ځد ران

ځد رانۍ د پښتنو يوه مشهوره او نو ميا لی قبيله ده چې ز موږ پښت پو هان دوی د پښتنو د کرلانۍ په ټولنيز ګروپ کې شميري ۰ ځد رانۍ د پکتيا، خو ست او پکتيکا په ولا يتو نو کې استوګنه لري۔ ۰ د پکتيا ولايت ځد رانۍ په وزه ځد رانۍ او زر مت په و لسو اليو، د خو ست ځد رانۍ د دغه ولايت د سپيره او تنې په و لسواليو او د دغه ولايت په مرکز کې اود پکتيکا ولايت ځد رانۍ د دغه ولايت دارګون، ګيان، زيړوک او نکه په ولسو اليو کې ميشته دي ۰

د ځد ر ا نو شمال ته منګل، احمد زي، ګر ديز او زر مت مؤ قعيت لري، لو يديز ته يې زر مت او د خرو ټو قبيله، جنوب ته يې پير ګو تي او يوه برخه يې د ډيورنډ د کر ښې سره د مده خيلو وزيرو سره پو له لري ۰ همداراز ختيز لوري ته د خو ست، تنيو او منګلو سره پو له لري ۰

د تا ريخ حيات افغا ني ليکوال ډپټي محمد حيات خان له نن نه ۱٤٤ کلو نه وړاند ې د ځد ر ا نو د قبيلې په اړ وند داسې کښلي دي :[86]' د ځد رانو د قبيلې داستو ګنې سيمه د خو ست لو يديز او د

84 http://en.wikipedia.org/wiki/Zazi

85 معلومات مختصر د ر باره اقوام و قبا يل و لايا ت سر حدي کشور، ٤٥ مخ

86 تا ريخ حيات افغاني، پښتو ژ باړه د پيښور چاپ ۳٤۸-۳٤۹ مخونه

زرمت ختيز ته يوه شنه غر نی سيمه ده ۰ د دوی په دغه شنه غر نی سيمه کې رنې اوبه، شنه وا ښه، د نګې د نګې ونې، د مر غا نو اوازونه او سړه هوا انسان ته خو ښې او خو شا لي ور بخښي، خو سره د د ې ښې اب و هوا د کر نې وړ ځمکه پکې لږه ده او دغه د ځمکو کمو الی تر د ې اندازې پکې محسوس د ی چې خلک تيږي په ځا نګري ډول ا واروي او خا وړې ور با ند ې اچوي او د کر نې له پاره يې چمتو کوي ۰ له همد ې کبله ده چې د د غې سيمې پيداوار د نو موړې قبيلې د خلکو له پا ره بسنه نه کوي او دوی د مزد و ريو له پا ره ګا ونډ يو سيمو ته ځي ۰ ځد ران د ځاه ګا نو په کيند لو او ژورولو او همداراز د ختينو د يو الو نو په جو ړولو کې ځا نګړی مها رت لري ۰

ځد رانې په خوړو کې د غنمو، جوارو او وريجو نه ګټه اخلي او خپلې خو راکي اړ تياوي د ګر ديز او خو ست د ښا رو نو نه لا س ته راوړي ۰ د دوی په غر نيو سيمو کې ډول ډول ميوې لکه منې، مند تې، غوزان(چار مغز)، بادام او ځنغو زي پيدا کيږي ۰ چې ځنغوزي د دغه ځای له غوره پيداوارو نه ګڼل کيږي ۰ په دوی کی ما لداري هم شته او وزي، پسو نه او غو ايي سا تي ۰

مشهور انګر يزي تا ريخپوه مو نټ ستوارټ الفنستن په خپل مشهور اثر An Account of The kingdom of Cabul کې د ځد را نو د قبيلې د خلکو په اړوند داسي ليکلي دي : [87] ' د دوی جا مې د وزيرو د قبيلي د خلکو په څير دي او د خر و ټو په لور د ځنغو زيو ډکو ځنګلو نو په مينځ کې د رومي ۰ "

50.1 د ځد ر انو د قبيلې ښا خو نه، څا نګې او خيلو نه

که چيري د ځد را نو د قبيلي د شجرې په اړوند څيړ نه و کړو نو لکه چې د مخه وويل شو ل دوی کرلانې پښتا نه دي ۰ په پښتني عنعنوي شجرو کې ځد رانې د بر هان زوی، د ککي لمسی او د کر لا نې کړ وسی د ی، نن ورځ د د غې قبيلې خلک د ځد رانې د نامه په وجه په ځد رانو سره شهرت لري۔ ۰ د ځد را نو د پا تي ښاخونو، څا نګو او خيلو نو نو مو نه په لا ند ې تو ګه د ر پيژند ل کيږي :

تولا خيل، احمد خيل، شير خيل، زنګي خيل، سوري خيل، بر اهم خيل، پيرو خيل، با زيد خيل،

---

87 د کا بل سلطنت بيان، د کا بل چاپ، ٧٤ مخ

سلطا نخيل، بهيكار خيل، ايسپ خيل، ا ختون خيل، ابو خيل، الله خيل، با زكي، ويدي خيل، ديري خيل، هوس خيل، خوی خيل، مو سم خيل، بيبه خيل، زني خيل، غرزي، سپيره كي، مده خيل، شاه خاني، يحيي خيل، غيبت خيل، ميزايي، باروم خيل، شريک خيل، پرانگي، خان خيل، جنيا ت خيل، توري خيل، مر شن خيل، هوني خيل، خوز خيل، زودين، ملک دين او نور خو په عمو مي تو كه په ځد را نو كې دغه لا ندينې ښا خو نه او څا نكې مشهور دي : پير داد خيل، زني خيل، ختين خيل، بيبه خيل، علي محمد خيل، سپا هي خيل، زني خيل، كر مو ښي، سپر غه خيل، د ري خيل او مير زايې. ۰ د ۱۳٥٤ كال د مركزي احصائيې د سر شميرنې له مخې د پكتيا او پكتيكا په ولا يتو نو كې د ځد ر ا نو د قبيلي د خلكو مجمو عي شمير ۱٥٤۱۲۲ تنه ښود ل شوي وو چې ښا يې دا شمير به اوس ډير شوی وي.

ځد رانې غير تمن، په هيواداو خپلو اكې مين، جنګيالي، ميلمه پال، دينداره او په پښتو او پښتو نو لې با ند ې مين خلک دي ۰ د تاريخ حيات افغاني د ليكوال په قول دوی ډير جنګيالي خلک او تقر يبا هر با لغ تن يې په خپل كور كې وسله لري، څو د بهر ني ير غل په وخت كې د خپلې قبيلې د خلكو او سيمې نه سا تنه او د فا ع و كړي ۰نوموړي مؤرخ ١٤٤ كلو نه وړاند ې د دوی د وسله والو جنګيا ليو شمير له ١٥ زرو تنو نه زيات ښو د لی د ی ۰ په ر ښتيا هم چې دوی دهر تيري كو ونكي ځواک په وړاند ې په ډير مير نتوب سره جنګيد لي او ستري حما سې يې زيږ ولي دي ۰ دافغان - انګر يز په د ري كو نو جګړو كې د نورو افغا ني شاه زلميانو تر څنګ يې په ډيره ميړانه توري وهلي دي، چې د بيلګي په تو كه د غازي ببرک خان ځد ر انې نوم يا د ولای شو چې دافغانستان د حما سو تا ريخ د ده په ويا ړلي نوم فخر كوي ۰

د روسي ير غلګرو په وړاند ې هم ځد رانو د ملي مقا ومت سنګر ونه تا وده سا تلي وواو دهغوی په وړاند ې په ميړانه جنګيد لي دي چې په د غو جنګيا ليو كې د مو لانا جلال الدين حقاني او ګل زرک ځد رانې نو مو نه ديا د ونې وړدي ۰د ځد رانو بل قو مي مشر با چا خان ځد رانې د ی چې د ځد رانو په قبيله كې ډير نفوذ لري ۰ نو موړی اوس دافغانستان په پا رلمان كې د خپلې سيمي منتخب استا زی د ی.

همدارازیو شمیر ځد رانو د شهید داؤد خان په رژیم او د ثور تر کو د تا ورو سته رژیم کې پو ځي د ند ې د ر لود ې چې په هغوکې د پا چا کل وفاداراو سید محمد ګلابزوی نو مو نه یا د و لای شو ۰ پا چا کل و فادار د داؤد خان په وخت کې د سر حد و نو چارو وزیر او د ثور تر کو د تا وروسته په هند کې افغا ني سفیر و ۰ همداراز سید محمد ګلا بزوی د کارمل په رژیم کې د کو ر نیو چا رو وزیر او اوس دافغانستان د پا رلمان او ملي جبهې غړی د ی ۰

50.2 د ځد را نو د قبیلې علمي او اکا ډمیکې څیړې

1. پو هنوال ډاکترنظر محمد سلطا نزی ځد رانې

نو موږی هستوي فز یکپوه او دافغانستان داتو مي انر ژی د سازمان AAEC پخو انی مسئول مشر و ۰ د ده ډیر اثار او مقا لې خپرې شوي دي چې زه یې د لته د ځینو مقالو نو مو نه وړاند ې کوم : داتوم انرژی بنسټیز فو رمول، د چر نو بیل د پیښې شل کلن تاریخ، د ګا وندیو هیواد ونو هستوي از مو ینې، اتو مي بمو نه او مذ هبي نو مو نه، د مسلمان پښتون او داتو م بم د کار پوه عبدالقدیر لنډه پیژ ند نه، د وینې د سر طان نار وغي، پیژند نه، د ر ملنه او مخنیوی، په هیواد کې داتو مي پا تي شو نو خبر تیا، د سر طا ني نا رو غیو کلینیکي فورمول TNM او نور ۰۰۰

2. پو ها ند د کتور الف شاه ځد رانې

د کابل پو هنتو ن د ټولنیزو چارو استاداو څه موده د کا بل پو هنتو ن د علمي چارو د مر ستیال په تو ګه یې د نده د ر لوده ۰ نو موږی د یو شمیر ز یا تو علمي اثارو خا وند د ی ۰

3. سر محقق عبدالر حیم ځد رانې

د ی دافغانستان د علو مو اکا ډمی یو تکړه محقق د ی۔ ۰ د ده زیا ت شمیر مقالې د کا بل په مجله، د زیري په جرید ې او دهیواد په نورو معتبرو مجلو او جر ید و کې خپرې شوي دي ۰ د ده یو مهم اثر د رو هیله پښتانه په نامه سره یادېږي چې په هنداو په تیره بیا د رو هیلکهنډ د سیمي پښتا نه نو ابا ن

پکې معر في شوي دي ۰

4. سراج الحق ببرکزی ځد ر انې

حقو قپوه او قا نو نپوه د ی۔ ۰ د ی یو شمیر اثار او مقالې لري چې د ځینو مقالو نو مو نه یې دادي : افغانستان او نړ یو اله جز ایي محکمه، یو نسکو، د بشر حقوق او مو رنی ژ به، د عر بو سیا سي نظا مونو سیستم او په افغانستان کې د ژبو سیا ست او ملي تر مینا لو جي نو میږي ۰

5. عبدالقاد ر ځد رانې

د ښا غلي ځد رانې مقالي او ژ با ړې دهیواد په مطبو عا تو کې خپرې شوي دي چې ما د ده مقالې د کا بل په مجلې او په زیري کې لو ستې وي ۰ ښا غلی ځد رانې په جر مني ژبه کې وارد د ی ۰

ماخوذ ده [88، 89، 90] نه

50.3 ځمند

د پښتني عنعنوي او د ودیزو روایاتو له مخې د سړبن زوی خر ښبون د ړې زامن د ر لود ل ۰ یو یې کند نو میده چې د ده د ریم زوی غری یا غو ریا نو میده او او لاده یې د غو ر یا خیلو په نامه سره یادږي چې د مو مند و، خلیلو، داؤد زو، ز یړ انو او څو کنو قبیلې د دوی او لاده ګڼله کیږي۔ ۰ د خر ښبون د ویم زوی ځمندیا جمند و چې د ده داو لاد ې نه خیشکي، کتاني، اومهمنزي ډیر مشهور دي۔ ۰ همداراز د خر ښبون د ریم زوی کاسی یا کا نسي و چې دغه قبیله به په خپل ځای کې ورو سته و څیړ له شي

---

88 http://www.khyber.org/pashtotribes/trees/zadran.shtml

89 http://benawa.com/kandahar/ariki

90 معلومات مختصر د ر باره اقوام و قبا یل سر حدي کشور، ٤٩ مخ

د ځمند د قبيلې سيمه په پيل کې د کندهار په شا او خوا دارغستان د غوړې مر غی سيمې ته نږد ې پر ته وه او د (۸۰۰-۹۰۰هجري) کلو نو تر مينځ دوی د پشين سيمه چې په هغه و خت کې د پشنګ په نامه يا ديد له هم تر لا سه کړه ۰ ورو سته ځمنديا جمند چې ستر ښاخ يې خيشکی و په دغه ځای کې ډير په تنګ شول ۰ د ځمند د قبيلې نه ځيني خلک ملتان ته لاړل او هوري ميشته شول او د خيشکي ښاخ خلک د غز ني له لارې کا بل ته او د کا بل له لارې د غوربند د ري ته لاړل او دغه ځای يې داو سيد لو له پاره غوره کړ چې تر او سه پورې يو زيات شمير ځمنداو خيشکي هلته ميشته دي ۰

په هغه وخت کې چې مغو لي ظهير الدين محمد بابر کا بل ونيوه او څه موده ورو سته يې پر هند با ند ې دير غل تکل وکړ، نو ځيني خيشکو او ځمند و چې په غور بند کې او سيد ل ورته ګران ښکاره شول دهند و ستان خواته رهي شول اوډير شمير خيشکي او ځمند د خپلو کو رنيو سره د پيښور له لارې هند و ستان ته وليږ ديد ل چې په دغه وخت کې سليم خان ځمند د د غې قبيلې مشر او سردارو ۰ [91]

دوی د لا هورجنوب ختيز ته په هغه ځای کې ميشته شول چې نن د قصور ښار پروت د ی او دوی نن ورځ د قصوريه پټا نا نو په نامه سره يادېږي ۰ په دغه و خت کې له بده مر غه دوی د سليم خان ځمند تر مشری لا ند ې د بابر پا چا په لښکرو کې د ند ې د ر لود ې او په هغه جګړه کې چې دهند و ستان د پښتون واکمن سلطان ابر اهيم لودي او مغولي با بر شاه تر مينځ په پاني پت کې وشوه په هغه وخت کې د ځمند د قبيلې (۷۰۰) تنه ځمند چې د با بر شاه په پوځ کې يې د ند ې د ر لود ې ووژل شول ۰ له همد ې کبله و چې بابر او هما يون پر دوی ډيره مهر با ني کو له ۰ هغه وخت چې خيشکي او ځمند په قصور کې ميشته شول، نو د سپره په نوم يو تن بلو خ د خپلې قبيلې له يوې ډلې سره د دوی سيمې ته راته او په لوټ او تا لان به يې لاس پورې کاوه چې د د غو بر يد و نو د مخنيوي له پاره د بټک زي، عارف زي، حسن زي، شا بنزي، کرلانې او سلمهاک چې د د غې قبيلې ښا خو نه دي په بر کلي کې ميشته شول اود د ې له پاره چې سپره به له د غې لارې پر دوی ير غلو نه کول نو دغه لاره يې بنده کړه او بيا سپره له د غې لارې نور لوټ او تالان نه شو کو لای ۰ همداراز د د غې قبيلې د عزيز زي، جنوزي او ابر اهيم زيو ښا خو نه په لر يا ښکتني کلي کې ميشته شول او پا تې ځمند په مطلق ډول د شمال خو اته پر

91 پښتا نه د تاريخ په رڼا کې، د سيد بهاد ر شاه ظفر کا کا خيل، يو نيور سټي بک ايجنسي، پيښور، ۱۳۲۶ مخ، ۱۹۶۲ ع کال

یو تل ۰ تر هغه ورو سته ابر ا هیم زي د جنوزي د ښاخ سره د د ښمنۍ له کبله له دغه ځایه ولیږ دید ل او دهند و ستان داتر ا پرادیش دایالت د خور جې په باره بستي کې میشته شول چې نن د خو رجه ښار د پټا نا نو ښارد ی ۰ همداراز زیاتره سلمها کو چې دامچو زیو او حسین زیو سره یې د مقا بلې توان نه د رلود د ټانده سیمې ته لاړل او یو شمیر یې په قصور کې پا تې شول او د بټک زیو یو شمیر هم د کو ر نیو شخړو له کبله په هیرو وال کې میشته شول ۰

د جمند د قبیلې خلک د کندهار په ار غنداب کې چې هلته یو کلی هم د خیشکو په نامه شته، پشین، د پروان ولا یت د غو ربند ولسوالی د تیخان، یخد رې اود سیدانوپه د رو، پیښور، اشنغر، نو ښار، چا رسده،، مو مند و ایجنسی، د خیبر د تا ریخي د رې تر مینځ، د پاکستان د پنجاب په په قصور، ټانده اوهیر و وال او دهند و ستان داتر ا پرادیش دایالت په خور جه کې استوګنه لري ۰

50.4 ښاښونه او څانګې

د ځمند د قبیلې ښا خو نه او څا نګې په لا ند ې ډول دي

خیشکي، مهمن زي، عزیزي، بټک زي، سلمهاک، امچوزي، کرلانې، زیړاني، عمرزي، غیبي زي، نکبي زي، زیمل، باجوزي، جمیل زي، منصورزي، امچي زي، بټي زي، شور یاني، خلفزي، و ټوزي، جنوزي، شبن زي، عارف زي، ابراهیمزي، اشوزي، شموزي، عمر زي، ملازي، الازي، عیسی زي اونور ۰۰۰

د غوربند ولایت د ځمند د قبیلي د خیشکو ښا خو نه دادي :

شا هي خیل، ملي خیل، علم خیل، بار خیل، سلیمان خیل، خلیل خیل او یاروم خیل ۰

ماخوذ ده [92، 93، 94] نه

---

92 http://en.wikipedia.org/wiki/Kasur

51 څولیزي

که چیري د څو لیز یو د نسب شجره په غور سره و څیړو نو څو لیزي د غلجیو په ټولنیز ګروپ پورې یوه تړ لې قبیله ده چې زیا تره یې کو چیا ني ژوند پر مخ بیا یي، خو د څو لیزیو د قبیلې نه یو شمیر یې کلیوالي ژو ندهم غوره کړی د ی ۰

څو لیزي چې په سلیمان خیلو غلجیو ور ګډیږي ډیر شمیر خلک یې د ننګر هار ولایت د چپر هار و لسوالۍ د څو لیز یو په کلي کې ا ستو ګنه لري، چې دغه کلی د دوی داستو ګنې په و جه د څو لیز یو د کلی په نامه سره مشهور شوی د ی ۰ د ننګر هار په و لایت کې میشته څو لیزي د کر نې او ما لداری په چارو بو خت دي ۰ که څه هم د دوی داستو ګنې سیمه و چه او په پوره او کا في اندازه او به نه لري، خو دوی میړې، پسونه، وزي او او ښان هم سا تي ۰ ځینې خلک یې د سو داګر یو په چارو هم خپلې شپې او ورځې تیروي ۰

څو لیزي دینداره، غیرتي او په هیواداو خپلو اکۍ مین خلک دي ۰ د رو سانو دیر غل په وخت کې د روسي تیري کوونکو سره په نره جنګید لي او دوی ته یې خو له ما تو ونکي ګو زارونه ور کړي دي ۰

د څو لیزیو د قبیلې یو شمیر خلک د کابل د بګر امیو په سیمه کې هم استوګنه لري ۰ د د غې قبیلې په مشر انو کې اروا ښاد ملک نور جان مشهور سړی تیر شوی د ی ۰ د ننګر هار ولایت د څو لیزیو مجموعي شمیر د ٤۰۰۰ تنو په شا او خواکې ښود ل شویدي

52 څینزي

څینزي د غلجیو پښتنو په مینځ کې یوه مشهوره قبیله ده ۰ د د غې قبیلې زیاتره شمیر د ننګر هار

---

93 http://www.khyber.org/pashtotribes/k/kheshki.shtml

94 حیات افغا ني، د ډیټي محمد حیات خان اثر، پښتو ژبا ړه ٢٤٥- ٢٤٦ او ٢٤٧ مخونه

ولایت په حصارک غلجایي ولسوالۍ کې مېشته دي چې د دوی مجمو عي شمیر د ۰ ۱۰۰ تنو په شا او خوا کې ښو د ل شوي دي ۰ همداراز د څینز یو د قبیلې یو شمیر خلک د لغمان و لایت د قر غیو په ولسوالۍ او د عز یز خان کځ په سیمه کې هم استوګنه لري. ۰

څینزي زیاتره د کر کیلې او سو داګر یو په چارو بو خت دي ۰ دوی د ښو کړوړ څښتنان دي ۰ په دوی کې میلمه پا لنه ډیره ده او د پښتني عنعنو او د ود ونو ته ډیر د ر ناوی لري ۰ څینزیو هم د خپلو نورو پښتني قبیلو په څیر خپلو اکي غو ښتو نکي خلک دي ۰ دوی دانګر یزي ښکیلا ګګرو سره دافغان- انګریز په د رو ګو نو جګړو کې په میړ نتوب سره جنګید لي او خپل هیو اد نی رسالت یې په ښه تو ګه سر ته ر سولی د ی ۰ د روسي یر غلګرو په وړاند ې هم د څینز یو د قبیلي شاه زلمیو خپله پښتو نواله او افغا نیت په ښه تو ګه ثا بته کړې ده ۰

پاتې د ې نه وي چې یو شمیر څینزي په ټول افغانستان او په تیره بیا د غلجیو پښتنو په سیمه کې په خواره واره ډول ژوند کوي ۰

53 حسین خېل

حسین خیل په غلجیو پښتنو کې یوه نا متو قبیله دهـ ۰ د د غې قبیلې خلک د لغمان ولایت مرکز مهترلام ته نږد ې په یو شمیر کلیو په تیره بیاد ده زیارت په کلي او یو شمیر یې د کا بل د بګر امیو د ولسوالۍ د شیوه کیوپه شا او خوا سیمه کې ژوند کوي ۰ د پر وان و لایت په یو شمیر و لسو الیو په تیره بیا په قره باغ اومیر بچه کوټ کې هم یو شمیر حسین خیل او سیږي ۰ همدارا د میدان او ورد ګو ولایت مرکز ته نږدي اوهم د نر خ په ولسوالۍ کې یو شمیر حسین خیل غلجي میشته دي ۰ د ننګر هار ولایت د چپر هار ولسوالۍ د ما نو په کلي کې هم یوځو کوره حسین خیل شته چې ویل کیږي د میدان ولایت نه ډیره موده پخوا د غې سیمې ته لیږدید لي دي ۰ پا تې حسین خیل دافغانستان په بیلا بیلو بر خو کې په خواره واره ډول استوګنه لري ۰

حسین خیل میلمه پا لو نکي، په علم او پو هې مین خلک، پر مختګ غو ښتو نکي، غیرتي اوپه

هیواداو خپلو اکیِ مین خلک دي ۰ دوی زیاتره د کر کیلې او سو داګرۍ په چارو بو خت دي۔ ۰ یو شمیر خلک یې د و کا نو نه لري، ځینې حسین خیل د ولتي د ند ې هم لري ۰

54 خښبي، ښخي، خوخي، خانښي خپل، ښاخي خپل

د پښتنو په عنعنوي او د ودیزو شجروکې راغلي دي چې سړ بن نیکه د وه زامن د ر لود ل یو یې شر خښون او بل یې خر شبون نو مید ل ۰ خر شبون د ریِ زامن د رلود ل چې کاسي، کنداو ځمند نو مید ل ۰ کند د وه زامن د رلود ل چې یو یې ښخی یا خو خی نو مید چې او لاده یې د خا ښي خیلو په نامه سره یادېږي او د ویم زوی یې ابر اهیم نو مید چې غري یا غو ریا نو میداو او لاده یې د غو ر یا خیلو په نامه سره شهرت و مو ند ۰

د پښتو نازکخیال شا عر حمید ما شو خیل د پښتنو د د غو د واړو قبیلو په اړوند د خپل شعر په یوه بیت کې داسي وایي :

چې دا ستا د نامې بوی اخلي حمیده ! څه به نه وي خوش د ما غه غوري، خښبي

یوسفزي، مندړ، ګګیانې او تر کلانې چې په مجمو عي تو ګه د خانښي خیلو په نامه یادېږي د دوی اصلي ټا ټوبی د کندهار دار غستان په حدود و کې د غو نډان اوسره غره په شا او خوا هغه ځمکه ده چې د غوړې مر غیِ په نامه یادېږي ۰ خا ښي خیل چې د تر ینو د قبیلې په ګا ونډ کې او سید ل د تر ینو د فشار او زور زیاتیِ په وجه د نو موړې سیمې پر ینبود لو ته اړ شول او د غو ریا خیلو له خوا د غزني د مقر په کڅیِ کې په ور کړل ځمکې او ور شو با ند ې د یو څه وخت له پاره میشته شول، خو ورو سته بیا له غوریا خیلو نه خو ابدي او خپه شول، نو هما غه و چې نو موړې سیمه یې هم پر ینبوده او د کابل خو اته راولیږ دید ل ۰ د راتګ په وخت کې اتمان خیل هم ور سره ملګري شول او د کابل په شا او خوا ور شو ګانو کې میشته شول ۰

په همد ې وخت کې د سلطان ابو سعید زوی میرزا الغ بیګ چې کو چنی و د ماوراالنهر نه کا بل ته راغلی و، نو د خا ښي خیلو د قبیلې مشري ملک سلیمان شاه ته ور په غاړه وه چې د ملک تا ج الدین

زوی او د ملک رځړ لمسی و ۰ ملک سلیمان شاه د کو چني الغ بیګ سره ډیره مینه کوله ۰یوه ورځ میرزا الغ بیګ د سلیمان شاه په غیږ کې نا ست و، قد وه المکا شفین شیخ عثمان د موتي ملیزي زوی چې دهغې زمانې د ولیا نو نه و او د یو سفز یو خلک د ده معتقدین وو پرې ورغی ۰ شیخ عثمان قد س سره چې کو چنی مرزا الغ بیګ د ملک سلیمان شاه په غیږ کې نا ست ولید ورته یې وویل چې ملکه ! دا څه کړې ؟ ملک سلیمان شاه ور ته وویل چې دا شهزاده د ی لو یوم یې که پا چا شي نو سلطنت به یې زما شي او قوم به مې پرې عزیز او د روند شي ۰

شیخ عثمان ور ته و فر ما یل چې :" د د ې ما شوم ستر ګې لکه یزیدهسي دي چې صحابه(رض) یې قتل کړي او هلاک کړي وو د غسي به ستا قوم هم هلاک کا "

ملک سلیمان ورته وویل چې :

' شیخه داسي مه وایه تا ته داسي نه ښایي، چیرې نه چې په د ې خبره بل څوک خبر شي، خو پا چا یان د چا احسان نه ورکوي ۰ د ی شهزاده د ی چې لوی شي پا چا به شي قام به مې پرې محترم شي "

شیخ عثمان ورته وویل چې ښه ملکه! خبر مې کړې، بیا به وایي چې ما ته د ې نه و ویلي، نورد ې اختیار خپل د ی '

همدا خا ښي خیل وو چې د مرزا الغ بیګ سره یې د کا بل د تخت په نیولو کې ډیره مر سته وکړه او هغه یې د کابل واکمن کړ ۰ میرزا الغ بیګ تر هغه پورې چې کمزوری و، په همد غو پښتنو به یې ځان سا ته، خو کله چې په خپلو پښو ود ریداو پیا وړی شو، نو د پښتنو پر خلاف یې په مخا لفت لاس پورې کړ ۰ الغ بیګ د یو سفز یو او ګګیا نیو تر مینځ بې اتفا قي وا چو له ۰ ورو سته بیا یې د خا ښي خیلو پښتنو مشر انو ته یوه میلمستیا جوړه کړه چې ۹۰۰ تنو پکې ګډون کړی وو، بیا یې د میلمستیا او ډوډۍ خوړلو په وخت کې په نا ځوانمر دانه توګه یې دغه ۹۰۰ تنه له تیغه تیر کړل چې هدیره یې د کا بل په سیاه سنګ کې مؤ قعیت لري ۰ دا پیښه د ۱٤۸۰ او ۱٤۹۰ عیسوي کلو نو په شا او خوا کې پیښه شوې ده ۰

ترد ې خونړۍ او خوا شينوونکې پېښې ور وسته خا ښي خيل پښتا نه د کا بل نه د ننګرهار پر خوا روان شول، تر کلا نيو په لغمان کې واړول او يو سفزي، ګګيانې او اتمان خيل په ننګر هار کې او سيد ل چې وروسته نو موړې د ړې قبيلې په سوات، دير او با جوړ کې ميشته شوې ۰ ورو سته تر کلانې هم د لغمان د خلکو د شکا يت له کبله چې دالغ بيګ د ر بار ته يې کړې و د لغمان نه با جوړ ته وليږ ديد ل چې تر او سه پورې هما غلته ميشته دي ۰

د خانښي خيلود تر کلانې د قبيلې ښا خو نه دادي ۰: سالا رزي، ما موند، ابراهيم خيل، اسوزي او سميل زي ۰

د خانښي خيلو د مندړ د قبيلې ښا خو نه دادي : ابا خيل، عمر خيل، بهزاد خيل، خد و خيل، رځړ، اکوزي، خضر زي، محمود زي، ما نوزي،

د خا ښي خيلو د يو سفز يو د قبيلې ښا خونه دادي : حسنزي، مدا خيل، اکازي، چغر زي، نورزي، اکزي، خواجوزي، با چي زي، رانيزي، ماليزي، سلطانخيل، نصرالدين خيل او پا ينده خيل ۰

ماخوذ ده [95، 96، 97] نه

---

95 پښتني قبيلې، د کتور لطيف ياد، د پيښور چاپ، ۱۰۷-۱۰۸ او ۱۰۹ مخو نه

96 تاريخ حيات افغاني، ۲٤۷ مخ

97 تواريخ حا فظ رحمت خاني، د پير معظم شاه تاليف، پښتو اکيډيمي، پيښور ۱۹۷۱ کال، ٦-۷ مخونه

55 خاکواني

خا کو انې چې د خا وګا ني او خا ګو انې په ښو هم را غلی د ی د پښتنو د سړ بن د ټولنیزې ډلې او د پنج پای په ښا خ پورې یوه تړ لې قبیله ده او با ید دا قبیله دهغو خو ګیا نیو سره چې د ننګر هار ولا یت په خو ږ یا نیو ولسوالۍ کې استوګنه لري او په اصل کې کرلانې پښتا نه دي اشتباه نه شي او یو ونه ګڼل شي ۰

د د غې قبیلې د وګړو شمیر ډیر لږ د ی، خو د قبیلوي پلوه په د وو بر خو ویشل شوي دي چې یوه برخه یې سترخاکو ا نې او بله برخه یې کو چني خا کو ا نې دي چې په کندهار او د نو ر زیو د قبیلې په سیمو کې میشته دي ۰

همداراز یو شمیر خا کو انې په هرات او دهرات په بیلا بیلو ولسو الیو کې میشته دي ۰د غز نې په ولا یت او دغه ولایت په بیلا بیلو ولسو الیو کې هم د خا کو انیو د قبیلې خلک استوګنه لري او داسي ویل کیږي چې د دوی څو کلي د ما کو د کلیو تر څنګ پر ا ته دي چې خلک دوی د خا کو ا نیو ماکو انو په نامه سره یاد وي ۰

خا کو انې زیار کښه او ر ښتیني خلک دي ۰ دوی په میلمه پا لنه او پښتني ننګ او غیر ت با ند ې ولا ړ خلک دي ۰ په ټول افغانستان کې د دوی شمیر د لسو زرو تنو په شا او خوا کې ښو د ل شوي دي ۰

تا ریخ حیات افغاني چې له نن ورځې نه ۱٤٤ کلونه وړ اند ې لیکل شوی او مؤ لف یې ډپټي محمد حیات خان د ی په دیره االسماعیل خا ن کې د خا کو ا نیو د مشر انو په اړ وند داسي لیکي: [98]

د خکو ا نې په قبیله کې غلام سرور خان خا کو ا نی چې د دیره اسما عیل خا ن او سید ونکی د ی د خلکو په مینځ کې د ډیر قد ر وړ او په د ر نه ستر ګه ور ته کتل کیږي ۰ د ده زوی عطا محمد خان

98 تا ریخ حیا ت افغا ني، د پیښور چاپ ۱٦۹ - ۱۷۰ مخونه

هم ډير ښه او بختور سړی د ی ۰ حيا ت افغا ني په ديره اسما عيل خان کې د خا کو ا ښيو شمير په هغه وخت کې اتيا کو رنۍ ښو د لي دي ۰

په اتلسمه عيسوي پيړۍ کې خا کوا ښيو پر ملتان با ند ې حکم چلو لی د ی او نوابي يې د ر لوده چې په د غو نو ابا نو کې يو هم نواب علي محمد خان خا کو انۍ و چې د ملتان د سيمي مقتد ر ګورنر او نواب و چې افغا نستا ن د ستر ټو لواک احمد شاه با با د فر مان له مخې د ملتان ګورنر ټا کل شوی و ۰ د ده د نوا بۍ او ګور نرۍ په وخت کې ملتان د کرنې او زراعت په برخه کې ډيره وده و کړه او دهغه ځای خلک په ډير امن، خو شالۍ او سو کا لۍ کې شپې او ور ځې تير ولې۔ ۰ همداراز نو موړي په کال ۱۷۵۷ ع کال کې په ملتان کې يو ستر جو ما ت هم و دان کړ چې تر ننه پورې دغه جو ما ت شته ۰

د ملتان د خا کو انيو د د قيق شمير په اړوند مې معلو ما ت تر لا سه نه کړ ای شول، خو په او سني و خت کې د ملتان د خا کو ا ښيو نه د د وو مشهورو کسا نو نو مو نه ديا د ونې وړدې۔ ۰ يوهم مشهور و کيل او قا نو نپوه محمد نديم خان خا کو انۍ او بل هم د کر نې د چارو ما هر او متخصص محمد سهيل خان خا کو انې دي ۰[99، 100، 101]

56 ختک

ختک د پښتنو يوه مشهوره او لر غو نې قبيله ده چې د کرلانيو پښتنو پورې اړه لري، چې د خپل لوی نيکه لقمان په و جه چې په ختک سره مشهورشو اونن ورځ د ختکو په نامه سره يا ديږي ۰

د تا ر يخي رو ايتو نو له مخې په پيل کې ختک د جنو بي و زير ستان د شوال په غره کې چې د سليمان د غره شما ل لو يد ېځه لرۍ ده استوګنه د ر لوده ۰ د شوال وادي د بنو په لو يديز کې پر ته ده

99 http://www.answers.com/topic/multan

100 http://en.wikipedia.org/wiki/Multan

101 http://encyclopedia.stateuniversity.com/pages/15513/Multan.html

چې او ږد والی یې شپا ړس میله او پلن والی یې ۸ میله د ی۔ ۰ داسي ویل کیږي چې دوی ۶۰۰ کلو نه وړاند ې له هغه ځا یه د پښتونخوا د بنو سیمې ته راغلل او هلته یې دهني او منګلو د قبیلوسره چې د دوی په خیر کرلانې پښتا نه وو استوګنه غوره کړه ۰ څه موده ورو سته د کرلانیو یوه بله قبیله چې شیتک نو میده او اوس د بنو څیو په نامه سره یادېږي د شوال خوا ته ولیږ دید ل او له هغه ځا یه یې دهني او منګل قبیلې و شړلې او پخپله په هما غه سیمې کې میشته شول ۰ په دغه وخت کې ختک هم له دوی سره استو ګن شول چې د سد راوړ نهر او دهغه د شا او خوا سیمې د ختکو په لاس کې وې، خو تر څه مود ې ورو سته ختک د شیتکو سره د د ښمنۍ په و جه له هغه ځا یه ولیږ دید ل او د کو هاټ په شمال ختیزوبر خو کې میشته شول ۰ د کو هاټ دغه بر خې د چو تړې، ټیرې، لاچي، کر بو غې، شکرد ړې، چراټ او نورو واد یو او سیمو نه عبارت دي ۰ چو تره داو سني کو هاټ د غره(چې په کو ها ټ کې د مالګې د غره جنوب لو یدیزه لړۍ ده) او د لو اغر په مینځ کې یوه زر خیزه واد ی دمـ ۰ د د غې واد ۍ مشهور ځای او د مالګې منډ یي کرک نو میږي ۰ټیرې د کو هاټ له ښاره د ۳۶ میلو په واټن د جنوب خو اته یو مشهور ځای د ی او د کو هاټ د ټیرې تحصیل دهمد ې کبله په دغه نوم با ند ې مشهور شوی د ی۔ ۰ لا چي د کو هاټ له ښار ه د ۱۷ میلو په واټن د جنوب خو اته د سړک پر غاړه پروت د ی ۰

کر بو غه د ټیرې د سیمې په شمال لو یدیز او د ټیرې د قصبې په لو یدیز کې لږ څه د شمال خو اته یوه وادي ده، چې په دغه ځای کې په همد ې نامه سره یو کلی هم شته، دغه ټولې سیمې د کو هاټ د ضلعې د ټیرې په تحصیل پورې اړه لري او د د ې ضلعې په سهیل او سهیل لو یدیزو بر خو کې مو قعیت لري ۰ د شکرد ړې په سیمه کې په همد ې نامه یو کلی هم شته چې نو مو ړې سیمه د کو ها ټ د ضلعې په جنوب ختیزې بر خې با ند ې مشتمله دمـ ۰ په هغه وخت کې کله چې ختکو پر پو رتنۍ سیمې قبضه وکړه او په هغې کې یې استوګنه غوره کړه، نو د کوهاټ داو سنۍ ضلعې ځمکې چې دغه ځای شمال ختیزې بر خې هم پکې شا ملې وې داورکز یو پښتنو په لاس کې وې چې هغوی هم کرلانې پښتا نه شمیرل کیږي ۰

د ګوډ تیمور تر یر غل ۱۳۹۸ ع ورو سته په اغلب ګو مان د پنځلسمې پیړۍ په پیل کې د پښتنو یوې بلې قبیلې یعني بنګښ چې هغوی هم کرلانې پښتا نه دي د کورمې له واد ی نه چې د کو هاټ په شمال لو یدیز کې پروت د ی د کو هاټ لوري ته په لیږد پیل وکړ او د د غې ضلعې د لو یدیزو پو لو نه

تير شول او د د غې قبيلې خلکو کو هاټ ته تګ راتګ پيل کړ ۰ څه موده خو په خير او خير يت سره تيره شوه، خو په پای کې د بنګښو او اورکزو تر مينځ شخړې را مينځ ته شوې چې په د غو جګړوکې خټک د بنګښو ملګر تيا وکړه چې په د غو جګړو کې محمد زيو او تپې ته نږد ې د وه فيصله کوونکې جګړې پيښې شوې چې په د غو جګړو کې بنګښ او د دوی ملګري خټک بر يا لي شول او اورکزي د کو هاټ شما لي غر ونو ته پر شا وتمبول شول چې تر او سه پورې هم هلته استوګنه لري ۰ د د غو جګړو په نتيجه کې چې اورکز يو کو مې سيمې له لا سه ور کړې وې يوه هم د ريسي سيمه وه چې خټکو پرې قبضه وکړه ۰ دغه ځای د کو هاټ په شمال ختيزه برخه کې مو قعيت لري ۰ خټکو پر د غو ټو لو سيمو با ند ې د ۱۵ پيړۍ په پای يا د ۱۶ پيړۍ په لو مړ يو وختو نو کې تسلط ومو ند چې په د غو سيمو کې پيښاله، زيړي، توره ځيړۍ هم شا ملې وې ۰ همداراز خټکو پر شمال ختيزې بر خې باند ې خپله پر ا ختيا جاري و سا تله او د زيړه پر ټو لې واد ۍ او د خوړه نيلاب پر واد ۍ يې هم خپله قبضه ټينګه کړه چې د نيلاب واد ۍ يوه برخه په کو ها ټ او لږه برخه يې په پيښور کې پرته ده ۰ دغه وادي د چراټ د غره د لړۍ او د نيلاب د غره تر مينځ مو قعيت لري ۰ د نيلاب غر داپر يد يو له سيمې نه پيل کيږي او د ختيز خو اته د سند د د رياب تر پورې غاړې پورې رسيږي ۰ نيلاب په عمو مي تو ګه د کو هاټ په ضلعه کې شا مل د ی ۰ د خوړه شما لي برخه د پيښور په ضلعې او جنو بي برخه يې د کو هاټ په ضلعه کې شا مل دي ۰

تر هغه ورو سته کله چې د خټکو قبيلې په شمير کې زيا توالی راغی نو په هما غه تنا سب يې خپلو مقبو ضه سيمو ته پر اختيا ور کړه او اوس هغه پراخه سيمه د دوی په لاس کې ده چې د يوسفزيو د سيمې او د کا بل يا لنډې سيند له شمالي څنډو نيولې تر کا لا باغ، عيسی خيلو، مر وتو، بنو، وزيرو او د سند د د رياب تر لو يديزو څنډو پورې غځيد لې ده ۰

د خټکو شمال ته يو سفزي، لمر پر يو تو ته يې خليل، اپريدي او بنګښ، جنوب ته يې د بنو سيمه او ختيز ته يې ابا سين مو قعيت لري ۰

د خټکو د سيمې اوږد والی شاوخوا سلو ميلو او پلن والی يې پنځوس ميلو ته رسيږي ۰ د خټکو سيمه پر د وو بر خو ويشلې شوې ده چې يو يې شما لي خټک او بل يې جنو بي خټک دي ۰ د جنو بي خټکو په سيمه کې د ما لګې کا نو نه شته ۰ د د ې سيمې ځمکه ميداني او شګلنه ده ۰ غرونه يې شنه او

اباد نه دي ۰ ټيري، لاچي، کرک او شکر د ره د د پ سيمې مشهور ځا يو نه دي ۰

د شما لي خټکو سيمه هم غر نی ده چې د د پ غرونو نه کو مه استفاده نه شي کيد لای ۰ اکوړي، شيد و، نظام پور، امير او امير کلان د د پ سيمې مشهور او لوی کلي دي.

د خټکو د سيمې په لوړو بر خو کې ځينې وړې وړې او سمسورې د ړې هم شته چې په ځينو بر خو کې د ښونو ځنګلي ونې شته ۰ د خټکو په سيمه کې د بهاد ر خيلو د ما لګې کان يا د رنګ ډير مشهورد ی چې د دغه کان د عا يداتو په وجه ډيرې پيسې لاس ته راځي ۰

56.1 د خټکو مشهور ښا خونه

هغه خټک چې د کو هاټ په شمال ختيز کې اباد دي او د کابل د سينده پورې استوګنه لري داکوړه خټکو په نامه سره يادېږي ۰اکوړي د پيښور او نو ښارنه ختيزې لور ته د کا بل سيند په جنو بي خنډو کې مو قعيت لري ۰خټک په اصل کې په د وولو يو ښا خونو يعني تري او بو لاق ويشل شوي دي ۰ دهند پر نيمې وچې با ند پ دانګر يزانو د واکمنی نه وروسته خټک په د ريو نو مو نو اکوړه، ټيرې او سا غري سره يادېږي ۰ ساغري خټک بولاق دي، خو ملک اکوړي چې ذکر به يې وشي تري خټک و ۰

د پښتونخوا مشهور ليکوال اروابناد قا ضي احمد جان د پښتو په مجلې (ستړي مشي) کې په ۱۹۳۲ ع کال کې د خټکو د قبيلې د ښا خو نوپه باب داسې ليکلي دي :

"د خټکو د وه لوی لوی ښاخونه دي. يو د ټيري خټک او بل داکوړي خټک. د ټيري خټک د کوهاټ په ضلع، او په بنو، او پنډی کې آباد دي. او دوی اووه قامونه دي: خورم، سيني، ټيري، بارک، ساغري، بنګي خيل، نصروتي. داکوړي خټک د پيښور ضلع کې سهيل اړخ ته او د کوهاټ ضلع کې لمر پرېواتۀ ته آباد دي. داکوړي خټک ټول سرونه خريې ۰۰ بې دهغو نه چه د کوهاټ په ضلع کې دي.

د 1931ء په مرد م شماري کې د د پ د واړه شاخونو د نارينه ؤ شمېر .... وۀ.

په د پ خټکو کښ د ړې قسم خلق د نورو نه زيات معتبر دي.

1. خان خیل

په د ې نامه د ختکو او د تیري د د واړه تبرو خانـان یـادېږي. او دوی د سپاهیګرت د صـفتونو او د ملک دانتظام د قابلیتونو نه ډک دي. په سول کې ډیر په لویو لویو عهد و باند ې مقرر دي او ډیر په رسـالو پټړو کې سرداران دي.

2. کاکا خیل

دوی د ختکو د زیړي کاکا یعني د شیخ رحمکار صاحب اولاد دي. دهغه زیارت نوښهر ته نـزد ې د ې او د زیارت کاکا صاحب په نوم باند ې مشهور د ې. د کاکا خیلو میاګانو په ټولو پښتنو بانـد ې کـه په رعیت کې دي او که په غیرو علاقو کې ډیر لوی عزت او زور دي. او د پښتنو لویه ستانه ده او وله خلق ډیري ډیري شکرانې او منوتئي ورکوي.

3. فقیر خیل

دا د خوشحال خـان ختـک د مشـر ورور اولاد دي. خلـق ورتـه د بـزر ګـی په سترګه ګـوري او ډیـر تعظیم بې کوي.

ختک خلق عام د پولې پټي کار (زمینداري) کوي او ګډې ږیرې وغیره ډیـرې سـاتي لیکـن اکـثرېکې چې زمکې بې خرابې او غیر آباد ې وي نو د مالکې کریي یعنـي چلـن کـوي او سـوداګري پسـې لـرې لـرې ځي او په پوځ کې بهرتي کېږي. دا وخت هم په پوځ او ملیشه کې د د ریو زرو نه زیات نوکران دي او په سوداګري او نوکري کې دوی اکثر مسافري کړې وي نو ځکه بې د نورو نه خوی خصلت او سړیتوب ښـۀ وي. دوی ډیر سخت خواري کښ او چست چابک او خنده روی خلق دي. دوی د سند رو او د نځاډیر شوقیان دي او د ختکو د بنګړي او د بلبلې نوم خو هر چا اورېـد لـې دي. د پټـړي سپاهیان یـوه تیلـه داره کلاه او زري واسکټ واغوندي ۔

د ختکو نور ښا خو نه دادي:

امندي، نداخيل، بليل خيل، بشبلي خيل، د رغانخيل، ګنډ ا خيل، سمند ر خيل، بهرام، خواجه خيل، نصر تي، لګاړي، عبد لي، لو ګر خيل، بدين خيل، کشيد خيل، ګل دين خيل، چر ګي خيل، علي خان خيل، عالم خان خيل، لشکر خيل، مير ګل خيل، الله داد خيل، اشرف خيل، داور خيل، کامل خيل، حسن خيل، محمود خيل، بادين خيل، شيخ علي خيل، اتمان خيل، د ر پي خيل، بارک خيل، انو خيل، امير جان خيل، تاتار خيل، د وران خيل، او نور ۰ د خټکو يو ښاخ دا با سين نه بله خوا په مکود کې استوګنه لري ۰

د خټکو اکثره ځمکې د بنجر والي له کبله د کر نې وړ نه دي ۰ د خټکو په سيمه کې غنم، با جړ، چنې او با جړ کرل کيږي ۰ همداراز دوی د نا رنجو، ليمو ګانو او انګورو با غو نه هم لري ۰

د خټکو د سيمې معد ني پيداوار مالګه، پټکری او د ډبرو سکاره دي ۰

خټک د نورو پښتنو په څير غير تي، زړور، ننګيالي، ميلمه پال او د علم او زده کړې سره زيا ته مينه لري، همدا سبب د ی چې زيا تره خلک يې با سواده او ښه تکړه ډاکتران، د پو هنتون استادان، انجنيران او د کمپيو ټر ما هر ين لري ۰ په پوځ کې هم ډير خټک په د ند و بو خت دي ۰

د خټکو د قبيلي يوه ښه ځا نګر تيا داده چې لا نجمنې مسالې د جر ګو او ننواتو له لارې اواروي او په عمومي تو ګه د جر ګو د فيصلو او پر ېکړو ډير د رنا وی کوي ۰

خټک په عمو مي ډول د شعر او شا عرۍ او مو سيقۍ سره ډير ه مينه لري، همداوجه ده چې داو چټې پا يې شا عران او د مو سيقۍ فنکاران پکې ډير د ی ۰ دوی د مو سيقۍ په الا تو کې رباب، هار مو نيم، طبله او د مو سيقۍ نور الات استعما لوي ۰ په پښتنو کې د خټکو اتڼ ډير مشهور د ی ۰ په او سني وخت کې ښا غلی بختيار خټک د خټکو د قبيلي نه د پښتو ژبې تکړه سند ر غاړی د ی ۰

د پښتونخوا دايالت د کو هاټ نه سر بيره ډير شمير خټک دانګلستان په پلا زميني لند ن، بر مينګهم، مانچستر او ايلسبري کې او سيږي ۰ همداراز يو شمير خټک د خليج په عر بي هيواد ونو لکه د وبی، قطر او همداراز په مليشيا کې استوګنه لري ۰

د ۱۹٦۱ع کال د سر شمیر نې له مخې د دوی شمیر د ۳۷۸۳۰٤ تنو په شا او خواکې ښود ل شوی و چې ښا یې دا شمیر به اوس ډیر زیات وي چې ا کثره یې په کو هاټ کې او سیږي ۰

56.2 نومیالي خلک

د ختکو مشهور او نو میالي خلک دا دي

1. ملک اکوړې

د خو شال خان غور نیکه دهند د مغو لي واکمن جلال الدین محمداکبر ۹٦۳/۱۰۱۲ ع معا صر چې د مغولي د ر بار له خوا د خیر اباد قصبه او تر نو ښاره پورې سېمې ده ته د جا ګیر په توګه ور کړل شوې وې ۰ ده د لو یې پا چا هي لارې سا تنه کوله ۰ سرای اکوړه چې داکوړه ختکو صد ر مقام د ی هم د ملک اکوړي له خوا ودا ن شوی د ی ۰

2. یحیي خان

د ملک اکوړې مشر زوی چې د خپل پلار تر وفات ورو سته دهغه پر ځای د ختکو د قبیلې مشر و۔

3. شهباز خان د خو شال خان ختک پلار

4. خان علیین مکان ستر خو شال بابا چې د تورې او قلم خا وند و ۰ د مغولو پر خلاف یېډیرې مبارزې کړې دي

د د یوان خاوند واو ډیر کتابو نه یې کښلي دي ۰ مشهور اثار یې د خو شال کلیات، د خو شال خان د یوان، سو اتنامه، طب نامه، با زنامه، د ستار نامه، فراقنامه، فضل نامه، هدا یه، ائینه، صحت البد ن، بیاض، زنځیرې او نور دي ۰[102]

---

102 خو شال خان ختک په ارد و ژبه د د وست محمد خان کامل اثر، پښتو ژباړه د د کتور لطیف یاد، د پیښور چاپ ۳۹- ۵۱ مخونه، ۲۰۰٦ کال

5. اشرف خان هجري

چې مغولي واکمن او رنګزيب بندي کړ او دهند د بيجا پور په زندان کې تر ١٤ کلونو زندان ورو سته وفا ت شو ۰ د ی شاعرو او د د يوان خا وندهم و ۰

6. افضل خان خټک

داشرف خان هجري زوی او د خو شال خان خټک لمسی و د تاريخ مر صع ليکوال چې دافغا نانو تاريخ او انساب پکې راغلي دي ۰

7. عبدا لقاد ر خان خټک چې د د يوان خا وند د ی

8. مشهور مبارز اود پښتو ژبې تکړه او وتلی شا عر ښا غلی اجمل خټک

چې مشهور پښتو اثاريې د غيرت چيغه، باتور، ګل پر هر، تکلونه، دازه پاګل وم، ژوندا و فن، کچکول، دافغان ننګ، د وخت چيغه، د ژوند چيغه، کيسه زما دابدي ژوندا و په ارد و کې جلا وطني کې شا عري دي ۰[103]

9. مشهور ليکوال او محقق اروابناد پريشان خټک ۰

57 خدوزي

د نو لسمي عيسوي پيړی مشهورومؤ ر خينو هر يوه ډ پټي محمد حيات خان په خپل مشهور ا ثر تار يخ حيات افغا ني او د تواريخ خور شيد جهان مؤرخ شير محمد خان ګنډ ا پور چې د واړه نسلا پښتا نه دي د خد وزي د قبيلي ذکر او يا د ونه کړې ده ۰ خد وزي په اصل کې غلجي پښتا نه دي چې زيات شمير خلک يې د غز ني و لا يت د مقر په سيمه کې د علي خيلو غلجيو سره يو ځای پر اته دي او په

103 http://en.wikipedia.org/wiki/Ajmal_Khattak

دغه سيمه کې د ملکيت او ځمکو خا وندان دي ۰ د کندهار ولايت مرکز ته نږ دي په ده خو ا جه نو مي کلي کې هم خد وزي استوګنه لري چې د تا ريخ حيات افغا ني د ليکنې سره سم ۱٤٤ کلو نـه وړ انـد ې د دوی شمير په نو موړي ځای کې ۲۰۰ کو ر نيو ته ر سيده ۰

د تواريخ خو رشيد جهان او حيات افغاني په حواله دوی خپل نسب کله سيدانو او کله هم د ر انيـو پو پلز يو ته منسو بوي، خو په اصل کې دوی غلجي پښتا نه دي ۰

د تاريخ حيات افغاني په قول ۱٤٤ کلو نه وړ اند ې په ټول افغانستان کې د خد و زيو پښتنو مجمـو عي شمير ۲۰۰۰ کوره ښود ل شوی و چې زيا تره خلک يې د کر نې او ما لداری په چا رو بو خت دي

(ماخذونو په حقله د خرڅنو برخه ولټوئ)

58 خد وزي و خرڅين

خر ځين يوه کو چنی قبيله ده چې په اصل کې کرلانې پښتا نـه اود شـمالي و زيـر ستان د د وړو د سيمې د زا نګيټي او وژګي په کليو کې استوګنه لري چې په زانګيټي کـې يـې شـمېر ٦۰ کـو ر نيـو او پـه و ژګي کې ۱٦ کو ر نيو ته ر سيږي ۰ د دوی يو کلی د مده خيلو د تنګي او پيپلي تر مينځ پـروت د ی چـې خر ځين نو ميږي ۰

خر ځين په قبيلوي اتحاد کې پخوا د د وړو سره متحد وو، خو نن ورځ د مـده خيلـو وزيـرو سـره پـه يوه اتحاد کې شا مل دي ۰

د دوی رواجونه او د ود ونه کټ مټ د دوی د ګا ونـډيو د وړو او وزيـرو پـه ځيـر دي ۰ خـر ځيـن زړور او جنګيالي دي او په پښتني ننګ او غيرت ټينګ خلک دي ۰

د خر ځين د قبيلي ځيني ښا خو نه او ځا نګې په لا ند ې ډول د ر پيژ نو :

تير سم خيل، ليو ني، لا د ود خيل، مليا ګي، سيره خيل او سنګر خيل ۰

د خد وزو و خرڅنو په حقله ماخذونه: [104، 105، 106، 107، 108]

59 خروټي

زمور پښت پو هان او تو کم پيژ ند ونکي خروټي د پښتنو د غلجي د ټولنيزې ډلې پورې اړونده قبيله ګڼي چې ډيره مشهوره او هم د شمير له مخې يوه پياوړې قبيله شمير له کيږي چې دافغانستان په بيلا بيلو ولا يتونو لکه پکتيکا، پکتيا، غزني، ميدان او ورد ګو، زابل، کندهار، هيلمند، هرات، کند ز، بغلان، مزار شريف، پروان، کا پيسا، کابل، لوګر اولغمان کې استوګنه لري .

د خرو ټو اصلي ځای ځا يګی او ټا ټوبی د ګو مل سيمه ده چې له اداري پلوه د پکتيکا ولايت پورې يوه اړونده ولسوالي ده . همداراز د دغه ولايت په سروبي، اورګون او سر رو ضه کې هم خر وټي استوګنه لري .

ډپټي محمد حيات خان په خپل مشهور اثر تاريخ حيات افغاني کې چې له نن نه يې ١٤٤ کلو نه وړاند ې کښلی د ی د خرو ټو د سيمې په اړوند داسي ليکلي دي : " خرو ټي په هغو غرو نو کې او

---

104 د پښتنو قبيلو شجرې او مېنې، د پو هنوال محمد عمر روند ميا خيل تا ليف، ميوند خپر وند و يه ټو لنه، ٢٥٦ مخ، ١٣٨٣ کال

105 تاريخ حيات افغا ني، د محمد حيات خان تا ليف، پښتو ژبا ړه د محقق فر هاد ظر يفي او د کتور لطيف ياد، ٣٠٠ مخ، د پيښور چاپ، ٢٠٠٧ کال

106 تو ار يخ خو ر شيد جهان، د شير محمد خان ګنډا پور تا ليف، ٢٢٢ مخ، ١٨٦٧ عيسوي کال، د لا هور چاپ

107 پښتني قبيلي، د د کتور لطيف ياد تا ليف، ١١٧ مخ، د پيښور چاپ، ٢٠٠٧کال

108 اضلاع، ا يجنسيها و قبايل ايا لت پښتو نستان، د قو مو نو او قبا يلو چارو وزارت، ١١١ مخ، ١٣٦٤ کال، د کا بل چاپ

سيږي چې د کټواز په ختيز د سليمان د غره داړوند و سيمو نه تر بر مل پوري پر اته دي۔ ۰ د خرو ټو د سيمې يوه برخه دار ګون سيمه ده چې په هغې کې د پر مليانو قبيلې خلک هم استوګنه لري ۰ خرو ټي په ځينو هغو تنګو ميداني سيمو باند ې هم ولکه لري چې په مينځ کې يې د نګ د نګ غر ونه پر اته دي۔ ۰ دوی څلور کلي لري چې په د غو کليو کې سر رو ضه لو مړنی مقام لري" [109]

د خرو ټو د قبيلې لويديز، شمال لو يديز او جنوب لو يديز ته سليمان خيل استوګنه لري، شمال ته يې د زرمت سيمه او ختيز ته د وزيرو د قبيلې سره پو له لري ۰

خروټي د کر نې او ما لداری په چارو بو خت دي، خو ځيني يې په پوونده ډول هم ژوند کوي يعني کو چيا ني ژو ند لري ۰ د خرو ټو پوونده اوس هم د شلګر او وانې په سيمه کې د کال نيمه برخه تيروي۔ ۰ د تل په کو چيا نو کې د خرو ټو مشهور مشر ملک محمد کر يم خان را جي و چې داعليحضرت محمد ظا هر شاه د وا کمنی په وخت کې يې اعزازي معاش او رتبه هم لر له۔ ۰ د بنو او ديږ په خر وټو کو چيا نو کې مشهور کسان امير خان يحيي خيل، سلطان محمد، روزي خان، مو سی خان ادي خيل او اصحابي امند خيل وو ۰ يو شمير خر وټي په سو دا ګر يزو چارو هم بو خت دي چې په هند و ستان، کر اچی، د وبی، اروپا او امر يکې کې بيلا بيل سو داګريز کا رونه سر ته رسوي ۰ په کر اچی کې دوی يوه کميټه هم لري چې د سر رو ضې د کميټې په نامه يادږي او حا جي امير ګل خر وټی يې مشري کوي ۰ همداراز په کر اچی کې د خر و ټو د قبيلې يو بل مشر حا جي جمعه خان خر وټی د ی چې په افغانستان کې د خپلې قبيلې د بيو زله خلکو سره مالي مر ستې هم کوي ۰

په ګو مله کې له پخوا نه د خر وټو د وې ډلې مشهورې وې چې يوه ډله يې پا سني يا کا بلي خر وټي بلل کيد ل چې لوی مشر يې خوا جه ګی نو ميد، بله ډله ښکتني خرو ټي وو چې مشر يې مخا مد نو ميد چې لوی خان يا شير خان د قطغن نا ئب الحکو مه هم له د غې د و يمې ډلې نه و ۰ داسي و يل کيږي هغه وخت چې ناد ر شاه افشار د غلجيوځواک مات کړ نو ډير شمير خروټي يې ايران ته فراره کړل، خو کله چې بيا شير خان د قطغن نا ئب الحکو مه شو دوی ته يې د زابل په شاه جوی، هيلمنداو کند زکې ځمکې او جا يداد ونه ور کړل ۰

---

109 تا ريخ حيات ا فغاني، پښتو تر جمه، د پيښور چاپ، ۲۹۷-۲۹۹ مخونه

هغه خرو تې چې په کا بل کې استوګنه لري نو د دوی یو شمیر په پغمان، خاک جبار او خورد کا بل کې استوګنه لري ۰ د لغمان ولایت خر وتې د دغه ولا یت په مرکز او د قر غیو په او لسوالی کې ژوند کوي ۰ همداراز د پروان ولایت خر وتې په با ګرام کې هو ابي ډګر ته ځیر مه استوګنه لري.

خروتې غیر تمن، علم خو ښونکي، میلمه پال او دینداره خلک دي ۰ دانګر یز انو سر ه یې په د ر یو تا ریخي جګړو کې ډېرې توري وهلي او هم د رو سي سور ښامار په ګو ندډو کو لو کې یې هم خپل تا ریخي رسا لت په ښه تو ګه سر ته رر سولی د ی ۰ په او سني وخت کې په ټول افغانستان کې د خر وټو مجمو عي شمیر د یو ملیون تنو په شا او خواکې ښو د ل شوي دي ۰

59.1 د خرو ټو د قبیلې ښا خو نه او ځا نګې

خروتې د نورو پښتني قبیلو په ځیر په لا ند نیو ښا خو نو او ځا نګو با ند ې ویشل شوي دي :

زکو خیل، یا خیل، ادیخیل، امند خیل، شمو خیل، سلیما نزي، الو خیل، اد و خیل، مد و خیل، سند و خیل، علي خیل، غوري خیل، علي زي، خد ر خیل، باند زي، کنداخیل، یحیي خیل، کا کل زي، جمال خیل، مالي خیل، للي خیل، خر منځي، مارزک، زوبي خیل، عباس خیل، شهباز خیل، از غر خیل، بهاد ر خیل، نوروز خیل، اشرف خیل، عیسی خیل، سلطا نخیل، بهرام خیل، عصمت خیل او نور ...

59.2 د خر و ټو د قبیلي مشهور کسان

1. د لوی احمد شاه با با په وخت کې د خر وټو د قبیلي لوی ملک او مشر ملک شمس ا لدین نو میده چې ځینې و ختونه یې د وزیرو، ځد رانو او پر ملیا نو د قبیلو سره د مخا لفتو نو په وجه کو چنۍ لا نجې او شخړې هم را مینځ ته شوي دي

2. دامیر د و ست محمد خان په وخت کې د خرو ټو مشران ملک ښادي خان او سرور خان نو مید ل چې د خر وټو د قبیلي ټولې لا نجې او شخړې دهمدوی له خوا حل او فصل کید

لې ۰

3. دامیر عبدالر حمن خان د واکمنۍ په وخت کې ملک نظر شاه، عمر خان، کر یم خان، احمد خان، سر ور خان، خو اجه ګی، ملا ګل خان، ملک سمند راو ملک روزي خان د خر وټو د قبیلې ملکان او قو مي مشران وو چې ورو سته ملک سمند ر دامیر عبدالر حمن خان له خوا اعدام کړل شو ۰

4. داعلیحضرت الغازي امیر اما ن الله خان په وخت کې د خرو ټو د قبیلې یو جید عالم ملا ګل خان خر وټی وچې دامیر اما ن ا لله خان د سپا ر ښتني له مخې یې د کا بل د عبدا لر حمن خان په سرای کې یوه دارا لو کا له هم لر له او مفتي هم و ۰چې بیا د ده تر مړ ینې وروسته ده زوی عنا یت الله مفتي زاده خر وټي چې د کا بل پو هنتون د شر عیا تو په پو هنځي کې یې زده کړې کړې وي د نو موړي د دار الو کالې چا ریې پر مخ بیولې چې بیا نو موړی د روس د ګو ډا ګیا نو له خوا په شهاد ت ورسید ۰

همداراز داعلیحضرت امیر اما ن الله خان د و اکمنۍ په وخت کې دهغو خرو ټو غا ز یا نو نو مو نه چې د خپلو اکې په سپیځلې جګړه کې دانګر یزي ښکیلاګګرو او بلو سګرو په وړ اند ې جنګید لي دي دادي :

1. غازي اصحا بي خان امند خیل

2. غازي ملک روزي خان امند خیل

3. غازي ملک مشتاق با ند زی

4. غازي ملک کندا خیل

5. غازي ملک شیر محمدادیخیل

6. غازي ملک امير خان يحيي خيل

7. غازي ملک شير جان کا کل زی

همدا راز په معا صره د وره کې د خر وټو د قبيلې د نا متو کسانو، قو مي مشر انو او علمي او فر هنګي شخصيتو نو او ديني عا لما نو نو مو نه چې ځينويې له د ې فا ني نړۍ نه ستر ګي پټي کړي او ځيني يې لا ژوندي دي په لاند ې ډول دي :

1. د غازي ملک روزي خان لمسی او د حا جي د راني خان زوی حاجي صفر محمد خاد م، لوی خان او مخور ملي شخصيت .

2. د ملک نور محمد خان زامن ملک جلا لزی او ملک جما لزی.

3. د ملا محمدانور زوی ملا عبدالحی مطمئن

4. د قر يشي جان خان زوی حا جي وکيل محمد معصو م خان د قوم مشر او ټولنيز شخصيت

5. د زابل په و لا يت کښ حا جي مراد خان زوی حا جي عبدالر شيد مشهور په سيد جلال چې سيا سي او علمي شخصيت د ی .

6. د قره باغ په ولسوالۍ کې حا جي احمد خان

7. د پکتيکا په اورګون کې ملک اغا محمد ما رزک

8. د کندهار د ولايت ملي سو داګرد حا جي عمر خان زوی حا جي محمدايوب خان

9. د پکتيکا ولا يت ديني عالم او ملي شخصيت د حا جي محمداعظم خا ن زوی مو لوی عبدالر حيم

10. پخوانی صد راعظم اودافغانستان داسلامي ګو ند مشرانجنير ګلبدين حکمتيار

11. دهرات په ولايت کې ځوان مخور او ملي شخصيت نصير احمد خان با نزی

12. په کر اچی کې قو مي او ملي شخصيت نصر الله خان خر وتی

13. په کر اچی کې قو مي مشر حا جي امير ګل خر وتی

14. په کر اچی کې قو مي مشر حا جي جمعه خان خر وتی

15. د شهزاد خان امند خيل زوی قاري عطاالله

16. د مو لوي محمد رفيق خان زوی مو لوي محمد نور

17. د مو لوي محمد نور زوی فيض الله نوري

18. د ملا عبدالر حمن زوی ملا ګل باران

19. علمي او ټولنيز شخصيت عبدالر حمن حميدي

20. سند رغاړې رحمان خروټي

21. دافغانستان د خلک ديمو کر اتيک ګو ند عمو منشي او جمهور رئيس حفيظ الله امين چې د رو سا نو له خوا ووژل شو

22. داتحاداسلا مي مشر استاد عبدالرب رسول سياف

23. مولوي ار سلا رحماني رو حا ني شخصيت

24. شير خان خرو تی چې په لوی خان سر ه هم شهرت لري او داعليحضرت محمد ظا

هر شاه د واکمنۍ په د وره کې د قطغن نا ئب الحکو مه و چې د شبر خان بند ر دهمده په نامه د ی

25. غلام سر ورنا شر چې په کند ز کې د خرو تو مشر او د سپین زر د فا بر یکې رئیس و .

26. دالحا ج غلام جیلاني نا شر زوی حا جي احمد جان

27. دالحاج مفتي ملا ګل خان خر وتې زوی حیا ت الله مفتي زاده خر وتی

28. د پکتیکا د ولایت نه سنا تور شهنواز خان

29. د غز ني ولا یت نه د پا رلمان و کیل خالد فا روقي

30. د خر وتي د قوم د سراسري شورا بنسټ ا ینبود و نکی او مؤ سس انجنیر مطیع الله مطیع چې لیکوال هم د ی .

31. د وانه دانګور هډې نه د حا جي محمد کر یم زوی حا جي د رګی

32. د لغمان ولا یت نه قو مي مخور ملک سید ملا خر وتی

33. انجنیر نجیب الله راعي

34. څا ر نپوه محب الله خر وتی

35. پو هیالۍ نور ضیا د رابعه خر وتۍ د بنیاد مشره

36. دافغانستان د نړ یوالو څیړ نو او ستر ا تیژۍ د مرکز رئیس صدیق ا لله سا هل

37. د پکتیکا د سر رو ضې نه اکبر جان

38. ر ئيس محمد صديق خان خروتی خورد کا بلی

39. د پروان د ولا يت نه الحاج غلام نبي خر وتی

40. د لغمان د ولا يت نه د کتور احمدالدين خروتی

41. د پکتيکا د ولا يت نه د سيد جان خان زوی الحاج محمدايوب خان خر وتی

42. پکتيکا د ولا يت نه د ملک اغا محمد زوی حا جي خا ګی

43. د پکتيکا د ولا يت نه د حا جي محمد غني خر وتی زوی ملا سپين

44. د کند ز ولايت نه سيد محمودها شمي

45. د کند ز ولا يت نه د حا جي جمعه خان زوی رئيس محمد ګل

46. د کتور نسيم خر وتی

47. مو لوي عبدالر حمن

48. نا جيه سا حل خر وتي

49. انګيزه خر وتي

50. جنرال جسيم خان

51. پخوانی عد ليه وزير معراج الدين خان خر وتی

52. الا هه خر وتي

53. مدير سيد رحمن

54. حا جي حارث خان

ماخوذ د [110] نه

60 خليل

زه عا شق يم سروكار مې د ى له عشقه
نه خليل، نه داؤد زى يم نه مو مند (رحمن با با)

كه چيرې د خليلو د قبيلې د نسب شجره په غور سره تر څيړ نې لا ند ې و نيسو نو جو ته به شي چې دغه قبيله د سړ بني پښتنو د ټولنيز ګروپ پورې اړه لري او د غو ر يا خيلو له پښته را وتلې ده او د دوى لوى نيكه غرى يا غو ريا نو ميد ۰ غوريا څلور زامن د رلود ل . لو مړى د ولت يار چې دهغه او لا ده مو مندا و داؤد زي دي، د ويم خليل، د ريم څمكنى او څلورم ز يړان چې ز يړ اني يې هم بو لي ۰

غو ر يا خيل په مجمو ع كې د خپلوپو ر تنيو ښا خو نو په ګډون په لو مړي سر كې د كندهار په شا او خوا كې مېشته وو ۰ بيا ورو سته د ١٤٥٠ ميلا دي كال په شا او خوا كې د غز ني لو يديز ته د تر نک سيند په خو ا كې يې ا ستو ګنه د ر لو ده ۰په هند كې د مغو لي و اكمنى بنسټ ا ينبو د و نكي ظهير الدين محمد با بر په خپل مشهور اثر توزک با بري كې په مجمو ع كې د غو ر يا خيلو داو سيد و ځاى د مشداو سمګا نه سيمو په شا او خو ا كې ښو د لى د ى چې دا سيمې د غز ني په جنو بي برخه كې پر تې دي ۰

كله چې د غو ر يا خيلو په شمير كې ډير والى راغى نو دوى له غز ني نه كا بل او بيا ننګر هار ته لا ړل او له ننګر هاره د خيبر د تا ريخي د رې له لارې پيښور ته و ليږ ديد ل ۰

---

110 د خرو تي قبيله، دانجنير مطيع الله خر وتي مقا له، د خا وران ويب پا نه

د تا ریخ حیات ا فغا ني مؤ لف ډ پټي محمد حیات خان له نن نه ۱٤٤کلو نه و ړاند ې د خلیلو د قبیلې په اړ وند داسي لیکلي دي :

" د د غې قبیلې شمېر ٦۰۰۰ کوره او د وسله والو کسا نو شمېر یې ۱۲۰۰۰ تنه ښود ل شوي دي۔ ۰ دوی د پیښور په میداني برخه کې استوګنه لري ۰ د د غې قبیلې څوکوره د مو مند و د قبیلې او همداراز د برو د رانیو له نورو څو کو رو نو سره یو ځای په کندهار کې او سیږي او د لته یوازې دوی د برو د ر انیا نو په نامه یا د وي او غا لبا به دوی د د راني ا حمد شاه په و خت کې هلته میشت شوي وي۔ ۰ د کندهار په ښار کې یوه بیله محله د برو د ر انیو له پاره مو جوده ده"

ار وا ښاد علا مه عبدا لشکور ر شادهم د حیات افغاني د کتاب د پښتو ژبا ړې په ۲٤۲ مخ کې د خلیلو د قبیلې په لمن لیک کې د برو د ر انیو په باب لیکلي دي : د کندهار په احمد شا هي ښار کې یو با زار او یوه د روازه د برو په نامه نو مو لې شوې ده چې برو د برو د ر انیو مخفف د ی ۰

د پښتونخوا مشهور لیکوال اروابنا د قا ضي احد جان د پښتو مجلې(ستړي مشي) کې چې په ۱۹۳۲ میلادي کال کې خپره شوېده د خلیلو د قبیلې په اړوند داسي لیکلي دي : د دوی د سیمې ځمکې د کا بل او باړې په سیند ونوخړو بیږي ۰ د د ې قبیلې معتبر خلک ا ر با با ن دي چې د مټا خیلو په ښا خ پورې اړه لري ۰ ویل کیږي چې دا خطاب شا ه جهان پا چادوی ته ور کړی د ی ۰ دوی غښتلي او پیا وړي خلک دي او زیا تره په پوځ او ملیشا کې د نـد ې تر سره کـوي، ځکـه چې دوی د خپلو پیاوړو او غښتلو اندا مو نو له وجې د پو ځي چا رو له پا ره مو زون دي ۰ د د ې قبیلې زیا تره خلـک د پیښـور ښـار او چو ړی ته نږد ې او سیږي ۰

خلیل په پیښور کې د داؤد زیو د قبیلې لو یدیز او جنوب لو یدیز ته پر اته دي۔ ۰ د دوی سیمه شل میله او ږد والی او لس میله پلن والی لري چې بر تهکال، کوز تهکال، سپینه وړی او لنډی د دوی مشـهور کلي دي چې د باړې په ښی غاړه مؤ قعیت لري ۰

خلیل زړور، جنګیالي، علم خو ښوونکي، میلمه پا لو نکي او په پښتو او پښتو نولی با نـد ې ولاړ خلک دي ۰

د د ې قبيلې ځينې ښا خو نه او څا نګې په لا ند ې ډول دي : متا خيل، باروزي، ا سحاکزي، تلزرزي، سالارزي، افوزي، نورزي، متي زي اواکازي او لکه چې د مخه وويل شول د خليلو مشران دار با با نو په نامه يادېږي ۰

د خليلو په نا متو کسا نو کې يو هم د پښتو ژبې مشهور ليکوال، محقق او شا عر ښا غلی همیش خليل د ی چې د ډير شمير علمي اثارو خا وند د ی ۰ همداراز د د ې قبيلې يو بل تن ارباب فتح محمد خان چې د پيښور يو نيو رستې د تا ريخ د څا نګې مشر و ۰ د پيښور په پو هنتون کې د Area study centerکې غړی عبدالله جان خليل هم ديا د ونې وړ علمي شخصيت د ی ۰

د سيا ست په ډګر کې هم د خليلو قبيلې ځيني سيا سي شخصيتو نه ديا د ونې وړدي چې په د غو نو مو نو کې د ښا غلی ار باب جها نګير خان خليل نو م يا د و لای شو چې د پښتونخوا د صو بې وزير اعلی هم و ۰ همداراز د خليلو د قبيلې بل شخصيت ارباب عا لمګير خان خليل و چې د مخا بر اتوفد رال وزير د ی ۰ د خليلو د قبيلې د ځينې نور و هغو ار با بو نو په جمله کې چې ځينو يې د و لتي د ند ې هم د ر لو د لي دي د لا ند نيو کسانو نو مو نه ديا د ونې وړ دي :

ارباب ولي محمد خان، ار باب نور محمد خان، ار باب ظا هر خان، ارباب امداد خان، ار باب محمد فر يد، ار با بزاده حبيب الله، ارباب هدايت الله، ار باب سيداحمد، ارباب اسلا م زيب خان، ار باب محمد صفد ر حيات، اربا بزاده عطا ؤالله، ارباب اسفنديار خان او ارباب احمد علي جان ۰

ماخوذ د [111، 112] نه

---

111 http://www.khyber.org/pashtotribes/k/khalil.shtml

112 پښتا نه د تا ريخ په رڼا کې، د سيد بهاد ر شاه ظفر کا کا خيل تا ليف، پيښور يو يو ر سټي بک ايجنسي، ۱۳۲۵ مخ، د ۱۹۶۲ ميلادي کال چاپ۔

61 خوږياني

خوږيا نې د پښتنو يوه مشهوره قبيله ده چې د کرلانې پښتنو په ټولنيز ګروپ کې شا مله ده. د پښتنو د عنعنوي شجرو له مخې خوږيانې د ککي زوی او د کر لان لمسی د ی ۰د تاريخي رو ايتو نو له مخې په پيل کې د خو ږيا نيو د قبيلې خلکو په خو ست کې استوګنه د ر لوده، چې دهند د مغو لي واکمن نو رالدين جها نګير ۱۵۶۹-۱۶۲۷ ميلادي د واکمنۍ په وخت کې د زرمت د سېمې ځينو غلجيو قبيلو پر دوی ير غل وکړ او دوی له د غې سيمې نه خپل او سني ټا ټو بي ته چې پکې مې شته دي وليږ ديـــــــ

مېر ګټ خيل، شمن خيل، پيرالي خيل، هلال خيل، ښادي خيل، عيسى خيل، علي خيل، بارک، عبدالرحمن، مند وزي، ګير يخيل، يحيي خيل، سليما نخيل، لنډه خيل او با مه خي۔

د د غې قبيلې په اړ وند بيلا بيلو مؤ رخينو ډېر څه ليکلي دي چې په د غوکتا بو نو کې د لا ند نيوتاريخي کتا بو نو مو نه يا د ولای شو: د ډېټي محمد حيات خان تا ريخ حيات افغا ني چې له نن نه ۱٤٤ کلو نه وړاند ې ليکل شوی د ی ۰د زردار خان ناغر تا ريخ ,صو لت افغاني او تواريخ خور شيد جهان د شير محمد خان ګنډاپور اثر ۰انګرېزي مؤرخ مونټ ستوارټ الفنستن هم په خپل اثر د کا بل سلطنت بيان An Account of Kingdom Of Cabul او نورو ګڼ شمېر افغاني مؤ رخينو لکه اروابناد علا مه استا د حبيبي او استاداحمد علي کهزادهم د د غې قبيلې ذکر او ياد ونه کړې ده ۰لکه څنګه چې د مخه وويل شول چې د خو ړيا نيو د قبيلې په اړوند ډېرې تا ريخي ليکنې شوي دي چې په د غو ليکنو کې چې د د غې قبيلې په اړوند شوي دي يوه هم د ډېټي محمد حيات خان ليکنه ده ۰ د ی په خپل تا ريخي اثر کې چې ۱٤٤ کلو نه يې وړاند ې يې په ارد و ژبه ليکلی او بيا دارد و نه په انګر يزي او وروسته د افغانستان د علو مو داکيډ يمي له خوا په پښتو هم ژباړل شوی د ی د خو ړيا نيو د قبيلې په اړوند داسي ليکلي دي:

خوړيانې د ننګر هار په لو ېد ېزاو د سپين غره په شمال کې استوګنه لري چې په دوی کې د شېر زاد داولاد ې شمېر زيا ت د ی ۰دهند د مغولي واکمن شاه جهان ۱۵۹۲-۱٦٦٦ ميلادي د تخت کينا ستلو په لو مړي کال د ښادي خيلو او د بارک داولاد ې لقمان تر مينځ يو لړ شخړې او لانجې را مينځ ته شوې چې په د غو شخړو او لا نجو کې د لقمان ښاخ د خد ر خيلو په مر سته ښادي خيل وځپل چې ښادي خيلو بيا د غلجيو پښتنو سيمو ته پناه يووړه او له هغوی نه يې مر سته وغو ښته ۰ غلجيو د دوی مر ستې ته ملا وتړله او د کابل د مغو لي صو به دار سيد خان په ملګر تيا يې د دوی د مخا لفينو سره سختې جګړې وکړې چې په د غو جګړو کې د بارک داولاد ې نه ۹۰۰۰ زره تنه ووژل شول ۰

پاتې د ې نه وي چې د خوړيا نيو د قبيلې ځينې ښا خو نه د خو ست په ولايت کې هم استوګنه لري چې په د غو قبيلو کې د پر به او مند وزي قبيلو نو مو نه دياد ونې وړ د ی، خو اوس پر به او مند وزي له پا تې خو ړيا نيو نه د و مره لېرې دي چې دوی پخپله هم په د ې نه پو هيږي چې د خوړيا نيو سره کومې قبيلوي اړيکي لري که نه ۰ يو شمېر خو ړيا ني د ننګر هار د ولايت په مرکز جلال اباد، کا بل اوکند ز کې هم استوګنه لري ۰

خو ږ يا نې په عمو مي تو ګه د کر نې او مالداری په چارو بو خت دي ۔ د دوی په ځمکو کې غنم، جوار او د کر نې نور محصو لات تو ليديږي ۔ په د وبي کې يې هوا معتد له، خو په ژمي کې سړه او واوره پکې اوري ۔ د ميملې مشهور او تا ريخي بڼ هم د خو ږ يا نيو په ولسوالی کې مو قعيت لري ۔ خو ږيا نې زړور، غير تمن، جنګيالي، په هېواد مين او ميلمه پا لو نکي خلک دي ۔ دانګر يزي ير غلګرو سره په د رې ګو نو جګړو کې يې ډېرې توري وهلي او د روسي ير غلګرو په وړاند ې هم په نره جنګيد لي دي او خپل هيواد نی رسالت يې په ښه تو ګه سر ته رسولی د ی ۔

61.1 نامتو خلق

د خوږ يا نيو په مشهورو کسا نو کې چې دانګرېزانوا و رو سا نو پر خلاف جنګيد لي دي دغه کسان مشهور دي:

1. ملک قيس چې د خپلواکی په جګړو کې دانګرېز انو سر ه جنګيد لی و ۔
2. د روسي ير غلګرو په وړاند ې د مبارزې يو مشهور مشر مولوي محمد يو نس خا لص
3. قو ماندان زمان

د خو ږيا نيو مشهور پيژ ند ل شوي سيا سي شخصيتونه، ليکوالان او شا عران دادي :

1. اروابښاد يو سف ميړنی دافغان ملت د ګو ند د رهبری هيات غړی چې د روس د مز د ورانو له خوا شهيد شو ۔
2. ښا غلی فاروق ميړنی په پا رلمان کې د خلکو استازی ۔
3. اروابښاد والی حا جي محمداصف خان چې دهېواد د پو هنې او معارف په برخه کې يې هم د قد ر وړ خد متو نه تر سره کړي وو ۔
4. ښا غلی عبدالرؤف قتيل خو ږيا نی مشهور ليکوال، ژور نا ليست او شا عر ۔
5. ښا غلی استاد غلام د ستګير ړنګ چې د پو هنې په برخه کې يې د قد ر وړ خد متو نه کړي دي ۔
6. ښا غلی عبداللطيف منت بار خو ږيانی د پښتو ژبې شا عر

7. ښا غلی اقا محمد ګړ ند ی شا عر او د پو هنې د ډګر یوتکړه خد متګار

8. د پښتو ژبې شا عره او لیکواله کبرا مظهري

9. د پښو ژبې شاعره او لیکواله بلقیس مکښ

10. ښا غلی متین خو ږیانۍ شاعر او لیکوال

11. ښاغلی قتیلزوی

12. ښا غلی اروابښاد سنا تور محمدامین خو ږیا نی چې دهېواد تکړه لیکوال او محقق۔

13. دهېواد سیا سي شخصیت ښا غلی عبدالصمد حا مد چې د محمد ظا هر شاه د واکمنۍ په وخت کې د صدارت مر ستیال و۔

ماخوذ د ([113]، [114]، [115]، [116]، [117])

62 خوندي

ز مور پښت پو هان او نسب پېژ ند ونکي خو ندي د غر غښتي پښتنو د ټو لنېز ګروپ پورې اړونـده قبېله بولي او داسې ویل کیږي چې دوی د داوي قبېلې یوه وصلي ځا نګه ده۔ د خـو نـدي پـه اړونـد داسـې روایتونه هم شته چې د داني زوی داوي چې د غرغښت لمسی و د یوې سید ې کو نډې سره نکـاح وټړلـه

113تاریخ حیات افغاني، د محمد حیات خان لیکنه، پښتو ژبړه، ۳۵۲ مخ، د پیښور چاپ

114پښتني قبېلې، د د کتور لطیف یاداټر، ۱۲۱-۱۲۳ مخونه، د پیښور چاپ

115پښتانه د تاریخ په رڼا کې، د سید بهاد ر شاه ظفر کاکا خیا تالیف، ۱۳۸۸- ۱۳۸۹ مخونه

116معلومات مختصر د ر باره اقوام وقبا ئل ولا یات سر حدي کشور، ۳۹ مخ

117د پښتنو قبیلو شجرې او مېنې، د پو هنوال محمد عمر روند میا خیل اثر، ۳۶۰-۳۶۱ مخونه، میوند خپر نـد ویـه ټـو لنه

چې د خپل زوی او څلورو لمسیو سره یو ځای د خجند نه ملتان ته د خپلې خور د لېد لو لـه پـاره پـه سـفر راوتلې وه۔ د غې ښځې د خپل پخواني مېړه نه چې کوم زوی د ر لود دهغه نوم سید حسین و، چې سید حسین بیا د بلیل، سکند ر، موسی او علي په نو مو نو څلور زامن د ر لـود ل چې دوی په وصلي ډول د داوي په قبیله کې شا مل شول ۰ د د ې له پاره چې دغه ښځه، زوی او لمسیان یې له د ې سره یـو ځـای د خجند له سېمې نه را غلي ول نو پښتنو ورته خجندیان ویل چې د وخـت پـه تېرېـد و سـره دوی د خجنـد نوم په خپلې ور ځنی محاوره کې په خو ندي بد ل کړ، نو ځکه یې خو ندي بولي ۰

خوندي تر یوې مود ې پورې د داوي د قبېلې او نورو غـر غښتیا نـو سـره پـه ګټه او تـا وان کـې شـر ېک ول، خو د شمېر د ډېر والـي لـه کبلـه یـوه جلا قبېلـه تـرې جـوړه شـوه چـې اوس یـې خـو نـدي بـولي ۰ خوندي زیاتره د کندهار په شا او خوا سېمو کې استوګنه لري، خو شمېر یې د و مره ډېر نه د ې۔

ماخوذ ده ([118]، [119]، [120]) نه۔

63 خیسوري

خیسور په اصل کې متوزي پښتانه دي چې په غلجیو پښتنو ور ګډېږي او ځا نـو نـه د لـودي او لاده ګڼي۔ تاریخ حیات افغاني او تواریخ خور شید جهان د خیسورد قبیلې په اړونـد متفـق الرایـه دي او ګـډ لیـد لري او وایې چې د خیسور قبېلې خلک ځا نونه د لودي د لمسي پرې انګـي او لاده بـو لـي۔ خیسـور د عمـر خیلو په نامه سره هم مشهور دي۔

د خیسور قبیلې سېمه د سند د د ریاب لو یـد ېز تـه پـر تـه ده۔ د دوی د سیمې شـمال تـه د عیسـی

118تاریخ حیات افغاني، د ډېټي محمـد حیـات خـان اثـر، پښـتو ژبـاړه، ۳۱۵، ٤٥۳ او ٤٥٤ مخونه، د دانـش چـاپ، پېښور، ۲۰۰۷ میلادي کال

119پښتني قبیلې، د د کتور لطیف یاد تا لیف، د ویم چاپ، ۱۲٤، ۱۲۷ او ۱۲۸ مخونه، د پېښـور د دانـش د مطبعـې چـــــــ

خپلو سپمه، لو پد پز ته پې يو کو چنی غر چې پښاله او يا پلیا نه نو میږي او د مر وتو سپمه پر ته ده۔ د د پې ځای د خلکو ونې ټپټې، غنم رنګه او ډنګر دي ۰ د تا ریخ حیات افغاني چې له نن نه ۱٤٤ کلو نه وړاند پې لیکل شوی د ی د دوی شمېر په هغه وخت کې د ۳۰۰ کو رنیو په شا او خوا کې ښو د لی د ی ۰ د دوی په سپمه کې د خر ما ډېرې ونې شته ۰

ماخوذ ده ([121]، [122]، [123]) نه۔

64 خپشکي

خیشکي یا خویشکي په پښتنو کې یوه مشهوره قبیله ده۔ ۰ که چېرې د د غې قبیلې د نسب ونه (شجره) په غور سره وګورو، نو جو ته به شي چې دوی د پښتنو د سړبن په ټو لنېز ګروپ او ډلې پورې اړه لري او په همد پې ټو لنېز ګروپ کې د ځمنداولا ده ده ۰

تاریخ حیات افغاني د خیشکو د قبیلې په اړ وند داسې لیکلي دي ([124]):

"د ځمند قبیله په پیل کې د کندهار په شا او خوا ارغستان ته نږد پې مېشته وه او د ۸۰۰-۹۰۰ هجري کلو نو تر مینځ د پښین یا پشین سیمه چې پشنګ هم بلل کید له دهمد پې قبیلې په لاس کې وه، چې روسته بیا د پښتنو یوې بلې قبیلې ترین دغه سپمه په زور له دوی نه ونېو له او دوی بې له د غې سپمې

121تاریخ حیات افغاني، د ډېټي محمد حیات خان اثر، پښتو ژباړه، ۳۱۵، ٤٥۳ او ٤٥٤ مخونه، د دانش چاپ، پیښور، ۲۰۰۷ میلادي کال

122پښتني قبیلې، د د کتور لطیف یاد تا لیف، د ویم چاپ، ۱۲٤، ۱۲۷ او ۱۲۸ مخونه، د پیښور د دانش د مطبعې چاپ ۲۰۰۷ میلادي کال

123تواریخ خور شید جهان، د شیر محمد خان ګنډ ا پور لیکنه، ۲۲۹ مخ، ۱۸٦۷ کال، لا هور

124تاریخ حیا ت افغا ني، پښتو ژباړه د محقق ظر یفي او د کتور لطیف یاد، پیښور، د دانش چاپ، ۲٤٥- ۲٤٦ مخونه

نه ښواکه کړل۔ ۰ په دغه وخت کې د ځمنـد و او لاده خیشکي هـم چې د لتـه او سـبد ل کـډوالی او مهاجرت ته اړ ویستل شول ۰ په دغه وخت کې د خښکو د قبیلې یو شمېرخلک د پشین نه ملتان ته لاړل او هغه ځای یې د خپلې استو ګنې له پاره غوره کړ، خو یو شمېر نور خیشکي غز ني او بیا پر هغې لار کـا بل ته را غلل او له دغه ځا یه بیا د غو ر بند د ري ته ولېږ د ېد ل او دغه سېمه یې د خپلې استو ګنې لـه پاره غوره کړه چې تر اوسه پورې هم ډېر شمېر خیشکي د پروان ولایت د غو ربند د ولسوالی په ښلا ښلا د رو کې مېشته دي۔"

هغه وخت چې دهند مغو لي واکمن ظهیر الدین محمد با بر ۹۳۲- ۹۳۷ هجـري کـا بـل ونښـو او تـر څه مود ې ورو سته یې پر هند با ند ې دیر غل تکل وکړ، یو شمېر هغو خیشکو ته چې په غور بند کې ور ته او سېد ل ګران ښکاره شول نو د خپل یو پیر په لا رښوونه دهند وستان خواته رهـي شـول ۰ دافسـا نـوي روایتو نو له مخې د دوی پیر دوی ته داو سپنې یو میخ ور کړ او ورته یې وویل په هغه ځمکه کې چې دغـه میخ ننوزي، نو هغه به ستا سو سېمه او ملک وي۔ کله چې زیا تره خیشکي او ځمند په ډله اېزه تـو ګـه لـه کا بله پېښور او له هغه ځا یه هند و ستان ته روان شول، نو په دغه وخت کې د دوی د قـبیلې مشـر سـلیم خان ځمند نو میداو په هغه وخت کې چې بـابر دهنـد و سـتان د لـودي پښـتني واکمنـی د وروسـتي واکمـن سلطان ابر اهیم لودي سره په پا ني پت کې په جګړه بو خت و، نو د غو خیشـکو د سـلیم خـان ځمنـد تـر مشری لا ند ې د بابر په پلوی جګړه کو له چې ویل کیږي چې په د غو جګړو کې د دوی ۷۰۰ تنه ووژل شول، همداوجه وه چې بابر او دهغه زوی همـا یـون پـر دوی ډېـره لـو رېښـه د رلـو د لـه ۰ دوی بیـا پـه هغـه ځای کې مېشته شول چې نن ورځ د قصور ښار پروت د ی او د لا هور ختېزې بر خې ته مؤ قعیت لري او نن ورځ یې د خلکو شمېر ۲۳۷۶۰۰۰ تنو ته رسیږي چې زیا تره یې خیشکي پښتا نه دي ۰

دغه خیشکې چې په قصور کې او سیږي نو دوی ته افاغنه قصوریان یا د قصـور پټانـان وایـي چـې د تاریخي روایتونو سره سم دوی د ۱۵۲۶ میلادي کـال راهیسي پـه دغـه سـېمه کـې او سیږي چـې د دوی د سېمې رقبه ۱۸۹۱ کیلو متر مر بع ښود ل شوې ده ۰ د غو خیشکو یا قصـوریه پټانـانو تـر ۱۸۰۷ میلادي کـا له پورې پر د غې سېمې واکمني او راج کاوه چې شهنواز خان خیشکی د مغو لو پـه پـوځ کـې سـتر جنـرال تېر شوی د ی ۰بیا وروسته کله چې رنجیت سنګ د قصور سېمه ونیوله نودوی ته وویل شول چـې د سـتلج د سیند کښه برخه پریږدي ۰

هغه وخت چې خیشکي او ځمند په قصور کې مېشته ول، نو د سپره پـه نـامه یـو تـن بلـوڅ د خپـل

قوم له يوې ډلې سره د دوی سېمې ته راته او د دوی په سېمه کې به يې لو ټماري کو له، د د غې لو ټماريو د مخنيوي له پاره د دوی ځينې ځا نګې او خيلو نه لکه بټک زي، شها بن زي، سلماک او کز لا ني د قصور د سېمې لو يد ېز ته مېشته شول او دوی د دغه لو ټمار د برېد ونو مخه ونېوله چې ورو سته يې دوی ته د بر يا پور تني کلي استو ګن ويل ۰

خيشکي زړور، جنګيالي، ميلمه پال او په علم او پو هې با ند ې مين خلک دي ۰

64.1 د خيشکو داستو ګنې سېمې

په او سني وخت کې خيشکي په لا ند نيو سيمو کې استوګنه لري :

1. د افغانستان د پروان ولايت د غوربند په ولسوالۍ کې

په دغه ولسوالۍ کې خيشکي د تيخان، يخد رې او سيدانو په د رو کې استوګنه لري چې په دغه ولسوالۍ کې د خيشکو شمېر د ۲۵۰۰۰ تنو په شا او خو اکې ښو د ل شوي دي۔ ۰ خلک يې اکثره د کر کيلې په چا رو بو خت د ی او د با دامو، منو، زردالو، توتانو، ګيلا سو او الو با لو با غو نه لري۔

2. په غور بند کې د خيشکو ښا خو نه:

شا هي خيل، ملي خيل، علم خيل چې بيا علم خيل د بارخيل، سليمان خيل، خليل خيل او يا روم خيل په ځا نګو ويشل شوي دي ۰

3. په کندهار او پښين کې:

که څه هم په نو موږو ځا يو نو کې د دوی شمېر زيا ت نه د ی، خو دوی هلته زيا تره د سو داګرۍ په چا رو بو خت دي ۰ د کندهار ولا يت دار غنداب ولسوالۍ په پو رتنۍ برخه کې د خيشکو په نامه يو کلی شته چې د مشهور ستانه با با ولي صا حب د مزار نه چې د خا صو و عا مو ز يا رتځی د ی څلور کيلو متره واټن لري چې تقر يبا د لسو کو رنيو په شا او خواکې خيشکي هلته مېشته دي ۰

4. په پښتونخوا کې :

خیشکي د پښتونخوا په لا ند نیو ځا یو نو کې استوګنه لري:

1. د پیښور په ګینټه ګهر کې چې هلته د خیشکو په نامه یو ه محله شته .
2. په چا رسده کې هم د خیشکو څو کو رنۍ شته .
3. په هزاره کې هم د خیشکویو شمېر کو رنۍ مېشته دي .
4. په خیشکي پایان او خیشکي بالا کې .
5. د نوشهره کلان په شمال کې د لنډې د سیند پر غاړه د خیشکي په نامه کلی شته .
6. په اشنغر کې هم د دوی یو کلی شته چې د شجا عت خان شموزي له خوا اباد شوی دي۔
7. د کابل سیند شمال ته د مومند و په غر نیو سیمو کې هم یو شمېر خیشکي مېشته دي .
8. د خیبر د تا ریخي د رې په مینځ کې هم یو شمېر خیشکي استوګنه لري .
9. په د ېره اسما عیل خان کې .
10. په بنو کې .
11. په لکي مروت کې .

5. په پنجاب کې:

1. خیشکي د لا هور په قصور کې مېشته دي چې هلته ورته قصوریه افغانان یا پټانان وایې چې د پاکستان یو پخوانی د بهر نیو چارو وزیر خو رشیداحمد خان قصوري هم دهمد ې قصوریه پټانانو ځیني یو پښتون د ی چې د خیشکي په قبیلې پورې اړه لري .
2. په ملتان کې .
3. په هیرو وال کې .
4. په تانده کې .

6. په هند و ستان کې

يو شمير خيشكي هند و ستان کې هم ژوند کوي چې سيمې يې په لا ند ې ډول دي :

1. په خو رجه کې چې دهند داترا پرادیش په ایالت کې مو قعیت لري ۰

64.2 د خیشکو مشهور نو میا لي

جنرال محمود خان، جنرال شاه نظر خان او شهنواز خان خیشکي د مغو لو په پوځ کې مشهور جنرالان تېر شوي دي۔ همد راز سلیم خان ځمندهم د قصوري خیشکو مشر ؤو۔

64.3 د خیشکوستر عارفان او صو فیان

عبد لله خیشکی قصوري چشتي چې عبدي تخلص يې کاوه او د زوکړې نېټه يې ۱۰۴۲ لمریز کال د ی ۰ د ی د خپل وخت ستر عارف، صو في او ستا نه تیر شوی د ی۔ ۰ ده د ۷۰ په شا او خوکې کتا بو نه کښلي وو ۰ د ده د مهمو اثارو نه یو هم (اخبار الا ولیا من لسان الا صفیا) نو میږي چې د ۱۶۳ تنو خیشکي صو فیا نو تذ کره ده ۰

د خیشکو نو ر صو فیان دادي: حاجي ګګن شوریا نی خیشکی، شیخ یحیی، مو لا نا احمد، خواجه اویس، شیخ محمد، عبدالله، شیخ نبو کی، حا جي میا، شیخ متو، شیخ د رانی، شیخ الله داد، شیخ با یزید، ابر اهیم، شیخ سد و، حاجي محمد چو لي، شیخ مبارک، شیخ پا ینده، شیر خان، پیر رحمت، محمد خان، پیر رحیمداد خان، پیر اد م حسین، شیخ ملهي، شیخ حره، شیخ احمداتوزی، شیخ وتو خیشکی، نتمو، اخوند سعید، میان الحق، حا جي رحیمداد، عبدالخالق، حا جي میر، شیخ عالم، شیخ با بر، شیخ بو چه، شیخ هناک، شیخ صا حب، شیخ رکن الدین، شیخ یو سف، شیخ شمس الدین، شیخ خالو، شیخ حسن، حا جي احمد، شیخ لا لو، شیخ عیسی، شیخ ضحاک، معري خان، شیخ حلو، محمد خان، شیخ با یزید، شیخ میرک، شیخ جهان، شیخ اسما عیل، شیخ سنګو، شیخ عمر، شیخ ابر اهیم، محمد خان، یار محمد، عا لم خان، شیخ مردان، شیخ جا نو، مو لا نا خواجه شیخ محمد، شیخ داؤد، مو لا نا عبدالو احداو شیخ ډانګ مار ۰

د پښتو ژبې مشهور شا عر او صوفي او د د یوان خا وندارزاني چې د با یز یدانصاري (پیر روښان) همعصره و هم د خیشکو د عزیزي د خا نګې پورې يې اړه د ر لوده ۰

د کا بل پو هنتون د ژبو او اد بیا تو د پو هنځي د پښتو څا نګي استاد ښا غلی محمد صا بر خیشکی چې یو وخت د افغانستان د علو مو اکا ډمی علمي غړی او د کا بل د مجلې مسئول مد یرو هم د غور بند د سیمې خیشکی د ی چې پښتو ژبې، اد ب، ګر امر او ژبپو هنې ته یې د قد ر وړ علمي خد متو نه کړي دي۔

ماخوذ د ([125]، [126]، [127]، [128]، [129]، [130]، [131]) نه۔

65 داؤد زي

زه عا شق یم سروکار مې د ی له عشقه

نه خلیل، نه داود زی یم، نه مو مند

(رحمان بابا)

زمور پښت پو هان (نسب پیژ ند ونکي) داود زي د سړ بني پښتنود ټولنیز ګروپ پورې یوه اړ ونده قبیله ګڼي چې له اره غوریا خیل دي ۰ د نسب د شجرې سره سم غوریا څلور زامن د رلود ل چې د ولت یار، خلیل، څمکني او زیړ اني نو مید ل ۰ د ولت یار د وه زامن د ر لود ل چې یو یې مو منداو بل یې

125پښتني قبیلې، د د کتور لطیف یاد تا لیف، د پیښور چاپ، ۱۲٤، ۱۲۵، ۱۲٦، ۱۲۷ او ۱۲۸ مخونه

126تواریخ خورشید جهان، د شیر محمد خان ګنډا پور لیکنه، د لا هور چاپ

127د غوربند د سیمې یو تن تکړه ژورنالیست ښا غلی محمدالدین خیشکي نه تر لا سه شوي معلومات

khyber.org128

trekearth.com/gallery/Asia/Pakistan/West/North-West_Frontier/Kheshki_Payan/photo825542.htm129

130پښتانه د تا ریخ په رڼا کې، ۱۳۲۵- ۱۳۲٦ مخو نه

http://en.wikipedia.org/wiki/Kasur_District131

داود نو مېد ل چې بيا د داوداو لاده په داود زيو سره مشهوره او تر ننه پورې په همد ې نامه سره يادېږي ۰

د پښتانه د تاريخ په رڼا کې د کتاب ښاغلی مؤلف سيد بهاد رشاه ظفر کا کا خيل د داود زيو پښتنو په اړوند داسي ليکلي دي:

" داود زي هم سړ بني پښتانه دي او د غو ر يا خيلو پښتنو له ډلې شمېرل کيږي ۰ داود زي د پيښور په ميداني برخه او د کابل سيند په سهيلي برخه کې مېشته دي۔ ۰ شمال ته يې مهمنزي او جنوب لويد ېز ته يې خليل پر اته دي ۰ د غور يا خيلو د مها جرت په وخت کې د دوی کردار واضح نه د ی ۰ ويل کيږي چې دوی د خان ګجو ([132]) مر سته حا صله کړې وه او دهغه په بر کت د سېمې په علا قه کې د کلپا نې پر غاړه استو ګن شوي دي، خو په پای کې دوی د پيښور په قطبي علا قه کې د کا بل سيند د ښا خونو په مېنځ کې اباد شول چې د دوی دغه سېمه ډېره زر خپره ده۔([133])

---

132 کجو خان رانيزی د پښتنو يو خورا نو ميالی مشروچې د علم او پو هې څښتن و چې نا متو انګر ېزي ختيز پيژ ند ونکي راورتې د ده يو کتاب چې د پښتنو تا ريخ نو ميږي او په ١٤٩٤ ميلادي يا په ٩٠٠ هجري کال کې ليکل شوی د ی ليد لی و چې له بده مر غه اوس ورک د ی او ښا يې چې د برېتا نيې په کوم ميو زيم کې به خو ندي وي، ځکه د لوی استادارواښاد علا مه حبيبي په قول د راورتې ټول کړي کتا بو نه د ده تر مړنې ورو سته نه دي ضا يع شوي او زيا تره د لند ن په ميو زيمو نو کې خو ندي دي ۰ داسي ويل کيږي چې خان ګجو په خپل عصر کې تر ټو لو لوی مقتد ر او غښتلی ملک و ۰ تا رخ حيات افغا ني ګجو خان رانيزی دهند د ستر پښتون ټولواک سوري شير شاه معا صر بولي او هغه جګړه چې په شيخ ټپور(زاړه نو ښار) کې پېښه شوې ده خان کجو يې قائد و ۰ خان کجو د ټو لو خښي، محمد زيو، اتمانخيلو، ګد ون او تر کلا نيو قبيلو مشر و او د شيخ ټپور په جګړه کې چې په کال ٩٥٧ هجري کې وشوه د سلو زرو تنو ځوانا نو يو غښتلی پو ځ يې جوړ کړی و او د با جوړ او د يو سفز يو اوسنۍ ټو له سېمه يې نېولې او د د لا زاکو قبيله يې له د غو سېمو نه بې واکه کړې وه او د شيخ ملي قو انين يې د ځمکو په ويش کې جاري کړي وو۔ داستاد علامه حبيبي په قول (د پښتو اد بياتو تاريخ لو مړی او د ويم ټوک ٦٣٧- ٦٣٨- ٦٣٩ مخو نه د پيښور چاپ) د خان ګجو قبر اوس هم د سوابۍ او مردان تر مينځ پر يوې لو يې غو نډۍ با ند ې د ی چې خلک يې د د ګجو غو نډۍ بولي او د شا ه منصور نه شپږ ميله واټن لري ۰ د ده او لاده تر او سه هم د کلا بټ په سېمه کې شته

133 پښتانه د تاريخ په رڼا کې، ١٣٢٤- ١٣٢٥ مخو نه

65.1 د داود زیو د قبیلې ښا خو نه او څا نګې

د داود زیو قبیله په لو مړي سر کې په د ریو ښا خو نو با ند ې ویشلې شوې ده چې لو مړی یې مندیا مند کی، د ویم یې مامور او د رېیم یې یو سف دي ۰ د منداو لاده د بابوزي، حسین زي او نیکوزي په څا نګو ویشلې شوې ده ۰ همداراز د ما مور او لاده د تا جو خیلو، محمد خېلو، سید خیلو، یو نس خېلو، با زید خیلو، علي زیو، بي بي زیواو پها ګلزیو په څا نګو وېشلې شوې ده ۰ د یو سف اولاده هم د مند ر، وفا خېلو او صفا زي په څا نګو وېشلې شوې ده ۰

تا ریخ حیات افغا ني د داود زیو په اړوند داسې لیکلي دي ([134]) :

"داسي ر وایت مو جود د ی چې د داود لومړني زوی مند د وې میرمني د رلود لې چې د لو مړنۍ مېرمني نه یې د حسین او له د ویمې مېرمني نه یې د نیکو او با بو په نامه زامن د رلود ل او کله چې مند له د ې فا ني نړۍ نه ستر ګې پټې کړې، نو لومړني زوی حسین ته یې د پلار میراث لاس ته ورغی، له همد ې کبله نېکو او با بو د خپل ورور حسین د و ژلو نیت وکړ، خو په خپل د ې نیت کې بر یالي نه شول چې په پای کې د نېکو او لاده په هند و ستان کې مېشته شوه او د با بو او لاده د تیراه په شااو خواکې په خواره واره ډول ژوند کوي او د حسین او لاده په هغه سېمه کې ځای پر ځای پا تې شوه چې همدا اوس هم پکې استوګنه لري ۰"

داود زي زړور، مېلمه پا لونکي او په پښتو او پښتنو اله با ند ې مین خلک دي ۰

یو شمېر داود زي دافغانستان د ننګر هار ولا یت د چپر هار ولسوالۍد داود زیو په کلي کې چې دهغه ځای خلک ور ته داوزیي وایې مېشته دي ۰ د کا بل ولا یت د قره با غ په ولسو الۍ کې هم یو ډېر شمېر داود زي مېشته دي۔([135])

دافغانستان د ټو لواک اعلیحضرت المتو کل علی الله محمد ظا هر شاه د واکمنۍ په وخت کې دافغانستان د سترې محکمې غړی او د تمیز د عالي د ېوان رئېس اروابناد مو لوي عبدالبصیر خان چې دهېواد یو جید عالم اوپاک نفسه قا ضي وهم داود زی پښتون و چې د د کابل ولایت د قره باغ د

134حیات افغا ني، پښتو ژباړه ۲۴۱- ۲۴۲ مخو نه، د پېښور چاپ

135پښتني قبیلې، د د کتور لطیف یاد تالیف، ۱۲۹- ۱۳۰ مخو نه، د پېښور چاپ

ولسوالۍ او سيد ونکۍ و ۰

حيات افغاني له نن نه ١٤٤ کلو نه وړاند ې په پښتونخوا کې د داود زيوشمېر د لس زره کو رنيو په شا او خوا کې ښو د لي دي ۰

66 داوي

زمور پښت پو هان(تو کم پېژند ونکي) داوي د غر غښتي پښتنو په ټولنيز ګروپ پورې اړونده قبيله ګڼي ۰ دوی په اصل کې د کا کړو پښتنو يوه پښه ګڼل کيږي چې په کندهار او د سهيلي پښتونخوا په ژوب، کوئيټه، چمن او د پشين د سيمې په اجيرم او کر بلا نو مي سېمو کې مېشته دي۔ ۰ همداراز د پښتونخوا دايا لت په ځينو سيمو لکه کتلانګ، دهېرې ليکپاني، با بو زايي، سوال دهير او مردان کې هم استوګنه لري ۰

د تا ريخي رو ايتونو له مخې د داوي پلار داني نو مېده او د داوي قبيله په د رېو څا نګو وېشلې شوې ده چې د مړ، همړ او خوندي نو ميږي چې خو ندي د داوي وصلي زوی و ۰د خو ندي په اړوند داسې روايتو نه هم شته چې د داني زوی داوي چې د غر غښت لمسی و د يوې سيد ې کو نډې سره نکا ح وټړ له چې د خپل زوی سره يو ځای د خجند نه ملتان ته د خپلې خور د لېد لو له پاره په سفر راوتلې وه ۰د غې ښځې د خپل پخواني مېړه نه چې کوم زوی د ر لود دهغه نوم سيد حسين و، چې نو موړی سيد حسين بيا په وصلي ډول د داوي په قبيله کې شا مل شو ۰ د د ې له پاره چې دغه ښځه او زوی يې د خجند له سېمې نه را غلي ول نو پښتنو ورته خجنديان ويل چې د وخت په تېرېد و سره دوی د خجند نوم په خپلې ور ځنی محاوره کې په خو ندي بد ل کړ، نو ځکه يې خو ندي بولي ۰ خوندي تر يوې مود ې پورې د داوي د قبيلې او نورو غر غښتيا نو سره په ګډه او تا وان کې شر ېک ول، خو د شمېر د ډېر والي له کبله يوه جلا قبيله ترې جوړه شوه چې اوس يې خو ندي بولي ۰ خوندي زياتره د کندهار په شا او خوا سېمو کې استوګنه لري، خو شمېر يې د و مره ډېر نه د ی ۰

همداراز تا ريخ حيات افغا ني د داوي د قبيلې په اړوند داسي ليکلي دي ([136]) :

136تاريخ حيات افغاني، د پيښور چاپ، ٢٥٩- ٢٦٠ مخو نه

د داوي قبيله په د ريو څا نګو ويشلې شوې ده چې دهمړ، د مړ او خو ندي په نامه يادېږي ۰ د داوي د قبيلې د ريم ښاخ چې خوندي نو ميږي د مخزن افغا ني په روايت د داوي له اصلي نسبه نه دي، بلکې هغه په د ې ډول ورسره يو ځای شوي د ی چې د داني زوی داوي د خپل پلار په ژوندانه کې داسو نو د سوداګری لپاره په سفر تللی و ۰ په دغه سفر کې د داوي سره يوه ښکلې ښځه چې د سيد حسن په نامه يو زوی ورسره و يو ځای شوه ۰ داوي له نوموړې ښځې نه دهغې داصلي ځاي ځايګي او ټا ټو بي په اړوند پو ښتنه وکړه ۰ هغې ښځې داوي ته په ځواب کې وويل چې له خجنده راغلې ده او دا هلک د سيد زوی د ی ۰ هغې همداراز وويل چې په خجند کې کا ختي(قحطي) راغلې وه او زه غواړم چې د خپلې مشرې خور سره ملتان ته لاړه شم ۰ داوي هغوی ملتان ته ورسول او نو موړې ښځې په ملتان کې د خپلې خور په سلا او مشوره د داوي سره نکاح وټړ له ۰ داوي له نو موړې ښځې نه څلور زامن د رلود ل او څر نګه چې حسن خجندي ورسره و نو پښتنو په خپلو ور ځنيو خبرو اترو کې خجندي په خوندي بد ل کړ چې د ی په خوندي سره مشهور شو ۰ با يد ز يا ته کړو چې خوندي د بليل، سکند ر، موسی او علي په نامه څلور زامن د رلود ل ۰

داوي زياتره د سو داګری په چارو بو خت دي ۰ دوی ميلمه پالو نکي او په پښتو او پښتونوالي با ند ې خورا ټينګ خلک دي ۰

د داوي د قبيلې نه سترعالمان او په پو هې مين شخصيتو نه را وتلي دي ۰ په د غو شخصيتو نو کې يو هم ستر مشر وطه غو ښتو نکی، ليکوال او شاعر اروابناد عبدالهادي داوي د ی چې پر يشان تخلص يې هم کاوه ۰ نو موړی داروابناد عبدالاحداخونزاده طبيب کندهاری زوی د ی چې ۱۲۷٤ش کال کې د کابل په باغ عليمردان کې يې نړۍ ته ستر ګې پر انيستلې دي ۰ نو موړي د حبيبيې په لېسه کې د رشديې تر د رجې پورې زده کړې وکړې او د پښتو او د ري ژبو شاعر او ليکوال و ۰ په ارد و، عربي، تر کي او انګرېزي ژبو هم پو هېده ۰ نو موړی د پريشان په تخلص سره په سراج الاخبار کې ډير ې ټو لنيزي، سياسي او انتبا هي مقا لې او مضا مين وليکل او د مشر وطيت د غو رځنګ د نا متو مشر انو عبدالر حمن لو دين، مو لوی غلام محي الدين افغان او مو لوي عبدالرب نړد ې ملګری و ۰ دافغانستان د خپلواکی اتل غازي امان الله خان او محمود طر زي نو موړی له نړد ې پېژانده له همد ې کبله و چې نو موړی ته دامان افغان د جړد ې مسئول مديريت هم ور سپارل شوی و ۰ نو موړی په ۱۹۲۰ ع کال کې دامانې د ولت لخوا دهند د ميسوري په کنفر انس کې هم دافغاني هيئات غړ يتوب د رلود ۰ ده د سفير، مستشار، مختار

وزیر، د خلکو داستازي او د مشرا نو د جر ګې د رئیس په تو ګه لوړې د ند ې سر ته رسولي دي۔ ۰ ده ۱۳ کلونه زندانو نه هم ګاللي دي او په پای کې د ۱۹۸۲زېږد ېز کال کې چې د ۱۳٦۱ لمرېز کال د زمري د میا شتې د ۲۷نېټې سره سمو ن خوري په کابل کې د ۸۸کلو نو په عمر وفات شو ۰ دارواښاد عبدالها دي داوي پښتو اود ري اثار دادي : زما رسول پاک، تجارت ما با روسیه، غیا صه، لالي ربخته، نغمات، ګلخانه، رجال وطن او زیست نامه۔ ([137])

نور ماخوذونه د ([138]، [139]) نه۔

67 د رمان

د وئي دافغانستان د خوست په ولا یت کې استوګنه لري و په کرلانیو پښتنو پورې تړ لې قبیله ده۔ د رمان د عبدالر حمن د قبیلې د نوم لنډه بڼه ده۔

د پښتنو د عنعنوي او د ود ږې شجرې یا د نسب د ونې سره سم د رمان یا عبدالر حمن قبیله کر لانې پښتانه او د خوږیانیو قبیلې چې یاد ونه یې دهمد ې قبیلو د پېژ ند لو په لړ کې د مخه شوې ده یو ښاخ شمېرل کیږي ۰

پښتانه د تاریخ په رڼا کې د د رمان د قبیلې په اړوند داسي لیکلي دي ([140]):

د شجرې مطابق دوی کر لانې پښتانه او د خو ږیا نیو د قبیلې یو ښاخ شمېرل کیږي او حاجي خان خیل، سودي خیل، اصلي احمد خیل، مدي خیل، کو نډي او منګس یې ښا خو نه دي چې د غو شپږو

137جنبش مشرو طیت د ر افغانستان، د علا مه عبدالحی حبیبي تالیف، د ویم چاپ، ۱۲۸-۱۳۲ مخونه، کابل، ۱۳٦۳

138پښتني قبیلې، د کتور لطیف یاد، ۱۲۸-۱۲۹ مخونه

http://en.wikipedia.org/wiki/Davi_tribe139

140ظفر کاکا خیل، سید بهاد رشاه، پښتانه د تاریخ په رڼا کې، پېښور یو نهور ستې بک ایجنسي، ۱۳۸۹ مخ، ۱۹٦۲ ع

ښا خونو ته مموزي هم وايي او د متون په نامه سره هم شهرت لري.

متون په اصل کې د خوست ولايت يوه ولسوالي ده چې د خوست ختيزې بر خې ته پرته ده چې په لويد ږزه خواکې د مند و زيو او د ناد رشاه کوټ د و لسوالیو، په شمال لويد ږ کې د موسی خېلو د ولسو الی سره، شمال خواته د سبر يو د و لسوالی سره، په شمال ختېز کې د تيري زيو د ولسوالی او پاکستان دهېواد سره او په جنوب لويد ږ کې د ګر بزو د و لسو اليو سره ګډې پو لې لري او په ۲۰۰٦ زېږ د ږ کال کې يې د ټو لو وګړو شمېر ۱٦۰۲۱٤ تنه ښود ل شوی د ی ۰ ([141])

د تاريخ حيات افغا ني مؤ لف ډ پټي محمد حيات خان ۱٤٥ کلونه وړاند ې د د رمان د قبېلې په اړوند داسي ليکلي دي ([142]) :

متون په اصل کې د خوست د يوې سېمې نوم د ی چې د دغه ځای او سيد ونکو ته متون يا متو ني وايي ۰ حيات افغاني په هغه وخت کې د دوی مجمو عي شمېر ۱۰۰۰۰ تنه ښو د لي ووچې د کر کيلې په چارو بو خت دي.

متون زړور، ميلمه پالو نکي او په پښتو او پښتو نواله با ند ې مين خلک دي ۰

68 د ري کوتي

د وئي دافغانستان د خوست په ولا يت کې استوګنه لري و په غلجيو پورې تړ لې قبېله ده.

د تاريخ حيات افغاني د مؤلف د لېکنې پر بنسټ چې د پښتنو قبيلو په اړوندېې هر اړ خېز معلو مات د ر لود ل د د ري کو ټي قبېلې وګړي هم دافغانستان د خوست په ولا يت کې استوګنه لري او په سليمان خيلو غلجيو ور ګډېږي ۰ دهمد ې مولف په روايت د سليمان د ويم ورور علي نو مید چې او لاده ې علي خيل دي چې بيا د علي خيلو د مند وزي د ښاخ يوه څا نګه اسما عيل زي دي چې د وې کو

---

141 http://en.wikipedia.org/wiki/Khost_(Matun)_District

142 تاريخ حيات افغاني، د محقق فر هاد ظر يفي او د کتور لطيف ياد ژباړه، د پېښور د دانش چاپ، ۳۵۵ مخ

چنې څا نګې يې بدا خيل او چند ن خيل دي چې د د رې کو تې په نامه سره يادېږي۔ ([143])

تاريخ حيات افغاني له نن نه ١٤٥کلو نه وړاند ې د دوی شمېر ٤٠٠ کورنۍ ښود لی د ی چې ښا يې اوس به د دوی ټول شمېر تر د ې هم لا ډېر زيات وي ۰

69 د له زاک

د پښتنو د عنعنوي او د ودېزې شجرې له مخې د لازاک د پښتنو د کرلانې پښتنو په ټو لنېزې ډلې کې شمېر ل کېږي، خو د تا ريخي پلوه دوی د ساکي پښتنو يوه څا نګه ده چې د سليمان د غرو نو د لړۍ نه د خپلې استو ګنې او سنۍ سېمې ته لېږ ديد لي دي ۰

د تاريخي روياتو سره سم د لازاک لو مړني پښتانه دي چې د پېښور په واد ۍ کې دابا سين تر غاړو پورې استو ګن شوي وو او داسي ويل کېږي ې دوی پر دغه سېمې با ند ې دهند و شا ها نو په وخت کې قبضه کړې وه ۰د لازاک د غزنوي سلطان محمود ٩٩٧-١٠٣٠ ع د واکمنۍ په وخت کې دهغه سره دهند په بر يد ونو کې ملګري او د خپل يوه مشر ملک يحيي په مشر تا به د سو منات په حمله کې يې ګډون د رلود ۰ ([144])

داسي رو ايتو نه هم شته چې د لازاکو د لا هور د راجا د کمزورتيا په وجه د خيبر د تا ريخي د رې له لارې پر پېښور باند ې چې په هغه وخت کې بګرام ورته ويل کېده ([145]) ير غل وکړ او د تورې په زور يې دغه سيمه په خپله ولکه کې راوسته، ان چې د سند لويديزې بر خې يې هم تر ليرې ليرې ځايو نو کې په خپلې قبضې کې راوستې او خپل تسلط يې وربا ند ې ټينګ کړ ۰

تاريخ حيات افغا ني چې له نن نه ١٤٥ کلو نه وړاند ې ليکل شوی د ی د د لازاکو پښتنو په اړوند داسي کښلي دي :

143پښتني قبيلې، د کتور لطيف ياد، د دانش چاپ، پېښور، ١٣٣- ١٣٤ مخونه

144پښتا نه د تاريخ په رڼا کې، ٣٧٥ مخ

145تاريخ حيات افغاني، د دانش چاپ، پېښور، ٣٢٣ مخ

د د غې قبيلې ځيني سپين ږيري د خپلو پلرو نو او نيکو نو په اړوند داسي روايت کوي کله چې په پيل کې د د لازاک قبيله دافغانستان ختيځو بر خو ته داخله شوه، نو تر د ې وړاند ې په پېښور او د سند د رياب په لو يد ېزو او ختيزو غاړو کې سره کافر او سيد ل او هغو خلکو ته يې سره کا فر ويل چې د ګر يک او بکټرين له نسله وو ۰ په پيل کې ديګان او داصلي سو اتيو نيکو نه هم د پېښور، راولپينډۍ او د جلال اباد تر حدود و مېشته وو چې بيا د د لا زاکو د قبيلې خلکو په تد ريجي تو ګه دغه خلک پر شا وتمبول او خپله قبضه يې پرې ټينګه کړه ۰ لنډه دا چې دغه قبيله د کابل د واکمن مرزا الغ بيګ تر وخته ډېره مشهوره وه، خوکله چې دوی خپل زور او ځواک با ند ې مغروره شول، نو لو مړی د خليلو او مو مند و له خوا چې پېښور ته راتلل مات او د پېښور پرېښود لو ته اړ شول ۰ ه په هغه وخت کې پېښور، د و ابه، با جوړ، ننګرهار، کلپا نه او دهزاره تر سېمې پورې ټو لې سېمې د د لازاکو وي ۰ په دغه وخت کې يو سفزي هم په کا بل کې د مرزا الغ بيګ له خوا ټکول شوي وو او پېښور ته راغلي وو ۰ ([146])

د يو سفز يو مشر ملک احمد د د لا زاکو نه د يو سفز يو لپاره د يوې سېمې غو ښتنه وکړه، هما غه و چې د لا زاکو د يو سفز يو سېمه دوی ته ورکړه ۰ ورو سته بيا يو سفز يو د د لازاکو نه د نورو سيمو غو ښتنه وکړه او ورته يې وويل چې يوازې د و ابه لږه ده په هغې سېمې مو ګو زاره نه کيږي، چې بيا د لا زاکو ورته د دانشکول، عنبر او د با جوړ سېمې هم ورکړي او د لا زاکو ته يې وويل چې اشنغر هم په د وابه پورې د ی که څه زور او قوت مو وشي اشنغر هم په خپله توره له شلما نيو نه واخلئ .([147])

وروسته بيا د يوسفزيو او د لازاکو تر مينځ د ځمکو په نيولو سختې او خو نړی جګړې وشوې چې له د واړو خواوو ډېر کسان ووژل شول ۰ په پای کې د يو سفزو د مشر ملک احمداو د د لا زاکو د قبيلې د مشر ملک محمد خان د لا زاک تر مينځ سو له وشوه ۰

د د لا زاکو يو شمېر کو رنی د مغو لي واکمن جهانګير د و اکمنی په وخت کې دهند بيلا بيلو بر خو ته وليږل شوې چې زيات شمېر د لازاک لا تر او سه هم هلته مېشته دي ۰

146نو موړی اثر ۳۲۳ مخ

147تواريخ حا فظ رحمت خاني، د پير معظم شاه اثر، پېښور، ۳۰-۳۱ مخونه

69.1 د لازاکو قبیلې ښاخونه

د د لا زاکو د قبیلې مشهور ښا خو نه دادي : لوري خیل، یعقوب خیل، احمد خیل، وتک زي، عمر خیل، یحیي زي، زکر یا خیل، سمرزي، شمشیر خاني، نصرت خیل، عنا یت خیل او نور۔۔۔

69.2 د لازاک په پښتونخواکې

د لازاک د پښتونخوا په چارسد ې، مردان، سوات، او همداراز په حسن ابدال، ټکسیلا، راولپنډی، هریپور، چچ، هزاره، اټک او ایبټ اباد کې میشته دي ۰

دهر یپور د سیمې د لازاک په لا ند نیو کلیو او با نډو کې میشته دي:

سرای صالح، شاه محمد، لبن با نډې، مرادابا د، مونن، غیبه، بګرا، شاه مقصود، چور، پورانا باکه، هرې، اخون با نډې، تپر، تالوکیر، بهیرا، کو لیان، کلنوان او چمبه کې اوسیږي ۰

همداراز داټک د سیمې د لا زاک د د غې سیمې په لا ند یو کلیو او با نډو کې ژوند کوي:

داټک په کلی، د ولیا په کلي، د فور ملي په کلی، د حمید په کلي او غورغشتي کلي کې ژوند کوي۔ ([148])

69.3 په هند وستان کې

دهند و ستان داتراپرادیش دایالت د میرټ د ولسوالۍ (د سټر کټ)کې هم ډېر شمېر د لازاک پښتا نه او سیږي چې تر او سه پورې د د غې قبیلې ځیني خلک په پښتو ژبې خبرې کوي ۰

د شا هجهانپور د سیمي یو مشهور پښتون لیکوال چې د د لا زاک په قبیلې پورې اړه لري ښا غلی مر غوب احمد خان د ی چې د د لا زاکو د قبیلې په اړوندیې پر اخه څیړ نې کړي دي چې د سرخ مناري، شیوګی، مصري خیلو، جلالپور، رسولپو ر د سیمو د لازاک یې چې د میرټ د د سټر کټ د شاهجهانپور په سیمې پورې اړه لري مور ته را پیژ ند لي او همداراز یې په دغه سیمه کې د د لازاک د قبلې ځیني تا ریخي شخصیتو نه یې مو ږته رامعر في کړي دي چې په د غو کسانو کې یو هم محمد

---

[148] http://dilazak.blogspot.com

عباس خان د لازاک و چې د مغولي واکمن جها نګير په وخت کې د خپلو پنځه زره پو ځو نو سره هند وستان ته راغلی او بیاد شاهجهان د و اکمنۍ په وخت کې همد لته مېشته شوی و او د شا هجهان له خواورته شا هي منصب هم ور کړل شوی و ۰

د وهم نا متو پښتو ن چې د د لازاک په قبیلې پورې يې اړه د رلوده هغه محمد خان و چې د مغولي واکمنۍ له خوا ورته داوړیسه د سیمې صو بداري ورکړل شوې وه ا و دهو ګلي، بنګا پور او د بیهار پر سیمو يې راج کاوه چې د ده او لاده په هو ګلي کې استوګنه لري، خود ده مزار د شا هجهانپور د سیمې په شهید والا باغ کې د ی او داسي ویل کیږي چې په کو مې جګړې کې شهید شوی و ۰

همداراز بل نا متو پښتون چې د شاهجهانپور په سیمه کې مېشته شوی و د ولت خان و چې د د لازاک ه قبیلې پورې يې اړه د رلوده د لازاک پښتون و چې د ده او لاده اوس هم د شاهجهانپور په سیمه کې استوګنه لري ۰

جنید خان بل پښتون د لازاک و چې د رسولپور سیمې ته را لیږ دید لی و او اوس دغه ځای د ننپورپه نامه یادیږي چې دا سیمه هم په شاهجهانپور پورې یوه تړ لې سیمه ده ۰

بل پښتون د لازاک د لاور خان و چې هغه هم د ې سیمې ته رالیږ دید لی و او د شاهجها نپور په د لازاک محله یاجلا لپور کې يې استوګنه غوره کړې وه ۰

همداراز داو رنګزیب په وخت کې د د لا زاکو د قبیلې یو شمیر مشهور شخصیتو نه چې سر کاري پو ځي منصبو نه يې د رلود ل په هغو کې مصري خان، عنا یت خان او نهر خان مشهور دي ۰ ([149])

پا تي د ې نه وي چې دهند په بنګال، داند راپرادیش په باري، د پنجاب په جلند ر، د راجستان په د لازي او ځینو نورو سیمو کې هم د لازاک پښتانه استوګنه لري ۰([150])

د د لا زاکو د قبیلې یوه مشهوره اتله شاه بوری نو میده چې د عبدالر حمن عمر خیل د لازاک لور وه چې د نو مورې داتلوالۍ کا رنا مې د پښتو ژبې په کیسو کې شته ۰ ([151])

---

149 http://en.wikipedia.org/wiki/Dilazak

150 http://www.freewebs.com/ishaat/detail.htm

70 د ستو خېل

د ستو خیل په اصل کې غلجي پښتانه دي او په سلیما نخیلو پښتنو ورګډیږي ۰ دوی په پخوا وختو نو کې کو چیاني ژوند د رلوداو د وزو، پسونو، میږو او اوښانور مې او ګلې یې د رلود لې، خود ډېرې مود ې را پد ېخوایې کلیو الي ژوند غوره کړی د ی ۰ د د غې قبیلې زیا تره خلک د ننګر هار ولا یت د سره رود د و لسوالۍ په پو رتنۍ برخه کښکک او خیر اباد کې ژوند کوي او هلته ډېرې ځمکې او بر جورې کلاګاني هم لري ۰ د سره رود د ولسوالۍ نه سر ېږه د ننګر هار ولایت په مرکز جلال اباد، پېښور اود کابل په ششد رک او بینې حصار کې هم ډېر شمېر د ستو خیل استوګنه لري ۰

د ستو خیل زیا تره د سو داګرۍ په چا رو بو خت دي او د چایو، تو کر انو، صا بونو، غوړیو او نورو ډول ډول شیا نو سو داګري کوي ۰ دوی د ځینو هیواد ونو لکه جاپان، چین، هند و ستان، د وبۍ، ما لیزیا، تا یوان، کوریا، تا یلینډ، انګلستان او ځینو نورو هیواد ونو سره د سوداګرۍ اړیکي لري ۰ ځیني ځو انان یې په لند ن کې هم ژوند کوي ۰

د ستو خیل میلمه پا لو نکي او په پښتو او پښتو نواله با ند ې مین خلک دي ۰ دوی خپلو پخوانیو د ود ونو او رواجو نو ته چې د پلرو نو او نېکو نو نه ورته په مېراث پا تي دي اوس هم ټینګ دي ۰

د د ستو خیلو د قبیلې یو مشهور مشر اروابنباد حاجي الله نظر خان د ستو خیل و چې دالمتو کل علی الله محمد ظا هر شاه د واکمنۍ په د وره کې د ولسي جر ګې په د و لسمه د وره کې د ننګر هار ولایت د کو چیا نو وکیل او استازی و ۰ د ی خورا حلیم، زړه سواند، میلمه پال او په پښتو او پښتو نو الې با ند ې ټینګ پښتون او یو منلی مشر و چې د محمد داود خان د و اکمنۍ په وخت کې سیاسي بندي و ۰ د د ستو خیلو د قبیلې ټولې لانجې او شخړې به د ده له خوا حل کید ې او د یوه محترم قو مي مشر په تو ګه د ده پرېکړې او فیصلې ټولو خلکو ته منظورې وې ۰ دغه مشري اوس د ده په کو رنۍ کې د ده زامنو خدای نظر او مو لا نظر ته پا تې ده ۰

د د ستو خیلو د قبیلي د نورو مشهورو کسانو نه د حاجي جا نباز، حا جي امیر زاده، حا جي ګلزاده، حاجي چنار، حاجي انار او ځینو نورو نو مو نه یا د ولای شو ۰

---

http://pukhtunwomen.org/node/308151

د يوې احصا ئيې له مخې د د ستو خيلو د قبيلې د خلکو مجمو عي شمېر د ۵۰۰۰ تنو په شا اوخواکې اټکل شوی د ی

ماخوذونه ده ([152]، [153]، [154]) نه۔

71 د وتانې

که چېرې د پښتنو د نسب عنعنوي او د ود ېزه شجره وګورو نو جو ته به شي چې د وتانې يا د فتا نې د متو زيوپښتنو په ټو لنېز ګروپ کې د لودي اولاده ده ۰ ابراهيم چې په لودي سره يې شهرت د ر لود د رې زامن د رلود ل چې سيانې، نيازی او د وتا نې نو ميد ل۔ ۰ د د وتانيو د قبيلې زياتره خلک پوونده يعني د مالونو او رمو څښتنان او کو چيان دي ۰ ځيني خلک يې د سو داګرۍ په چارو بو خت دي او دوی په د ې برخه کې ډېر زيار ګا لو نکي دي ۰ په پخو انيو وختو نو کې به د دوی هغه شمېر خلک چې د سو داګرۍ په چارو بو خت ول د سو داګرۍ له پاره تر بخارا پورې تلل ۰ همدا وجه وه چې دوی د نورو پوونده وو تر مينځ ډېر شهرت د رلود ۰

71.1 د د وتا نيو د قبيلې نښا خو نه او څا نګي

د د وتا نيو د قبيلې مشهور نښا خو نه او څا نګې په لا ند ې ډول دي ([155]):
حسن خيل، عمرزي، ملړ خيل، سد و خيل، ابر اهيم خيل، بدين خيل، احمد زي، نسو خيل، سرکي زي، راټا خيل، محمد خيل، بازار خيل او نور ۰۰۰

152پښتني قبيلې، د کټور لطيف ياد، د دانش چاپ، پېښور، ۱٤۰ مخ

153معلو مات مختصر د ر باره اقوام وقبايل سر حدي کشور، د شير رحمن د وړ ليکنه، ۱۰۰مخ، د قو مو نو او قبا يلو چارو وزارت، ۱۳٦۳ کال

154د د ستو خيلو د قبيلې په اړوند زما(د مقالې د ليکوال) شخصي معلو مات او يا د ښتو نه

155د پښتنو قبيلو شجرې او مينې، د پو هنوال محمد عمر روند ميا خيل تا ليف ۲٦۸- ۲٦۹ مخو نه

تاريخ حيات افغاني ١٤٥ كلو نه د مخه د د وتا ټيو د قبيلې په اړوند داسي ليكلي دي ([156]) :

"د د وتا ټيو داستو ګڼې اوليږد څر نګوالى د نورو پوونده وو په څېر د ى، خو ځيني د و تا ټي د وانه په سيمه كې مېشته دي ۰ دغه سيمه د شېرانيو د قبيلې دهريپال د څا نګې شمال خواته د يوه ميدان له پا سه په هغو غرو نو كې پرته ده چې د ګو ملې خواته زوړ والى يا نشيب لري ۰ د وانه زياتره د وتا ټي د كر كيلې او كرنې په چارو بو خت دي ۰ "

حيات افغاني په هغه وخت كې په وانه كې د دوى شمېر اتيا كورنۍ ښود لى د ى او زيا تو ي چې د دوى د شمېر د كموالي سره سره هم د وزيرو قبيله نه شي كولاى چې دوى له دغه ځا يه بيواكه كړي ۰

خود تاريخي شو اهد و له مخې د نو لسمې سد ى په نيما يې كې دوى داحمد زيو وزيرو له خوا د لانجو او شخړو له كبله په تد ريج سره د ېته اړ ايستل شول چې پوونده ژوند غوره كړي ۰د وتانې د وزير ستان نه برسېره په ديره جا تو، د ګو ملې په د ري، غزني، پكتيكا، زابل، كندهار، هلمند، پكتيا اود كند ز د د شت ارچې په ولسوالۍ كې استوګنه لري ۰ يو شېر د وتانې په ايران، پاكستان او هند و ستان كې هم استوګنه لري ۰

د وتا ټي زياتره د ډيورنډ د كر ښې د واړو خواووته په تګ او راتګ كې وي او خپلې رمې پيا يي ۰ په پخوا وختو نو كې به دوى خپلې رمې تر هزاره جا تو پورې بيولې چې هلته د دوى د ما لو نو او رمو له پاره ښې ور شو ګانې او څړ ځا يو نه وو ۰ داسې ويل كيږي چې ځيني وختو نه د كاكړو د قبيلې شپا نه خپلې رمې او ګلې د دوى جنوبي او لو يديزوسيمو ته ورولي خو دوى د ميلمنو په تو ګه دهغو د رناوى كوي او د څړ ځا يو نو نه يې نه منعه كوي ۰

هغه د و تانې چې په پوونده يا د مالو نو او رمو څښتنان دي د دوى د وداو د ستور د نورو پوونده په څېر د ى، خو هغه د وتانې چې په وانه كې ژوند كوي د دوى خوراک او پو ښاک د وزيرو د قبيلې خلكو ته ورته د ى ۰

داسي ويل كيږي چې كله نا كله د د وتا ټيو او سليما نخيلو پښتنو تر مينځ شخړې او لا نجې را مينځ ته شوي دي چې يوه ستره لا نجه چې د دوى او سليما نخيلو تر مينځ د شلمې پېړۍ په لو مړۍ نيما

156تا ريخ حيا ت افغاني، د پېښور چاپ ۳۰۱ او ۳۱۵ مخو نه

يې کې را مينځ ته شوې وه بيا د پښتني د وداو د ستور سره سم ا واره شوه، خو د وزيرو سره بيا د دوی کو مه لويه شخړه او لا نجه نه ده را مينځ ته شوې ۰

د د وتا نيو کو چيانو لوی خان خدايداد خان نو مید چې اولاده يې اوس هم دهلمند په ولايت کې د لو يو جا يداد ونو او شتمنيو خا وندان دي او ويل کيږي چې دارواښاد غلام شاه خان د و تانې تر مړيني وروسته دهغوې زامن په هغه ولايت کې د د وتا نيو د قبيلې د کو چيانو د مشرۍ پر ګد ی ناست دي ۰

د وتا نې زړور، جنګيالي، ميلمه پا لو نکي او په پښتني ننګ او غيرت ټينګ خلک دي۔ ۰ د روسي ښکيلا ککړو په وړاند ې يې د نورو پښتني قبيلو په څېر د ويارې ډ کې کار نا مې تر سره کړي دي چې زمور دهېواد تا ريخ به يې هيڅکله هم له يادە ونه با سي ۰ د د وتا نې د قبيلې په با تورو مبا رزينو کې د حا جي ا هل ا لله خان د وتا نې نوم يا د ولای شو چې په حاجي عبيدي سره مشهور د ی۔ ۰ نو موړي د روسي ښکيلاککړو يو سر سخته د ښمن او د لوړو زده کړو او پو هې خا وند د ی چې د خپل قوم او قبيلې په مينځ کې د ښه نوم خا وند د ی ۰ همد راز د کند ز ولايت د د شت ار چې په ولسو الې کې حا جي وکيل د وتا نې چې داعليحضرت محمد ظا هر شاه په وخت کې د ولسي جر ګې وکيل واو دهغه کورنۍ د د وتا نيو په قبيله کې د ښه نوم او عزت خا وندان دي ۰

د ۱۹۷۸ کال د يوې سروې له مخې په ټول افغانستان او پښتونخواکې د د وتا نيو مجمو عي شمېر ۱۲۱۵ کو رنۍ ښود ل شوی و، چې ښا يې اوس به په دغه شمېر کې په زيا ته کچه زيا توالی را غلی وي۔ ماخوذونه ده ([157]، [158]، [159]) نه۔

72 د وړ

زمور پښت پو هان او نسب پيژ ند ونکي د وړ له اره کر لانې پښتانه ګڼي چې تر وزيرو ورو سته د

157پښتني قبيلې، د د کتور لطيف ياد تاليف، ۱۳٤-۱۳۵ مخو نه

158http://www.khyber.org/pashtotribes/d/dotani.shtml

159http://www.scribd.com/doc/6192578/A-Dictionary-of-the-Pathan-Tribes

شما لي وز ير ستان د و يمه لو يه پښتني قبيله ده ۰ د وړ د شمالي وزير ستان د تو چي سين په د واړو غا ړو کې د غلمي نه نيولې د شينکي تر د رې پورې اباد دي ۰ تو چي د يوه وادي په څېر د لويديز نه ختيز لورې ته پر ته ده چې د تو چي سين پکې بهيږي او د وړ د تو چي سين په د واړو غاړو په سترو او کو چنيو کليو کې استوګنه لري او چار چا پيره څلور خواوو ته بې د و زيرو د قبيلې خلک مېشته دي۔ ۰ همداراز د وړ د ختيز نه د خجوړي نه نيو لې په لو يد ېز کې تر خړ کمر پورې چې څلو يښت مېله او ږد والی لري په يوه شنه او سمسوره سېمه کې پر اته دي او د کر نې ډيرې ښې حاصلخيزه ځمکې لري ۰

د وړ په د و بر خو ويشل شوي دي يعني ښکتني د وړ او بر د وړ ۰ هغه د وړ چې د ټل د د رې ختيز لورې ته د مير انشاه نه تر خجوړی پورې مېشته دي هغوی د ښکتنيو د وړو او هغه د وړ چې د د ټل د رې لو يد ېز لوري ته د ميرانشاه او په لويديز کې تر خړ کمره پورې ا ستو ګنه لري د برو د وړو په نامه يادېږي ۰ په دوی کې يو بل ډول قبيلوي وېش هم شته چې د تپې ذوت د تور ګوندي او مل ذوت د سپين ګو ندي په نامه سره يادېږي ۰

د د وړو سېمه د تا ريخي پلوه هم ډېره مشهوره ده ۰ د دوی په سېمه کې د پخوا نيو، زړو او ورانو دانيو د کنډوالو نښې نښا ې پا تې دي چې له هغو نه داسې اټکل کيدای شي چې دهند وانو يا يو نا نيانو د واکمنيو په وخت کې لويديز افغانستان ته له دغه ځا يه يوه عا مه لاره تللې وه۔ ۰ همداراز هغه زړې سکې چې د د غې سېمې نه تر لا سه شوي دي دا ښيي چې دغه سېمه ډېره پخوانۍ او د پو ځي اهميت نه خورا بر خمنه وه ۰

تاريخ حيات افغا ني له نن نه ۱٤٥ کلو نه وړاند ې د د وړو د قبيلې په اړوند داسي کښلي دي :

" د وړ د شيتک اولاده ده او له هغه وخته چې د کيوي او سور انې او لاده چې په بنو څيو سره شهرت لري د شوال نه د بنو سيمې ته راغله، نو له هغې نه تقر يبا ۵۰۰ کلو نه تېر شوي دي اود د وړو قبيله هم د تو چي د سين په د واړو غاړو کې مېشته شوه، خو د زيا تو معلو ما تو سره سره هم دا حال څر ګند نه شو چې په هغه ځای کې چې اوس د د د وړو د قبيلې د سيمې په نامه يادېږي د مخه څوک او سيد ل ۰ "

په هغه وخت کې چې مغو لي محي الدين عا لمګير او رنګزيب دهند و ستان واکمن و نو په ۱۱۱۲هجري کال چې د ۱٦۹٦ عيسوي کال سره سمون خوري د شهزاده بهاد رشاه په مشرۍ يو پو ځ د

بنو خواته ولیږه او غو ښتل یې چې د پښتنو سیمې ا یل او لا ند ې کړي، هما غه و چې څه موده یې سید حسین نو می د د وړو د سیمې د حاکم په تو ګه وټا که او د د وړو په سېمه یې هر کال د ولس زره روپۍ ما لیه وټا کله ۰ بیا ورو سته د د غې سیمې انتظام او امنیت مخ په خرابید و شو او د وړ بېر ته ازاداو خپلواک شول۔

څه موده ورو سته د د رانې واکمنا نو په وخت کې بېرته تابع او ایل شول، ځکه دا سېمه د افغانستان پورې یوه ټرلې سېمه وه اود د رانې زمانشاه تر وخته پورې یې د رانې د ولت ته د ولس زره رو پۍ ما لیه ور کو له، خو د رانې د ولت په دغه سېمه کې کوم ځا نګړی حاکم یا ولسوال یې نه د رلود ۰تر یوه یا د وه کلو نو وروسته به یو تن د رانی افسر د یو شمېر پو ځو نو سره د دوی سېمې ته ورته او د ولس زره رو پۍ ما لیه به یې ترې را ټو لو له ۰ د بارکز یو او سد و زیو د شخړو په د وران کې دوی بیا د ما لیې نه ځان ازاد کړ او هغه دا چې شاه زمان د یوه سید پېر په غو ښتنه دوی ته کلنۍد ولس زره روپۍ ما لیه ور وبخښله چې دهغې په بد ل کې به په کال دوی خپلو ځمکو په سر یوه اندازه غله دانه د دغه سید کو رنۍ ته ورکوله ۰

باید ووایو چې د د وړو سېمه که څه هم د ۱۸۹۳ میلادي کال پورې د افغانستان د خاورې یوه برخه وه چې د ډیورنډ د تورې او منحو سې معا هد ې او ټرون تر لا سلیک ورو سته چې دامیر عبدالر حمن او انګرېزانو تر مینځ وشوه د د وړو سېمه له افغانستانه جلا شوه او د بریټش انډیا تر وا ک لا ند ې راغله او په د ې تو ګه دافغانستان د خاورې د نورو بر خو په ګډون چې د ډیو رنډ د پو لې ها خوا ته پر اته دي او زمور پښتانه ورونه پکې او سي زمور دغه د وړ پښتانه ورونه هم زمو نږه جلا شول، خو سره له د ې هم دغه سېمه تر ۱۸۹۵ پورې د فغا نستان تر واکمنۍ لا ند ې پا تې وه ۰

د وړ ډېر جنګیالي، میلمه پا لو نکي او په پښتو او پښتنو الې با ند ې مین خلک دي ۰ دوی د علم او پو هې سره هم مېنه لري، همدا سبب د ی چې یوزیات شمېر خلک یې د ولتي ملا زمتونه او د ند ې هم سر ته رسوي ۰ دوی په هر وخت کې د بلو سګرو او تا ړاکګرو په وړاند ې په مېړانه جنګید لي دي ۰ تاریخ حیات افغاني ۱٤٥ کلو نه وړاند ې د د وړو د وسله والو میړو نو او جنګیالیو شمېر ۱۲۰۰۰ تنه ښو د لـــ۰

داسي ویل کیږي چې د تو رګو ندي د و سله والو شمېرې ۳۰۰۰ تنه او د سپین ګو ندي د و سله والو کسانو شمېر ۹۰۰۰ تنه وو ۰

د وړ منځنی ونې لري او غنم رنګه دي چې زياتره د کر کيلې او سو داګری په چا رو بو خت دي ۰ د دوی د سيمې هوا په د وبي ې توده او په ژمي ې سړه ده ۰ غنم، جوار، ګڼي، تما کو، کور کمن او اد رک بې غوره حا صلات دي ۰ د ميرانشاه ښار اود مير علي با زار هم د د وړو په سيمه کې مو قعيت لري۔

72.1 قبيلوي جوړ ښت

لکه چې د مخه وويل شول د وړ په د وو بر خو ويشل شوي دي چې يو ته يې ښکتني د وړ او بل ته يې بر د وړ وايې ۰ د برو د وړو ښا خونه په لا ند ې ډول دي :

ملخ، همزانې، د رپه خيل، نصرت خيل، لنډ، بو يه، طوايف خيل، زيراخيل، ابر اهيم خيل، مريم خيل، علي زای، ګر بزای ۰

د ښکتنيو د وړو ښا خو نه دادي :

مبارک شي، عيد ک، خدي، سو خيل، حيد رخيل، تپي، خد ري، سليان ۰ هر مز، حکيم خيل، پيران، شمل، بيبا کي، بارقوم، ملکان، ايسوړي، زيړوکي، نصر خيل، علي خيل، قيمت خيل، ايپي، نا نه خيل، زو خيل، توري يل، پلالي ۰

په مير انشاه کې د د وړو ځيني ښا خو نه دادي :

اتمان، لقمان، کټي خيل ۰

د ۱۹٦۱ کال داحصا ئيې له مخې د د وړو د قبيلې مجمو عي شمېر ٥٨١٤٤٨ تنه ښود ل شويدي ۰

ماخوذونه ده ([160]، [161]، [162]، [163]، [164]، [165]) نه۔

73 د ولت خېل

زمونږ پښت پو هان او نسب پېژند ونکي د ولت خیل د پښتنو د متو زیود ټولنیز ګروپ پورې یوه ټرلي قبیله بولي چې په لو د یو پښتنو ور ګډېږي ۰

تاریخ حیات افغا ني چې له نن نه ۱٤٥ کلو نه وړاند ې کښل شوی د ی د د ولت خیلو پښتنو په اړوند داسي کښلي دي :

"د نسب د شجرې تر څېړ لو وروسته داسي جو تیږي چې د لوانې یا نو حاني د زوی مماپه د ریو زامنو کې دیا سین داولاد ې نه د د ولت خیلو قبیله را مینځ ته شوه ۰ د مما د نورې او لاد ې په پر تله د د ولت خیلو ښاخ د شمېر او واک له مخې د و مره پر مختګ وکړ چې د مما داولاد ې نورې کو چنۍ څا نګې د د ولت خیلو پورې ا ړوند ې څا نګې ګڼلې کیږي ۰ تر د ولت وروسته چې ا ولاده یې د د ولت خیلو په نامه یادېږي په پنځم پښت کې کتې خان مینځ ته راغی چې او لاده یې د کتې خیلو په نامه سره یادېږي ۰تر د ې د مخه چې چې د لوانې ښا خونه لکه کتې خیل، د ولت خیل، میا خیل، مروت، تتور او نور د ټانک په سېمه کې مېشته شي ټو لو په پوونده ډول ژوند کاوه او لږه اندازه سوداګري یې هم کوله ۰ که څه هم د دوی زیاتره شمېر خلک په کټواز کې اوسید ل، خو د د غې سېمې په سهیلي یا جنو بي

160اضلاع، ایجنسیها وقبایل ایالت پښتو نستان، د شیر رحمن د وړ تا لیف، ۱۱۳- ۱۱٤ مخونه

161تاریخ حیات افغاني، د پیښور چاپ، ٤۲۸- ٤۳۲ مخو نه

162پښتا نه د تاریخ په رڼا کې، د سید بهاد رشاه ظفرکا کا خیل تالیف، د پیښور چاپ، ۱۳۹٥-۱۳۹٦ مخونه

163پښتني قبیلې، د د کتور لطیف یاد تالیف، د پیښور چاپ، ۱۳۷- ۱٤۰ مخو نه

164http://www.khyber.org/pashtotribes/d/dawarh.shtml

165http://en.wikipedia.org/wiki/North_Waziristan

برخه کې یو شمېر د کر نې وړ ځمکې یې هم د رلود لې، خو د وانه په غره او نورو سیمو کې چېر ته چې ډېر ښه څړ ځا یو نه مو جود وو هلته د مالدارو لو اېیو کیږد ی وې او کله کله به د ژمي د تیر ولـو لپاره د ټانک سېمې ته هم راتلل ۰ کله چې بیا د کټواز سېمه د سلیمانخیلو له خوا د لوانیـو نه ونیـو لـه شـوه نـو لـه هماغه وخته په اوړي کې په وانه او په ژمي کې د دامان د سېمې ټا نک ته دهغوی تګ راتګ پیل شو ۰ په دغه وخت کې د لو اېیو د قبیلې هر یو ښاخ یو تن مشر د رلود چې خان به ورته کیـده اود د غـو خـا نـا نـو به دهر خیل اوزي ملکان او مشران تر لاس لاند ې د رلود ل، چې د د غو خا نانو او ملکانو په لار ښـوونه به داړونده ښاخونو او څانګو چارې سر ته رسېد ې، و د لوانې د قبیلې ټوله مشري یا خاني د کټي خیلو په کو رنۍ په لاس کې وه چې د د ولت خیلو یوه څا نګه شمیر له کید له ۰ "

داسي ویـل کیږي چې د د ولـت خیلـو د قـبیلې او نـورو څـا نګـو وړانـد ې د ټانـک په سېمه کې پرانګیان چې د لودي قبیلې یو ښاخ د ی استوګنه د رلوده او د دغه ځمکې او ملکیت د دوی په لاس کې و، خو څر نګه چې د لوانې د قـبیلې پوونـده د ژمي په مـو سـم کـې د ټانـک سېمې تـه راتلـل نـو زیـاتره بـه دهغوی څارویو د پر انګیانو د قبیلې د کرنې ځمکو ته زیان رساوه، نـو همـدا وجـه وه چـې د دوی تـر مینځ شخړې او لا نجې را مینځ ته شوې څو په پـای کـې پر انګیـان او نـور په هنـد کـې د مغـولي واکمـن بـابرد غضب وړ وګر ځید ل ۰ په دغه وخت کې د کټي خیلو د ښاخ نه شهباز خان نومی چې د خانز مان لقـب ورکړل شوی و د لوانې د ښاخ ټولې څانګې یعنې د ولت خیل، تتور، یا خیل، مروت او نور له ځـا نـه سـره یو کړل او د پر انګیا نو نه یې د ټانک د سېمې د تر لا سه کولو نیت وکړ ۰ نو موږي د ټول لوانې ښاخ نـه لښکرې راټولې او همدا راز لـه هغـو پوونـده وو نـه چـې په تنـګ شـوي وو مـر سـته وغـو ښـتله او د ټانـک د سیمې پر او سید ونکو پر انګیانو یې یر غل وکړ او تر څو جګړو ورو سته لو انیان د شهباز خان یا خانز مـان په مشرۍ پر پر انګیا نو با ند ې بر یالي شول او د کر نې ټولې ځمکې یې داب سیاه په ګډون په څلورو بـر خو با ند ې وویشلې په د ې ډول چې یوه برخه یې د ولت خیلو، یوه برخه یې تتور، یـوه برخـه یـې مـر وتـو او یوه برخه یې هم میا خیلو ته ور کړه او هغه وخت به چې کال پای ته ورسید نو د مروتو او میا خیلـو خـا نان به د ولت خیلو د کټي خیلو د څانګې مشر خانزمـان حضـور تـه و رټلـل اوهغـه بـه په منـا سـبه انـدازه د څلورمې بر خې له مخې هر یوه ته خپله برخه ور کوله او رخصتول به یې ۰

په پای کې مر وتو د څلورمې بر خې په ویش با ند ې د خانز مان کټي خیل سره شـخړې رامینځ تـه کړې او د خپلې بر خې د نیو لو له کبله یې پر ټانک باند ې یر غل وکړ او په هغه جګړه کې چې د د واړو

غاړو تر مینځ پېښه شوه د ولت خیلو ماتې وخوړه او هغوی یې له خپل مشر خانزمان سره د ټانک د سېمې نه بې واکه کړل او پخپله یې پر ټانک با ند ې قبضه ټینګه کړه، خو د کتې خیلو مشر له جبیل خان نه چې د ګنډ اپوریانومشر و او په هغه وخت کې یې دامان ته په پونده ډول تګ او راتګ کاوه مر سته وغو ښته، خو څر نګه چې مر وتو له ده سره د مقا بلې توان نه لاره نو ځکه یې د ټانک سېمه خوشې کړه ۰ که څه هم خانزمان د مروتو څلو رمه برخه پر دوی باند ې بنده کړه، و سره له د ې هم د مر وتو کوم خان به چې خانزمان ته ورغی نو هغه به یې تش لاس ېږ ته نه لېږه ۰

تر لږې مود ې وروسته خانزمان د میا خیلو څلو ر مه برخه هم پر هغوی باند ې بنده کړه او د تتور د څا نګې د بر خې پر ته د ټانک پورې ټولې سیمې د د ولت خیلو لاس ته ورغلې چې اوس هم د دوی په لاس کې دي ۰ نا متو انګر یزي مورخ په خپل مشهور اثر(an account of kingdom of caubul) کې د دوی شمېر اته ز ره کو رنۍ ښود لي دي ۰ د نو موړې مولف په قول د ولت خیلو د قبیلې یو شمېر وګړې په کارنده، زیمه، کافر کلا او د کابل په شا اوخواکې هم استوګنه لري ۰ ([166])

د د ولت خیلو د قبیلې ښا خو نه او مشهور کسان چې د د غې قبیلې ځینې څا نګې هغو ته منسو بې دي :

عیسی خان، موسی زي، منډوزي، پلنګ، اسماعیل، زکو، لقمان، تاجي زي، بند رزي، جلال خان، موسی خان، یحیی زي، کتې خیل، بهدین، خواجه خضر، موسی خان، فیروزخان، برمزید خان، د ولت خان، شهبازخان، غازیخان، حیات خان، محمد خان، شیر خان، د لیل خان، سلیم خان، قتال خان، خمرېز خان، صاحب خان، اکبر خان، شهباز خان، هیبت خان، الله داد خان، خداداد خان، صاحبداد خان، سرور خان، نواب شهنوازخان او محمداکبر خان ۰

73.1 د د ولت خیلو په قبیله کې د مشرۍ څر نګوالي

موږ د مخه وویل چې د د غې قبیلې مشري له پخوانه د کتې خیلو د کورنۍ په لاس کې وه، خو هر یوه مشر د خپلې څا نګې یعنې د د ولت خیلو سره ښه او د ورور ګلوۍ چلند کاوه، خو کله چې مشري د سلیم خان زوی قتال خان ته ورسیده، نو هغه په خپلې قبیلې با ند ې سختي راوا خیسته او څر نګه چې نو

166د کابل سلطنت بیان، د مونټسټوارټ الفنسټن اثر، د کابل چاپ، ٦٠ مخ

موړی یو تند مزاجه سړی و نو له د ې کبله د د ولت خیلو د قبیلې، کتې خیلو سره سلا او مشوره وکړه او قتال خان او دهغه زوی اکبر خان یې ووژل او د قتال خان مشر زوی سرور خان له د ې پښې نه بچ پا تې شول او د ګل خان د ورور ظفر خان په ملګر تیا د مر وتو سېمې ته راغی او څو زره رو پی یې د خپل پلار د یوه ملګري نه یې پور کړې او په کابل کې د افغانستان واکمن ته په عر ض ورغی۔ ۰ دافغانستان واکمن د غلجي عبدالر حیم خان هو تک په مشری د سرور خان مرستې ته څلور زره پوځ او څو تو پو نه یې دهغه مر ستې ته وګو مارل ۰ کله چې سرور خان د کابل د شا هي ځو اکو نو په مر سته د ټا نک سېمې ته نږد ې شو نو ګل خان د سرور خان سره د د ښمنی سره سره د و لت خیل و پو هول چې د سرور خان ملاتړ وکړي او سرورخان هم سو ګند وکړ چې پخو انی خبرې به هیروي او چا ته به زیان نه رسوي ۰ د ولت خیلو د سرور خان خا ني او مشري ومنله، خو د سرور خان لوړې او سو ګند تر هغو پورې د وام وکړ تر څو چې د د ولت خیلو معتبران او ملکان د سرور خان حضور ته راغلل او په هغه وخت کې سرور خان هغه اتلس تنه مشران چې زیا تره یې دهغه د پلار قتا ل خان او ورور اکبر خان په وژلو کې سره سلا او مشوره کړې وه و وژل، خو ګل خان ونه وژل شو، خو سرور خان څه موده ورو سته هغه وواژه ۰ کله چې یې د ښمنان له منځه ولاړل او د سرور خان خاني او مشري ټینګه او پیاوړې شوه او بیا نو هیچا هم دهغه سره د مقا بلې توان نه د رلود ۰ هغه د خپل پلار قا تلین په تد ریجي تو ګه او کله به هم چې یو یو لاس ته ور تلل وژل به یې ۰ نو موړي له ځا نه سره پنځه سوه سپا هیان وټاکل او د ټانک په سېمه کې یې یوه کلا او با غ جوړ کړ ۰ سرور خان به د ملک په چارو کې د عد ل او انصاف نه کار اخیست ۰ که څه هم غریب او بیو زله رعیت له هغه ځیني خپه او نارا ضه ول، خو سره له د ې هم هغه داسي بند و بست وکړ چې هیچا هم تړې سر نه شو پورته کولای ۰ د ټا نک د سیمې هر ډول عاید دهغه شخصي مال ګڼل کیده، خو هغه د د ولت خیلو نه هیڅ ډول محصول او ما لیه نه اخیستله ۰ سرور خان په سخاوت کې ډېر مشهورو ۰ له چې د ګنډاپور یانو او میا خیلو په لښکرو بر لاسی شو نو ځواک یې لا پیا وړی او پخپلو سیا لا نو کې ډېر مشهور شو ۰

سرور خان په ۱۸۹۲ بکر ما جیتي کال کې چې د ۱۸۳۵ عیسوي کال سره سمون خوري مړ شو او پر ځای یې زوی الله داد خان مشر وټا کل شو ۰ په ۱۸۹۳ بکر ما جیتي کال کې چې د ۱۸۳۶ عیسوي کال سره سمون خور ي کنور نو نهال سنګه د سکهانود پو ځو نوسره دیره جاتو او د دامان سېمې ته راغی او بیا یې د ټانک د سېمې خو اته پو ځو نه ولیږل ۰ کله چې الله داد خان د نو نها ل سنګ د راتلو نه خبر

شو او په د ې متيقن شو چې خپلو سردارنو او ملا زما نو يې ورسره بيو فا يې کړې ده نو د خپلو زامنو او خپلې منقو له شتمنيو سره يې د مسيد و او وزيرو ملک ته پناه وروړه او په د ې تو ګه د ټا نک سېمه د سکهانو لاس ته ورغله ۰ د ی بيا ورو سته د افغانستان امير د وست محمد خان ته ورغی او له هغه نه يې د مر ستې غوښتنه وکړه ۰ تر څو مود ې ورو سته بېر ته د مسيد و اوو زېرو غرو ته را ستون شو او څر نګه چې کنور نو نهال سنګه د ټانک سېمه د ملتاني افغا نانو پا ينده خان خواجک زي، حيا ت الله خان سد وزي او عا شق محمد خان عليزي ته د جا ګېر په ډول ورکړې وه، نو الله داد خان تر ډېرې مود ې پورې د سکهانو او ملتا نيانو سره وجنګيداو تل به يې د ټا نک پر سېمې با ند ې برید ونه کول چې نو مورې خپل ټول عمر په جګړو ې تېر کړ تر څو په پای کې مړ شو ۰ دالله داد خان تر مړ ينې ورو سته يې د د و تنو زا منو نه يو يې چې محمد شاه نوازخان نوميد د پلرني مشری د بيا تر لا سه کو لو له پاره ډېرې هلې ځلې وکړې چې بيادانګر يزي سر کار په وخت کې د ټانک موروثي مشري شاهنواز خان ته ور کړل شوه چې هلته نواب وټا کل شو ۰

بايد ويل شي چې د ټا نک سېمه د پښتونخوا په ايا لت کې مو قعيت لري ۰ټانک پخوا په د ېره اسما عيل خان پورې اړوند ډيسټرکټ يا ولسوالي وه ۰

د ولت خيل ميلمه پا لو نکي، جنګيالي او په پښتو او پښتو نوالې با ند ې مين خلک دي ۰ دوی د سکند ر د تا ړاکونو، چنګيزيانو، مغولو، سيکهانو او انګرېزانو په وړاند ې په ميړانه جنګيد لي دي ۰

ماخوذونه ده ([167]، [168]، [169]، [170]، [171]) نه۔

167تا ريخ حيا ت افغاني، پښتو ژباړه، د پېښور چاپ ۳۰۸- ۳۱۱ مخونه

168پښتا نه د تا ريخ په رڼا کې، ۱۳٤۹ مخ

169پښتني قبيلې، د د کتور لطيف ياد تاليف، د پېښور چاپ، ۱٤۰-۱٤۳ مخو نه

170http://www.khyber.org/pashtotribes/d/dolatkhel.shtml

171http://en.wikipedia.org/wiki/Tank_Pakistan

74 د ولت زي

د د غې قبيلې خلک غلجي پښتا نه دي او ځا نو نه په سليمان خيلو ور ګډوي ۰ د ولت زي د ننګر هار ولا يت د چپر هار ولسوالۍد د ولت زيو، بي بي مهرو او چينې په کليوا و د مو مند د رې په ولسوالۍ، د پکتيا ولا يت د مرکز ګر ديز ښار ته نږدي د د ولت زي په کلي او د زر مت په ولسوالۍ، د سمنګا نو ولايت د مرکز دايېکو په ښار، د بغلان ولا يت په مرکز، د بلخ ولا يت د بلخ په ولسوالۍ، د ميدان او ورد ګو په ولايت او د کا بل ښار د چهاردهي او بګر اميو د و لسوالۍ په شينه او د ده سبز ولسوالۍ په بختيا رانو کې استوګنه لري ۰ يو شمير د ولتزي د کا بل او جلال اباد تر مينځ د کا بل د سيند په د واړو غاړو کې دالیا س خيلو پښتنوسره په ګا ونډ کې ژوند کوي او د کر کيلي په چارو بو خت دي ۰([172])

د ننګر هار ولا يت د چپر هار ولايت د د ولتزو د کلي او سيد و نکي د و لتزي د د رويش خيلو، الله داد خيلو او زاري خيلو په ځا نګو ويشل شوي دي ۰ د دوی مشران وايي چې د دوی نيکو نه ډېر کلو نه وړاند ې د کندهار او غزني د سيمو له شا او خوا نه د ې سيمې ته رالېږ ديد لي او د لته يې ژوند غوره کړی د ی ۰ د ننګر هار ولا يت د د ولتزو، بي بي مهرو او چيني د کليو زيا تره د ولتزي په کر کيلې اخته دي او د کر نې حا صلات يې جوار، غنم او نور حبو بات دي، خو دوی د خپلو کر نيزو ځمکو لپاره ډېرې او به نلري نو ځکه يې ډېر شمېر خلک په بيو زلۍ کې شپې او ورځې تيروي ۰ په ا فغا نستان باند ې د روسي ير غلګرو تر تيري وروسته د نورو پښتني قو مو نو او قبيلو د خلکو په ځېر د و لتزي هم د خپل تا تو بي او ځای ځا يګي نه کډوالۍ ته اړ ايستل شول او زيا تره يې پېښور ته مها جر شول چې هلته د کچه ګړ هی، اکوړي خټک، جلو زيو، هنګو، متنيو، کو هاټ، شين ډنډ او ما نسهره کې په کمپو نو کې او سيد ل او زيا تره په مز د وريو او شا قه کارونو بو خت ول ۰ د رو سا نو تر وتلو ورو سته دوی ډېر ې کورنۍ ېر ته خپلو اصلي تا تو بو ته را ستنې شوې ۰

د سمنګانو، بغلا ن او بلخ ولا يتو نو د و لتزي هم ز ياتره د کر کيلې او سو داګر يو په چارو بو خت دي، خو په هېواد کې د تنظيمي جګړو ورو سته دوی زيات شمېر مهاجرت ته اړ ايستل شول اوپه

172پښتني قبيلې، د د کتور لطيف ياد تاليف، ۱۴۳- ۱۴۴ مخونه، د پېښور چاپ

شمال کې د نورو پښتنو په څېر د دوی ځمکې او جا یداد ونه، کورونه او نورې منقولې او غیر منقولې شتمنۍ د یو شمېر جنګسا لا رانو له خوا ونیول شوې چې تر او سه هم دهغوی په ولکه کې دي ۰

په پخوا وختو نو کې یو شمېر د و لتزیو کو چیا ني ژوند د رلوداو داوښا نو، پسو نو، وزو او غوایانو رمي او ګلې د ر لود لې، خو د وخت په تېرید و سره دوی کلیوالي ژوند غوره کړی د ی، خویو شمېر یې لا تر او سه پورې کو چیانی سر ګردانه ژوند تیروي ۰

د ولت زي میلمه پا لو نکي، په علم او پو هې مین، زړورا و په پښتو او پښتو نولۍ با ند پ ټینګ خلک دي ۰ د روسي ښکیلا ککړو په وړاند پ په میړا نه جنګید لي او ډیرې قر با نۍ یې ور کړي دي ۰

د ۱۳٦۰ کال د سر شمیر نې له مخې د ننګر هار ولایت د چپر هار په ولسوالۍ کې د دوی شمېرد ٤٦٥۹تنو په شا او خواکې او د مو مند د ري په ولسوالۍ کې د دوی شمېر د ۱٤۰۳تنو په شا او خواکې ښود ل شوی د ی چې ښا یې دا شمېر به اوس تر د ې لا زیات وي ۰ دهیواد په پا تې نورو ولا یتو نو کې د د و لتز یو د قبیلې د ژوندواو شمېر په اړوند مې بشپړ او د قیق معلو مات تر لا سه نه شول کړای ([173])۰

75 دینار خېل

دینار خیل له اره غلجي پښتا نه دي او د سلیمانخیلو پښتنو یو ه څا نګه ګڼل کیږي۔ ۰ د کندهار ولایت دارغنداب په ولسوالۍ او همداراز د دغه ولا یت په مرکز د کندهار په نښار کې هم یو شمېر دینار خیل استوګنه لري ۰ د کندهار په ولایت کې د دینار خیلو د قبیلې مجمو عي شمېر د ۱۳٦۰ کال د سر شمېر نې له مخې ۳۳۸۸ تنه ښود ل شوي دي ([174]) چې ښا یې په دغه شمېر کې به اوس ډېر زیا تو الی راغلی وي ۰

د دینار خیلو د قبیلې یو شمېر د پکتیکا ولایت په شر نه او یو شمېر هم د پکتیا ولایت د مرکز د ګردیز نښار ته څېر مه د رباط په سېمه کې هم ژوند کوي ۰ هغه دینار خیل چې په کندهار کې استوګنه لري نو د ود ونه او رواجو نه یې کټ مټ دهغه ځای د خلکو په څېر د ی ۰

173دا هغه معلو مات د ې چې ما پخپله د سا حوي ریسر چ په نتیجه کې تر لا سه کړي دي

174معلو مات مختصر د رباره اقوام وقبایل سر حدي کشور، ۲۹-۳۰ مخونه

دينار خيل، زړور، ميلمه پالو نکي، په هېواد مين او په پښتو او پښتو نولې با ند ې ټينګ خلک دي.

76 رتن زي

که چيرې د رتن زيو د قبيلې د نسب شجره په غور سره وڅيړو نو جو ته به شي چې دوی د بيټني قبيلې يوه څانګه ده چې د جنو بي وزير ستان او د ټانک په سېمو کې استوګنه لري. بيټ نېکه په پښتنو کې ډېر مشهور نېکه تېر شوی د ی او په پښتني عنعنه کې هم بيټ نيکه خورا لوی پښتون، ستانه ا و مشهور نېکه ګڼل کيږي .د ده نوم په تا ريخو نو کې بيټنی او بټن هم راغلی د ی چې له خپلو د وو ورونو سړبن او غر غښت نه په عمر کو چنی و، خو د خپل نيک خوی، زهداو تقوا په وجه يې ډېر شهرت تر لا سه کړ .

لوی استادارواښاد علا مه عبدالحی حبيبي رحمت الله عليه د پښتو اد بيا تو د تا ريخ په د وهم ټوک کې ليکلي دي:

" د بيټ نېکه احوال مور ته نه د ی معلوم او نه د ده ژوند مورخا نو تصريح کړی د ی، يوازې د پټې خزانې د ليکنې پر بنسټ ښکاري چې اسما عيل د بيټ نېکه زوی د خر ښبون معا صر و او دغه سړی په ٤١١ هجري کال کې مړ شوی د ی . نو چې داسما عيل د ژوند وخت د ٤٠٠ هجري په حدود و کې وي ښا يې چې پلار او اکا يې هم د ٣٥٠هجري په حدود و کې ژوندي وي " ([175])

د بيټني قبيلې يوه څا نګه رتن زي دي، خو ځيني بيټني داسې عقيده هم لري چې په بيټنيو کې د بو بک په نامه د يوه تن زوی علي يو کو چنی ما شوم وموندلو رتن نوم يې پرې کېښودلو هغه نسل چې ده له پښته رامينځ ته شوی د ی د رتن زي په نامه سره يادېږي . د رتن زيو ټول د ود و نه او رواجونه د بيټنيو د قبيلې نورو څانګو او ښا خو نو ته ورته د ی .

175عبدالحی حبيبي، د پښتو اد بياتو تا ريخ، د ويم ټوک، ١٠٦ مخ، د کابل چاپ

77 رځړ

رځړ په اصل کې سړ بنې پښتانه او د منډړ او لاده ګنل کیږي او د پښتونخواپه صوابی، مردان او سوات کې ژوند کوي ۰که چېرې د د غې قبېلې د نسب ونې یا شجرې ته وګورو نو منډړ د رې زامن د رلود ل چې منور، خضرا و رځړ نو مید ل ۰ ر ځړ په پنځو کو چنیو څا نګو ویشل شوي دي چې ملکزي، ما نیزي، اکوزي، خضر زي او محمود زي نو میږي چې ملکزي په یار حسین، شیر د ره او یعقو بي کې، ما نیزي په په ډاګي، ترلاندي، بر مولي او ادینه کې، اکوزي په د وبیانو، سړه چینه او اسما علیه کې، خضر زي په شیوه، کا لو خان او شیره غونډ کې او محمود زي په نوي کلي، شیخ جانا، اسو تا او نا رنجي کې مېشته دي ۰ ([176])

78 زاخېل

زاخېل له اره سړ بني پښتانه دي ا و په سړ بنیوکې غوري یا غو ریا خېل دي چې ېر د ولت یار ورګډېږي او په د ولت یار کې د مو مند و ستړې قبیلې ته منسوب او د مو مند و د د ویزیو د ښاخ یوه څا نګه ګنله کیږي ۰

غوري یا غو ریا خېل هغه پښتا نه دي چې د چنګیز(٦٣٤ هجري قمري مړ) په تا ډاکو نو و د چنګزیانو په نا تا رو نو کې له خپلې اصلي مېنې غور نه لیږداو مهاجرت ته اړ شوي دي۔ ۰ د غو ریو پښتنو نوم د ستر خو شال(۱۰۲۲-۱۱۰۰هجري قمري) په د ېوان کې داسې راغلی د ی :

هند ته یې روان کړ بد رګه مې مستجاب
هم ملک، هم خان، هم همه غوري ارباب

داورنګزېب عالمګېر (۱۱٦۸- ۱۱۱۸هجري قمري) د زمانې یو بل شاعر حسین پکلي وال ویلي دي :

د رقیب د نا کرد و به مې خلا ص نه کا

176پښتا نه د تا ریخ په رنا کې، ۱۳۲۲ مخ

که جنبه مې شي تمام غوري خښي

د پښتنو نازکخیال شا عر حمید ما شو خیل هم داسي وایې :

چې دا ستا د نا مې بوی اخلي حمیده!
څه به نه وي خوش د ما غه غوري، خښي

ارواښاد علامه استاد عبدالشکور رشاد رحمته الله علیه د ر احت یاد په نامه د مقالو په هغه ټو لګه کې چې په ۱۳٦٤ لمرښکال کې کې د کا بل پو هنتون د ژبو او د بیا تو د پو هنځي له خوا خپره شوې ده په خپلې یوې مقاله کې چې د راحت زاخیلي په اړوندیې کښلې ده د زا خیلو د قبیلې په اړوند داسي لیکلي دي :

"د ویزي او خویزي د مو مند و د وې نامتو ځا نګې دي چې د ګنداو او کو ډا خیلو تر مینځ مېشته دي"

زاخیل زیاتره کو چیان دي، دیشین ([177]) ا و غر شین ([178]) هم پکې شته ۰

د ننګر هار ولایت د روداتو د ولسوالی د کان او کتر غي تر مینځ سېمو کې مېشته دي۔ ۰ د ننګر هار ولایت د کا مې ولسوالی او ثمر خیلو د کلي تر مینځ هم د زاخېلوڅو کلي شته دي ۰ د ډکې خټیز ته د کابل سیند پورې خو اته هم زاخېل پر اته دي ۰ د ننګر هار پر زا خېلو برسېره د کند ز په ولا یت کې هم زا خېل مېشته دي ([179]) او د کو رنیو شمېر یې تقر یباً د وو زرو ته رسیږي او مشهور کلي یې په لاند ې ډول دي ([180]):

177پښتا نه په مجمو عي تو ګه دیشین هغو خلکو ته وایې چې کو چیان نه وي او د ما لو نو د روزنې پر ځای کښت او کر وکړي او په کلیو او ښا رونو کې او سي

178غر شین هغه پښتا نه دي چې په غر ونو کې مېشته دي ۰ د پښتنو یوه قبېله هم د غر شین په نامه شته

179کند ز دا فغا نستان د شما لي ولا یتو نو نه یو ولایت د ی چې دامو سیندیې له تاجکستانه بیلوي، خټیز ته یې تخار، لوبد ږ ته یې بلخ او سوبل ته یې د بغلان ولا یتو نه پر اته دي

180د پا چا قلندر زیارت او مرقدهم همد لته واقع د ی

1. زاخیل کلی: د سپین زر شرکت شاته ۰

2. خواندان کلی : د چارد ریې د سیند پر غاړه ۰

3. پا چا قلندر کلی : د زرخرید په سېمه کې

د کند ز د و لایت په مرکز د کند ز په ښار کې هم زاخېل شته ۰ د د غې سېمې نا متو بډای حا جي نا زکمیر خان زا خیل وچې د زاخیلو نا متو قبیلې ته منسوب و ۰

دافغانستان نا متو لیکوال استاد عبدالرؤف بینواهم د پېښور په نو ښار کې د زاخېل په نامه د یو ه کلي یا د ونه کړې ده او زیا ته کړې یې ده چې د پښتو، فار سي، عربي او ارد وژ بو لیکوال او شا عر راحت زاخیلی په دغه کلي کې زیږ ید لی د ی ([181]) خو پخپله ار وانښاد را حت د پېښور د نو ښار په سېمه کې د زا خیلو د ریې کلي ښو د لي دي .([182])

مشهور انګرېز محقق او ختیز پیژند ونکی هینري جیورج راورټي د نو ښار د زاخېل کلی دازي خېل په نامه یاد وي، خو دهند و ستان جیو ګرافیکل سو سائیټي د دغه کلي نوم زاخیل لیکلی د ی۔ ۰ اروانښاد راحت زاخېلی هم کښلي دي چې د نو ښار په سېمه کې د زاخان با جوړي د ریې زا منو، د ري کلي ودان کړي دي چې د ریې واړه د زا خېلو په نامه سره یادېږي ۰ د ز اخېلو کلي د نو ښار په جنوب لوید ېز کې پر اته دي ۰ د زا خېلو او نو ښار تر مینځ د پیر پا یې کلی پروت د ی ۰ پیر پا یې له نو ښاره د وه نیم کروه واټن لري ([183]) او زا خېل له پیر پا یې نه یو نیم کروه لېرې د ی۔ ۰ په د ې حساب نو د نوښار او زا خېل تر مینځ څلور کروه لاره ده ۰ د پېښور او اټک تر مینځ پا چا هي لار د زاخېلو شمال ته تیر یږي ۰ د پېښور ښار او زا خېلو تر مینځ یوولس کروه واټن د ی ۰ نو ښار د زاخېلو کلی د پېښور ښار شمال ته لږ مایل ختیز لور ته پروت د ی اود مشهور شاعر او لیکوال راحت زاخېلي د ټا ټو بي له کبله د پښتنو په اد بي کړ یو کې د ځا نګړي شهرت نه بر خمن د ی ۰ اروانښاد راحت زا خېلي په څلورو ژبو(پښتو، فارسي،

181وګورئ اوسني لیکوال ۱-٤۲۱ د عبدالرؤف بینوا تالیف، کابل، د و لتي مطبعه، ۱۳٤۰ کال

182و ګورئ لغات افغا ني، د راحت زا خېلي تا لیف، ۱۲٤ مخ، د لا هور چاپ

183وګورئ تواریخ خورشید جهان په ۱۹۸ مخ کې چې ازي خیل د څمکنیو یوه پښه ښود ل شوې ده، څمکني هم غوري پښتانه دي

عربي او ارد و) کې د شپږ ویشتو تا لیفا تو او تر جمو څښتن د ی ۰ ([184])

داستاد راحت زاخېلي اوحاجي نازکمېرخان برسېره د ښا غلی کرزي په او سنی کا بېنه کې دافغا ستان د مالیې وزیر ښا غلی عمر زا خېلوال اود پښتو ژبې د مشهور شاعر او مو سیقي پوه اروابنادااستاد محمد دین زاخېل نو مو نه یا د ولای شو چې د ز اخېلو قبیلې ته منسوب خلک دي ۰ ([185])

79 زموخت، زمښت، زویمشت

زموخت چې د زمښت یا زویمشت په نامه سره هم یادېږي د پښتنو د کرلانې ګروپ پورې یوه اړونده قبېله ده چې د د غې قبیلې خلک د پښتونخوا ایالت داورکزیو ایجنسۍ په جنوب کې د کو هاټ پو لې ته څېر مه غر ونو کې د میران زي ا و کور مې د د رې تر مینځ پر اته دي۔ ۰ ختېز ته یې او رکزي او بنګښ، شمال ته یې ا ورکزي، لوید ېز ته یې د توریو قبېله او جنوب خواته د بنګښو پښتنو سره پوله لري ۰

د قبیلوي وېش له مخې زموخت یا زمښت په د وو لو یو اصلي څا نګو وېشل شوي دي :

1. مموزي یا لوید ېځ زمو خت۔
2. خویداد خېل یا ختیځ زموخت۔

مموزي یا لوید ېځ زموخت د منتوال، منډان، وټې زي، د ولت زي او داود زي په څا نګو با نـد ې وېشل شوي دي ۰

خویداد خیل یا ختېځ زمو خت د حسین خیلو، ببۍ خیلو، ټپۍ او خد و خیلوپه څا نګو ویشل شوي دي ۰

د زموخت د قبیلې د سېمې مجمو عي مسا حت ٤۰۰ مربع مېله دۍ ۰ دوی په په یوه غرنۍ سېمه

184د کابل رود چې په پېښور کې یې لنډی بولي د نو ښار په مینځ کې تېر شوی د ی، شمالي برخه یې داشنغر په نـو ښار شهرت لري او محمد زي پښتا نه پکې اوسي، جنو بي برخه یې د خا لصه نو ښار په نامه یادېږي ګډوله خلـک پکې اوسي

185زاخېل، د راحت ټا ټوبی، د راحت یاد، د کابل پو هنتون فر هنګي شورا، کابل ۱۳٦۳,کال، ۲٥٤-۲٥٦ مخونه

کې استوګنه لري چې تکه شنه او ډول ډول وني لري ۰ خلک يې د نګې د نګې وني او ډېرې ښا يسته ځېرې لري ۰ زموخت زړور، مېلمه پا لو نکي، جنګيا لي او په پښتو او پښتو نولۍ با ند ې مين خلک دي۔ ۰

دانګرېزانو د راج او حکمر انۍ په وخت کې د دوی د جنګيالیو میړونو شمېر ۳۰۰۰ تنو ته رسیده ۰

د دوی او سنی شمېر د ٦۰۰۰ تنو په شا او خواکې ښود ل شوی د ی ۰ دوی سني مذ هبه دي او د سمل په ګوند ی يا ګروپ پورې اړه لري، خو نن ورځ داورکزي قبيلې يوه برخه ګڼله کېږي ۰

ماخوذونه ده ([186]، [187]، [188]، [189]) نه۔

80 زیرک، ځیرک

د رانیان يا ابدالیان چې د پښتني قبيلو په لړ کې د مخه پرې بحث شوی د ی د سړبن په ټولنیز ګروپ او ډلې پورې اړه لري او په د وو سترو ښا خو نو ویشل شوي دي چې يو بې زیرک (ځیرک) او بل بې پنج پای نو میږي ۰

دابدالیا نو د قبيلې په مبحث کې مو ولو ستل چې داسلا مي د ورې په تاریخ کې لو مړ نی سړی چې د (ابدال= اود ل) په نامه یاد شوی د ی د پښتني قبيلو يو مشهور نېکه و چې د خپل نا متو کهو له سره د سلیمان په غره کې او سیده ۰ نوموړی د ترین زوی، د شرخبون لمسی او د سړبن کړ وسی د ی او د ده نوم په پښتو اد بیاتو او پخو انیو نسخو کې (اود ل) او د جمع منسوب په بڼه (اود لی=ابدالی) ضبط د ی چې د (٤٤۰ هجري يا ۱۰٤۸ زیږد ېز) کلو نو په شا او خوا کې يې پښتا نه قبا یل پر ځان راټول کړي ول او د ده له تو کمه ملک سلیمان د عیسی زوی چې په زېرک سره مشهور و پښتني قبيلې

186اضلاع، ایجنسي ها وقبا ئل ایالت پښتو نستان، ۹۰ مخ

187پښتني قبيلې، د د کتور لطیف یاد تالیف، ۱٤۷- ۱٤۸ مخو نه، د پېښور چاپ

188http://en.wikipedia.org/wiki/Zaimukhts

189http://www.reference.com/browse/wiki/Zaimukhts

يې د سليمان له غره نه د کندهار سېمې ته بو تلې او هلته يې مېشته کړې او د خپل ژوند په پاى کې يې ملک بارک په مشرۍ کښيناوه او تر بارک ورو سته د زيرک بل زوى (ملک پو پل) د خپل نفوذ سا حه داوسني بلو چستان تر شال او ژوبه پورې وغز وله او تر ٦٥ کلو نو تر مشر توب ورو سته د ٨٩ کلو نو په عمر مړ شو ۰ ([190])

ويل کيږي چې دابدال تر مړينې وروسته رځړ د خپلې کو رنۍ مشر شو او د خپلو زامنو د ډلې نه يې خپل مشر زوى عيسى خپل ځاى ناستى وټا که ۰ ([191])

د عيسى په زامنو کې سليمان تر ټو لو پوه او هو ښيار و نو ځکه په ځيرک مشهور شو، چې تر او سه پورې هم پښتانه په مجمو عي تو گه هو ښيار سړي ته ځېرک وايې ۰ کـه څـه هـم عيسى د ميرک په نامه مشر زوى د رلود، خو سليمان يې دهو ښيارۍ او ځير کتوب په وجه خپل ځاى ناستى وټا کـه ۰ د ځيرک په څلورو زامنو کې يې مشر بارک نو ميده او پلار د ى د کورنۍ مشر ټا کلى و، خو تر څه مـود ې ورو سته مشري د مک پو پل لاس ته ورغله ۰

لنډه دا چې ه په پاى کې ستر غازي اعليحضرت احمد شاه بـا بـا عليه الـر حمـه چې د پو پلزيو د ښاخ د سد و زيو د څا نګې نه و د ١٧٤٧ ميلادي کال نه ١٧٧٢ ميلادي کاله پورې يوه لـو يـه امپراتـورې جوړه کړه ([192]) چې په تاريخ کې د د رانيانو دامپراتورۍ په نامه يادېږي ۰

د رانيان د ځيرک او پنج پاى په د وو لو يو ښا خـو نـو ويشـل شـوي دي ۰ د ځيـرک د ښـاخ نـورې قبيلې په لاند ې ډول دي :

بارکزي، اچکزي، پوپلزي، الکوزي، محمد زي او سد وزي ۰ ([193])

دغه قبيلې بيا په ډېرو نورو څا نګو ويشل شوي دي ۰

190د افغانستان نو ميالي، داستاد عبدالروف بېنوا تاليف، لو مړى ټوک، ٣٤ مخ

191تا ريخ حيات افغا ني، پښتو ژباړه، ١٤٣مخ، د پېښور چاپ

192پښتانه د تاريخ په رڼا کې، ١٢٨١ مخ

193پښتني قبيلې، د د کتور لطيف ياد تاليف، ١٤٨- ١٤٩ مخو نه

81 زېرماني

زېر ماني په اصل کې غلجي پښتانه دي او زيات شمېر وګړي يې د تو خو په سېمه کې استوګنه لري، خو د کا بله تر کندهاره پورې په ځينو کليو او با نډو کې يو يا د وه کوره مېشته دي۔ ۰ زېر ماني زياتره د کر کيلې په چارو بوخت دي، خو ځينې يې سوداګري هم کوي ([194])۰

د دوی د وداو د ستور زياتره د نورو غلجيو قبيلو په څېر د ی ۰ د ډېرو هلو ځلو په نتيجه کې مې نه د دوی د شمېر په اړه کوم معلو ت تر لا سه کړل او نه يې هم د خيلو نو وېش راته څر ګند شو ۰

د زېر مان کلمه داو ستا يي عصر او د وړې سر يمان را په زړه کوي چې د سليمان د کلمې سره يې رېښه يوه او د سليمان يعنې د (روه) د سېمې معنی يې لر له ۰

82 زېراني

زېر اني په اصل کې سسړ بني پښتا نه دي او د غو ريا خيلو پښتنو او لاده دۀ ۰ زېراني ځا نونه په مو مند و هم ورګډوي ۰ غوريا څلور زامن د رلود ل يعنې د ولت يار، خليل، څمکني او څلورم زوی يې زېران نو مېد چې او لاده يې د زېر انيو په نامه سره مشهوره ده او د ننګر هار ولايت مرکز جلال اباد ته نږد ې د زېر انيو په کلي کې چې د سره رود د ولسوالۍ په اداري واحد پورې اړه لري مېشته دي ۰

د پښتنو د تا ريخ مؤلف اروابنـاد قا ضي عطاؤالله خان ليکي :غو ريا خيل تقر يبا د (١٤٥٠) ميلادي کال په شا او خوا کې د غزني لو يد ېز ته د تر نک د سېمې په شا و خوا کې او سېد ل ۰ څر نګه چې د دوی په شمېر کې زياتوالی راغی نو دوی د غزني نه کابل او د کابله د ننګر هار خو ته وکو چيـــــــ

جکو سره یو ځای او سیږي او زیاتره خلک چې د دوی د نسب د شجرې سره اشنا نه دي دوی تا جک بولي([196])

لکه چې اخو ند د روښزه هم په خپل مشهور اثر تذ کر ۀ الابرار والا شرار کې لیکلي دي چې د زیړاني ښاخ له خپلو نورو ورو نو نه بېل او د ننګر هار د سېمې له تا جکا نو سره او سیږي ([197]) ۰ خو باید وویل شي چې دوی سل په سلو کې پښتانه اود دوی په پښتو نولی کې هیڅ د شک ا و تر دید ځای نشته ۰

د زیړانیو پښتنو د قبیلې ځینې څا نګې لکه پهاړ خیل، د ولت خیل، احمد خیل او تار خیل د برو مو مند و سره په غم او ښاد ی کې شریک دي ۰ همداراز د د غې قبیلې یو شمېر خلک د لغمان ولایت دالینګار او قر غیو په ولسو الیو کې هم استوګنه لري ۰ ([198])

زیړاني زیاتره د کر کیلې په چارو بو خت دي ۰ یو شمېر یې په سو داګرښزو کارونو او د وکانداریو باند ې هم بو خت دي ۰ زیړاني میلمه پا لونکي او په علم و پو هې مین خلک دي ۰په پخوانیو وختو نو کې د دوی ځمکې ډېرې اوبه نه د رلود لې، خو کله چې په ۱۳٤٥ هجري کال د ملت د با با خدای بخښلي اعلیحضرت محمد ظا هر شاه د واکمنی په وخت کې د ننګر هار د کانال پروژه جوړه شوه نو د دوی د سېمې کر وند ې بې خړوبه کړې ۰ اوس د دوی د کر نې ځمکې ډېرې حا صلخیزه دي ۰د ننګر هار ولایت د زیړاینو د کلي یو د روند مشر خدای بخښلی ملک عطا و چې د ښو کړو وړو او ښه چلند خاوند و ۰ ([199])

196تاریخ حیا ت افغا ني د پېښور چاپ، ٢٤٤ مخ

197تذکرۀ الا برار والا شرار، د روښزه اخون، پېښور، اد رۀ اشاعت سر حد، ٦٩مخ

198پښتانه، لومړی ټوک، ۱۱۸۰ مخ

199د د کتور لطیف یاد شخصي یاد داشتونه

83 سافي، سابي

سا پي يا سا پيان د پښتنو د غرغښت په ټو لنېز ګروپ کې يوه مهمه او لر غو نې قبيله ده چې وګړي يې په کو نړ، لغمان، کا پيسا، پروان، ننګر هار، پکتيا، خوست، باد غيس، بلخ، فارياب، کند ز، کابل، د پښتونخوا په مو مند و ايجنسۍ، د ره خيبر، د سهيلي پښتونخوا په مرکز کو ئيټه، پښين، ژوب، سيبۍ او همداراز په اټک او د پاکستان د پنجاب ايا لت په فيصل اباد کې استوګنه لري ۰

د سا پيو قبيله د تاريخ په اوږد و او ېلا ېلو پراوونو کې په مختلفو او ېلا ېلو نو مو نو سره يا ده شوې ده، د ېلګې په تو ګه: سابي، صافي، سا پين، سپين، سا پيس، سا پيت، سا فيست، سا فيت، سا پينګ، سا پيته، سا پيسته، اسا پنتيه، سپينته، سو پتا او نور ([200]) ۰

داسې روايتو نه شته چې سا پيان يوه لر غو نې اريا يې قبيله ده چې يو ناني کلا سيکو مؤ رخينو په خپلو تا ريخي کتا بو نو کې د د غې قبيلې يا د ونه او ذکر کړی د ی او پخپله مقد وني اسکند ر د کو نړ او لغمان په ځمکو کې د د غو خلکوسره مخا مخ شوی د ی او ډېرې جګړې يې هم ورسره کړي دي ۰ د د ې خلکو څه برخه د مو مند و او باجوړ د سېمو په شا او خواکې هم د لوی اسکند ر سره په جګړو کې ښکيل شوي دي ([201]) ۰

لغمان او کو نړ ته د سا پيانو د راتلو په اړه داسي ويل کيږي چې د ميلاد نه ۲۰۰۰کلو نه وړاند ې با ختري ار يا ئيان د شمېر د زيا توالي او د ځای د تنګوالي له کبله په لېږد پيل وکړ چې د پکهت د قبيلې نورښا خونه او دهغو په لړ کې سا پيان هم شا مل ول ۰ کله چې سا پيان دهند و کش له د رو نه د کا پيسا په حوزه کې ښکته شول او له د ې ځا يه يې تقر ېباد سيند و نو طبيعي مجرا ګا نې په مخه نېولې چې دهغوی نه يې يوې ډلې د کا بل سيند په مخه نېو لې اود نجراب، تګاب، سروبي او لغمان له لارې د کو نړ د سيند حوزې ته ورسېد ل ۰

په د ې کې دهيڅ شک او تر ديد ځای نشته چې سا پيانو د ميلاد نه ۲۰۰۰ کلو نه د مخه په

200عبدالمالک کو لکوال سابي، سا پيان او دهغوی قبيلوي وېش، د جرګې مجله، ۳۵ مخ، ۱۳٦۵ کال، کابل

201مطيع الله چمبيلی، بيا هم سا پيان وپېژنئ، د کابل مجله، ٤٤ ګڼه، ۱۳۳٦ کال

ليږداو مها جر تو نو پيل کړی د ی او اوس په کا پيسا، کو هستان، کوه سايې، پروان، لغمان، کو نړ، جند ول، پشات، سوات او با جوړ کې مېشته دي ([202])۔

83.1 قبيلوي جوړښت

سا پيان په لو مړي سر کې په شپږومهمو ښا خو نو ويشل شوي دي چې ودير، ګوربز، کندهاري، مسود، ښا ديخيل اوګاګي زي نو ميږي ([203]) چې بيا وروسته په نورو څا نګو وېشل شوي دي چې دغه څا نګې په لاند ې ډول دي :

امري، شيخي، بارړ ميزي، بيا نخيل، کتړه سر، غيبي خيل، حبيب زي، کاکا زي، خا ديخيل، سليمان زي، با دين زي، اد م زي، پا ينده خيل، نو رخيل، خيرن زي، زکوزي، مېر علي خيل، الو کوزي، عطا خېل، سين زي، بري زي، شمسو کور، مد ور کور، غلجی کور، ابه خېل، سيپان، مرزاخېل، کمال خېل، امر وبي، بدين زي، خادي خېل، رحيمداد خېل، حيد ر خېل، شابول خېل، سليمان خېل ۔مولاتم کور، ملايان، کاګي، شهزاده او ټنګه ګوربز ۔

83.2 د سا پيانو داستو ګڼې سيمې

1. د کونړ په ولايت کې

د سا پيا نو د قبيلې زيات شمېر وګړي د کو نړ په ولايت کې ا ستو ګنه لري او په نو موړي ولايت کې د سا پيانو داستو ګڼې ځا يو نه په لاند ې ډول دي: اسدابا د، نرنګ، بر يکوټ، سر کا نې، دانګام، څو کی، نورګل، پيچ، چپه د ره، با ډيل، د ېوه ګل، د مزار د ره او شو نکړی ۔ د کو نړ په ولايت کې د سا پيا نو مجمو عي شمېر تقر يبا د ۱۵۰۰۰۰ تنو په شا وخواکې ښود ل شوی د ی ۔

2. د لغمان په ولايت کې

202تاريخ حيات افغاني، ۲۳٦ مخ، د پښتور چاپ

203معلومات مختصر د رباره اقوام وقبا يل سرحدي کشور، ۱٦۰ مخ

د لغمان په ولایت کې سا پیان په عمر زیو، شکور اباد، علي خیلو، پا چا خیلو، احمد زیو، با ړېزیو، سالاو، ګاګړ، کو ټالی، د روښ اباد، د ولت شاه، اتوک، چکله او د وګل کې ژوند کو ي چې په نو مو ړي ولایت کې سا پیان د ۵۰۰۰۰ زرو تنو په شا او خواکې اټکل شوي دي

د لغمان ولایت د عمر زیو سا پیا نو مشهور نیا خو نه تور خیل، خپرن زي، زکوزي، مېر علي خیل، الو کوزي او عطا خیل دي ۰

3. د کا پیسا په ولایت کې

سا پیان د کا پیسا په ولایت کې د دغه ولایت د تګاب او نجراب په ولسو الیو کې استوګنه لري ۰

4. د پر وان په ولایت کې

سا پیان د پروان ولایت په کوه سا پي، سید خیلو، کو هدامن او کو هستان کې استوګنه لري ۰ د پروان ولایت سا پیا نود د ې لپاره چې دوی د تا جکو ورو نوسره د ډېرو کلو نو په اوږد و کې او سید لي دي نو خپله ژ به پښتو یې له لاسه ورکړې ده ۰

5. د ننګر هار په ولایت کې

د ننګر هار ولایت د خپوې ولسو الی په د ره نور کې هم د دوی یو کلی شته چې د بو ډیالی په نامه یادېږي ۰([204]) دا هغه بوډیالی ده چې شا عر انوپه خپلو شعرونو او سند ر غاړو په خپلو سند رو کې تړې یا د ونه کړې ده او ویلي یې دي:

اد کې موږې ما نو له ځمه

د بو ډیالی تو تان ږلی وهلې د ښه ما نو له ځمه

6. د بلخ په ولایت کې

د دغه ولایت په مرکز او د بلخ او د ولت اباد په ولسو الیو کې هم سلیمان خیل سا پیان

---

204 http://www.nps.edu/programs/ccs/Docs/Pakistan/Tribes/Safi.pdf

استوګنه لري ۰

7. د فاریاب په ولایت کې

د دغه ولایت د قیصار په ولسوالۍ کې هم سلیما ن خپل سا پیان استوګنه لري ۰

8. د باد غیس په ولایت کې

د غورماچ په ولسوالۍ کې هم سلیما ن خپل سا پیان مېشته دي ۰

9. د پښتونخوا په مو مند و ایجنسۍ کې

د پښتونخوا د مو مند و په ایجنسۍ کې یو زیات شمېر سا پیان چې د کندهاري، مسود، ګوربز او ود ېر په ښا خو نو پورې اړه لري استوګنه لري او داسې ویل کیږي چې د ۱۹۶۱ زېږ د ېز کال د سر شمېر نې له مخې د دوی شمېر ۵۳۰۰۰ تنه ښود ل شوي دي چې ښا یې دا شمېر به او س لا تر د ې ډېر زیا ت وي ځکه چې د د غې سر شمېر نې نه اوس پوره ٤٩ کلو نه تېر شوي دي ۰

کندهاري سا پیان د مو مند وا یجنسۍ په ویدانشا، کرښل، چینه ګۍ، کند و کو هي، امرو یي او چناري کې استوګنه لري چې په مجمو عي تو ګه د دوی سېمه د سره کمر په نامه سره یادېږي ۰ د سوات اخوند صاحب ملا عبدا لغفور هم کندهاری ساپی و ۰

ګوربز سا پیان په تره کي تنګي، لکړۍ، کمر کلا او کټه سر کې مېشته دي ۰

مسود ساپیان په چیناری، زیارت، خزینه او کوږ پاڼ کې مېشته دي ۰

همداراز ود ېر سا پیان د کونړ د سیند په جنو بي برخه کې استوګنه لري ([205]) باید وویل شي چې د مومند و ایجنسۍ د ساپیانو کلتور کټ مټ مو مند و ته ورته د ی ۰

10. په سهیلي پښتونخوا کې

یو شمېر سا پیان د سهیلي پښتونخوا په سیوۍ، ژوب او کو ئیټه کې هم استوګنه لري چې میر زایي او کمال زي یې ښا خو نه دي، خو څر ګنده د ې وي چې د غو سا پیا نو پښتو

205ولي محمد خان سیال کاکړ، پښتو او پښتا نه په سهیلي پښتونخوا کې، ٤٩ مخ

هېره کړي ده او د سندیا نو کلتوري حا کمیت يې پر ځان منلی د ی ([206]) .

11. په پاکستان کې :

د پاکستان د پنجاب په فیصل اباد کې هم یو شمېر سا پیان استوګنه لري .

83.3 د سا پیا نو د قبیلې اقتصادي جوړښت

د کونړ سا پیان له د ې کبله چې د کرنې ځمکې يې لږې دي، نو دهغې تر څنګ غواګانې، پسونه، ګډیان او مېښې هم روزي چې د غوښو، شید و او نورو حا صلا تو نه يې ګټه اخلي۔ . دوی د کرنې ځمکې زیا تره للمي دي چې اوبه نه ورسیږي او یا داوبو رسید ل ورته ناشو ني دي . زیا تره بز ګران يې په بیوزلۍ کې ژ وند تیروي، په تېره بیا هغه بز ګران چې د با دارنو(د ځمکو د خا وندانو) ځمکې کړي نو مجبور او مکلف دي چې د تخم نه پر ته نورې ټو لې ستو نزې لکه غوایان، د بزګرۍ الات، د ځمکې وهل، کرل، ربل، را ټو لول او میده کول پخپله غاړه واخلي۔ . ان د ځمکې د خا وند کو رته د حا صلا تو ویړل هم د بزګر پر غاړه دي . بز ګر مجبور د ی چې د ې نورو کا رونو تر څنګ د خپل بادار، خره، غواګانې او مېښې هم وسا تي . همداراز بز ګر خپل بادار ته د غره نه ویړیا لر ګي راویړي۔ . د بز ګر مېر من بایده دي چې د ځمکې د خا وند د مېر منې اوامرو ته غاړه کښېږدي . لنډه دا چې زیاتره خلک يې بېوزله او نېستمن دي .

83.4 خوراک

دوی په خوړو کې زیاتره د جوارو، اوربشو، غنموا و وربجو نه ګټه اخلي .ځر نګه چې دوی د بزګرۍ تر څنګ په مالدارۍ هم بو خت دي، نو زیاتره يې د غواګانو او مېښو د شید و نه هم ګټه اخلي ا و غوړي يې یا په شتمنو خلکو پلوري او یا يې د ننګر هار سېمې ته د پلورلو لپاره راویړي .

83.5 جامې

دوی زیاتره د وړیو او وزو د وژ غنو نه ځا نته مخصو صې جا مې جوړوي چې د ریشې ته ورته

206ولي محمد خان سیال کاکړ، پښتو او پښتا نه په سهیلي پښتونخوا کې، ٤٩ مخ

دي، خو تنې نلري ۰ ښځې يې تور پړوني او اوږده کميسو نه لري ۰ د دوی پر تو ګو نه چين داره وي ۰ نارينه يې د خمتا له ټو کړ نه هم ځانته کالي جوړوي او اکثره يو ډول ټو پې چې پکو لونه يې هم بو لي او د وړيو نه جوړ شوي وي په سروي ۰

83.6 مېلمه پا لنه

داقتصادي تنګسې او بې وسۍ سره سره سا پيان مېلمه پال خلک دي ۰ دوی د مېلمنو لپاره حجرې لري چې په د ې کار کې يو له بله سره سيالي کوي ۰ په دوی کې د مېلمنو قد ر زيات د ی ۰ د دوی په حجرو کې د مو سيقۍ الات لکه سيتار، رباب، منګی او نور شته ۰

83.7 پښتني ننګ

سا پيان د قام په ننګ کې غير تمن خلک دي ۰ دوی د خپل هېواد دازاد ولو لپاره دانګړېزي ير غلګرو په وړاند ې

خو خو ځلې جنګيد لي او ډول ډول قر بانۍ يې ورکړي دي ۰همدا راز د سرو روسي ير غلګرو په وړاند ې دوی داسي تورې وهلي دي چې زمور د ګران هيوادافغانستان تا ريخ د دوی د مېړانې کا رنا مې نه شي هېرولای ۰ همداسبب د ی چې د کو نړ په ولسي ژوند کې د وسلو د رلود ل او ساتل ډېر اهميت لري او د سا پيو په اړه وايې چې يوه ورځ د يوه سا پي په کور کې نا رېنه ما شوم وزېرېد ۰ څر نګه چې په اکثرو پښتنو کې دا رواج شته چې د نارينه ما شوم تر زېرېد و وروسته د ټو پک ډزې کوي ۰ څر نګه چې دغه سړي ټو پک نه د رلود نو لاړ چې يو ټو پک پيدا کړي او د خپل زوی د پيدا کېد و په خوشالۍ زې وکړي، خو چا خپل ټو پک ورنکړ ۰ کوم وخت چې ببرته خپل کور ته راستون شو نو چا ورته ويل چې راشه زوی د ې وګوره که نه نو کبر به وشي ۰ هغه په ځواب کې ورته وويل چې زما زوی د لو مړي ځل لپاره با يد زما مخ ونه ويني ځکه زه د ومره نامردیم چې د خدای په د ې لويه د نيا کې يو ټو پک هم نلرم چې د زوی د زېرېد و اعلان پرې وکړم نو که غه زما مخ ګوري ښا يي چې دهغه نه به هم زما غوند ې بې همته سړی جوړ شي ۰ نو ه به داوي چې د يوه نا رېنه او با همته سړي مخ وګوري ۰

ساپيان د غيرت او ننګ په ټکي سر او مال ور کوي ۰ په دوی کې ښځو ته طلاق ورکول سخته

بې ننګي ده ۰ څوک چې د چا په ښځه تورن شي نو دهغه ژوند بيا په مرګ شمېرل کيږي ۰ د چا په کور کې چې څوک مړشي نو که نېستمن هم وي نو هغه مجبور او مکلف د ی چې خيرات ورکړي ۰ په دوی کې د خيرات نه پرته د مړي ښخول شرم ګڼل کيږي ۰ همداراز دوی ملا يانو او ميا ګا نو ته د خيرات، صد قې او سر سايې نه هيڅکله هم غاړه نه غړوي ۰ دوی د عذر او ننواتې په وړاند ې د ډېرې لوبې ګناه نه هم تير يږي ۰ لنډه دا چې دوی په پښتني ننګ کې ډ هر ټينګ دي ۰([207])

83.8 مشهور شخصيتونه

په سا پيانو کې ډېر ستر مبا رزين، استادان، پو ځي منصبداران، ليکوالان او شا عران تېر شوي دي چې ځيني بې په حق رسيد لي او ځيني بې اوس هم ژوندي دي د لته دهغوی ياد ونه ضروري ده ۰

1. غازي محمد عثمان خان سايې چې د تګاب و او دانګر هزانو پر خلاف د ۱۸۷۹ ميلادي کال د سمبر د ميا شتي د پا خون د ر هبرانو نه و ۰
2. د خپلواکۍ د لارې ستر مبارز غازي ميرز مان خان کو نړی ۰
3. اروابنباد غلام حسن خان سايې
4. اروابنباد شهيد قا ضي عبيدالله سايې
5. اروابنباد شهيدامان الله سيلاب سا پی
6. قا ضي مطيع الله چمبيلی
7. د کتور ود ہر سايې
8. سر محقق زلمی هېواد مل
9. اروابنباد جنرال محمداصف سا پی
10. د پښتونخوا مشهور صحافي سليم سا پی
11. پو هاند د کتور ضمير سا پی

207پښتني قبيلې، د کتور لطيف ياد، ۱۵۱-۱۵۵ مخو نه، د پېښور چاپ

12. جنرال رحمت الله ساپی

13. مفتاح الدين ساپی

14. د کابل پو هنتون استاد لطف الله ساپی

15. د دانش د خپر ند ويې ټو لنې مشر اسد دانش ساپی

16. د ساپي د کتاب چاپولود مو سسې مشر امام الدين ساپی

17. عظم الدين عليمي

84 سالار زي

که چېرې د سالارزيو د قبيلې د نسب شجره په غور سره وڅېړو نو څر ګنده به شي چې سالارزي له اره سېربني پښتانه اود تر کا نيو(تر کلا نيو) د قبيلې د پنځوښا خونو نه يو مشهور ښاخ ګڼل کيږي ۰ د تر کا نيونورمشهور ښا خونه ما موند، ابر اهيم خيل، اسوزي او شمل زي دي ۰سالارزي د باجوړ په لر امد ک، بر امد ک لر سدين، بر سدين، ښار، ناوه ګی، کوټکي، اليکي، چار منګ، بابوقره اورود کې مېشته دي ۰ ([208]) همداراز د پښتونخوا دايالت د نوښار په بره با نډه کې هم يو شمېر سالارزي استوګنه لري ۰ په سالار زيو کې د برم اولاده برم خېل او دهلال اولاده هلال خېل د دانګام او اسمار د تا ريخ سره نه شليد و نکي اړيکي لري ۰

د با جوړ نه پر ته د افغانستان د کونړ په ولايت کې هم زيات شمېر سالارزي استوګنه لري او د دوی داستو ګنې خا يو نه په لاند ې ډول دي :

دانګام، شونکړی، اغذ باغ، اسمار، ساو، ساوخوړ، نارۍ، څوکی، بارګام، ازېر ګل، بريکوټ، ډمبرو، حساره، کر هاله، د م کلی، نرنګ، کنجګل، د ونايي او ټا نګو د ره ۰ ([209])

په سالارزو کې د قبيلې مشري دابراهيم ځېلو(برم خېلو) په لاس کې دمـ ۰ داسې روايت هم شته

208پښتني قبيلې، ۱۵٦ مخ، د پېښور چاپ

209معلو مات مختصر د رباره اقوام وقبا يل ولا يات سر حدي کشور، ۱٦ مخ

چې په يوه وخت کې د سالارزو د لر امد ک په غو نډۍ نو مي کلي کې د کا مران په نامه يو سړی اوسېده ۰ په د ې کلی کې د ده د يوې مېر منې نه د وه زامن دهلال او ابر اهېم (برم) په نامه وزېږېد ل ۰ د زلميتوب په وخت کې دوی د خپل پلار سره بز ګري کوله او د پلار تر مړينې ورو سته هم د بز ګری په کارونو بوخت ول ۰ يوه ورځ برم په پټي کې يوې کو له او يو ملنګ چې پر اس سپور و د پټي تر څنګ ود ږېد ۰ ملنګ برم ته وويل :" لاړ شه اوګره راته راوړه'(په شړومبو کې پخې وريجي چې يو ځای شي او ګره ورته ويله کيږي)۰ برم لاړ او له کورنه يې اوګره ورته راوړه ۰ ملنګ داوګرې کونډۍ (د لرګي کا سه) په لاس کې ونيو له اوا و ګره يې پر ځمکه توی کړه ۰ برم له کوره د رې ځلې اوګره راوړه او ملنګ د رې ځلې او ګره پر ځمکې تويه کړه، خو برم هيڅ ډول عکس العمل ونه ښود ۰ ملنګ سر را پورته کړ او په د عا کې يې وويل:" بر مه! خدای د ې د ټو لو سالا زيو خان کړه !" له د عا نه ورو سته ملنګ لاړ او برم په خپلې يوې بو خت شو ۰ د يوې کولو په وخت کې برم د سرو زرو خزانه وموند له ۰ هلال چې ته راغی نوبرم ورته ټو له کېسه وکړه ۰ هلال په ملنګ پسې وزغا ستل ۰ ملنګ ورته وويل : د سالارزو خاني مې برم ته ورکړه، ستا په خو له د ې خدای بر کت کړي ۰ ولسي جر ګې د ې ستا په خو له فيصله کيږي او په کو مه جر ګه کې چې ستا اولاده نه وي هغه د ې نه فيصله کيږي و په کو مه جر ګه کې چې ستا اولاده نه وي هغه د ې نه جو ړيږي ۰([210])

همداسبب د ی چې اوس د ده اولاده هلال خېل په سالارزيو کې ولسي شخړې او لا نجې حل او فصل او اواروي ۰

د سالار زيو يو بل ښاخ د سدين او امد ک په د وو لو يو څا نګو ېښل شوي دي ۰

د سدين څا نګې دادي:

سين خېل، کټکي ځېل، عالي خېل، قلندر خېل، خير خان خېل، کند ريان ۰

دامد ک څانګې دادي :

ابراهيم خېل(برم خېل)، هلال خېل، مېر داد خېل، شومه خېل، اکا خېل، محمود خېل، بد ل زي، ګبري، فتح ځان خېل، حيد ر ځېل، تور خېل، څر ګند خېل اوتارانې ۰

210د پښتنو ټولنيز- اقتصادي جو ړښت، د پښتو څېړ نو بين ا لمللي مرکز ۲۱۹- ۲۲۰ مخو نه

د ۱۹۶۱ زېږد ېزکال د سر شمېر نې له مخې په با جوړ کې د سالار زيو مجمو عي شمېر ۷۰۵۰۰ تنه او د افغانستان د کو نړ په ولايت کې د دوی شمېر ۳۹۹۸۲ تنه ښود ل شوی و ۰ اوس چې د د غې سر شمېر نې نه پوره پنځوس کلو نه تېر شوي دي ښا يې د دوی په شمېر کې به ډ ېر شمېر زيا توالی راغلی وي ۰

د ډيورنډ د ناولې کر ښې تر لا سليک کېد و يعنې د ۱۸۹۳ زېد ېزنه د مخه د با جوړ سېمه د افغانستان د خاورې يوه برخه وه ۰

سالارزي په پښتني ننګ او غيرت ا و پښتو نوالې باند ې ټينګ خلک دي ۰ دوی ميلمه پا لو نکي، په علم او پو هې با ند ې مين اوجنګيالي ځلک دي ۰ دوی ۰ د ېرې او حجرې تل د ميلمنو پر وړاند ې خلاصې وي ۰ دهند په نېمه وچه باند ې دانګريزي ير غلګرو په وړاند ې يې دانګرېزانو پر خلاف ډېرې توري وهلي دي او همداراز د پا کستا ني ديکتا توري حکو متو نو په وړاند ې يې ډېرې د قد ر وړ مبازې کړي دي چې دهمد ې مبارزو په پا يله کې د دوی سېمې څو څو ځلې بمبار شوي دي او ډېر تاوانونه يې ګا للي دي، ځکه چې د دوی په خته کې د خپلو اکی غو ښتنې روحيه ډ ېره پياوړې ده ۰

د سا لارز يو د قبيلې يو شمېر ليکوال او مشهور علمي شخصيتو نه په لاند ې ډول دي :

1. د افغانستان د علو مو اکيډيمی د ژبو او اد بيا تو دانستيتيوت پخوانی غړ ی سر محقق ښا غلی محمد نعيم سالارزی چې د پښتو اد بيا تو د پياوړ تيا او د پښتو قا مو سو نو په ليکلو کې يې د قد ر وړ خد متو نه کړي دي ۰
2. په کا بل کې د يو ناما د د فتر وياند ښا غلی نظيف الله سالارزی

85 سهاک

سهاک يا ساک د پښتنو هغه قبيله ده چې د نامه ربښه يې ډېره لرغونې و د حضرت مسيح عليه السلام د زېږېد و نه ۵۰۰ کلونه وړاند ې هغو ساکانو ته رسيږي چې د سيستان و هېلمند په حوزه کې اوسېد ل چې د دوی اصلي ټاټوبی ساکستان يا سګستان و چې عربو ورته سجستان وايه و په فارسي کې ورته سيستان ويل کيږي ۰ دغه ساکان په اصل کې کوچيان وو او د مسيح د مېلاد نه ۶ پېړۍ وړاند ې

دامو د سیند، فرغاني او د چیني ترکستان د سنکیانګ د حوزې نه یې په لېرد پیل وکړ او د سیستان سیمې ته یې ځا نونه ورسول چې وروسته د افغانستان په نورو سیمو کې هم خواره شول ۰

په پښتني د ود ېزه شجره کې ساک (سهاک) د موسی زوی، دابراهیم لمسی او د غلجي کړوسی د ی چې د نسب د شجرې پربنسټ یې اند ړا و ترکي ورونه ګڼل کیږي ۰ ([211])

85.1 سهاک د قبیلې ښاخونه

د ساکو یا سهاکو قبیله په لاند نیو ښاخونو باند ې ویشلې شوې ده:

حسن خېل، یعقوب خېل، خد ر خېل، بختو، یو سف خېل، الوزي، توتا خېل، اوریا خېل، ګدا خېل، اسماعیل خېل و چغ پای([212]) ۰ د تاریخ حیات افغاني په قول چې له نن نه ۱٤٥ کلو نه وړاند ې کښل شوی د ی د دوی مجموعي شمېر اووه زره کو رنۍ ښود ل شوي دي چې ښایې دا شمېر به اوس ډېر زیات وي.

د سهاکو په قبیله کې د یوسف خېلو د ښاخ شمېر د سهاکو د قبیلې د پاتې ښاخو نو په پر تله زیات دي.

85.2 سهاکو د قبیلې داستوګنې سیمې

1. د پکتیا ولایت د زرمت په ولسوالۍ کې ۰
2. د لوګر د ولایت په خروار نومې سیمه کې ۰
3. د ننګرهار ولایت د حصارک غلجي او د سره رود په ولسو الیو کې چې په دغه ولسوالۍ کې یې شمېر ۲۲٦۸ تنه ښود ل شوی د ی ۰
4. د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ په بیکتوت کې ۰

211پښتني قبیلې، ۱٥۸ مخ د پېښور چاپ

212تاریخ حیات افغاني، ۲۹۱ مخ، د پېښور چاپ

5. د کابل ولایت د سروبي په ولسوالۍ کې او همداراز د د غې ولسوالۍ داوزبین په سېمه کې۔
۰

6. د کابل ولایت د بګرامي د ولسوالۍ په شیو کیو اوسهاکو کې ۰

7. د کاپیسا ولایت د تګاب په ولسوالۍ کې ۰

8. د لغمان ولایت په مرکزد ګل بېله په کلي کې ۰

9. د پروان په ولایت او په تېره بیا دهند وکش د غره د لړۍ په سهیلي د روکې ۰

کله چې زه د د ې مقالې لېکوال په ۱۳۵٦ لمرېزکال کې د فاریاب ولایت مرکز میمنې ته تللی وم نو د دغه ښار په شمال لوید ېز پنځه کیلو متری کې مې د پښتنو کوچیانو کیږد ی ولید لې او کله چې هلته ورغلم او د دوی نه مې وپوښتل نو ځانونه یې ساک یا ساکزي کو چیان را وپیژند ل ا و ویل یې چې دوی اوړی او ژمی همد لته تیروي او د نورو کوچیانو په څېر نورو ځایونو ته لېږد نه کوي ۰([213])

سهاک میلمه پالو نکي، غیر تمن، په هیواداو علم او پو هې مین او په پښتني ننګ او غیرت باند ې ټینګ او ولاړ خلک دي ۰ دانګریزي یر غلګرو سره په د رې ګونو جګړو کې یې له ځا نه ډېره مېړانه ښود لې اود سره روسي ناتار په وړاند ې په زړورتیا سره جنګید لي دي او د خپل هیواد د ژغورنې له پاره یې ډېرې قر بانۍ ورکړیدي ۰

86 ستانکزي

که چیرې د ستانکزیو د قبیلې د نسب ونه یا شجره په غور سره و څېړو نو جو ته به شي چې دغه قبیله له اره غلجي پښتانه دي او په احمد زیو چې د پښتنو خورا ستره او پیاوړې قبیله ده ور ګډېږي ۰ د د غې قبیلې خلک زیاتره خلک د لوګر او ننګرهار په ولایتونو کې مېشته دي.([214]) ستا نکزي هم د نورو پښتنو په څېر میلمه پالونکي، په علم او پو هې مین او په پښتو او پښتونولۍ او پښتني ننګ او غیرت خورا

213د مقالې د لیکوال شخصي یاد ښتونه

214پښتني قبیلې، د کتور لطیف یاد تالیف ۱٦۰ مخ، د پېښور چاپ

ټینګ خلک دي ۰ دوی هیواد پالونکي او د ګران هېواد افغانستان د خپلواکۍ په لار کې یې ډېرې سرښند نې کړي دي۔ ۰ دانګریزي ښکېلاکګرو سره په د ري ګونو جګړو کې ستانکزیو ډېرې توري وهلي او همداراز د سره روسي ناتار په وړاند ې یې هم له ځانه ډېره مېړانه ښود لې ده ۰

86.1 ستا نکزیو داستو ګنې سېمې

د مخه مو وویل چې د ستانکزیو د قبېلې زیاتره خلک د لوګر په ولایت کې اوسیږي ۰ د لوګر ولایت نه سر بېره د ننګر هار، کابل، میدان او ورد ګو، لغمان، بغلان، کند ز، بلخ، سمنګانو، هرات او هیلمند په ولایتونو کې هم یو شمېر ستانکزي استوګنه لري ۰

1. د لوګر په ولایت کې د ستانکزیو د قبیلې داستوګنې سیمې:
   - د لوګر ولایت په مرکز د حصارک په کلي کې ۰
   - احمد زي کلا
   - د محمداغې لوېد ېز ته د مغول خېلو په سېمه کې ۰
   - شا هي کلا
   - تاج خان کلا
   - کتب خېل
   - غزني خېل
   - ابده خېل
   - کندهاري پل
   - شاه مزار
   - ابازک
   - بني شروګان

2. د کابل په ولایت کې د ستانکزیو د قبیلې سیمې په لاند ې ډول دي:
   - د مو سهي په ولسوالۍ کې
   - د چهار اسیاب ولسوالۍ په الیا س خېلو او نمو نیاز کې
   - د پغمان په ولسوالۍ کې
   - د سروبي ولسوالۍ په تیزین او جګد لګ کې
3. د میدان او ورد ګو په ولایت کې د ستانکزیو د قبیلې داستوګنې سیمې په لاند ې ډول دي:
   - د نرخ په ولسوالۍ کې
4. د کند ز په ولایت کې ستانکزي په لاند نیو ولسوالیو کې ژوند کوي:
   - دامام صاحب په ولسوالي کې
   - د خان اباد په ولسوالي کې
5. د بغلان په ولایت کې د ستانکزیو د قبېلې داوسېد و سیمې په لاند ې ډول دي:
   - د پلخمري په ولسوالۍ کې
   - د نهرین په ولسوالۍ کې
   - په بلا د وري کې ۰
6. د سمنګانو په ولایت کې ستانکزي د دغه ولایت د مرکز دایکو په ښار کې ژوند کوي ۰
7. د بلخ په ولایت کې ستا نکزي دغه ولایت د بلخ په ولسوالۍ کې استوګنه لري ۰
8. دهرات په ولایت کې
9. دهېلمند په ولایت کې

10. د لغمان په ولايت کې ([215])

11. د ننګرهار په ولايت کې ستانکزي د دغه ولايت په لاند نيو ولسوالیو کې استوګنه لري:

- د سره رود په ولسوالۍ کې
- د چپرهار په ولسوالۍ کې ([216])

د ستانکزیو قبیلې په خپلې غیږ کې یو شمېر استادان، پوهان او لیکوالان او د کریکټ د لوبې اتلان روزلي دي چې کولای شو دهغو په لړ کې د لاند نیو ښاغلو نومونه یاد کړو:

1. د کابل پوهنتون د ژورنالیزم د پوهنځي استاد ښاغلی پوهندوی نصر الله ستانکزی چې تکړه ژورنالیست او لیکوال او د څو علمي کتابونو مؤلف د ی .
2. د لوی غر د ویپانې چلوونکی او د پښتو ژبې لیکوال ښاغلی رفیع الله ستانکزی .
3. د نګاه تلویزیون اوندا راډیو ویاند ښاغلی محمد نسیم ستا نکزی .
4. ښاغلی اسدالله ستانکزی
5. د افغانستان د ملي کریکټ د ډلې لوبغاړی ښاغلی اصغر ستانکزی .

87 ستانیزي

ستاني زي هم د پښتنو د غلجیو په ټولنیز ګروپ او ډله کې یوه پېژند ل شوې قبیله ده چې د سلیمانخیلو د قبیلې یو ښاخ ګڼل کیږي . ستانیزي د ننګرهار ولایت د غلجایي حصارک او د سره رود په ولسوالیوا و همدارز د ورد ګو په شمالي برخه کې استوګنه لري . داسې روایتونه هم شته چې جبار خېل او با بکر خېل پښتانه د ستانیزیو مشهورې څا نګې دي چې د کابل او جلال اباد تر مینځ سېمو کې مېشته

215ستانکزي څوک دي؟ د لوی غر ویپا نه، د رفیع الله ستانکزي مقاله

216معلومات مختصر د رباره اقوام وقبا یل ولایت سرحدي کشور، ۳۲ مخ، د کابل چاپ

دي ۰ ([217])

ستاني زې هم د نورو پښتنو په څېر توريالي او غيرتمن خلک دي ۰ که څه هم د کرنې لږې ځمکې لري، خو يو شمېر يې په کوچنيو سوداګريو او يو شمېر هم په د ولتي ملازمتونو بوخت دي ۰

د ستانيزيو د قبيلې يو وتلی ليکوال، کيسه ليکونکی او ژورنالیست ښاغلی محمد نسيم ستانيزی د ی چې اوس دامريکې غږ راډيو د پښتو څانګې ويانديم د ی ۰

همداراز د ستانيزي د قبيلې پورې اړوند يو بل نامتو ليکوال او سياسي شنونکی ښاغلی ډاکټر احسان اذري ستانيزی د ی ۰

88 سبري

د سبري قبيله چې ځېنې وختو نه د صبري په بڼه هم راغلې ده د پښتنو په کرلانې ټولنيز ګروپ پورې يوه اړونده قبيله ده چې خلک يې د خوست ولسوالۍ د سبريو په ولسوالۍ کې چې د دغه ولايت شمال ته پرته ولسوالۍ ده استوګنه لري ۰ ختيز ته يې باک او تريزايي، جنوب ته يې د خوست د ولايت مرکز او لوېد ېز ته د منګلو د قبيلې سره ګډه پوله لري ۰ د سبريو د ولسوالۍ مرکز ديعقو بيو ښار ګوتې د ی ۰

سبري غيرتمن، ميلمه پا لو نکي او په پښتني ننګ او غيرت ټينګ خلک دي. دوی دانګريزي ير غلګرو سره دافغان - انګرېز په د ري ګو نو جګړو کې په مېړ انه جنګيد لي او هم د روسي ښکيلاکګرو په وړاند ې يې خپله مېړانه او پښتو نولي په اثبات رسو لې ده اود خپلې خاورې او هېواد سا تنه يې په مېړانې سره کړې ده ۰

د سبري د قبيلې خلک په عمو مي تو ګه د کر نې او مالداری په چارو بو خت دي ۰ زيات شمېر ځوانان يې د غر يیۍ او مز د وريو لپاره د خليج عر بي هيواد و نو لکه: د وبۍ، شارجه، قطر او همداراز په سعودي عر بستان کې شپې او ورځې تيروي ۰ د دغه ځای خلک د مزرو نه پوزي، پړي، جاي نما زونه او ټو کرۍ ګاني او شکرونه جوړوي ۰

217پښتني قبيلې، ۱۶۰ مخ

د سبريو سيمه ډېره ښه شنه، حاصلخيزه او ابادە دە ۰ د سبر يو د قبيلې شمېر په تخميني ډول ۱۹۰۲۶ تنه ښود ل شوی د ی ۰

د سبريو د قبيلې مشهورښا خو نه او خيلو نه په لاند ې ډول دي :

- بازوخيل
- صالح خېل
- ابو خېل
- غزني خېل
- خوداخېل
- انتوخېل
- سنکي خېل
- د رنامي

ماخوذ د ([218]، [219]، [220]) نه.

89 ستورياني

د ستورياني قبېله چې کله کله په ځينو پخوانيو تاريخي کتابونو کې داستورياني په بڼه يې هم نوم راغلی د ی د سړبني پښتنو په ټولنيز ګروپ کې په وصلي توګه شامله قبېله ده ا ود پښتونخوا په د ېره اسماعيل خان کې استوګنه لري ۰ د دوی د سيمې شمال ته شيراني، لويد ېز ته يې زمري، ايسوټ او

218http://en.wikipedia.org/wiki/Sabari_District

219معلو مات مختصر د رباره اقوام وقبا يل ولايات سر حدي کشور ۵۹ مخ، کابل، ۱۳۶۳

220پښتني قبيلې، ۱۵۸-۱۵۹ مخونه، د پېښور چاپ

موسی خپل کاکړ او جنوب ته د کسراني او بلوڅو بزدارو او په ختېز کې د ګنډاپورو پښتنو سره پو له لري (221).

ستوریاني په عمومي توګه د سلیمان غره په ختیزه برخه او د ګومل د سیند په جنو بي خواکې میشته دي . د دوی لوی کلی د کوی بهاره په نامه یادیږي .

مشهورا و نامتوا نګریزي مؤرخ مونټ سټوارټ الفنسټن په خپل مشهور اثر (An Account of the Kingdom of Cabul) کې چې د ښاغلي پو هاند د کتور محمد حسن کاکړ او ښا غلي سر محقق نصر الله سو بمن له خوا د کابل سلطنت بیان تر نامه لاند ې یې په ګډه تر جمه او د افغانستان د علومو اکاډمی د پښتو څېړنو د ړېوال مرکز له خوا په ۱۳۶۱ لمرېز کال کې چاپ شوی د ی د ستوریا نیو د قبیلې په اړوند داسې کښلي دي :

" ستوریاني تر د غو وروستیو وختونو پورې ټول کوچیان وو . د دوی سېمه په حقیقت کې د کرنې لپاره د ومره مساعده نه ده . ډېر وخت تیریږي چې دوی دغه سېمه د دامان د بلوڅانو نه ونېوله او ژمی به یې هلته اړول او په د وبي کې به یې خپلې مېنې او رمې د موسی خپلو کاکړو سېمو ته بېولې . دغه لېږ دید نې دهغې جګړې له کبله چې د دوی او د کا کړو د یوې قو مي څا نګې تر مینځ شوې وې نا را حته کوونکې ثا بتې شوې، په د ې چې دوی مجبور وو دهغوی له سېمو نه وا وړي، نو د ستو ر یا نیو د قبیلې نیما یې بر خې خپلې رمې وپلورلې او په کر نې یې پیل وکړ . هغې بلې بر خې یې د پخوا په څېر خپل عاد ت ته د وام ورکړ، خو ډېر ژر د ېته اړ ویستل شول چې دهغو نورو په لاره روان شي . د نو یو او پخو ا نیو میشته شوو ستو ریا نو تر مینځ له څو جګړو وروسته ټوله قبیله کر وند ګړه شوه .یوازې د وه څا نګې یې تر او سه هم کو چیا ني ژوند ته د وام ورکوي او اوس هم په پسر لي کې خپل ما لو نه سپو ستا ته چې د سلیمان تخت په جنوب لو ید ېز کې د ی خیژوي . سره له د ې هم ډېر ستو ریا نې تر او سه پورې سو داګر او د ما لو نکو وړونکي پا تي شوي دي او دا هغسي ژوند د ی چې د ګر ځنده پوونده وو ژوند ته نږد ې د ی. دوی معمولا په خرو او غو ایا نو مالو نه وړي او نږ د ې څلور زره کو رنۍ شمیرل شوي دي

221د وړ، شیر رحمن، اضلاع، ایجنسي ها وقبایل ایالت پښتو نستان، ۹۸ مخ، د قومونو او قبایلو چارو وزارت، ۱۳۶۳ کال

." ([222])

د ستوريانې قبيله په ډېرو نورو ښاخو نو او څا نګو با ند ې ويشلې شوې ده چې مشهورې څا نګې يې دادي :

حسن زي، خان زي، شبي زي، اسما عيل زي، احمد زي، خواجه خيل، تو رخيل، اکو زي، کاره زي و ګدار زي ۰ ([223])

ويل کيږي چې دغه پوونده قبيلې د کندهار او بنګال تر مينځ هم سو داګري کوله ۰ نن هم يو زيات شمېر ستو ريا ني په هند و ستان کې استوګنه لري اود د ې لپاره چې د نګې ونې او ښا يسته ځېرې لري نو يو شمېر يې د پو ليسو په تو ګه د ند ې تر سره کوي ۰

ستوريانې په پښتني ننګ او غيرت ټينګ خلک دي ۰ دوی د ود ونه او رواجو نه د نورو ګا وندېو پښتنو په ځېر دي ۰

د روسي مشهور اتنوګرافر ستانيشفسکي داتنوګرافيکو معلو ما تو له مخې چې د شلمې پېړۍ په پيل کې يې کړي وو د ستو ريا نيو د قبيلې د وګړو شمېر يې د ۳۵ زرو تنو په شا او خواکې ښو د لي دي ۰ ([224])

90 سد وزي

سد وزي له اره سرېښي پښتانه دي او د پوپلزيو د قبيلې يوه څانګه ګڼل کيږي ۰ د د غې قبيلې مورث اعلی يا ستر نېکه اسدالله خان و چې په ۹٦٥ لمريز کال زيږېد لی او په ۱۰۲۱ لمريز کال يې له د ې نړۍ نه ستر ګې پټې کړي دي ۰ نوموړی په عوامو کې په ملک سد و مشهور و او د ده د نامه له کبله دغه قبيله په سد وزيو سره مشهوره شوه.

222د کا بل سلطنت بيان، د ويم ټوک ٦٣- ٦٤ مخو نه

http://www.pashtunforums.com/pashtun-history-8/pashtun-tribes-521223

224پښتني قبيلې، د د کتور لطيف ياد تاليف، ١٦١- ١٦٢ مخو نه، پېښور، د دانش خپر ند و يه ټو لنه

تاریخ حیات افغا ني د سد وزیو د قبیلې په اړوند داسې کښلي دي :

" سد وزي د پوپلزیو یوه څانګه ده ۰ سد وزیان تر ډېره وخته پورې نه یوازې د پوپلزیو د قبیلې، بلکې د د رانیو د ټولې قبیلې خانان او مشران شمېرل کېد ل او جوته ده چې سد وزیان د د راني قبیلو په ټولو څانګو کې د ځانګړي د رناوي نه بر خمنه قبیله ګڼله کېد له، دا ځکه چې د افغانستان بنسټ ایښود ونکی او واکمن لوی احمد شا ه بابا علیه الر حمه د سد وزي د ټبر نه و نو ځکه سد وزیان یوه بېله قبیله ګڼله کیږي، خو په اصل کې دغه قبیله د پوپلزیو د قبیلې یوه څا نګه ده ۰ " ([225])

ملک سد و یو ډېر پوه او هوښیار سړی و چې د خپل قوم لپاره یې ډېر خد متونه وکړل او په پای کې د خپل عمر په ۷۵ کلنۍ کې یې د د ې فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې ۰ د ملک سد و نه پنځه زامن پاتې شول چې خواجه خضر خان، مود ود خان، زعفران خان، کامران خان او بهاد رخان نو میـد ل، چې بیا خواجه خضر خان د ولس او خپلې قبیلې د خلکو په خوښه په مشر تابه وټاکل شو او شل کاله یې د خپل قوم خد مت وکړ ۰ خواجه خضر خان د وه زامن د رلود ل چې یو یې خدداد سلطان او د ویم یې شیر خان نو مېد ل ۰([226]) تر پلار وروسته خدداد سلطان د قبیلې مشر شو چې یو باتد بیره او ځیرک انسان و او د قبیلې ټو لې شخړې او لانجې یې د جر ګو لـه لارې اوارولې ۰ خدداد سلطان د غلجیانو او ابدالیانو تر مینځ پو لې د ورور ګلویزو اړېکوپر بنسټ و ټا کلې او بیا یې د قبیلې مشري خپل ورور شېر خـان ته وسپارله ۰

شېر خان د خپلې مشرۍ په وخت کې دایران د بیګلر بیګي یا سیا سي استازي سره په کنـدهار کـې په مخا لفت لاس پورې کړ ۰ ده هم د خپل عمر په ٦٥ کلنۍ کې له د ې نړۍ نه ستر ګي پټې کړې ۰ تر شیر خان نه وروسته یې زوی سر مست خان د سد و زیوقبیلې مشر وټا کل شو او دیرش کاله د د غې قبیلې د مشر په تو ګه پا تې شو، چې بیا دهغه ځای نا ستی دهغه زوی د ولت خان و، خـو د د ې لـه پاره چې نو مو ړی په عمـر کـو چنـی و نـو د قبیلې د مشـر تـابه چـارې بـه د ده اکـا حیـات سـلطان پـر مـخ بیـولې ۰ وروسته د ولت خان ا و دهغه زوی نظر محمد خان په کندهار کې دایران د بیګلر بیګي ګورګین د تـو طیـو له مخې ووژل شول ۰ د د ولت خان تر مړ ینې وروسته د ده نه د وه نور زامن پا تې شول چې یو یې رسـتم

225تاریخ حیات افغا ني، د ویم چاپ ۱٤۲ نه تر ۱٥۲ پورې مخو نه، پېښور، دانش

226پښتانه د تاریخ په رڼا کې، ۱۲۷۸- ۱۲۷۹ مخو نه

خان او بل يې زما نخان ول ۰ کله چې رستم خان د خپل پلار تر وژل کيد و وروسته د سد و زيو د قبيلې مشر شو، نو د ی هم د ظالم ګورګين له خوا ووژل شو ۰ په دغه وخت کې د سد و زيو قبيله بې مشره پا تې شوه ۰

په ۱۰۲۹هجري کال کې د حيات سلطان زوی عبدالله خان او دهغه زوی اسدالله خان چې ملتان ته تللی ول له ملتا نه بېرته کندهار ته راغلل او عبدالله خان د د غې قبيلې مشري پ په غاړه واخيستله ۰ عبدالله خان او زوی يې اسدالله خان بيا هرات ته ولاړل، خو دهرات ګورنر عباس قلي خان د واړه بنديان کړل ۰ په دغه وخت کې دهرات قزلبا شانو د عباس قلي خان پر خلاف بغا وت وکړ او عباس قلي خان هم مجبور شو چې له هراته وتښتي ۰ په د ې وخت کې عبدالله خان او زوی يې ا سدالله خان چې د عبا س قلي خان په بنديخا نه کې بنديان ول د عبا س قلي خان د تيښتې سره سم له بنديخانې وتښتيد ل او غرو نو ته وختل او په بغاوت يې لاس پورې کړ او بيا دهرات د نيولو لپاره د ښار په لور وروخو ځيد ل ۰ له ښاره يو فر سخ ليرې د د سد و زيو او ايرانيا نو تر منځ جګړه ونښته چې په نتيجه کې ايراني حاکم جعفر خان ونيول شو او سد وزيانو ښار محاصره کړ او په د ې تو ګه دهرات ښار سد و زيو ته په لاس ورغی۔ ۰ ورو سته اسدالله خان سد وزی د فراه په جګړه کې د محمود له خوا ووژل شو ۰

تر د ې پېښو وروسته عبدالله خان سد وزی هم وفات شوا و بياد خلکو په اتفاق سره زمانخان د سد وزيو د قبيلې مشري پرغاړه واخيسته ا و دايرا ني پو ځو نو سره په مېرانه وجنګېد ۰ د ده زوی ذوالفقار خان هم دايرانيا نو سره ډېرې جګړې وکړې ۰

تر هغه وو سته د سد و زيو په قبيله کې لوی احمد شاه بابا د ۱۷٤۷ نه تر ۱۷۷۳زيږ د ېزه پورې د افغانستان واکمن شو او يوه ستره امپر اتوري يې جوړه کړه چې په تاريخ کې د د رانيانو دامپر اتوری په نامه سره مشهوره ده چې د د ې امپر اتوری لمن په لو يد ېز کې تر اصفهان او نيشا پوره، په ختيز کې ترکشمېر، لاهور پنجاب او ډيلي پورې او په شمال کې تر مروې او بخا را پورې پراخه وه ۰

پته د ې نه وي چې سد وزيان، د رانيان او ابداليان په مجموع کې سره توپير نلري او د يو تبر او يوه پلار اولاده ګڼل کيږي، خو يوازې دا چې سد وزي د پوپلزيو د قبيلې يوه څانګه دمـ ۰ لوی احمد شاه بابا په تاريخ کې کله د سد وزي، کله دابدالي او کله د د راني په نومونو او لقبونو سره ياد شوی د ی ۰

([227])

نن ورځ د سد وزي د قبيلې پورې اړونده خلک په کندهار، هرات، فراه، هيلمند، زابل، کابل، ايران، پېښور، پښتونخوا، کويټه، لاهور، ملتان، کراچۍ، ډېره جاتو، کشمير، هنداو ډېرو بهرنيو هيواد ونو کې استوګنه لري ۰

91 سرکانې

زمونږ پښت پوهان او نسب پېژند ونکي د سرکانې قبيله د پښتنو په سړبني ټولنيز ګروپ پورې يوه اړونده قبيله ګڼي چې په الکوزيو ور ګډيږي ۰ داسې ويل کيږي چې د دوی اصلي ټاټوبی کندهار و، خو وروسته بيا د ځينو عواملو په وجه يې خپل اصلي ټاټوبی پريښی اوکونړ ته راغلي دي او د دغه ولايت د سرکانو په ولسوالۍ کې مېشته دي چې د د غې ولسوالۍ نوم هم د دوی د قبيلې په وجه د سرکانې د ولسوالۍ په نامه سره يادېږي ۰ د سر کا نيو ولسوالي د کو نړ په مرکزي برخه کې پر ته ده چې په جنوب کې د پښتونخوا سره ګډه پوله لري ۰ په د غې ولسوالۍ کې ۲٤۲۰۰ تنه او سيږي چې زيات شمېر يې په سرکانې قبيلې پورې ټړلي خلک دي. د غې ولسوالۍ مرکز د سرکانو کلی د ې. ([228])

د سرکانيو شمال ته د کو نړ سيند بهيږي چې د د غې ولسوالۍ ډېرې لږې بر خې خړوبوي ۰ په دغه سيمه کې وچکالي او داوبو نشتوالی د خلکوډېره لويه ستو نزه ده او تقر يبا په سلو کې ۷۰ ځمکې يې د وچکالۍ او داوبو د نشتوالي له کبله شاړې او بنجرې پر تې دي، له همد ې کبله يې ګڼ شمېر خلک بېوزله دي ۰ د سرکانيو ولسوالي د کونړ ولايت د مرکز اسعدابادنه ۱۱ کيلو متره واټن لري ۰ د دوی په ولسوالۍ کې اووه لوی کلي شته ۰ ([229])

د د غې ولسوالۍ خلک سره له د ې چې ځمکې يې لږې او بې اوبو دي نو په کرنې او مالداری با

227پښتني قبيلې، ۱٦۲، ۱٦۳، ۱٦٤ مخونه، د ويم چاپ، پېښور، دانش

228http://en.wikipedia.org/wiki/Sirkanay_District

229http://www.aims.org.af/afg/dist_profiles/unhcr_district_profiles/eastern/kunar/sirkanay.pdf

ند ې خپل ژوند مخ ته بيا يي ۰ د دوی څاروي غواګاني، پسونه، وزي او خره دي. سرکاڼي ميلمه پا لو نکي، د علم او پو هي مېنه وال او د خپل ګران هېوادافغانستان سره ډېره مېنه لري ۰ دوی دانګريزي ښکيلاکګرو سره دافغان-انګرېز په د ري ګونو جګړو کې په مېړ انه جنګيد لي او هم د روسي بلوسګرو په وړاند ې يې خپل ټټرونه دهېواد د سا تنې لپاره سپر کړي او خپله هيواد نې د نده يې په زړورتيا او پښتو نولې سره سر ته رسولې ده ۰ د دوی دهېواد پا لنې يوه ستر ګه بېلګه داده چې د روسانو سره په جګړې کې د دوی په سلو کې ۹۰ کورونه بمبار شوي او له مينځه تللي دي ۰ د د غې ولسوالۍ ډېر خلک اوس هم په پښتونخوا او پاکستان کې د مها جرت شپې اوو رځې تيروي، په تېره بيا ډېر ځو انان يې په پاکستان او پښتونخوا کې په مزد وريو او غر ييو اخته دي ۰

د سرکاڼيو په ولسوالۍ کې يوه ليسه او څولو مړ ني ښو نځي شته، خود ښو ونکو شمېر يې لږ د ی ۰ د د ې ولسوالۍ خلک د څښاک پاکې اوبه نلري او په سلو کې ۸۰ خلک يې د سيند له او بو نه د څښاک او پخلي لپاره ګټه اخلي ۰

د سرکاڼو د ولسوالۍ سر بېره يو شمېر سر کاڼي د کونړ ولايت په اسمار کې هم استوګنه لري ۰([230]) همداراز د کو نړ په ولايت سر بېره، سر کا ڼي دالکو زيو د قبيلې د يوه ښاخ په تو ګه د افغانستان په لو يد ېز او جنو ب لوېديز کې ستو ګنه لري ۰ ([231])

92 سروانې يا شېروانې

زمونږ پښت پو هان او نسب پېژ ند ونکي سر وانې د پښتنود بېټنيو په ټولنيز ګروپ پورې ټړي ۰ د پښتني د ود ېزې شجرې پر بنسټ بيټ نيکه ډېر مشهور نيکه تېر شوی د ی او له پخوا زمانې نه مؤ رخا نو د ده نوم او حال ليکلی د ی ۰ په پښتني عنعنه کې هم بيټ نيکه خورا لوی پښتون او مشهور ستانه او نيکه ګڼل شوی د ی ۰([232])

230معلومات مختصر د رباره اقوام و قبا يل سر حدي کشور، ۲۲ مخ

231پښتني قبيلې، ۱٦٥ مخ، د وهم چاپ، پېښور ۰د دانش خپر ند ويه ټو لنه

232پښتني قبيلې، ٥۹ مخ، د دانش چاپ، پېښور

د سروانې قبيلې خلکو ته په هند وستان او پاکستان کې شپروانې هم وايي ۰ د سروانيو د قبيلې ياد ونه او ذکر دهند د مغولي واکمنانو هر يوه جلال الدين محمداکبر (۹۲۳ .. ۱۰۱٤) هجري، نورالدين جهانګير (۱۰۱٤ .. ۱۰۳۷) هجري و شاهجهان (۱۰۳۷ .. ۱۰٦۸) هجري د د وړې په مهمو تاريخي کتابو نو لکه تحفه اکبر شاهي يا تاريخ شير شاهي کې چې مؤلف يې پښتون عباس خان سر وانی د ی او د مغولي واکمن جلال الد ن محمداکبر په امر يې په ۹۹٤ هجري کال کښلی د ی، په تاريخ خانجهاني و مخزن افغاني کې چې مؤلف يې پښتون نعمت الله هروي نورزی د ی، په تاريخ داودي کې چې مؤ لف يې يو تن پښتون عبدالله د ی او هم د شاهجهان د د وري (۱۰۳۷ .. ۱۰٦۸) هجري په مهم تا ريخي کتاب تاريخ شاهي کې چې په تاريخ سلاطين افاغنه سره شهرت لري او د يوه تن پښتون تاريخپوه احمدياد ګار له خوا چې دهند د بنګال د وروستي پښتون واکمن داود شاه کر لاني (۹۸۰ .. ۹۸۳) هجري په امر يې کښلی د ی راغلی د ی ۰

په هند وستان کې د پښتنو واکمنا نو يعنې لو ديانو او سو ريانو د واکمنی په وخت کې هم يو ډېر شمېر لوړ پوړي افسران ا، چا رواکي اوا مرا د سر وانې په قبيلې پورې اړه د رلوده چې په هغو کې د ملو خان سروانې، فتح خان سر وانې، د ريا خان سر وانې، داود خان سروانې، سکند ر شاه سر وانې او ابر اهيم سر وانې نو مو نه ديا د ولو وړدي ۰([233])

تاريخ حيات افغا ني د سر وانې قبيلې په اړوند داسي کښلي دي :

" ويل کيږي چې د شها ب الدين غوري د واکمنی يا تر هغه لږ وروسته د سروانې قبيلې د د رابن او چودهوان شا او خوا سېمې ونيولې او د دغه ځای ځمکې يې په خپله قبضه کې راو ستلې او د دغه قوم مشري د سرپيال کورنی په تېره بيا د شيخ مليح قتال کورنی ته ورکړل شوه ۰ د رابن له ډېرې مود ې راهسې رنګ پروت او هغه د رابن چې اوس اباد د ی شيخ قتال سروانې ودان کړی د ی چې په شمالي د روازه کې يې تر اوسه پورې د نومورې شيخ نښان موجود د ی ۰ په پخوا وختونو کې د د رابن ښار اباداو ډېرې ښايسته او ښکلي ودانی يې لرلې چې اوس د روانو اوبو او شنو ونو نه پرته بله کو مه ښکلا نه ده ورته پاتې. سروانيو ډېره موده پر دغه ځای باند ې ولکه د رلود له، خو دهند د مغولي واکمن همايون د واکمنی

233تاريخ شاهي يا تاريخ سلا طين افا غنه، داحمدياد ګار تاليف، رايل ايشياټيک سوسائټي اف بنګال، ۱۹۳۹ ميلادي کلکته، د فهرست الرجال برخه

په وخت کې له دغه ځایه ووتل او د دوی د وتلو لپاره د وه لاملونه موجود ول لومړی د دوی د شمېر لږوالی او کمزوري، د ویم د دوی ماتې ۰ لومړی علت یعنې د دوی د کمزوري علت دا و چې د ستوریو د قبیلې او سروانیو تر مینځ د پښتني ننګ او غیرت په وجه لانجه را مینځ ته شوه چې په نتیجه کې په جګړې بد له شوه او په زاړه د رابې کې د داوړو خواو و تر مینځ خونړی جګړه پېښه شوه چې له د واړو خواوو نه پکې ډېر کسان ووژل شول او کله چې د د واړو خواوو پاتې کسانو دغه حالت او مړي ولید ل و ډېر پښېمان او نوره یې جګړه مناسبه ونه ګڼله او د یو او بل له وژلو نه یې لاس واخیست او هرې قبیلې خپل مړي چې په زرګونو تنه ول په کوچنیو کوچنیو قبرونو کې ښخ کړل او بېرته خپلو استوګنځایونو ته ستانه شول ۰ د د غې جګړې نتیجه دا شوه چې له هغې ورځې نه د ستوریو او سروانیو شمېر ډېر لږ او تر هغې اندازې پورې کمزوري شول چې د خپل هیڅ مخالف قوم او قبیلې سره یې سیالي نه شوه کولای ۰ تر هغه ورسته دهمایون پاچا د واکمنۍ په پیل کې کله چې د میاخیلو لوحانې (لوانې) ښاخ او بختیارو په پاتې سروانیو یرغل وکړ، چې تر لږې مقابلې وروسته یو شمېر سروانې ووژل شول او پاتې یې مغلوب او د د رابې له سېمې یې لاس لنډ شو او دغه سېمه د میاخیلو او بختیارو د قبیلو لاس ته ورغله او سروانې چې ډېر لږ پاتې ول ځینې یې خواره او ځینې یې مالېر کوټلې ته چې اوس دهند د پنجاب په ایالت کې سرهند ته نږدې مو قعیت لر ي ولاړل ۰ " ([234])

تر هغه ځا یه چې ما د د ې مقالې لیکوال د سر وانیو په اړوند ځیړ نه وکړه نو دوی د پښتونخوا یا لت په د ېره اسما عیل خان، د کاکا صاحب د زیارت په سپین کا نې کې او د خیر اباد د سیمې په امیرو او اټک کې، د پاکستان د پنجاب د واه د سېمې په چکاره نومي ځای کې، د ملتان په افغان کالوني نو مي ځای کې، ګو جر انواله، د جهیلم په افغان اباداوسیالکوټ کې او دهند و ستان دهر یا نا دایا لت په کر نال او د پنجاب دایالت د مالیر کو ټله په سېمه کې ا ستو ګنه لري ۰ ([235])

92.1 دهند مالېرکوټله په سیمه میشته سر وانې

د مالیر کو ټله سېمه دهند د پنجاب ایالت د سنګرور د ولسوالۍ یا ډیسټرکټ پورې یوه اړونده

234تا ریخ حیات افغاني، پښتو ژباړه، ۳۱۶ مخ، دانش، پېښور

235http://en.wikipedia.org/wiki/Sherwani_tribe

سېمه ده چې دهند د خپلواکۍ ۱۹٤۷ عیسوي کاله پورې د سروانیو پښتنو یو ریاست ګډل کیده او سروانې پښتانه د د غې سېمې نو ابان ول ۰ که چیرې د مالېر کو ټلې د سر وانیو د نسب شجره وګورو نو دوی په اصل کې پښتانه بیټنې دي چې لو مړی په افغانستان کې او سید ل بیا له هغه ځایه د سلطان شهاب الدین غوري د واکمنۍ په وخت کې یې د د رابنې او چودهوان سېمې چې اوس د پښتونخوا په د ېره اسما عیل خان کې دي په خپله ولکه کې را وستلې ۰

په دغه وخت کې د سروانیو یو مشهور تن چې شیخ صد رالدین نو مېداو په صد ر جهان مشهوراو ډېر عابداو له خدایه یې وېره د رلود له په ۱٤٦۹ میلا دي کال کې چې د ۷۸٦ هجري کال سره سمون خوري د خپل اصلي ټا ټو یې د رابنې نه دهند وستان خواته د سیاحت لپاره رهي شو ۰ کله چې د ما لېر سیمې ته ورسیداو د ستلج د سیند د یوې ویالې پر غاړه یې چې جهوم یې بولي او اثار یې اوس هم لید ل کیږي یوه څېره ودانه او هلته د خدای په عباد ت بو خت شو ۰ په دغه وخت کې دهند پښتون واکمن سلطان بهلول لودي لا واکمنۍ ته نه و رسید لی ۰

یوه ورځ سلطان بهلول لودي د سر هند د سیمې نه ډهلي ته روان و چې پر دغه عبا د تځي با ند ې ورېرابر شو او د شیخ صد ر جهان سر وانې زهداو تقوای پرې ډېره اغېزه وکړه او په زړه کې یې وویل که چېرې زه د ډهلي او اګرې واکمني تر لا سه کړم نو خپله لور به ده ته ور نکاح کړم ۰ ډهلي ته د رسید لو سره سم د سلطان بهلول لودي ارمان پوره شو او دهند و ستان واکمني یې تر لا سه کړه ۰ سلطان بهلول چې پر پښتو او پښتو نولۍ باند ې ټینګ ولاړ و پر خپلې پخو انۍ ژمنې یې وفا وکړه او خپله لور یې شیخ صد ر جهان ته ور په نکاح کړه او دهغه د ګوزارې لپاره یې ده ته ۱۲ ستر کلي او ٥٦ کو چنۍ سېمې ورکړې او هم یې د واده لپاره ټول سا مانونه اوشیان ورته ور ولیږل ۰ شیخ صد ر جهان ورو سته بیا یو کلی ودان کړ او مالېر یې نوم پرې کېښود چې همدااوس هم په مالېر کو ټله سره شهرت لري ۰

داسي ویل کیږي چې نو موږي شیخ ورو سته بیا د کېور تله سېمې د رئیس بهرام له لور سره هم واده وکړ چې د بهلول لودي له لور نه یې د حسن او د بهرام د لور نه یې د عیسی او موسی په نامه د وه زامن پیدا شول ۰

شیخ صد ر جهان په ۱٥۱٥ عیسوي کال کې د ۷۱ کلو نو په عمر له د ې نړۍ نه ستر ګې پټې کړې او په مالېر کو ټله کې خاورو ته وسپارل شو چې زیارت یې اوس هم د خا صوا و عا مو زیا رتځی د

ی ۰ د شیخ صد ر جهان تر مړ ینې ورو سته د ده زوی حسن د خپل پلار په څېر فقیر انه ژوند تېراوه او د خپل پلار د مزار خد مت یې پر غاړه واخیست ا و عیسی او موسی د مالېر کو ټله د سیمې د ریاست او نوابۍ چارې پر غاړه واخیستې ۰ مو سی کوم او لاد نه د رلوداو یې او لاده مړ شو ۰ عیسی هم په ۱۵۳۸ عیسوي کال کې وفات شو، خو دهغه تر مړ ینې وروسته د ده یوا زینی زوی شاه محمد خان د ما لېر کو ټله د سیمې د نوابۍ چارې پر غا ړه واخیستلې ۰ د شا ه محمد خان تر مړ ینې ورو سته په ۱۵٤۵ عیسوي کال کې دهغه مشر زوی معد ود خان چې په خواجه اسحق مشهور د مالېر کو ټله د سیمې نواب شو ۰

د خواجه معد ود خان تر مړینې وروسته په ۱۵٦٦ عیسوي کال کې د مالیر کو ټله د ریاست چارې د ده زوی نواب فتح محمد خان ته په لاس ورغلې. د نواب فتح محمد خان تر مړینې وروسته په ۱٦۰٤ میلادي کال کې د ده زوی نواب محمد بازید خان چې یو ډېر زړور سړی و د مالېر کوټله د سیمې نواب شو ۰ محمد با زید خان څلور زامن د رلود ل چې فیروز خان، اختیار خان، سرور خان او حسین خان نو مېد ل ۰ د محمد با زید خان تر مړینې وروسته دهغه مشر زوی نواب فیروز خان د د غې سیمې د نوابۍ پر ګد ی ډډه ولګوله ۰ د نواب بازید خان نه ورو سته نواب شیر محمد خان نواب شو ۰ ده هم اووه زامن د رلود ل چې دهغه تر وفات ورو سته د ده ر زوی نواب غلام حسین خان د نواب په تو ګه د نده تر سره کوله چې بیا تر هغه ورو سته نواب جمال خان نواب شو ۰ تر نواب جما ل خان نه ورو سته په تر تیب سره یو په بل پسې د نوابۍ چارې نواب بهیکن خان، نواب بهاد ر خان، نواب عمر خان، نواب اسدالله خان، نواب وزیر خان، نواب محبوب علیخان، نواب سکند ر علي خا ن، نواب غلام محمد خان اونواب ابر اهیم علي خان ۰ته وسپا رل شوې ۰

په او سني وخت د د غوسړ واني نو ابا نو د کو رنۍ نه یو هم نصرت اکرام خان د ی چې د پنجاب په کا بینه کې د سپورټ او بد ني و زنې وزیر د ی ۰ ([236])

92.2 سر وانې د قبیلې خیلونه

د د غې قبیلې ځینې نما خو نه ا و څا نګې په لا ند ې ډول دي : سرپیال، سیني، بلي، جعفري،

236میزان، ٦۵ ګڼه، ۲۰۰۰ میلادي، د مالېر کو ټله د سېمې افغا ني نوابان او د دوی ریا ست، د ډهلي چاپ، هند و ستان

سوري، حسن خيل، هديا يخل، سهيا، يو نس خيل، ايوب زي، د وي خيل، خضر خيل، زكوزي، يوسف خيل، متا خيل، پو پي زي، ناهر زي، اموټ، چنان زي، اجا خيل، هد و زي، مما خيل، بهدين خيل، هوتي زي، هارون خيل، كز ولي، محمود زي، اميک، اليک، احمد خيل ګداى، علي خيل، ظهر خيل، اغوک خيل، مموزي او نور ۰۰ ([237])

93 سرپيال

سرپيال له اره بيټني پښتانه اود سر وانيو پښتنو يو ښاخ ګڼل كيږي۔ ۰ داسې ويل كيږي چې د سر وانې قبيلې د سر پيال د ښاخ نه شيخ صد رالدين چې وروسته په صد ر جهان سره مشهور شو او يو عابد پر هيز ګاره انسان و د خپل اصلي ټا ټو بي د رابڼ نه چې د پښتونخوا په د ېره اسما عيل خان كې پروت د ى په ١٤٦٩ ميلا دي كال كې چې د ٧٨٦ هجري كال سره سمون خوري دهند وستان خواته د سياحت لپاره رهي شو ۰

كله چې د ما لېر سيمې ته ورسيداو د ستلج د سيند د يوې ويالې پر غاړه بې چې جهوم يې بولي او اثار بې اوس هم ليد ل كيږي يوه څپره ودانه او هلته د خداى په عباد ت بو خت شو ۰ په دغه وخت كې دهند پښتون واكمن سلطان بهلول لودي لا واكمنې ته نه و رسيد لى ۰ يوه ورځ سلطان بهلول لودي د سر هند د سيمې نه ډهلي ته روان و چې پر دغه عبا د تځي با ند ې وربرابر شو او د شيخ صد ر جهان سر وانې زهداو تقواى پرې ډېره اغېزه وكړه او په زړه كې بې وويل كه چېرې زه د ډهلي او اګرې واكمني تر لا سه كړم نو خپله لور به ده ته ورپه نكاح كړم ۰

ډهلي ته د رسيد لو سره سم د سلطان بهلول لودي ارمان پوره شو او دهند و ستان واكمني بې تر لا سه كړه ۰ سلطان بهلول چې پر پښتو او پښتو نولې باند ې ټينګ ولاړ و پر خپلې پخو انې ژمنې يې وفا وكړه او خپله لور بې شيخ صد ر جهان ته ور په نكاح كړه او دهغه د ګوزارې لپاره بې ده ته ١٢ ستر كلي او ٥٦ كو چنې سېمې وركړې او هم بې د واده لپاره ټول سا مانونه اوشيان ورته ور وليږل ۰

شيخ صد ر جهان ورو سته بيا يو كلى ودان كړ او مالېر بې نوم پرې كېښود چې همداوس هم په

237تاريخ حيات افغاني، ٣١٧ مخ

مالېر کو ټله سره شهرت لري ۰ داسي ويل کيږي چې نو موړي شيخ ورو سته بيا د کپور تله سېمې د رئيس بهرام له لور سره هم واده وکړ چې د بهلول لودي له لور نه يې د حسن او د بهرام د لور نه يې د عيسى او موسى په نامه د وه زامن پيدا شول ۰ شيخ صد ر جهان په ۱۵۱۵ عيسوي کال کې د ۷۱ کلو نو په عمر له د ې نړۍ نه ستر ګې پټې کړي او په مالېر کو ټله کې خاورو ته وسپارل شو چې زيارت يې اوس هم د خا صوا و عا مو زيا رتګۍ د ى ۰ ([238])

د شيخ صد ر جهان تر مړ يني ورو سته د ده زوى حسن د خپل پلار په څېر فقير انه ژوند تېراوه او د خپل پلار د مزار خد مت يې پر غاړه واخيست ا و عيسى او موسى د مالېر کو ټله د سيمې د رياست او نوابۍ چارې پر غاړه واخيستې ۰ مو سى کوم او لاد نه د رلوداو بې او لاده مړ شو ۰ عيسى هم په ۱۵۳۸ عيسوي کال کې وفات شو، خو دهغه تر مړ يني وروسته د ده يوا زينى زوى شاه محمد خان د ما لېر کو ټله د سيمې د نوابۍ چارې پر غا ړه واخيستلې ۰ د شا ه محمد خان تر مړ يني ورو سته په ۱۵٤۵ عيسوي کال کې دهغه مشر زوى معد ود خان چې په خواجه اسحق مشهور د مالېر کو ټله د سيمې نواب شو ۰

د خواجه معد ود خان تر مړينې وروسته په ۱۵٦٦ عيسوي کال کې د مالير کوټله د رياست چارې د ده زوى نواب فتح محمد خان ته په لاس ورغلې ۰ د نواب فتح محمد خان تر مړينې ورو سته په ۱٦۰٤ ميلادي کال کې د ده زوى نواب محمد بازيد خان چې يو ډېر زړور سړى و د مالېر کو ټله د سيمې نواب شو ۰ محمد با زيد خان څلور زامن د رلود ل چې فيروز خان، اختيار خان، سرور خان او حسين خان نو مېد ل ۰ د محمد با زيد خان تر مړينې وروسته دهغه مشر زوى نواب فيروز خان د د غې سيمې د نوابۍ پر ګد ى ډډه ولګوله ۰ د نواب بازيد خان نه ورو سته نواب شير محمد خان نواب شو ۰

ده هم اووه زامن د رلود ل چې دهغه تر وفات ورو سته د ده ر زوى نواب غلام حسين خان د نواب په تو ګه د نده تر سره کوله چې بيا تر هغه ورو سته نواب جمال خان نواب شو ۰ تر نواب جما ل خان نه ورو سته په تر تيب سره يو په بل پسې د نوابۍ چارې نواب بهيکن خان، نواب بهاد ر خان، نواب عمر خان، نواب اسدالله خان، نواب وزير خان، نواب محبوب عليخان، نواب سکند ر علي خا ن، نواب غلام محمد خان اونواب ابر اهيم علي خان ۰ته وسپا رل شوې ۰ ([239])

238تا ريخ حيات افغا ني، د پېښور چاپ، ۳۱۸، ۳۱۹، ۳۲۰ مخونه

239ميزان، د ۲۰۰۰ ميلادي کال د نوامبر ۳۰، د ډهلي چاپ

په او سني وخت د د غوسړ واني نو ابا نو د کو رنۍ نه يو هم نصرت اکرام خان د ی چې د پنجاب په کا بينه کې د سپورټ او بد ني و زنې وزير د ی ۰

لنډه دا چې د سر وانيو پښتنو د سر ييال ښاخ اوس هم هند د پنجاب ايالت د ما ليږ کو ټله په سېمه کې استوګنه لري ۰ زه د د ې مقا لې ليکوال د غې سيمې ته د وه ځلې تللی وم ۰ يو ځلې د ۱۹۷۵ ميلادي کال د لوی اختر په و ر ځو کې کله چې هغه مهال مې په پنجاب پو هنتون کې چې د چنديګرهه په ښار کې پروت د ی خپلې زده کړې کولې او د مالېر کو ټله د نوابانو د کورنۍ سره مې د دوی په محل کې چې په شيش محل سره مشهور و و ليد ل او د نواب کورنۍ ميلمستيا راکړه ۰ د ويم ځل د ۲۰۰۰ ميلادي کال د د سمبر په ميا شت کې کله چې ماد خپلې کو رنۍ سره دهند وستان په پلا زمينې ډهلي کې د مها جرت شپې او ورځې تېر ولې نو په يو ه علمي سيمينار کې د ګډون له پاره د پنجاب د پټيالې ښار پنجابي پو هنتون ته تللی وم نو د پنجابي پو هنتون له خوا د مالېر کو ټلې د تللو زمېنه بر ابره او هلته مو يوه ورځ تېره کړه او په هغه وخت کې مو د سروانيو د قبيلې د سرييال ښاخ د نوابانو د کورنۍ د يوتن سره چې نصرت اکرام خان نومېداو د پنجاب په کابينه کې د سپورت وزير و وليد ل ۰ ([240])

94 سړبني

دغه قبايل د خپل ستر نېکه سړبن په نامه په سړبني يا سړبنيو پښتنو سره شهرت لري ۰ سړبن په پښتنو کې خورا مشهور نېکه تېر شوی د ی او له پخوا زمانو نه مؤرخانو د ده نوم او حال ليکلی د ې. په پښتني عنعنه کې هم دا سړی خورا لوی پښتون او مشهور نېکه ګڼل کيږي ۰ د د ې عنعنې تصديق په پخوانيو مؤرخينو کې ابو الفضل علامي (۱۰۰۶ هجري) د مغولي واکمن اکبر د د ربار مؤرخ په خپل تاريخي اثر ائين اکبري کې په د ې ډول کړی د ی چې " په پښتنو کې د رې ورونه ښتنی، سړبن او غرغښت ډېر مشهور نېکو نه دي ۰" ([241])

د روايتونو له مخې سړبن د قيس عبدالرشيد زوی او د غرغښت او شيخ بيتنې ورور د ی۰ ويل

240د مقالې د لېکوال شخصي ياد ښتو نه

241ائين اکبري، لومړی ټوک، ۱۹۱ مخ

کیږي چې د سړبن نوم په اصل کې ابراهیم و، خو په سړبن مشهور شو ۰ د د ې وجه دا وه چې د ده اولاد نه و او په د ې خبره به تل غمجن او پرېشانه و، نو ځکه بېټ نېکه ده ته خپل زوی اسماعیل ورکړ ۰ ([242])

سلیمان ماکو په خپل مشهور اثر تذکرت الاولیاء کې چې له (۲۱۲ هجري) وروسته لېکل شوی د ی د شیخ بیتني او د ده د ورور سړبن ذکر داسې کوي چې "نقل هسې کاندي یارانو چې په روزګار د شیخ بیتني د ده ورور چې سړبن نومېده او پر شیخ بیتني هم خورا ګران و، سړبن نه د رلود ل زامن او هر کله به یې ویل خپل ورور ته ۰ بیتني خپل زوی اسماعیل ورکا او لوی سو د سړبن پر کاله ۰ خدای مهربان داسماعیل په برکت سړبن ته نصیب کړل د ومره زامن چې اوس سو ګڼون دهغو ۰۰۰" ([243])

ویل کیږي چې داسماعیل اولاده هم په سړ بنو ورګډیږي او ذکر یې په "مرات الافاغنه" کې د سړبني اولیا وو په لړ کې مو جود د ی ۰([244])

سړ بن د وه زامن د رلود ل چې د یوه نوم شر خبون یا ښر خبون (شرف الدین) او د بل نوم خرښبون (خیر الدین) و ۰ د ښرخبون (شرف الدین) د ژوند د حالاتو کومه پته نشته، خو د خرښبون (خیر الدین) څه لږ شان حال په پته خزانه کې مو جود د ی۔ ۰ د پتې خزانې مطابق شیخ خر ښبون په ٤١١ هجري کال کې وفات شوی د ی ۰ ([245])

خرښبون هم د خپل تره (اکا) شیخ بیتني په څېر یو نېک او خدای لمانځونکی انسان او د پاک خدای په عباد ت به لګیاو ۰ ویل کیږي چې د ی د کسي په غره کې او سېده ۰ د رو ایتو نو له مخې د شیخ خر ښبون د ژوندانه په زما نه کې دهغه پلار او تره (ا کا) یعنې (سړبن او بیټ نېکه) لا ژوندي وو او دوی ټول سره په یو ځای کې اوسېد ل، خو څه موده وروسته خر ښبون د خپل پلار او اکا په اجازت د

242پښتانه د تاریخ په رڼا کې، ١٢٦٦ مخ

243عبدالحی حبیبي، د پښتو اد بیا تو تاریخ، د وهم ټوک، ٦٢ مخ، کابل ١٣٤٢ کال

244پښتانه د تاریخ په رڼا کې، ١٢٦٦ مخ

245پته خزانه، د محمدهوتک بن داؤد تالیف، ٢٢مخ، ١٣٣٩ هري، کابل

خپلو اولاد ونو سره د کسي د غره نه د غوړې مرغۍ په لور په کډه لاړ او هوري مېشته شو .(246)

لنډه دا چې د سړبن اولاده چې په سړ بنيو سره مشهوره ده په لا ند نيو قبا يلو وېشلې شوې ده :

ابدالیان، ترین، شیرانې، بابړ، هرپیال، جلوانې، غرشین، میانه، بړیخ، پوپلزي، بارکزي، اچکزي، اسحاقزي، موسی زي، نورزي، الیزي، اد وزي، خاکوانې، ماکو، یو سفزي، مندړ، ترکلانې یا ترکانې، ګګیانې، مو مند، داود زي، غوریا خیل، څمکني، زیړاني، محمد زي، ملا ګوري، خیشکي، کتاني، مهمنزي، کاسیان، شینواري، ستوریاني، سر کانې او نور ...

95 سلطان خېل (غلځي)

د سلطان خپلو په نامه دغه قبېله غلځي پښتانه او د سلیمان خپلو د قبیلې په لوی ټبر پورې اړه لري. د افغانستان نامتو محقق ښاغلی محمد ولي ځلمی په خپل اثر د غزني تاریخي جغر افیې کې د سلطان خپلو د قبیلې په اړوند داسې لیکي :

سلطان خیل غلجي پښتانه او د سلیمان خپلو په قبیلې پورې یوه اړونده قبېله ده چې د غزني ولایت د سلطان خپلو په علاقداری کې استوګنه لري، نو ځکه دغه علاقداري د سلطان خپلو قبیلې داستو ګنې له کبله په همد ې نامه نو مول شوې ده . د سلطان خپلو د قبیلې زیاتره برخه کوچیان او لږ شمېر یې مېشته خلک دي . د سلطان خپلو د قبیلې زیاتره برخه خلک ژمی په نورو ولایتو نو کې تېروي. دوی ډېر زړر، توریالي او په خپلو د ود ونو او رواجونو ټینګ دي ." (247)

د سلطان خپلو د قبیلې د سیمې شمال ته د پکتیکا ولایت د ډېله او د غزني ولایت داب بند ولسوالی، جنوب ته یې د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي چې پښتا نه یې زرمله هم بو لي، ختېز ته یې کټواز او او منه او لو ید ېز ته یې د مقر ولاړې او به مو قعیت لري .

د سلطانخپلو د علاقداری اب او هوا په اوړي کې معتد له او په ژمي کې یخه ده، واوره پکې

246غوړه مرغۍ د کلات په سهیلي برخه کې د سره غره له جنوبي اړخه پیلیږي او د لوید ېز خوا ته تر ارغستانه بیا د کوږک تر غره پورې د کاکړستان او کسي او سلیمان غره پورې سېمه ده .(لیکوال)

247محمد ولي ځلمی، د غزني تاریخي جغر افیا، ۱۶۸-۱۶۹ او ۱۷۰ مخونه، د کابل چاپ، ۱۳۶۲ کال

اوري. په پسرلي او مني کې يې هوا معتد له او په د وبي کې وچه وي. اوبه يې د کارېزونو، چينو او رود ونو نه برابرېږي چې د ځنبلووړ دي ۰ د د ې سره سره چې دغه سېمه پرېما نه او به نه لري، خو بيا هم غنم، او ربشي، جوار، مشنګ او مې په پوره اندازه پکې کرل کيږي ۰

همداراز په اومنه، ډېله او خوشامند کې هم ډېر شمېر سلطان خېل کو چيان استوګنه لري ۰([248])

96 سلطان خېل (نيازي)

د سلطان خېلو په نامه د ويمه قبېله په اصل کې د نيازيو د قبيلې د سر هنګ او لاده دمـ ۰ تاريخ حيات افغاني او پښتا نه د تاريخ په رڼا کې مشهور تاريخي کتا بو نو هم په اتفاق سره وايي چې د سلطا ن خېلو قبېله د سر هنګ اولاده ګڼل کيږي چې په پيل کې د خپلې قبيلې د نورو خلکو سره د ميا نوالي په سېمه کې مېشته وو، خو ډېر کلو نه د مخه په هغه ځای کې د کو رنيو شخړو په وجه د خټکو غره ته نږدي مېشته شول او د عيسى خېلو په سلا او مشوره يې شاړې ځمکې ابا د ې کړي ۰ ([249])

د سلطان خېلو د قبيلې مشهورې څانګې دادي:

زنګي خېل، شهابي خېل، باجو خېل، جلو خېل، خد ر خېل، سامي خېل، نظم خېل، نظر خېل، سنجر خېل، داود خېل، هندال خېل، ميداد خېل، پهاړ خېل، شېر خېل، ګداخېل اواغزر خېل ۰([250])

97 سليمان خېل

زمورږ پښت پوهان او توکم پېژند ونکي سليمانخيل د غلجيود قبيلي د ټولنېز ګروپ نه يوه مهمه قبيله ګڼي ۰ د غلجيو په ټولنېز ګروپ کې د نورو قبيلو په پرتله د سليمانخيلو قبيله د شمېرا و وګړو له مخې هم يوه لويه قبيله ګڼله شوې ده چې د ټولو وګړو شمېر يې ۱۳۰۰۰۰ تنه ښود ل شوی دي ۰ د سليمان خيلو

248پښتني قبيلې، ۱۷۰ مخ، د پېښور چاپ

249پښتانه د تار يخ په رڼا کې ۱۳۵۵مخ او تاريخ حيات افغاني ٦٣٥ مخ د پېښور چاپ

250پښتني قبيلې، ۱۷۱مخ، د نسب ونه

عنعنوي تا توبی د پکتيکا اوسنی ولايت د ی او زياتره سليمان خيل د دغه ولايت د کتواز، وازي خوا، ميتاخان او داو منې په ولسواليو کې استوګنه لري ۰

د سليمانخيلو د قبيلې يو شمېر خلک د پکتيا ولايت په مرکز ګرد ېز او د زرمت او خمکنيو په ولسواليو کې هم استوګنه لري او داسي ويل کيږي چې د زرمت ولسوالۍ تقر يبانېمه برخه په تېره بيا سهيلي برخه يې د سليمان خېلو نه ډکه ده ([251]) د سليمانخيلو يو شمېر ښا خونو او خيلو نو د خپل اصلي تا توبي نه مهاجرت کړی او د ننګر هار ولايت د سره رود، حصارک او چپرهار په ولسواليو او همداراز د لغمان په ولايت کې مېشته دي چې په نو موړو ولايتو نو کې دغه ښاخونه او خېلو نه د جبار خيلو، معروف خيلو، ستاني زيو، د ولتزيو، احمد زيو او بابکر خيلو په نامه يادېږي ([252]) ۰ همداراز د لوګر، غزني، ميدان اوورد ګو، بغلان، کند ز او کابل کې هم ډېر شمېر سليما نخيل استوګنه لري۔ ۰ په للند ر، تيزين، جګد لک، ګند مک، الېشنګ، د لوګر په التمور، سپيګه، سرخاب اوازره کې هم سليمانخېل استوګنه لري ۰

د کندهار ولايت په مرکز د کندهار په ښار کې هم يو شمېرسليمان خيل غلجي مېشته دي. په تېره بيا د دوی يو ه پښه چې دينار خېل نو ميږي اوپه خپلو نومونو د کندهار د ښار په منځ کي کوڅې لري چې شمير ئې هم ۲۰۰۰ کسانو ته رسيږي . د کندهار د سليمانخيلو کې يو هم ملي پانګوال تيمورشاه خان احمد زی وچې په لومړي ځل يې په افغانستان کې د کاغذ جوړولو فابريکه جوړه کړه ۰ داسي هم ويل کيږي چې د کندهار سليمان خيل په اصل کې له کتوازه راغلي او د لته يې اوس شپږم نسل ژوند کوي ۰ د کندهار د ينارخيل پښتانه اوس هم په کندهار کي د ځانګړي شهرت څښتنان دي او د خلکو تر مينځ له عقيد وي پلوه د ځانګړي د رناوي نه بر خمن دي ۰ اوس هم د کندهار خلک خپل ماشومان د خورد و اوا ود و لپاره د ينارخيلو ته بيايې، په تېره بيا هغه ماشومان چې ژبې يې بنديږي او د خبرو کولو ستونزې لري د ينارخيلو په خورد و يې ژبې پرانېستل کيږي ۰ ([253])

251تواريخ خورشيد جهان، ۲۱۹-۲۲۰ مخونه

252معلومات مختصر د رباره اقوام وقبائل ولايات سر حدي کشور-۷٤ مخ

253د ښوا د ويپانې د مشر او چلوونکي ښاغلي خالدهادي حيد ري هغه معلومات چې د سليمانخېلو د قبيلې په اړوندېې زماپه واک کې راکړل

پر افغانستان برسېره ډېر شمېر سليمانخيل په پښتونخوا او هم د پاکستان د کراچۍ په ښار کې استوګنه لري .

يو شمېر سليمانخيل دهند وستان په ختېز بنګال په تېره بيا کلکته (کولکته)، بمبئي (مومبای),داسام په ايالت چې سليمانخيل يې اشام بولي، بيهار او اوړيسا کې استوګنه لري اوخپلې سوداګرېزي چاري او معاملې پر مخ بيايي .([254])

بايدياد ونه وکړو چې ستر بنګالي شاعر او ليکوال او په اد بياتو کې د نوبل د جايزې ګټونکي رابيند رانات ټيګور (١٨٦١ .. ١٩٤١ زېږد ېز) چې د کابلي والا کو مه کېسه ليکلې ده او بيا په ١٩٥٦ کال تر يې يو فلم هم جوړ شوی د ی د يو تن پښتون رحمت خان کېسه ده چې په اصل کې سليمان خېل پښتون و . همداراز د يوه بل پښتون سليمانخېل جانباز او دهغه د ميرمنې شوسميتا بينرجي نه هم هنديا نو په ٢٠٠٣ کال کې يو فلم جوړ کړی د ی . ([255])

د سليمانخيلو د قبيلې ختېز ته د خروټو قبيله، جنوب ته يې د ډيورنډ کر ښه، لوېد ېز ته يې تره کې او شمال خواته يې اند ړ موقعيت لري .

97.1 سليمانخيلو د قبيلې ښاخونه او خيلونه

د سليمانخيلو قبيله ډېرو څانګو، ښاخونو او خيلونو ويشلې شوې ده چې د ځينو نومونه يې دا دي:

احمد زي، صالح خېل، منزي، دينارخېل، شاه توري، علي خېل، نظام خېل، شاه خېل، قلندر خېل، عيسی خېل، معروف خېل، بابکر خېل، جبارخېل، ستا نيزي، ستانکزي، موسی خېل، ټغر، کړوخېل، يحيي خېل، بادين خېل، اسماعيل زي، عبدالرحيم خېل، ډاسو، ګل خېل، منه خېل، سلطان خېل، نسو خېل، سر خان خېل، مموزي، مند وزي، خواجه خېل، نسو خېل، سد و خېل، د ولتزي، غني خېل، ګلداد خېل، ساغري، روکي، لنډيزي، ادين خېل، جلال زي، کلا خېل، محمود خېل، مشن خېل، پاينده خېل، ممارخېل، اتمانخېل، شېرپای، امېرخېل، متا خېل، غيبو خېل، ناخېل، فتح خېل، جاني خېل،

254د سليمان خېلو د قبيلې په اړوند زما شخصي ياد د ښتونه

255د مقالې د ليکوال شخصي يا د ښتونه

حسن خېل، شبکي خېل، پيارو خېل، قطب خېل، مغل خېل او نور ... ([256])

يو شمېر سليمانخېل کوچپاني ژوند لري چې د ژمي په مو سم کې د وزير ستان شنو او نسبتا تود و سېمو ته ځي او په د وبي کې د وازې خوا په شا او خواکې کيږد ی وهي .

97.2 د سليمان خېلو د کرنې ځمکې

سليمانخېل زياتره د کرنې او مالداری په چارو بو خت دي . په کو مه سېمه کې چې دوی استوګنه لري هغه ځمکه ډېره اواره او داوبو ستو نزې يې ډېرې دي، له همد ې کبله ډېر خلک يې له کارېزونو نه ګټه اخلي . د تېرو څو لسيزو راهېسې د واټر پمپو نورواج هم پکې شته او خلک دهمد ې واټر پمپونو په وسيله خپلې ځمکې خړوبوي . د دوی د سيمې زياتره ځمکې يو فصل حاصل ورکوي .اقليم يې په ژمي کې سوړ او په د وبي کې تود د ی . په شرنې او ځينو نورو بر خو کې خلک انګور، زردالو، منې، هند وانې او خټکي کري . که چېرې د ولت وغواړي چې د دوی ځمکې داوبو له پلوه خړوبې شي نو داوبو د بند ونو د جوړولو امکانات پکې شته . ([257])

97.3 خوراک يې

سليمان خېل په خوړو کې د غنمو له ډوډی نه ډېره ګټه اخلي . د د ې کبله چې دوی په مالداری هم بو خت دي نو د کرو تو، شېد و، مستو، کو چو او هګيو نه هم استفاده کوي . د ژمي په مو سم کې د و چو ميوو استعمال هم پکې رواج لري، خو د وريجو استعمال پکې لږد ی .

97.4 جامي يې

د سليما نخېلو د قبيلې خلک خورا غټې لو نګی په سروي چې زياتره ژيړ بخون رنګو نه لري . دوی پر خپلو اوږو ځاد رو نه هم اچوي چې په خپله لهجه کې تازر بولي .

256پښتني قبيلې، د پېښور چاپ، ۱۷٤ مخ

257نوموړی اثر، ۱۷۳ مخ

د ښځو جا مې يې په عمو مي تو ګه سرې او شنې دي ۰ په پېغلو نجونو او ځوانو ښځو کې يې د ګنډونواستعمالول هم شته ۰دوی په جامو کې ډېرې مرۍ هم استعمالوي چې د کميسو نولستونې په زرتارو، ليسو او چر مو باند ې ښکلي کوي ۰ د دوی پر تو ګونه ١٤ يا ١٥ ګزو ته رسيږي ۰ ښځې يې په عمو مي ډول پېې په پښو کوي چې دوی يې په خپله لهجه کې کپۍ بولي ۰([258])

سليمانخيل په پښتني ننګ او غيرت ټينګ خلک دي ۰دوی ميلمه پا لو نکي او د علم او پو هې سره مېنه لري ۰ دوی ديني عالمانو او پيرانو ته ډېر د رناوی لري ۰دافغان- انګرېز په د ري ګو نو جګړو کې دانګريزي ښکيلاکګرو سره جنګيد لي او هم يې د روسي ير غلګرو په ګونډو کو لو کې يې خپل هيواد نی رسالت سرته رسولی د ی ۰

97.5 ځيني مشهورې خيرې

د نورو پښتني قبيلو په څېر د سليمان خېلو قبيلې هم په خپلې غيږ کې ليکوالان، شاعران او افسران رو زلي دي چې د ځينو نو مو نه يې په لاند ې ډول دي ([259]):

1. د پښتو ژبې نا متو شاعر او ليکوال ښاغلی سليمان لايق
2. داعليحضرت محمد ظاهر شاه په واکمنۍ کې د ژاندارم او پوليسو قوماندان ښاغلی اروابناد جنرال عبدالحکيم خان کټوازی چې يو ملي شخصيت و او بياورو سته په پېښور کې شهيد کړل شو
3. ليکوال او مترجم ښاغلی نظام الدين سليمانخيل چې د محمدهوتک پټه خزانه يې له پښتو نه جرمني ژبې ته ژباړلې ده
4. د محمد ظاهر شاه د واکمنۍ په وخت کې د ننګرهار والي ښاغلی محمد ګل سليمانخېل
5. متقاعد جنرال ښاغلی حی ګل سليمانخيل

258د ښاغلي محقق نظا م الدين سليمانخيل ياد د ښتونه چې زما په واک ې يې راکړي ول

259د سليمان خېلو د قبيلې په اړوند زما شخصي ياد ښتونه

6. د پکتیکا پخوانی والي ښاغلی محمداکرم خپلواک

7. په ولسي جرګه کې د پکتیکا ولایت د خلکو استازی ښاغلی ناد رخان کټوازی

8. د پښتو ژبې شاعر او لیکوال ښا غلی خیال محمد کټوازی

98 سنټیا

سنټیا له اره غرغښتي پښتانه دي او د پښتنو کاکړو یو مشهور ښاخ ګڼل کیږي. د تاریخي رو ایتو نو پر بنسټ دوی د سنټ نېکه او لاده دي .

د سهیلي پښتونخوا نامتو مؤرخ او فو لکلوریسټ پرو فیسور ولي محمد خان سیال کاکړپه خپل مشهور اثر پښتو او پښتانه په سهیلي پښتانه کې د سنټیا کاکړو په اړوند داسې کښلي دي :

" په کاکړو کې د شمېر له پلوه ترسنځر خپلو وروسته د سنټیا کاکړانو شمېر زیات د ی. دوی د سهیلي پښتونخوا په هند وباغ، کان مهتر زي، کچلاغ، هنه، سره غوړګی، سره خوله، نو حصار، غبرګ، غوخکي، خانوزي، بلوزي، رود ملازي، مستنګ او په ځېنو نورو ځا یو نو کې مېشته دي ."([260])

سنټیا کاکړ په لاند نیو خیلونو او ښاخونو باند ې وېشل شوي دي :

پانیزي، مهترزي، بازیان، سارینګ زي، شهزي، ملازي او عیسی خېل .

سنټیا کاکړ زیاتره د کرکیلې په چار وبوخت دي. یو شمېر یې د سوداګری چارې هم سر ته رسوي. د سنټیا کاکړو د وداو د ستور د کاکړو نورو خیلو نو او ښا خو نو ته ورته د ی. دوی زړور، جنګیالي او په پښتني ننګ ولاړ خلک دي .

د تاریخ په اوږد و کې سنټیا کاکړانو توري وهلي او تاریخي شخصیتونه او رجال یې پیدا کړي دي.

هیبت خان کاکړ چې د خانجهان لودي له خوا دهند وستان د پنجاب د سامانا د سیمې حاکم و

260پروفیسور ولي محمد خان سیال کاکړ، پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کې، ٦٥ مخ، کوئټه، ١٩٧٦ کال چاپ

هم د سنټيا کاکړو نه و .[261] بايد وويل شي چې په سهيلي پښتونخوا برسېره ډېر شمېر سنټيا کاکړ په هند وستان کې هم استوګنه لري . سامانا اوس هم دهند د پنجاب ايالت د پټيالې د ولسوالۍ يو ښار ګوټی ګڼل کيږي . [262]

99 سنځر خېل

زمونږ پښت پو هان او تو کم پېژند ونکي سنځرخېل له اره د کاکړو يوه پښه بولي چې د غر غښتو پښتنو په ټولنيز ګروپ پورې اړه لري. د روايتونو له مخې سنځر نېکه يو تورزن مشر او منلی روحاني شخصيت و چې د مغولو پر خلاف يې اوږد ې مبارزې کړې دي او ويل کيږي چې د ده مزار په کو سه کې د ی او ډېر شمېر خلک د ده زيارت او مزار ته ورځي .کوسه د سهيلي پښتونخواد کاکړ ستان د سيمې په ژوب کې مو قعيت لري . [263]

د سهيلي پښتونخوا نامتو مؤرخ او فولکلوريست ښاغلی ولي محمد خان سيال کاکړ په خپل اثر "پښتو او پښتانه په سهيلي پښتونخوا کې" د سنځر خېلو کاکړو په اړوند داسې ليکلي دي :

" د کاکړو د قبيلې نوابي او سرداري له پخوا زمانو نه د سنځر خېلو په لاس کې ده او دوی د شمېر له پلوه د کاکړو تر بل هر ټبره زيات دي ." [264]

سنځر خېل په لاند نيو ښاخونو او څانګو ويشل شوي دي:

علي زي، عبدالله زي، کب زي، برن خېل، سنخېل، اتمانخېل، هرمزي، تيمني، عرب خېل، پنهزون، نيسي، کديزي او د ومړان . [265]

261پښتني قبيلې، ۱۷۵- ۱۷٦ مخونه، د پېښور د دانش چاپ

http://en.wikipedia.org/wiki/Samana262

263پښتني قبيلې، ۱۷٦ مخ، د پېښور چاپ

264پروفيسر ولي محمد خان سيال کاکړ، پښتو او پښتانه په سهيلي پښتونخوا کې، ٦٥ مخ

سنځر خيل تورزن، ميلمه پالونکي، په علم او پو هې باند ې مين او په پښتني ننګ او غيرت ټينګ خلک دي ۰ دوی په هروخت کې د ظلم او تيري او بهر نيو ير غلګرو او بلو سګرو په وړاندي جنګيد لي دي په تېره بياد مغولو او انګرېزانوپرخلاف د دوی مبارزې د پښتنو د تاريخ زرين با بو نه جوړوي چې مور پښتا نه پرې ويارو ۰

100 سوري

سوريان يا زوريان د پښتنو يوه لر غو نې قبيله ده چې داوسيد و اصلي ځای يې د غور تاريخي سېمه ده چې په مرکزي افغانستان کې پر ته ده ۰ دغه قبيله په اصل کې د لود يو پښتنو يوه پښه ده او د پښتنو د نسب په عنعنوي شجرو کې کښل شوي دي چې د لودي زوی سيانې د وه زامن د رلود ل چې يو يې اسماعيل او بل يې پرانګی نومېد ل چې داسماعيل له د ريو زامنو نه يې مشر سور نومېده چې د ده نسل د سور، سوري او يا زوري په نامه يادېږي ۰([266])

دغه خلک په پيل کې د مرکزي افغانستان د غور په غرونو کې اوسيد ل، خو وروسته د شمېر ډېروالي او باهم جګړو او ځينو نورو عواملو د ېته اړايستل چې يو شمېر خلک يې له د غې سيمې نه په لېرد ېد پيل وکړي ۰ ځينې يې دهرېرود په واد يو کې مېشته شول، ځينې يې غزني ته ولېږديد ل او ځينې يې هم د سليمان د غره ختيز د دامان په سېمه کې مېشته شول ۰ همدا اوس هم د دامان په سيمه کې سوري پښتانه استوګنه لري ۰ د د غې قبيلې خلک په غور، باد غيس او هرات کې د زوريانو په نامه سره مشهور دي چې اوس هم ډېر شمېر زوريان يا سوريان په د غو ولايتونو کې مېشته دي ۰ ځيني يې هند وستان ته ولېږديد ل ۰ د سوري واکمنانو لړی چې له اره له غوره پيل شوې ده په هند وستان کې يې يوه ستره واکمني رامينځ ته کړه چې سوري شېرشاه يې بنسټ ايښود ونکی ګڼل کيږي ۰

دافغانستان نوميالی مؤرخ او مشهور ليکوال لوی استادروانښاد علامه عبدالحی حبيبي د "پښتو اد بياتو تاريخ" په نامه اثر کې د سوري پښتنو په اړوند داسې کښلي دي :

265پښتني قبيلې، ۱۷٦ مخ

266تاريخ حيات افغاني، ۳۰٤ مخ، د پېښور چاپ

"سوري يا زوري د پښتنو شاهانو يوه لر غوني کورنۍ ده چې له دوی نه د پښتو ژبې داسلامي د وړې ډېر اثار مور ته راپا تې دي او دغه سوريان د پښتنو په تاريخ کې ډېر اهميت لري. ۰ سوري د غور يوه مشهوره قبيله ده چې اوس هم شته او زوري يې بولي اودا نوم خورا زوړ او لر غونی د ی او عربو تاريخ او جغرافيا ليکونکو هم سور د زور يا زوري په بڼه راوړی د ی ۰ " ([267])

په اسلامي د وره کې لو مړنی مؤرخ چې د سوريا زور د نامه ياد ونه يې کړې ده احمد بن يحيی مشهور په البلا ذري د ی چې د ۲۵۵ هجري کلو نو په شا او خواکې او سېده ۰ ورپسې نورو مؤر خينو لکه احمد بن سهل بلخي (مړ ۳۲۲ هجري) په خپل اثر کتاب الاشکال يا صورالاقاليم کې چې په ۳۰۹ هجري کې يې کښلی د ی، اصطخري په ۳٤۰ هجري کې په خپل کتاب المسالک والممالک کې او ياقوت په معجم البلدان کې د سور او زور يا د ونه کړې ده. ([268])

داسلام د مخه هم سوريان د غور واکمنا ن تېر شوي دي چې د دوی يوه کورنۍ د شنسبيانو په نامه يا د ېد له، ځکه چې د شنسبيانو د شاهي کورنۍ لوی نېکه شنسب نومېد چې د خرنک زوی و ۰

پرد ې سر ېره داسلام په پيل کې د سوري کورنۍ يو بل واکمن ماهوي سوري نو مېد چې په مرو کې واکمن واو د ساساني امپراتورۍ وروستنی واکمن د ريم يزد ګردبې چې عربان بې يزد جرد بولي وواژه ۰

د مخه مو ياد ونه وکړه چې په غور کې د سوريا نو د شنسب کهول داسلام په پيل کې د غور په غر ونو کې واکمني کوله چې په د غو واکمنانو کې يو هم امير پولاد و چې دابو مسلم معاصر او دهغه ملګری پا تې شوی د ی چې مشهور مؤرخ منهاج السراج جوزجاني هم د منتخب تاريخ نا صري په حواله کښلي دي چې امير پولاد دابو مسلم ۱۳۹ هجري معاصر و ۰ دامير پولاد زوی امير کرور نومېد چې د جهان پهلوان په نامه ياد ېده چې د تاريخ سوري ليکوال محمد بن علي البستي هم د ده ستاينه کړې ده او ليکي چې امير کرور جهان پهلوان ډېر زړور، ادیب او د قلم او تورې خښتن و ۰

267عبدالحی حبيبي، د پښتو اد بيا تو تاريخ، لومړی او د ويم ټوک، ٤۳۲مخ، د دانش خپرند ويه ټولنه، ۲۰۰۵ کال، پېښور

268نو موړی اثر، ٤۳۳ مخ

که څه هم تاريخ سوري اوس نشته، خو د پټې خزانې مؤلف محمدهوتک د شيخ کټه متي زی غورياخېل د "لر غوني پښتانه" په حواله دامېر کرور سوري په اړوند داسې ليکلي دي :

"امير کرور دامير پولاد سوري زوی و چې په ۱۳۹ هجري کال د غور په مند ښ کې امير شو او جهان پهلوان يې باله او د غور کلا ګاني او د بالشتان، خيسار او تمران مانې او بر کو شک يې ونېول او د رسالت له کهوله يې په خلافت کې ډېر کومکو نه وکړل ۰ امير کرور ډېر غښتلی پهلوان او په يوه تن له سلو جنګيالیو سره جنګېده، نو ځکه يې کرور باله چې معنی يې ده کلک او سخت ۰ امير کرور په ۱٥٤ هجري کال د پو شنج په جګړو کې ووژل شو ۰ "

د لته به بېځايه نه وي چې دامير کرور جهان پهلوان دهغې ويارنې لومړني بيتونه رانقل کړو چې د خپلو سوبو په اړوندېې ويلې ده ([269]) :

زه يم زمری پرد ې نړۍ له ما اتل نسته

په هند وسند وپر تخار او پر کابل نسته

بل په زابل نسته، له ما اتل نسته

100.1 د غور د شاهي کورنۍ نو ميالي

د غور په سوري واکمنانو کې دالانديني کسان ډېر مشهور واکمنان او نو ميالي تېر شوي دي ([270]):

1. شنسب د خرنک زوی د ٤۰ او ۸۰ هجري په شا اوخواکې
2. امير پولاد د شنسب زوی د ۱۳۰ هجري په شاوخواکې
3. امير کرور جهان پهلوان دامېر پولاد زوی ۱۳۹-۱٥٤هجري
4. امير ناصر دامېرکرور زوی د ۱٦۰ هجري په شااو خواکې
5. امير بنجي د نهاران زوی د ۱۷۰ هجري په شااوخواکې

269محمدهوتک، پټه خزانه، ۳٤ مخ، د ۱۳۳۹ کال چاپ کابل

270عبدالحی حبيبي، تاريخ مختصر افغانستان از ما نه های قديم تا استقلال، ۱٦٥-۱٦ مخونه، کابل ۱۳٦۸۰

6. امير سوري د ۲۵۳ هجري په شااوخواکې

7. امير محمد سوري د ٤٠٥ هجري کال په شا او خواکې

8. امير بو علي د محمد سوري زوی د ٤٢٥ هجري ه شا اوخواکې

9. عباس د شيش زوی او د بو علي وراره د ٤٥٠ هجري په حدود و کې

10. امير محمد د عباس زوی د ٤٥٠ هجري په شا او خواکې

11. قطب الدين حسن د محمد زوی د ٤٦٠ هجري په شااوخواکې

12. ملک الجبال عزالدين حسين د قطب الدين حسن زوی د ٥١٠ هجري کال په شااوخوا کې

13. قطب الدين محمد د عزالدين زوی مړ ٥٤١ هجري کال

14. بهاؤالدين سام د عزالدين زوی (٥٤٤ - ٥٥٤ هجري)

15. ملک شهاب الدين خرنک د عزالدين زوی د ٥٥٠ هجري په شااو خواکې

16. ملک شجاع الدين د عزالدين زوی د ٥٥٠ هجري په شااوخواکې

17. سلطان علاؤالدين حسين جهانسوز عزالدين زوی (٥٤٤ - ٥٥١ هجري)

18. سلطان سيف الدين د عزالدين زوی (٥٤٣ - ٥٤٤ هجري)

19. ملک فخرالدين مسعود د عزالدين زوی د ٥٤٠ هجري کال په شا او خوا کې

20. سيف الدين محمد د جها نسوز زوی د ٥٥١ هجري کال په شا او خواکې

21. سلطان غياث الدين محمد سام (٥٥٨ - ٥٩٩ هجري)

22. سلطان معزالدين محمد سام (٥٦٩ - ٦٠٢ هجري)

23. سلطان غيا ث الدين محمود د غيا ث الدين محمد زوی (٥٩٩ - ٦٠٧ هجري)

24. سلطان بهاؤالدين سام د محمود زوی ٦٠٧ هجري

25. علاؤالدين اتسز د جها نسوز زوی (٦٠٧ - ٦١١ هجري)

26. علاؤالدين د رغور (٥٩٩ - ٦١٢ هجري)

27. ملک ناصر الدين کزيو د شهاب الدين خرنک زوی د ٦١٨ هجري کال په شااوخواکې

28. سلطان شمس الدين محمد د فخرالدين مسعود زوی د ٦٥٠ هجري کال په شااو خواکې

29. سلطان بهاؤالدين سام د شمس الدين محمد زوی (٥٨٧ - ٦٠٢ هجري)

30. جلال الدين ابوعلي د بهاؤالدين سام زوی (٦٠٢ - ٦١٢ هجري)

31. علاؤالدين مسعود د بهاؤ الدين سام زوی (٦٠٢ - ٦١٢ هجري)

32. علا ؤالدين مسعود د شمس الدين محمد زوی د ٦١١ هجري په شا او خواکې

د سوريانو د قبيلې مشهور مؤرخين، ليکوال او شاعران :

د سوريانو قبيلې په خپلې غير کې پياوړي مؤرخين، ليکوال او شاعران روزلي دي. د لته به بيځايه نه وي چې د ځينومشهورو کسانوياد ونه يې وکړو:

1. محمد بن علي البستي د تاريخ سوري مؤلف:

- دغه تاريخ او مؤلف يې موږ ته د پټي خزانې مؤلف محمدهوتک د لرغوني پښتانه په حواله راپيژني . په د ې تاريخ کې د لرغونو پښتنو په اړوند په تيره بيا دامير پولاداو دهغه د زوی دامير کرور جهان پهلوان ١٣٩ هجري په اړوند ډېر ګټور معلو مات لري .

2. شيخ اسعد سوري مړ ٤٢٥ هجري:

- د پښتو ژبې يو ډېر ښه شاعر و . د پلار نوم يې محمد و . د ی په غور کې اوسيده او د غور په سوري شاهي کورنۍ کې د ډېر د رناوي نه بر خمن و . نو موړي دامير محمد سوري په وير نه کې دا قصيده ويلی ده چې يوازې يو بيت يې رااخلو:

د فلک له چارو څه وکړم کوکار

زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار

3. ښکارندوی غوري ۵۸۰ هجري :

- ښکار ندوی د غور و او پلار يې احمد د غور د فيروز کوه کوټوال و ده يوه بوللۀ په لاند يې ډول ده ([271]) :

د پسر لي ښکلوونکو بيا کړه سينګارونه

بيا يې ولونل په غرونو کې لالو نه

4. د د ې کبله چې غوريان سوري پښتانه ول د دوی اولاده وروسته د غور د غرونو نه د افغانستان په بېلا بېلو بر خو کې مېشته شول او ځينو يې په هند و ستان کې سترې سوبې کړي دي چې يو له هغو نه هم سلطان شهاب الدين غوري وچې د ۵۷۱ هجري کال نه يې د ۶۰۲ هجري کلونو پورې يې په هند و ستان باند ې يې هم خپل راج چلاوه ۰

100.2 ښاخونه او څانګې

د سوري د قبيلې د ځينو ښاخونو او څانګو نو مو نه په لاند ې ډول دي : ([272])

شاهوخېل، الاخېل، يونس خېل، تره کي، محمود زي، شېر خېل، د ولت خېل، شادي خېل، داؤد خېل، اتمان، کوټي، بهرام، نورا خېل اونور ۰۰۰

100.3 استو ګڼې سيمې

لکه چې د مخه مو وويل په پيل کې د سوريانو د قبيلې اصلي ټا ټوبی د غور تاريخي سيمه وه چې وروسته د شمېر د ډېر والي او ياهم د نورو ير غلګرو ځواکونو د برید ونو او يا هم د نورو عواملو له کبله نورو ځا يو نو ته ولېږ ديد ل ۰ په اوسني وخت کې سوريان د افغانستان د غور، باد غيس او هرات په ولا يتونو کې استوګنه لري چې په د غو ځايونو کې يې خلک د زوري يا زوريانو په نامه ياد وي ۰همداراز د سليمان غره ختيز ته د دامان په سيمه کې د پاکستان د راولپنډۍ په چهچه کې او دهند و ستان د پنجاب

271پټه خزانه، ۳۸ او ٤٨ مخو نه

272پښتني قبيلې، ۱۷۸ مخ، د پېښور چاپ

دایالت په بیجواره، دهریانا په ایالت اوداتهراپرادیش او بیهار په ایالتونوکې هم د د غې قبیلې خلک شته ۰

باید ووایو چې دهند وستان په هند وانواو سکهانو کې هم د سوري په نامه قبیلې شته چې د کهتري اوکوهکران په کاستونو پورې اړه لري او په پنجاب کې اوسیږي ۰

100.4 هند وستان کې د سوریانو واکمني

په هند وستان کې د پښتنوسوریانو د واکمنۍ بنسټ ایښود ونکی فرید خان و چې وروسته په شېرشاه سوري مشهور شو ځکه چې د زمري سره په یوازې وجنګیداوزمری یې مړ کړ نو ځکه د شیر خان لقب ورکړل شو او کله چې دهند وستان واکمن شو نو بیا یې د شېرشاه سوري لقب غوره کړ ۰ شیر شاه د حسن خان سوري زوی او دابر اهیم خان سوري لمسی د ی ۰

په هند وستان کې د پښتون واکمن سلطان بهلول لودي په خت کې ډېر شمېر پښتانه د روه له سیمې نه هند و ستان ته راغلل، ځکه دغه پښتون واکمن د روه یا دافغانستان پښتنو ته یو فرمان لیکلی و چې که هر پښتون هند و ستان ته ورشي نو د ی به منصبونه، خلعتو نه او جاګیرونه او په خپل پوځ کې به لوړ لوړ منصبو نه ورکوي ۰ هماغه و چې د بهلول لودي د دغه فر مان سره سم د فرید خان یا شیر شاه سوري نېکه ابراهیم سوري د خپل زوی حسن خان سوري سره یو ځای د بهلول لودي په واکمنۍ کې د منصبونو د تر لاسه کولو لپاره هند و ستان ته لاړل اوخه موده یې د حصار فیروزه په کلا کې تېره کړه ۰ دغه سیمه اوس یوازې د حصار په نامه یادېږي ([273]) چې د شمالي هند دهریانا دایا لت یوه ولسوالي ده ۰

هریانا نن ورځ د شمالي هند وستان یو ایالت د ی چې د پنجاب، ډیلي، راجستهان، اتهر کهنډ، هیما چل پرادیش اواتهراپرادیش دایا لتو نوسره ګډه پوله لري ۰

سوري شیر شاه په ۱٤۷۹ عیسوي کال کې په حصار فیروزه کې چې دهند دهریانا په ایالت کې موقعیت لري د ې نړۍ ته ستر ګې پرانیستلې او پلار یې فرېد خان نوم پرې کېښود ۰ دهند د پښتون واکمن بهلول لودي د واکمنۍ په وخت کې کله چې جمال خان ته د جو نپور حکو مت لاس ته ورغی نو هغه د فرید خان پلار حسن سوري ته د خواص پور او ټانډه سیمې د جاګیر په ډول ورکړې او د پنځه سوه ژوبله ورو او جنګیالیو مېړو مشر یې وټا که ۰

273تاریخ حیات افغاني، ۳۰٤ او ۳۰۵ مخونه

فرید خان وروسته بیا اګرې ته لاړاو هلته د ولت خان لودي ته چې په هغه وخت کې د سلطان ابر اهیم لودي د سترو امراوو نه وورغی ۰ د ولت خان لودي نو موړی سلطان ابر اهیم ته وروپټړانداو کله چې د فرید خان پلار حسن سوري مړ شو نو فرید خان ته د خپل پلار د جاګیر فر مان ورکړل شو ۰ کله چې لودي سلطان ابر اهیم د مغولي بابر له لاسه د پاني پت په جګړه کې ووژل شواو پهاړ خان لوانی چې د لودي سلطان ابر اهیم له خواد بیهار دا یالت صوبه دار واو خپلسری او یاغی شوی او خپل ځان ته یې د سلطا ن محمد لقب غور ه کړی ونو فرید خان هغه ته ورغی او دهغه له خوا منصب ورکړل شو ۰یوه ورځ فرید خان له سلطان محمد سره یو ځای ښکار ته لاړل چې نابېره یو زمری را ښکاره شو ۰

فرید له زمري سره مقا بله وکړه او پخپله توره یې هغه وواژه ۰سلطان محمد د ده د زړورتوب نه ډېر خوشاله او ده ته یې د شیر خان لقب ورکړ او سلطان محمد ورځ په ورځ د ده موقف لوړاوه څو چې یې د خپل زوی جلال خان استاد وټا که ۰ شیرخان وروسته خپل ځواک ډېرکړ او د پښتنو په مر سته یې مغولي واکمن همایون مات کړ ۰همایون ایران ته وتښتیداو شیرشاه دهند وستان واکمن شو اود حضرت اعلی لقب یې غوره کړ ۰

شیر شاه په هند وستان کې د پښتنو د یوې داسې پیاوړي واکمنۍ بنسټ کېښود چې دهند وستان تاریخ پرې ویاړي او د ده تلپاتي خد متونه یاد وي ۰ د شیر شاه له مهمو کارونو نه یوداو چې د بنګال د سونارګاون نه یې ترافغانستانه پورې سړک جوړ کړ او د سړک په د واړو غاړو ته یې ونې کښینولې څو مساپران ځانونه د ګر می نه خوندي کړي ۰ همداراز یې په لاروکې کاروان سرایونه او جوماتونه جوړ کړل او څاه ګانې یې وکیند لې چې مساپران تري ګټه واخلي ۰ د شیرشاه بل مهم کارداوچې د پوستې او ډاک سیستم یې په داسې ډول تنظیم کړ چې ډېر چټک او ګړ ند ی و، ان نن ورځ هم هندیان په د ې معتقد دي چې د شیر شاه د ډاک او پو ستي سیستم تر اوسني سیستم هم غوره و ۰ شیر شاه په هند کې د ځمکو داسې اصلاحات رامینځ ته کړل چې د ده د ځمکې داصلاحاتو د سیستم نه اوس هم ګټه اخیستله کیږي ۰

شیر شاه په هند وستان کې تقر یباشپږ کلونه په ډېر عد ل اوانصاف سره واکمني وکړه چې د ده عصر دهند په تاریخ کې یوطلایي عصر ګڼل کیږي۔ ۰ په پای کې د ۹۵۲ هجري کال د ربیع الاول د میاشتې په د ولسمه نېټه د کالنجر د کلا د نیولو په وخت کې د باروتوداور له کبله ټپي او بیا وروسته مړشواو دهند وستان د بیهار ایالت په سهسرام کې ښخ شو ۰ د ده زیارت ته اوس هم ګڼ شمیر خلک

ورځي اود دغه عاد ل واکمن روح ته د عقيد ت نذراني ډالۍ کوي ۰ د شيرشاه تر مړينې وروسته يې زوی سليم شاه پا چا شوچې بيا وروسته يې د ولس کلن زوی فيروزخان ته واکمني په لاس ورغله، خو نو موړی د نظام خان د زوی مبارز خان له خوا چې د سوري شير شاه وراره و ووژل شو او نوموړي د محمد شاه عد لي يا محمد شاه سوري په نامه ځواک تر لاسه کړ ۰ ترهغه وروسته د د غې کورنۍ نور واکمنان لکه ابر اهيم شاه سوري، سکند رشاه سوري او عاد لشاه سوري په هند کې واکمني چلولې ده ۰

د شير شاه د زمانې مشهور کسان چې د سوريانو په قبيلې پورې يې اړه د رلوده ([274]):

احمد خان سوري چې د شير شاه ميرنی وروړو، قطب خان سوري، بر مزيد خان سوري اوکمال خان سوري چې د شيرشاه د واکمنۍ ستر اميران ول۔ ۰ جلال خان سوري، سکند ر خان سوري، سيد خان سوري، غازي خان سوري، مبارک خان سوري، فتح خان سوري، محمد خان سوري، نظام خان سوري، مبارز خان سوري، مدا سوري د شير شاه مير نی ورور

100.5 سوريانو د واکمنۍ په اړوند مشهور کتا بونه

1. تاريخ داودي چې مؤلف يې عبدالله له اره پښتون او د مغولي واکمن جهانګير معاصر د ی. ([275])
2. تاريخ شير شاهي د عباس خان سروانې ليکنه چې ډې کلونه وړاند ې په پښتو ټولنه کې داروابناد د کتور د ولت محمد لودين له خوا ژباړل شوی و ۰
3. تاريخ شاهي داحمدياد ګار اثر چې ماد د ې مقالې ليکوال تر جمه کړی، خو لا چاپ شوی

274احمدياد ګا، تاريخ شاهي، د بينګال ايشيا ټيک سوسائټي، داسماالرجال فهرست، ٤٠٩-٤٤٦ مخونه، کلکته، هند وستان

275داکتاب ماد د ې مقالې ليکوال د ١٣٦٨ لمرېز کال د لړم په مياشت کې له ارد و نه پښتو ته ژباړلی وچې بيا په ١٣٧٠ لمرېز کال د افغانستان د علومو اکيډيمۍ د پښتو څيړنو د ړيوال مرکز له خوا داريانا په مطبعه کې د ٤٠٠٠ ټوکو په شمېر چاپ شو، خو په ١٣٧٢ لمرېز کال کې د کابل په تنظيمي جګړو کې وسوځيداو څه ټوکونه چې پاتې ول نو په هټيوکې د وکاندارانو د پوړيو کار ځيني اخيست ۰ دغه اثر وروسته بيا د ويم ځل لپاره دانش خپرند و يې ټولنې په ٢٠٠٧ عيسوي کال کې په پښور کې د ١٠٠٠ ټو کو په تېراژ خپور کړ ۰

نه د ی ۰

4. شیر شاه اور ان کا عهد د پروفیسر کالکارنجن قانو نګواثر په ارد و ژبه.([276])

5. افسانه شاهان هند ([277])

101 سادات یا سپدان

زمور په ګران هېوادافغانستان کې د بېلا بېلو قو مونو تر مینځ سیدان هم استوګنه لري او هیڅ یو داسې کلی، بانډه او سیمه به نه وي چې هلته څو کوره سیدان پکې نه وي ۰ دغه سیدان د افغانستان په بېلا بېلو سیمو کې په بېلا بېلو نو مو نو سره یادېږي ۰ د بېلګې په تو ګه د افغانستان په ختیځو ولا یتو نو ننګرهار، کونړ او لغمان کې د پا چا یانو او یا پا چا صا حبا نو او د سیدانو یا ساداتو په نامه یادېږي ۰ په ځینو ځا یو نو کې ورته اغا صا حب او دافغانستان د خوست په ولایت کې ورته سید ګي وایي ۰ په پښتونخواکې یې باد شاه یا باد شاه صاحب بولي ۰ ([278])

په عمو مي تو ګه د افغانستان په هره سیمه او په تېره بیا د پښتنو په سیمو کې دغه سیدانو ته خلک ډېر د رناوی کوي، ځکه چې داسلام د ستر پیغمبر محمد (ص) د لور بي بي فا طمې (رض) اد د حضرت علي کرم الله وجهه او لاده ګڼل کیږي ۰ پښتانه دوی پیر خانه بو لي او ډېر د رناوی او عزت یې کوي ۰

---

276 دغه اثرما په کابل کې تر جمه او یوه کاپي مې د افغانستان د علو مو اکیډیمۍ د پښتو څېړنو بین المللي مرکز ته ورکړه، خو کله چې تنظیمي ټو پکیان پر کابل مسلط شول نو د چایونو د د مولو لپاره یې سوځولی وا و له بده مرغه ما یې بله کاپي نه د رلود له، خو خبر شوم چې ښاغلی د کتور نثار احمد صمدهم دغه اثر له ارد و نه پښتو ته ژباړلی د ی ۰

277 دغه اثر چاپ شوی نه د ی، یوازې یوه قلمي نسخه یې د بریتانیا په بریټش میوزیم کې خوندي ده مولف یې محمد کبیر د شیخ اسماعیل زوی د ی. کله چې زه په هند و ستان کې وم زما یوه د وست د دغه کتاب د قلمي نسخې مایکروفیلم زما په واک کې راکړ ۰کله چې استرالیا ته راغلم نو داکتاب مې وژباړه اوس راسره د ی او که خدای کول ډېر ژر به چاپ ته چمتو شي

278زما شخصي یاد د ښتونه

همداراز که څوک ناروغه شي نو د د م د عا او تعو يذونو لپاره سيدانو ته ورځي او هغه پښتانه چې د کوم سيد تر تعويذونولاند ې وي نو د کندهار په اصطلاح هغوی ته د روږيان وايي او د دوی نه څا ښتونه او خورد ې هم اخلي ۰ په پښتني سيمو کې د د غو سيدانو يا پا چايانو سره پښتنو خپلوی او خيښی کړي دي او دوی د پښتنو سره داسې نږد ې ا ړيکي لري او داسې سره اخښل شوي دي چې ګواکې هيڅ پښتون هم دوی له ځانه جلا نه ګڼي ۰ د د غو سيدانو نه پښتانه تل د خپل منځي شخړو او لا نجو په اوارولو کې مرسته غواړي او هره فيصله چې دوی وکړي نو د واړو غاړو ته د منلو وړوي ۰

تاريخ حيات افغاني چې له نن نه ۱٤٥ کلو نه وړاند ې ليکل شوی د سيدا نو په اړ وند داسې ليکي :

"د بني ها شمي قر يشو نه د حضرت امام حسن (رض) او حضرت امام حسين (رض) او لاد ې ته چې د پيغمبر (ص) لمسيان ول سيدان ويل کيږي ۰ دافغانستان هيڅ يو لوی کلی نشته چې يو ياد وه کوره سادات د ې پکې نه وي ۰ په افغانستان کې سيدانو ته د خپل معمول نوم نه پر ته خواجه، سيد، ميا، اغا، پاچا، صاحب، صاحبزاده او مير هم وايي او ورته زيات د رناوی کوي ([279])."

101.1 افغانستان کې د پښتنو سيدانو داستوګنې سيمې

1. د کونړ ولايت د پشد د سيمې سيدان: دغه سيدان ډېر مشهور او خلک ورته ډېر د رناوی لري
2. د ننګر هار ولايت د روداتو د و لسوالۍ د مزينې د سيمې پاچايان
3. د ننګر هار ولايت د سره رود د ولسوالۍ د سيدانوکلی
4. د ننګر هار ولايت د خوږيا نيو د سيمې پا چايان
5. د لغمان ولايت د عزيزخان کځ او د تير ګړيو د کلي پاچايان
6. د کاپيسا ولايت د تګاب د ولسوالۍ سيدان چې د تګاب ميا ګل جان اغا هم دهمد ې سيدانو نه و

279تاريخ حيات افغاني، د پښور چاپ ٤٥٥ مخ

7. د پکتيا د ولايت سيدان چې په ګردیز او زرمت کې اوسي ۰ د ستر سید شیخ شاه محمد روحاني مزار هم په زرمت کې د ی چې ډېر اراد تمندان لري

8. د خوست ولايت سيدان چې دوی ورته په خپله لهجه کې سید ګي وايي او د خوست په ډبکي کې استوګنه لري

9. د پکتيکا ولايت دارګون د بر مل د سيمې سيدان

10. د ميدان او ورد ګو ولايت سيدان

11. د کابل ولايت د ده سبزولسوالی د پايمنار پاچايان چې د پايمنارد پا چا صاحب زيارت هم هلته د ی ۰ همداراز د کابل په لويد ېز کې د کلای قا ضي په سېمه کې د شاه اغا زيارت هم ډېر مشهور د ی چې ډېر شمېر خلک يې زيارت ته ورځي

12. د لوګر ولايت د محمداغې، څرخ او کلنګار د سيمې سيدان

13. د بغلان ولايت سيدان

14. د کند ز ولايت سيدان

15. د بلخ ولايت سيدان

16. د پروان ولايت دهوفيان شريف سيدان چې سيد جان اغا پکې مشهور شخصيت تېر شوی د ی

17. د غزني ولايت سيدان.چې زياتره يې په واغز کې استوګنه لري

18. د زابل ولايت سيدان

19. دارزګان ولايت سيدان

20. دهېلمند ولايت سېدان: دهيلمند ولايت د ګرمسير سيدان چې د خاص روحاني فيض نه برخمن دي او په نو موړې سېمه کې عام پښتانه ورته ډير د قد ر په سترګه ګوري ۰ د د ې ترخنګ بيا د سياه بند سيدان چې اکثر خلک يې تور حلقي سيدان هم بولي د ولسي

محبوبیت نه برخمن دي اولویه پیرخانه لري ۰ ([280])

21. د فراه ولایت سیدان

22. دهرات ولایت سیدان: چې په اصل کې د کونړ د پشد نه تللي دي اود دوی نېکه مرواریداغا هلته ښخ د ی او زیارت ته یې ډېر شمېر خلک ورځي۔ ۰ د دوی د کورنۍ نه یو مهم تن توراغا نو میده ۰ همداراز دهرات ولایت د کرخ د ولسوالۍ سیدان او دهرات ولایت دانجیل ولسوالۍ د نوین د کلي سیدان هم مشهور دي

23. د باد غیس ولایت سیدان ۰

24. د کندهار ولایت سېدان: د د ې سیمې سېدان تذکره لاند ې په بله برخه کښې ورکړ شوې ده.

لنډه دا چې د افغانستان په هر ولایت، ولسوالۍ او سیمو کې سیدان شته دي ۰

101.2 د کندهار ولایت سېدان

د کندهار په ولایت کې د پښین سیدان ډېر مشهور دي ۰ په کندهار کې سیدان دارغنداب، پنجوائې، شاه ولیکوټ، میوند، ډنډ، معروف، ارغستان او ښوراوک په ولسوالیو او د کندهار د ښار په مرکز کې میشته دي چې په ارغنداب کې یې ځانګړې سیمې د سیدانو کلا چه، صوف، ده ماسوس او دارغنداب د سیدانو لنګر د ی د د ې ترخنګ په کندهار ښار کې د سیدانو په نوم کوڅې هم لري۔ ۰ که څه هم د کندهار د ده ماسوس سیدان، خلک له اره صاحبزاده خېل بولي خو اوس په سیدانوسره یادیږي.

101.2.1 کندهار د سیدانو ځینې مشهورې کورنۍ

1. په کندهار کې د نومیالي غازي شاه اشرف اغا کورنۍ: سید شاه اشرف اغا د افغانستان د خپلواکۍ هغه نومیالۍ د ی چې کله غازي امان الله خان د سقاوي اړود وړ په ترخ کې کندهار ته راغی نو دغه نومیالي اوباتد بیره پښتون سیدیې ملا وروټړله او د شاه امان الله بیرغ

280د ښنوا د ویپا نې مشر ښاغلي خالدهادي حید ري را استول شوي معلومات

يې پورته کړ او ترغزني پوري د ټولو سيمو په نيولو کې يې د شاه امان الله خان مر سته وکړه.

2. د کندهار د پنجوائې د سيد محمداغا کورنۍ چې په پنجوائې او شاوخوا سيمو کې يوه نو ميالۍ کورنۍ ده اود د غې کورنۍ زياتره غړي اوس هم په کندهار او پنجوايي کې ميشته دي .

3. د شاه وليکوټ د ژوندي شا ه اغا کورنۍ چې په کندهار اوشا او خوا سيموکې خاص اراد تمندان لري .

4. د کندهار د مشهور جهادي شخصيت اروابناد حميداغا کورنۍ .

5. په کندهار کې د يعقوب جان اغا کورنۍ چې د کندهار د سپيڅلې خرقې ته ځيرمه مېشته ده او هغه کوڅه چې د کندهار ميوند عمومي واټ او د سپيڅلې خرقې د شمالي د روازه سره نښلوي د يعقوب جان اغا په نامه ياد يږي .

6. د کندهار د سيد عظيم اغا کورنۍ چې د ښار په څلورمه ناحيه کې يې اوس هم يوه غټه کلاچه شته چې اوس د نيک محمداغا په کلاچې سره يادېږي . د دغه سيد عظيم اغا يو ځوی سيد محمد نسيم اغا د د جنوبي زون تنظيمه رئيس و .

7. د کندهار داوسني قومي مخورسپين ږيري سيد عبدالظاهراغا کورنۍ چې په ډيرو جرګو کې يې د کندهار د خلکو استازيتوب کړی د ی د د ې کورنۍ زيات شمير کسان اوس په جنوبي پښتونخوا کوئيټه کې ميشته دي .

8. د کندهار دارغنداب د حسام الد ين جان اغا علمي او سياسي کورنۍ چې په سيمه کې د پوره شهرت نه برخمنه ده . د دغه حسام الد ين جان اغا زوم محمد سرورخان د کندهار نا ئب الحکو مه و .

9. د کندهار د مشهور روحاني شخصيت سيد عبدالرحمن شاه اغا کورنۍ چې په کندهار کې د خاص د رناوي نه برخمنه ده . ويل کيږي چې د سيد عبدالرحمان شا اغا غورنيکه سيداد م اغاد پښين د عمرزي سيدانو نه و چې وروسته د ملي قائداعليحضرت احمد شاه بابا په

وخت کي په کندهار کې میشت شوی و او دهغه زوی سید غلام جان اغا د کندهار یو د لویو قومي مشرانو څخه و او دهغه زوی سید عبدالروف اغا د کندهار د سیدانو مشر او خان پاتې شوي و . د سید عبدالروف اغا زوی سید عبدالرحمن شاه اغا چې د کندهارد لو یوروحاني شخصیتونو نه واونوموړی لومړی کس و چې په کندهار کي یې یو عام میلمستون، ګلبن، د حیوانانو یو ژوبن ااو په لومړي ځل یو شخصي میوزیم جوړ کړی و ۰ ویل کیږي چې نوموړی ډیر سخي سړی و او د قاد ریه طریقې پیرو هم و ۰ د کندهارمشهور روحاني شخصیت پیرمرچ اغا د ده داراد تمندانونه و اواعلیحضرت محمد ظاهرشاه دهغه ژوبن او میلمستون ته د سیل لپاره راته . د ده کوټې اوس هم د سید عبدالرحمن شاه اغا په نامه د کندهار په نوي ښار کې موجوده ده او د پ ته ورته یوه لویه کوټې یې د کندهار په دهیمراسي کې هم شته ۰د دوی اصلي ځای په کندهار کې د بامیزو کوخه ده چې د بابیانو د کلاپه استقامت یې یو لوی احمد شاهي سرای اوس هم هلته د ده په نامه شته ۰

10. ده خواجه د سید قد وس اغا علم پالونکې کورنۍ چې د کندهار د کاروان او منار کوخو په مینځ کې میشته ده .

11. دارغنداب د لنګر د سیدانو کورنۍ چې په سیمه کې د سیدانو یو د لوی نفوذ لرونکي کورنیو نه ده، د لنګر سیدان چې عام کندهاریان ورته ځانګړی د رناوی لري د کندهار په ارغنداب، میونداو کندهار ښار کې میشته دي .

12. د کندهار د مشهور تاجر سید حبیب الله جان اغا کورنی چې د کندهار په ډنډ او نوي ښارکې میشته ده ۰

13. د زلخان د سیدانو کورنۍ چېد روسانو په وړاند ې ملي پاڅون کې یې هم د پام وړ ونډه د رلوده د د غې کورنۍیو غړی سید فضل الد ین اغا د یوې جهادي جبهې مشر پاتې شوی و ۰

14. د تابین د غازي سید حید ر اغا کورنۍ چې د کندهار دارغنداب په سېمه کې میشته ده، سید حید راغا د میوند په غزا کې د غازي ایوب خان ترځنګ دانګریز سره په پوره مېړانه وجنګیداو په هماغه ورځ په شهاد ت ورسید ۰نوموړی د سیدانو د حید رزو قبیلې ته منسوب

و او دهغه زوی سید عبدالغفار اغا د تابین د مشرانونه و ۰د سید عبدالغفار اغازوی ډګروال سید نجم الد ین اغا د سردار داود خان شهید له نژد ې پوځي ملګرونه و او د جمهوري نظام په راو ستلو کې یې د سردار د واد خان سره پوره ملتیا د رلوده ۰ نوموړی لومړنی تن و چې په ارغنداب کې یې به خپلو هڅو سره د سیند پرغاړه د شاه اشرف ښونځی په عصري ډول جوړ کړ، د سید نجم الد ین اغا زوی سید خالدهادي حید ري د پښتوژبي لیکوال او شاعر د ی چې د ښنوا انټرنیټ پاڼې بنسټ یې ایښی او دغه پانه چلوي ۰

15. د د یلاوور د سید سرور اغا کورنۍ: دغه کورنۍ د روسانو په وړاندي په ملي پاڅون کې ډیري قربانۍ ورکړي دي او د سید سروراغا زوی شهیدامین الله اغا مشهور په لالاملنګ د کندهارله مشهورو غازیانو نه وچې په یوازي ډول به یې د روسانو پوره محاصره ماتوله ۰ د کندهارچریکان نومي تاریخي اثر کې د دغه غازي ډیرې زیاتې کارنامې راغلي دي او په ۱۹۸۲ زېږد ېز کال کې د کندهار په میانجوی سیمه کې د روسانو لخوا په مخامخ جګړه کې په شهاد ت ورسیداو د میانجوی په جومات کې ښخ د ی ۰ د لالا ملنګ یو ورور سید طیب اغانومیږي ۰

16. د کندهار د فقیر روحاني شخصیت پیرمرچ اغا کورنۍ چې په هېلمنداو کندهار کې میشته ده .

17. د معروف د سیدانو کورنۍ: دغه کورنۍ د کندهار په معروف ولسوالۍ کې میشته ده چې په سېمه کې اشکزي او علي زي خاص د رناوی ورته لري ۰

18. د بازګل اغا او سید ګل اغاکورنۍ : چې د کندهار د سیدانو یوه مشهوره کورنۍ ده او دا څلویښت کاله کیږي چې په سعودي عربستان کې میشته ده او په مد ینه منوره کې استوګن دي ۰ویل کیږي چې دغه کورنۍ دافغاني حاجیانو سره هرکال معنوي مرستي هم کوي ۰

19. د سپین کوڅي صاحبزاده کورنۍ چې زیارت یې د کندهار ښار په د وهمه ناحیه کې د ی او خلک ورته ډېر د رناوی لري ۰

20. د تور اغا کورنۍ چې زیارت ئې د سپیڅلي خرقې سره نږد ې د ی او ډېر شمېر د

روږيان لري ۰

21. د کندهار په دهله کې د سید محسن اغا کورنۍ چې اوس په معصوم اغا سره شهرت لري ۰ ویل کیږي چې د د غو سیدانو کورنۍ خپلې ډېرې ځمکې د دهلې د بند جوړولو ته ډالۍ کړې وې او دا هم مشهوره ده چې سید محسن اغا ته اعیحضرت غازي امان الله خان ډېر د رناوی د رلوداو هغه به یې خپل پیر او مرشد باله ۰ په هرو د ریومیا شتو کې به یې یو ځل کابل ته ورغوښت او د ده د روحاني فیو ضا تو نه به یې ګټه او چتوله ۰ د سید محسن اغا نیکونه سیدابدال اغا او سیدال اغا نو مید ل چې لوی احمد شاه بابا هغوی ته ډېر د رناوی د رلوداو کله یې چې د کندهار د ښار چې په هغه وخت کې داحمد شاهي ښار په نامه یاد ېده د جوړېد واراده او تکل وکړ نوابدال اغا اوسیدال اغا یې چې د واړه ورونه وو راوغو ښتل او د دوی په متبر کولاسونو یې د دغه ښار د بنسټ ډېره کېښبو د له، د دوی کورنۍ اوس هم د ښار په بامیزو کوخه کي میشته ده ۰

22. د سید حسین اغا کو رنۍ چې د کندهار په دیمراسۍ کې ئې غټه کلا او س هم د سید قا سم جان اغا په نامه سره یادېږي ۰

23. د ده ماسوس د غني جان اغا کورنۍ ۰

24. د ذاکر شریف د جهادي شخصیت سید محمد جان اغا کورنۍ ۰

25. د ګلجه اباداوسبزکار د سیدانو کورنۍ ۰

26. د مېر بازار سیدان چې د کندهار خلک ورته ډېر د رناوی لري او خپله پیر خا نه یې بولي ۰

101.2.2 کندهار سیدانو مشهور شخصیتونه

1. غازي شاه اشرف اغا چې په د ویم ځل یې په کندهار کې د غازي امان الله خان بیرغ پورته کړه او ترغزني پورې یې ټولي سیمې بیرته د غازي امان الله خان تر ولکې لاند ې راوستلې ۰
2. غازي سید حید راغا چې د میوند په تاریخي غزا کې دافغان غازیانوسره یوځای په شهاد ت ورسید ۰

3. غازي شهيد سيدامين الله اغا چې په لالا ملنګ مشهور و او په کندهاريانو کې د د جهاد د يو وتلي اتل په نوم شهرت لري ۰

4. سيد محمد نسيم اغا چې د تنظيمه رئيس و ۰

5. موسی کليم اغا چې د مشهورو جهادي شخصيتونو نه و اود کوټې په سرياب کې ښخ د ی ۰

6. روحاني شخصيت پير مرچ اغا چې اوس هم ژوندي د ی او په جنوبي افغانستان کې د خلکو د ځانګړي د رناوي نه برخمن د ی ۰

7. روحاني شخصيت شهيد سيد عبدالرحمن شا ه اغا چې په کندهار کې يې ژوبڼ او ميوزيم د رلود ۰او هم هلته ښخ د ی ۰

8. د کندهار وتلی ولسي شاعر سيد عبدالخالق اغا

9. ډګروال سيد نجم الد ين اغا چې د سردار داود خان د نږد ې ملګرونه و او دهغه سره د جمهوري رژيم په رامينځ ته کولو کې يې مهمه ونډه د رلوده ۰ نوموړي د جهاد په د وره کي هم د کندهارد مجاهد يد نو په فوځي روزنه کي د پام وړ ونډه د رلوده.

10. خالدهادي حيد ري چې د پښتو ژبي يو ځوان ليکوال، شاعر او ژورنالست او د بېنوا د وييپا نې مسئول چلونکی د ی ۰

101.3 پښتونخوا د سيمې سيدان

1. د سوات د بو نير د سيمې سيدان چې سيد علي تېر مذي چې په پير بابا سره شهرت لري هوري ښخ د ی اوټول پښتانه ورته زيات ارادت او د رناوی لري ۰

2. د باجوړ د سيمې سيدان

3. د چترال د سيمې سيدان

4. د دير د سيمې سيدان

5. د خيبر ايجنسۍ سيدان

6. د کورمې ایجنسۍ سیدان چې پښتانه او شیعه مذهبه دي او داحمد زیو، د کړمان د سیدانو، د تېراه د سیدانو او د ماوړه د سیدانو په نامه شهرت لري ۰

7. داورکزیو ایجنسۍ سیدان

8. د د ږه غازي خان سیدان

9. د پېښور د سیمې سیدان

10. د بنګښو د سیمې سیدان

11. د لکي مروت سیمې سیدان: چه د شېخ شاه روحاني اولاد ګڼل کېږي و دابا خېل، متوري، و میچن خېل کلو کښې استوګن لري. د د ې نه علاوه د تاجي زو سېدان هم په علاقه کښې قد ر لري. نامتو لیکوال و تاریخپوه ډاکټر سېد چراغ حسېن چه کوم نه ګڼ شمېر کتابونه لکه د ود چراغ، تذکره پیر سباک، انوار چراغ، و د قیصو کتاب نالید لې بلا منصوب دي، هم د ې سیمې نه د ې.

12. د شمالي وزیرستان سیدان ([281]): د شمالي وزیرستان سیدانو ته په سېمه اېزه اصطلاح سید ګي وایي چې دوی د د غې سیمې په ځوی، د ویګړ، ډنډ، ورغړ، رباط اوشوال کې استوګنه لري او نن د پښتنود یوې قبیلې په تو ګه مو جود دي ۰ سید ګي په پیل کې په د وو بر خو ویشل شوي دي چې ملکا خېل او ذکر خېل نو میږي اود قبیلوي اتحاد له مخې ملکا خېل دابر اهیم خېلو وزیرو سره متحداو یو مو تی دي ۰ د سید ګي د قبیلې د خیلو نو او داستو ګنې د سیمو نو مونه په لاند ې ډول دي :

- ذکرخېل، شداد خېل، ابا خېل، شومېر خېل، مولي خېل او مصري خېل چې په ډنډ او رباط کې استوګنه لري
- شودي خېل، لاده خېل، جبر خېل، تول بیګ خېل، کبډي خېل، اتک خېل، رومي خېل، مد ک خېل، سرورخېل، زوبر خېل، نظر بیګ خېل او اخوند خېل چې په د ویګر او ځوی کې استوګنه لري

281پښتني قبیلې د پېښور چاپ ۱۷۹ مخ

- میاګل خېل چې په د ویګر، ورغړ، ډنډ او شوال کې اوسیږي
- کاکا خېل، سره ګنډه، تره کي ګنډه، غوټي ګنډه چې په ډنډ کې او سیږي
- ملکا خېل، بود ر خېل، مسیري خېل، ایبار خون خېل، ګري خېل، خد ري، ګړخېل، میسون خېل او خړه شوپه چې زیات شمېر یې په ځوی او لړ شمېر یې په د ویګر کې استوګنه لري
- همداراز حکیم خېل په ډنډ او رباط کې استوګنه لري

13. سهېلي پښتونخوا سیدان: د سهیلي پښتونخوا سیدان په پشین، ژوب، چمن، لورلایي، او کوئټه کې استوګنه لري چې مشهور نیا خونه یې نیادیزي، عمرزي، حید رزي او ابراهیمزي دي ۰

- د کوئټې په سیدانو کې د سید عبدالنافع اغا کورنۍ چې شاد یزي سیدان دي د یاد ولوړ دي چې زیات شمیر مریدان ئې په کوئټه، پښین چمن او نورو سیمو کې شته.
- په پښین کې د سیدانو یوه بله مشهوره کورنۍ هم شته چې مشر یې د سرانانو علي اغا د ی چې یو ستر عالم، مد رس او د کویټې، پښین او کراچۍ په پښتنو او غیر پښتنو کې ډېر شمېر مریدان اوراد تمندان لري ۰

باید زیاته کړو چې سیدانو دهند په نیمې وچې باند ې د ١٤١٤ میلادي کال نه تر ١٤٥١ میلادي کاله پورې واکمني کړې ده چې د دوی واکمني د سیدانو د واکمنۍ په نامه سر ه یادېږي چې د ځینو مشهورو واکمنانو نو نو مو نه یې په لا ند ې ډول دي :

خضرخان، سلطان مبارک شاه، سلطان محمد شاه اوسلطان علاؤالدین ([282])

282هند وستان پر اسلامي حکومت، د مفتي شوکت علي فهمي اثر ٣٥٠- ٣٦٠ مخونه، دهلي

101.4 افغانستان و پښتونخوا کې د سيدانو مشهور شخصيتونه

افغانستان و پښتونخوا کښې د سيدانو مشهور شخصيتونه په د ې ډول دي ([283]) :

1. د ختيز نابغه علامه سيد جمال الدين افغاني
2. د پښتو ژبې ليکوال، شاعر او فيلسوف اروابناداستاد ښاغلی ګل پاچا الفت.
3. داعليحضرت محمد ظا هر شاه د واکمنۍ په وخت کې د عد ليې وزيرار وابناد ښاغلی سيد شمس الدين مجروح
4. د کابل پوهنتون استادارواښاد شهيد سيد بهاؤ الدين مجروح ۰
5. د قبايلو د وزارت پخوانی معين ښا غلی سيد مسعود پو هنيار
6. د کونړونو پخوانی والي ښاغلی سيد فضل اکبر
7. د کونړ او سنی والي ښاغلی سيد فضل الله واحدي
8. سياسي شخصيت او ليکوال شهيد ښاغلی سيد يو سف ميړني
9. په ولسي جر ګه کې د خوږيا نيو پخوانی استازی ښاغلی فاروق ميړنی
10. د پښتو ژبې ليکوال ښاغلی سيد حسين پاچا
11. د پښتو ژبې شاعره، ليکواله او ويند ويه اغلې مير من مستوره شال
12. د پښتو ژبې ليکواله او ويند ويه اغلې مير من پروين علي
13. ستر روحاني شخصيت سيد علي تر مذي مشهور په پير بابا
14. د افغانستان د ملي محاذ مشر ښا غلی پير سيداحمد ګيلاني
15. ښاغلی سيداسحق ګيلاني
16. ښاغلې مېرمن فا طمه ګيلاني

283زما شخصي ياد د ښتو نه

17. د ننګرهار د ليسې پخوانی مدير ښاغلی سيد مقصود سعيدي

18. د ننګرهار د سره رود قومي مخور اړواښاد معشوق جان اغا

19. ښاغلې د کتور کبرا مظهري مايار

20. د ښېنوا د ويب پاڼې بنسټ ايښود ونکی او مشر ښاغلی خالدهادي حيد ري

21. د پښتو ژبې مشهور شاعر ښاغلی سيد محمد طا هر بينا

22. د پښتو ژبې شاعر او ليکوال ښاغلی سيد نورالله ځل

102 شلماني

زمونږ پښت پو هان او نسب پېژند ونکي شلماني له اړه سړېني پښتانه ګڼي چې د مومند و پر سترې قبيلې ورګډېږي ۰ دوی د پښتونخوا د خيبر ايجنسۍ کې د شلمان په د ره کې د تاترې په شا اوخواکې استوګنه لري او د دوی سېمه په لوی شلمان، کم شلمان ويشلې شوې ده او د لنډې کوتل نه ۲۵ کيلو متره واټن لري او مشهور ښاخونه يې اليم زي، ترکزي او کم شلمان دي ([284])۰

د دوی په ګاونډ کې شينواري، اپريدي او ملا ګوري ميشته دي ۰ د خيبر ايجنسۍ نه پرته ځينې شلماني په سوات، الا ډنډ، د ېر، باجوړ، بو نير، شنګله، هريپور، ملکنډ، ډارګۍ، سخاکوټ، صوابۍ، چارسده او عمر زيو (هشتنګر) چې مانا يې اته ښارونه دي او پښتانه يې په خپله ورځنۍ محاوره کې اشنغر بولي ميشته دي ۰ داسې ويل کيږي چې د شلمانيو ځينې کورنۍ د ننګرهار ولايت د سپين غر په لمنه کې د پچير اواګام د ولسوالۍ د تورې بورې په سيمه کې هم شته ۰

102.1 استوګنې سيمې

په پښتونخواه کښې د شلمانو داستوګنې سيمې په د ې ډول دي ([285]) :

284پښتني قبيلې، د کتور لطيف ياد، ۱۸۰ مخ د دانش چاپ، پېښور

http://www.shalman.iwarp.com/whats_new.html285

1. په خیبر ایجنسۍ کې دوی د شلمان په د ره کې استوګنه لري چې پښتون ته نږدې موقعیت لري ۰
2. په صوابۍ کې
3. په چارسده کې د عمرزیو او تور لنډې په کلیوکې چې نوښار ته نږدې موقعیت لري ۰
4. د ملکنډ ایجنسۍ په سخاکوټ، ډارګۍ، بټخېله، الا ډنډ، ډهیرې، تهانه او ګاټ کوټۍ کې۔ ۰
5. د سوات په بریکوټ ۰ مېنګوره، شېر پالم، جورا، خاري رای، سیجبان، بولکرای، برتهانه، پښتونای، باربارو او سواتیه کې (چې د سوات او د ېر تر مینځ پوله ده)
6. د شانګله په کوټکۍ او نورو کلیوکې ۰
7. د د ېر په ټایمر ګړه، بلمباټ، ناوه ګۍ او چکد ره کې ۰
8. دهزاره په هریپورکې
9. په بونېر کې

د شلمان کلمه د سلم، سریمان او سلیمان سره ډېره ورته ښکاري چې د پښتنو د یوې لر غو نې سیمې (روه) نوم د ی او د تاریخ حیات افغاني د روایت نه هم د شلمان او سلیمان اړیکه ښکاري ۰

تاریخ حیات افغاني د شلمانیو په اړوند داسي لیکلي دي :

"شلماني په پیل کې د کورمې د سیند په غاړو کې اوسېد ل چې د شلمان د سیمې له کبله دوی په شلمانیو باندي مشهو ر شول ۰ ترد ې وروسته دوی له دغه ځایه تېراه ته لاړل او بیا له دغه ځایه یې هم ولېږد ېد ل او بیا د پښتون په شااو خواکې په هشتنګر(اشنغر) کې مېشته شول ۰ په پنځلسمې میلادي پېړۍ کې یوسفزیو دوی له دغه ځایه بې واکه او وشړل ۰ اصلي علت یې داو چې کله یوسفزیو د افغانستان نه پښتونخوا ته مهاجرت وکړ او د پښتون حدود و تهورسېد ل نو د د لا زاکو د قبیلې نه یې د خپلې ګوزارې لپاره یو ه اندازه ځمکه وغوښتله هغوی هم یوسفزیو ته ځمکه ورکړه، خو کله یې چې د شلمانیو نه یې د خپلو ځمکو د خړوبولو لپاره داوبو غو ښتنه وکړه نو شلما نیو هغوی ته مثبت ځواب ورنکړ ۰ په پای کې یوسفزي د د و ابې سیمې ته راغلل اود شلماني قبیلې سره یې چې له پخوا نه یې دهشتنګر په

سیمه کې یې خپل واک ټینګ کړی و په جګړې لاس پورې کړ ۰ د جګړې په نتیجه کې شلمانیو ماتې وخوړه اود د شلمانیو د قبیلې مشر چې خالو نومېد و وژل شو، خوبیا وروسته سلطان اویس سواتي هغوی ته د سوات د سیمې په الا ډنډ کې ځای ورکړ چې اوس هم یو شمېرشلماني د یو سفز یو په سېمه کې مېشته دي ۰ "([286])

شلماني ډېر میلمه پال او غیرتي خلک دي ۰ دوی د میلمنو لپاره ښې حجرې لري او د میلمنو ډېر قد ر کوي ۰ شلمانیو په تاریخ کې ډېرې توري وهلي دي ۰ دوی د مغولو او انګرېزانو په وړاند ې په مېړانه جنګید لي او خپل پښتني رسالت یې سرته رسولی د ی ۰ شلمانیانود مغولو پر خلاف دایمل خان مومنداو د ریاخان اپریدي د مبارزو ټینګه ننګه کړې ده ۰ ([287])

شلماني خوارېکښه خلک دي او زیاتره د سو داګریو په چارو بوخت دي، ځکه چې سېمه یې غرنۍ او کرکېله پکې کمه ده ۰په ټوله پښتونخواکې د شلمانیو مجموعي شمېر ۳۰۰۰۰ تنه خلک ښود ل شوي دي ۰

102.2 نامتو شخصیتونه

شلمانو کښې نامتو شخصیتونه په د ې ډول دي ([288]):

1. راحت خان شلمانی چې دهند د نیمې وچې تر خپلواکۍ د مخه د شلمانیو نا متو مشر و او ویل کیږي چې دال انډیا د کانګریس د ګونډ د مشر او دهند د لومړي وزیر پنډیت جواهرلال نهرو سره یې دهغه سفر په تر څ کې چې پښتونخوا ته یې کړی و لید لي و او د پښتنو د راتلونکي برخلیک په اړه یې ورسره خبرې اترې کړې وې ۰ نو موږی د ملکنډ ایجنسۍ د سخاکوټ د شلمانیو نه و ۰
2. اروابناد نیک عمل خان شلمانی

286تاریخ حیات افغاني، ٤٨٠ مخ، د دانش چاپ، پېښور

287پښتني قبیلې، ١٨٠ مخ

288http://en.wikipedia.org/wiki/Shilman

3. اروابناد حاجي زبير شاه شلمانی

4. اروابناد ملک حضرت شاه شلمانی

5. اروابناد حکيم شاه شلمانی

6. اروابناد نيک شا ه شلمانی

7. اروابناد شا کر ا لله شلمانی

8. اروابنا د رحمن الله شلمانی چې په بابو مشهورو او د سرکايې بالا اوسيد ونکی و ۰

9. اروابناد ملک رحيم شاه شلمانی

10. اروابناد ګلستان خان شلمانی

11. ار وابناد زيبانشاه شلمانی

12. اروابناد زيرن شاه شلمانی

13. اروابناد محمد نثار شلمانی چې د ملکنۍ ايجنسۍ د سخاکوټ د بازار اوسيد ونکی و ۰

14. متوکل خان شلمانی د بهاما ډهيرې او سيد ونکی ۰

15. ګران باچا شلمانی

16. حبيب الله خان شلمانی

17. محمد سعيد غمګين چې د پښتو ژبې شاعر او د ملکنۍ ايجنسۍ د بټخيله دالا ډنډ او سيد ونکی د ی ۰

18. بابا عبدالر حمن شلمانی چې د پښتو ژبې شاعر او د ملکنۍ ايجنسۍ بټخيله دالا ډنډ او سيد ونکی د ی ۰۳-حيات افغاني، د دانش چاپ، پېښور، ۵۱۰ مخو نه ۰

19. شيخ ګل صاحب شلمانی

20. اروابناد ملک غازي ګل شلمانی وزير خېل

21. فرہد شهزاد خان شلمانی د مته د سجبان او سید ونکی سید کریم خان شلمانی

22. قاضي عبدالحی شاه شلماني

23. شهید قاضي عبدالکریم شاه شلمانی چې دانګړېزانو سره په جګړه کې په ۱۸۹۵ میلادي کال شهید شوی واو مزار يې بای پاس تهانې ته نږد پ د ی ۰

24. محب ګل شلماني

25. عمر رحمن شلماني

26. سیداحمد خان شلماني

27. فضل کریم شلماني

28. پروفیسر خورشید روشن شلماني

29. ډاکټر احمد خان شلماني

30. فضل غفار شلماني

31. جمیل تاج شلماني

32. ارشد کریم شلماني

33. محمدامین خان شلماني

103 شملزي

زمور پښت پو هان او نسب پیژند ونکي د شملزیو یا شمولزیو د قبیلې خلک غلجي پښتا نه او د تو خو د قبیلې یو ښاخ ګڼي۔ ۰ د شملزیو د قبیلې خلک د زابل ولایت د شملزیوپه ولسوالی، د غزني په ولایت، د پکتیا ولایت د زرمت په ولسوالی کې چې زرمله يې هم بولي او د نیمروز ولایت د کنګ په ولسوالی کې استوګنه لري ۰[289]

289 پښتني قبیلې، د د کتور لطیف یاد تالیف، ۱۸۱ مخ، د پښتور د دانش خپرند ویه ټولنه ۰

د زابل ولایت د شملز یوولسوالي دهمد ې قبیلې د نامه له کبله د شملز یو د ولسوالۍ په نامه سره یادېږي ۰ د شملزیو ولسوالي د زابل ولایت د د رېو نورو ولسوالیو یعنې اتغر، شینکۍ او نو بهار سره ګډه پو له لري ۰ همداراز د شملز یو ولسوالي د ډیورنډ د کر ښې سره هم ګډه پو له لري او د شملز یو د ولسوالۍ د خلکو مجمو عي شمېر ۳۳۳۵۱ تنه ښو د ل شوي دي ۰ په د غې ولسوالۍ کې د ناصرو د قبیلې خلک هم استوګنه لري ۰ [290]

شملزي غیر تي، مېلمه پالو نکي، زړور او په پښتو او پښتو نوالې باند ې مین خلک دي۔ ۰ شملزیو یو د نورو غلجیو قبیلو سره یو ځای د مغولو پر خلاف په زابل کې د ویاړه ډکې مبارزې کړي دي۔ ۰ همدارز دافغان- انګرېز په د رو ګونو تاریخي جګړو کې هم د شملزیوونډه د رنه ده ۰ د روسي ښکېلا کړو او بلو سګرو ځواکو نو پر خلاف د شملزیواو په مجمو عي تو ګه د تو خیو مبارزې زمور د ویاړلي هېواد په تاریخ کې په زرینو کر ښو ثبتې دي ۰

د شملز یو د قبیلې خلک د زابل ولایت د نورو پښتنو په څېر د کر کیلې او مالداری په چارو بو خت دي ۰د دوی په سېمه کې غنم او نورې غلې دانې کرل کیږي۔ ۰ همداراز بادام، انګور، مڼې او نور ډول ډول میوې هم پکې شته ۰ځمکې یې ز یاتره د کاښزونو په اوبو خړوبیږي، خو په وروستیو وختونو کې خلک د خپلو کر نې د ځمکو لپاره د واټر پمپونو نه هم ګټه اخلي ۰ د دوی د ود و نه او رواجو نه کټ مټ دهغې سیمې د نورو پښتنو قبیلو په څېر دي ۰

د شملزیو ولسوالي د زابل ولایت د مرکز د کلات نه ۷۰مېله واټن لري ۰ له بده مر غه د افغانستان د ولت د غې سیمې ته هیڅ ډول پا ملر نه نه ده کړې ۰ نه پکې کوم روغتیایي مرکز شته چې خلک د خپلونارو غانو علاج پکې وکړي او نه هم د ولت د غې سیمې ته د بر یښنا، ښوونې او روزنې او نورو بر خو کې کو مه پا ملر نه کړې ده، نو ځکه یې زیاتره خلک ډېر بېوزله او د پو هې له نعمته بې بر خې دي ۰ که څه هم چې د د غې قبیلې خلک د علم او پو هې سره مېنه لري او زیات شمېرلیکوالان او شاعران یې په خپلې غېږه کې روزلي دي ۰ د د غې د لېکو الو او رو ښا نفکرانو نه یو هم ښاغلی حلیم شملزی د ی ۰ برسېره پرد ې چې د پښتو ژبې یو ښه او تکړه لېکوال د ی، په دیني او مذهبي او دیني برخه کې هم د بشپړې پو هې خاوند د ی ۰ د شملزیو د قبیلې ځینې نور مشهور کسان حاجي عز یز الله خان شملزی،

---

290 http://en.wikipedia.org/wiki/Shamulzayi_District

غلام شملزی او عبدالسلا م خان شملزي دي .[291]

104 شیتک

د پښتنو قبیلو په ډله کې د کرلانیو په ټولنیز ګروپ کې د شېتک قبیله ډېره مشهوره ده . د شیتک د قبیلې نه په مجمو عي توګه مقصد د وړ، بنوڅي او تنې دي .

ویل کېږي چې د د غې قبیلې مشر نیکه شاه فرید نومید چې وروسته په شیتک سره مشهور شو . نومورې د ککی زوی او د کرلانۍ لمسی د ی . په پیل کې د شیتک د قبیلې خلک د سلیمان د غره په یوې لړۍ کې چې شوال نومیږي استوګنه د رلوده چې اوس هم په دغه غره کې د خلکو پخوانی استوګنځی په ککی میله [292] مشهور د ی . ویل کیږي چې د شیتک د میرمنې نوم بانو یا بنو و او له همد ې کبله دوی په بانوزو یا بنو زیو باند ې مشهور شول چې وروسته د وخت په تېرېد و سره دغه کلمه د زیات استعمال په وجه په بنو څیو بد له شوه .[293]

شیتک د رې میر منې د رلود لې . د یوې میر منې اولاده یې تنې او د وړدي، د د ویمې میر منې یعنې بانو(بنو) اولاده یې کیوي او سورانې او د ریمې میر منې اولاده یې جیم یا زیلم او هوید نو مېد ل چې د دوی اولاده ډېره لږه او په کیوي او سورانې کې شا مله ده .[294]

دوی په پیل کې د تو چې په جنوب کې د غره په لمنه کې او سېد ل، خو د سلطان شهاب الدین غوري د واکمنۍ په وخت کې شیتکو د بنو په سېمه باند ې برید ونه پیل کړل . د بنو د سیمې د تسمیې وجه په اغلب ګومان سره دهماغې ښځې یعنې د بنو د نوم له کبله د ی . کله چې شیتکو پر دغه ځای برېد وکړ نو په هغه وخت کې د لته منګل او هنې پښتانه اوسېد ل . د د ې حملو په نتیجه کې د شیتک

---

291 د شملزیو د قبیلې په برخه کې د د ې مقالې د لیکوال شخصي یاد ښتو نه .

292مېله = (مېنه = ځای = ټا ټوبی) لیکوال

293پښتانه د تاریخ په رڼا کې، ۳٦۹ مخ

294پښتني قبیلې، د دانش چاپ، پېښور ۱۸۱- ۱۸۲ مخونه .

په اولاده کې د کیوي او سو رانې اولس برید ونه جاري وساتل چې بیا وروسته منګل او هنې له دغه ځایه ولیږ د ېد ل ۰ دهنې د قبیلې لږ شمېر خلک دهند وستان خواته لاړل او یو شمېر د منګلو د قبیلې سره یو ځای د سپین غره په جنوب کې اباد شول ۰ دهنې او منګلو د قبیلې تر وتلو ورو سته د د غې قبیلې خلک د خپل پېر په لار ښوونه د بنو سېمه په خپل منځ کې په د ې ډول سره وویشله چې د میرۍ د مشر زوی کیوي اولا د ې ته یې سهیلي برخه چې اوس په میري سره مشهوره ده ورکړه، د ککي اولاد ې ته یې تر ختیځو بر خو پورې چې په هغه وخت کې زیاده اباده او ښه سېمه وه ورکړه، د کیوي د ویم زوی سمي ته یې تر نار پورې منځنۍ برخه ځمکه او د سوراني او لا د ې ته یې د کورمې د رود شمال ته تر تل پورې سیمې ورکړل شوې ۰[295]

د شیتکو داولاد ې یعنې د وړو، بنو څیو او تنیو ذکر د مخه په خپلو خپلو ردیفونو کې راغلی د ی۔

۰

105 شیرانې

که چیرې د شیرانیو د قبیلې د نسب شجره په غور سره وڅیړو نو جوته به شي چې دغه قبیله د سړبن په ټولنیز ګروپ پورې یوه اړونده قبله ده ۰ د شیرانیو د قبیلې شمال ته د وزیرو قبیله، لو یدیځ ته یې ژوب او د مند و خیلو د قبیلې سېمه، جنوب ته یې د کاکړو قبیله او ختیز ته یې هغه قبایل مېشته دي چې په د ېره اسماعیل خان کې استوګنه لري ۰[296]

د روایتونو پر بنسټ شرخبون پنځه زامن د رلود ل یعنې شیرانی، ترین، پانه، بړیځ او اورمړ ۰ ویل کیږي چې شیرانی د شرخبون مشر زوی و، خو پلار یې د مشری پګړۍ ترین ته ورپه سر کړې وه، [297] له همد ې کبله شیرانی د خپل پلار او وروڼو نه خپه او یو پیغام یې کاکړ ته چې د ده مورنی نېکه و په د ې شرحه ورواستاوه:

295حیات افغاني، د دانش چاپ، پېښور، ۵۱۰ مخو نه ۰

296اضلاع، ایجنسي ها وقبایل ایالت پښتو نستان، ۹۲ مخ ۰

297پښتانه د تاریخ په رڼا کې، ۱۲۷۷ مخ ۰

"زه د لته ډېر په تنګ شوی یم، راشه او ماله ځانه سره بو ځه!"

کله چې کاکړ ته دغه پیغام ورورسیده نو د خپلو څو تنو زامنو سره د شرخبون کورته ورغی او ورته یې ویل چې شیرانی پرېږده چې زما سره لاړ شي ۰ شرخبون پرد ې خبره راضي نه و، خو کله چې شیرانې په تللو باند ې ټینګار وکړ نو په دغه وخت کې ترین په غو سه شو او شر خبون ته یې وویل چې شیرانی پرېږده چې د کاکړ سره لاړ شي او که چیرې هغه د لته نه وي نو څه به وشي ۰ په پای کې کاکړ، شیرانی له ځا نه سره بوت او شیرانې هم ژمنه وکړه چې د ده اولاده د ې هیڅکله هم په سړ بنیو پښتنو کې نه شمېرل کیږي [298] او په د ې تو ګه د خپل مو رني نیکه یعنې د کاکړو په کورنۍ کې چې غر غښتې پښتانه دي شامل شو او اوس په ښو او بد و کې د غر غښت د ټولنیزې ډلې سره اړیکي لري ۰

شیرانې د سهیلي پښتونخوا د شیر انیو په ډیسټریکټ یا ولسوالۍ کې استوګنه لري چې د دغه ډیسټریکټ د خلکو ژبه پښتو ده ۰ د شیرانې دیسټریکټ د ژوب، دیره اسماعیل خان او مو سی خیلو د ولسوالیو سره ګډه پو له لري ۰ د شیرانیو سېمه د ګو مل جنوب ته پر ته ده چې د سلیمان غر هم د دوی په سېمه کې مو قعیت لري ۰ د وزیر ستان په څېر د دوی سېمه هم غر نۍ دهـ ۰ شیرانې زیاتره د کرنې او مالداری په چارو بو خت دي ۰ که څه هم د کرنې ځمکې یې لږې او او به هم چندانې پکې ډېرې نه دي خو خلک غنم، جوار، اوربشي، وریجي او تنبا کو کري ۰ هغه شیرانې چې په غر نیو سیمو کې ژوند کوي دوی د غرونو لمنې په للمي ډول سره کري ۰د دوی حیوانات غوایي، پسونه او وزې دي ۰

د دوی په غر نیو سیمو کې د جنغوزیو او انارو ونې هم شته چې خلک یې ټولوي او په بازارونو کې یې پلوري ۰ همداراز د دوی په غر نیو سیموکې ډول ډول وحشي ځناور، ژوي او مر غان شته چې په د غو ځناورو او ژوو کې وحشي ګډان، سوی، وحشي پیشوګانې، وحشي لیوان، ګیدړې، وحشي وزې او هو سی شته ۰

105.1 مشهور کلي یې

شیرانې د پښتونخوا ایالت په د ېره اسماعیل خان او د سهیلي پښتونخوا د شیرانیو په ډیسټریکټ کې استوګنه لري، خو ځینو خلکو یې د موسی خیلو د ډیسټریکټ د سنغر سیمې ته چې اوس ورته تونسه

298حیات افغاني ۱۷۳-۱۷۶ مخونه ۰

شريف وايي ليږ ديد لي او د د غې سيمې د د رنګ په تحصيل کې ژوند کوي ۰شيرانيو د قبيلې مشهور کلي دادي [299] :

- لهار کلی
- کازا مليزي
- ستانو راغه
- چچوبي(څخو بی)
- مير علي خېل
- ماني خوا
- سور لکی
- شنه پو نګه
- احمدي د رګا
- لاوارا
- مرغ بل
- تور راغه
- د ب شيخان
- مغال کوټ
- شين غر

---

http://en.wikipedia.org/wiki/Shirani299

105.2 مشهور ښاخونه او څانګې

د شیرانیو قبیله په لاند نیو ښاخو نو او څانګو ویشلې شوې ده

- حسن خیل
- اوبه خیل
- کپیپ
- کرمانزي
- محمد زي
- سالار خیل
- مروت خیل
- سپند زي
- جوهر خیل

105.3 میلمه پا لنه

شیرانې میلمه پا لونکي خلک دي ۰ دوی د خپلو میلمنو ډپر قد ر کوي ۰ دوی خپلو میلمنو ته ډول ډول خوند ور خواړه تیاروي ۰ دوی په خوړو کې د لاندي د غوښو، کړایي کباب، سره کړو غوښو، سابو او اوګرې نه ګټه اخلي ۰

105.4 ښوونه او روزنه

که څه هم شیرانې د علم او پو هې سره مینه لري، خو له بده مرغه دهغه ځای چارواکي د غې مهمې مسالې ته کو مه ځانګړې پا ملر نه نه کوي، نو ځکه د ښونځیو او تعلیمي مو سسو د کموالي په وجه د دغه ځای ډپر خلک او په تپره بیا ځوانان او نجونې د علم او پو هې له نعمته بې برخې ساتل شوي

دي او خلک مجبوردي چې خپل اولاد ونه او زامن ديني او مذهبي مد ر سو ته ورولیږي ۰

شیرانې په عمو مي تو ګه غریب خلک دي ۰ د دوی خلک زیاتره د کرنې په چارو بو خت دي، خو یو شمېر خلک یې د خلیج په عربي هېواد ونو کې هم مزد وری کوي ۰

شیرانې زړور او په خپلواکی مین خلک دي۔ ۰ دانګریزي یر غلګرو په وړاند ې یې له ویاړه ډکې مبارزې کړي دي ۰ د د غې قبیلې په نامتو مبار زینو کې یو هم ماشو خان شیرانی و چې دانګرېزانو سره په جګړه کې د ژوب د سیمې په سلیازي نو مې سیمه کې شهید شوید ی ۰

د د ېره اسماعیل خان او د سهیلي پښتونخوا سر ېره یو شمېر شیرانې دهند و ستان د راجستهان ایالت د ناګور شیرانې اباد په سېمه کې استوګنه لري چې د دوی سیمې په څلورو محلو باند ې ویشل شوي دي یعنې، صو فیه، غو ثیه، نجمیان او نوري ۰ همدارز هلته څو کلي هم شته چې شیرانې پکې استوګنه لري ۰ د د غو کلیو نو مو نه په د ې ډول دي :

- برنیل
- بهینیاد
- دانتا
- حمید پور
- ډونګاري

مشهور لیکوال حافظ محمود خان شیرانې او دهغه زوی اختر شیرانې د راجستهان د ناګور د سیمې شیرانې دي ۰ ویل کیږي چې شیرانې هند وستان ته لو مړی ځل د مغول واکمن همایون په وخت او د وهم ځل داکبر پاچا په وختو نو کې راغلي دي ۰ دهند د راجستهان ایالت د شیرانیو نه سرېره یو شمېر شیرانې دهند وستان د ګجرات دایالت د واد نګر، کالیګام او احمداباد کې هم استوګنه لري ۰ [300] په عمو مي ډول شیرانې قبیلوي خصوصیات لري او د قوانینو تابع نه دي ۰

300http://en.wikipedia.org/wiki/Sherani_District

106 شینواري

شینواری د پښتنو یوه مشهوره قبیله ده چې د سړبن په تولنیز ګروپ پورې اړه لري او د سپین غره په شمالي لمنو او د ننګرهار په جنوب ختیځ کې میشته دي. د دوی یوه برخه د پښتونخوا ایالت په لوارګی، څو کورنۍ یې د کوهاټ په ځنګلونو کې، پیښور، د کونړ ولایت په سره کمر، د پروان ولایت د شینوارو په ولسوالۍاو کشمیر کې هم استوګنه لري.

پښتانه د تاریخ په رڼا کې د شینوارو د قبیلې په اړه لیکي دي:

لکه چې د د غې قبیلې د شجرې نه معلومېږي چې کاسیان په یوولسو څانګو وېشل شوې دي چې د شینوارو قبیله هم په دوی کې شامله ده. لکه چې د پټې خزانې د روایت نه معلومیږي د خرشبون په اولاده کې د کنداو ځمنداولاده د غوړی مرغی نه د غزني، کابل او پیښور د وادي له لورې مهاجرت پیل کړ، نو په دغه وخت کې کاسیان بېرته د سلیمان غره ته لاړل او هلته میشته شول. البته د کاسیانو یوې قبیلې (شینواری) د خانبې خېلو سره مهاجرت وکړ او د خیبر په شمال او جنوبي غرونو کې میشته شول .[301]

د شینوارو شمال لوېدیځ ته د خوګیانیو قبیله، شمال ته یې د کابل سینداو د مومند و قبیله، ختیځ ته یې د ډیورنډ کرښه تر لوارګی پورې امتداد لري او داپرېد یو د قبیلې سره پوله لري او جنوب خواته یې سپین غر موقعیت لري. دوی د ننګر هار ولایت دهسکې مېنې (ده بالا)، مومند د ریې، نازیانو، اچین، د وربابا، غني خیلو، سپین غر، روداتواود چپرهار په ولسوالیوکې استوګنه لري.

د شینوارو قبیله په لومړی سر کې په د وو پلارو وېشله کېږي چې یوه ته سه پای او بل ته عبدالرحیم خېل وایي. چې سه پای مشر ورور او عبدالرحیم خېل کشر ورور د ی. مشر ورور په خپل منځ کې اووه تپی دي؛ حسن خېل، حمزه خېل، الیاس خېل(لیاس خېل)، ریندا د خېل، حید رخېل، بابرخېل، سلیمانخېل او کشر ورور یې په د ې تپو وېشل شوې دي او هغه علي شېرخېل، عد ل خېل او سنګوخېل دي .

301پښتانه د تاریخ په رڼا کې ۱۳۲۶-۱۳۲۷ مخونه .

106.1 استوګنې سيمې او ځايونه

- حسن خېل: حسن خېل دهسکې مېنې د ولسوالی په اوغز، ګورګوری، پايی، شيخ ميدان، ياغی بند، شپوله او ګيزاره کې پراته دي. يو شمېر حسن خېل په غوښت د ره کې هم استوګنه لري. ويل کېږي چې د حسن خېلو شمېر به (۱۶۰۰۰) تنه وي.
- حمزه خېل: دوی په خېل منځ کې د وه تپې دي چې يوه احمد خېل او بل يې مغد ود خېل دي. احمد خېل اکثره په هسکه مېنه او لږ شمېر يې په تنګی، شرمبنی او لرو احمد خېلو کې اوسېږي. مغد ود خېل په ګاګره، ګجنه، مريز، سنګوټا او راوګی کې استوګنه لري. .
- الياس خېل: الياس خېل چې لياس خېل يې هم بولي اکثره په هسکې مېنې، ګيزاره، لږ شمېر يې دهسکې مېنې په تنګی او يو شمېر په نرۍ اوبو کې اوسېږي او د جعفريانو په نامه څو کورنۍ يې بيا د کوچيانو په ډول ژوند کوي.
- رينداد خېل: د مامند په تنګی، باغ، اچين او ګرد ی کې پراته دي. دا ښاخ په څلورو څانګو وېشل شوی د ی او د پاخېلو، اليکه خېلو، بام خېلو او خليفه خېلو نه عبارت دي.
- حيد رخېل: دا تپه په خپل منځ کې د وه پلاره دي چې يوه ته ((نيمې د ر)) او بل ته ((ممه خېل)) وايي. ممه خېل په لنډی، مورګی چينه، داونی، اسد خېلو، تريلی، ميدانک، سره کلا او هجوم کلی کې مېشته دي.
- سيلمان خېل: په توتګی، وچکتوټ او د کوشتل په کليو کې اوسېږي.
- بابر خېل:دا يوه کوچنی څانګه ده چې يو شمېر يې په صند ق، بټن او چهل ګزي کې اوسېږي.
- علي شېرخېل: دا د عبدالرحيم خېلو يوه څانګه ده چې څه برخه يې په لوارګی او څه يې په افغانستان کې مېشته دي. دوی په اوو تپونو باند ې وېشل شوې دي او هغه له عيسی خېلو، باخېلو، ترخېلو، پيروخېلو، اش خېلو، خوګاخېلو او شود ن خېلو نه عبارت د ی.
- عد ل خېل:دا هم عبدالرحيم خېلو يوه پښه ده. دا تپه په خپل منځ کې د وه پلاره دي يعنې عثمان خېل او کرګوخېل.

- سنګوخېل:سنګوخېل په د رېو پلرونو باند ې وېش شوې دي؛ ګد وخېل، څلورپلاری او غني خېل، سنګوخېل د مند تی نه تر غني خېلو پورې د نازيانو په د رو کې پراته دي .[302]

له د ې کبله چې د شينوارو يوه برخه د خيبر د تاريخي د رې په شاوخوا کې استوګنه لري نو د خيبريانو په نامه سره هم يادېږي چې اورکزی او اپرېدي هم په همد ې نومونو مشهور دي. د تورخم او شمشاد سيمې هم د عليشېرخېلو شينوارو داستوګنې سيمي دي. د لوارګی شينواری په خپلو خېلونو کې وېش د حجرې له مخې ترسره کوي چې اوس دهر خېل حجري په لاندي ډول دي:

- خوګاخېل (۱۷۲) حجرې
- شېخ مل خېل (٦٨) حجرې
- اش خېل (۲۳) حجرې
- مختارخېل (۲۱) حجرې
- غني خېل (۳٥) حجرې.

د لوارګی شينواری اکثره د سوداګری په چارو بوخت د ی او هغه ترانسپورتي تجارتی لارې چې د کابل او پېښور تر منځ چلېږي دهمد ې خلکو په لاس کې دي.[303] د لوارګی شينواري د افغانستان د شينوارو سره نېې اړيکې لري. د لوارګی د شينوارو شمال خواته شلمان، ختيځ ته يې ملاګوری او جنوب ختيځ ته يې اپرېدي موقعيت لري. د لوارګی سيمه د تورخم نه د خيبر داپرېد و تر پوله شپږ ميله اوږده او د رې څلور ميله پلنه ده. شينواري په مېلمنه پالنه کې مشهور دي. د دوی حجرې تل د مېلمنو او مساپرو پر مخ خلاصې وي. د حجرو تر څنګ يې جوماتونه هم شته، په دوی کې د جرګې سسټم ډېر قوي دي او اکثره خلک خپلې لانجې د قومي جرګو له لارې اواروي. د لوارګی شينواری اکثره خپلې جرګې په سپين جومات کې چې د لوارګی تر منځ د لويې هديرې سره موقعيت لري جوړوي.

په شينوارو کې د نورو پښتني قبيلو په څېر د ننواتی د ودهم ډېر قوي دي چې ارو مرو يې قبلوي او

302پښتني قبيلې، د د کتور لطيف ياد تاليف، ۱۸٦-۱۸۷ او ۱۸۸ مخونه، د پېښور چاپ

303اضلاع، ايجنسي ها وقبا يل ايالت پښتو نستان، ٥۷ مخ .

مني يي. په دوی کې د سولې کولو د ودهم د پخوا په شان په خپل حال پاتې د ی چې (تیره) یې بولي او اپرېد ې ورته (کانې) وایي [304]

همدا راز د باجوړو په الینګار، چمرکنډ، ځاوګی، شېخ بابا او سره کمره کې هم شینواری استوګنه لري. د شیګل شینواری تقریباً د رې سوه کاله پخوا د ځینو عواملو له کبله د سره کمره خواته تللی دي او د شیګل ځمکه یې له نورو قومونو څخه چې په هغه وخت کې کافران وو نیولی وه. د شینوارو راګ شیګل ته او د نورو قومونو څخه د شیګل نیول د شیخ بابا په مشرۍ چې اصلي نوم یې (ذکریا) د ی ترسره شوې دي. د دوی سره د شیګل په نیولو کې ماموند و هم ملګرتیا وکړه. شینواری د کافرانو د سخت مقاومت سره مخامخ شول په تېره بیا هغه وخت چې د کنډرو کلا محاصره شوه نو شېخ بابا امر وکړ چې ټول شینواری د ی د کلا د سوځولو لپاره یوه یوه ګېډۍ لرګي راوړي نومورې کلا وسوځل شوه او شینواری بریالی شول چې وروسته شېخ بابا د شینوارو تر منځ شیګل ووېشه چې په د ې وېش کې اد رم (عبدالرحیم خپلو) ته کټه سید، امان کوټ، ګربوړی، کنډرو، زېرېت ډاګ، ملاعلم کلی، شینکی، غرتنګی او شنګر شا ورسېد ل. سلیمانخپلو ته چاکوړی، شینګرګل، نیم لاچی، سیمه لام، بنودیت، سورمل، برګله یی او ماټینه ورسېد ل.[305]

په لوارګی کې د علیشېرخپلو څانګې دا دي؛ خوګاخپل، شېخ مل خپل، پیروخپل، میرداد خپل، اش خپل، مختارخپل، غني خپل، پتمی خپل، بسی خپل، طالب خپل، سید خپل، اشرف خپل، طوطی خپل، شربی خپل، بابی خپل، شدان خپل، ماد ور خپل، میاخپل او عالم خانی. د ننګرهار په ولایت کې د شینوارو شمېر (۱۵۵۲۷) تنه، د کونړ په ولایت کې (۵۰۰۰) تنه د لوارګی شینواری (۱۲۷۷۰) تنه او د سره کمر شینواری (۱۳۰۰۰) تنه ښود له شوې دي.

د ننګر هار ولایت پر شینوارو سر ببره یو شمېر شینواري د کند ز ولایت په مرکز، د د شت ارچي، امام صاحب او خان ابا د په ولسو الیو کې مېشته دي ۰ د پروان په ولایت کې هم د شینوارو په نامه یوه ولسوالۍ شته چې داو سید ونکو شېر یې ۳۹۰۵۷ تنه ښود ل شویدي، خو په مجمو عي ډول په ټول افغانستان کې د شینوارو د قبیلې شمېر ٤۰۰۰۰ تنه ښود ل شویدي ۰ همداراز د غزني ولایت په قره باغ

304پښتانه، ۱۸۰- ۱۸٦ مخونه، کابل، ۱۳٤۹ کال ۰

305د پښتنو ټولنیز- اقتصادي جوړښت، ۲۸، ۲۹ او ۳۰ مخونه، کابل

ولسوالی کې هم یو شمېر شینواري استوګنه لري ۰ د کابل په سمټ خانه، کلای زمانخان، ششد رک او ده خدایداد کې هم ډېر شمېر شینواري استوګنه لري ۰

شینواري په هېواد مین خلک دي ۰ دوی د تاریخ په اوږد و کې دهېواد دهر غلیم اویر غلګر په وړاند ې په مېړانه جنګید لي دي او د خپل ګران هېوادافغانستان د د فاع لپاره یې خپل هېواد نی رسالت سر ته رسولی د ی ۰

106.2 نامتو شخصیات

د شینوارو قبیلې په خپلې غیږ کې په افغانستان اوپښتونخوا کې ډېر نامتو شخصیتونه روزلي دي۔ ۰ په د غو شخصیتونو کې شاعران، لیکوالان، انجنیران، ډاکتران، محققین، پوځي جنرالان او صاحبمنصبان، قا ضیان او ځیني مشهور قو مي شخصیتونه په لاند ې ډول دي ۰

1. د پښتو ژبې نا متو شاعر ښاغلی اروابادامیر حمزه خان شینواری چې پښتانه ورته د د رناوي له کبله حمزه بابا وایي ۰
2. اروابښاد ښاغلی سرمحقق د وست شینواری چې د پښتو ژبې داد بیاتو، ګرامراوژبپوهنې په برخه کې یې ستر خد متونه کړي دي ۰
3. اروابښاد ښاغلی سر محقق محمداکبر معتمد شینواری چې نامتو محقق او متر جم و ۰
4. اروابښاد ښاغلی محقق خیر محمد ساد چې په پښتو ژبه یې ډېر اثار لیکلي دي ۰
5. اروابښاد ښاغلی محقق شهزاده زیارنچې په پښتو فولکلوریکه برخه او په تېره بیا د شینوارو د قبیلې د نرخونو، رواجونو او څلو په برخه کې یې ډېرې مقالې لیکلي دي ۰
6. اروابښاد ښاغلی ډاکټر جکړ شینواری چې یو علمي شخصیت و او په پښتو ژبه یې ډېر اثار کښلي دي ۰
7. ښاغلی ډاکټر ماه خان شینواریچې د پښتو ژبې یو تکړه محقق او څېړونکی د ی ۰
8. اروابښاد ښاغلی رفیق شینواری چې د پښتو مو سیقی ته یې د قد ر وړ خد متونه کړي دي ۰
9. ښاغلی حبیب الله زړه سواند چې د پښتو ژبې ښه شاعرد ی ۰

10. ښاغلی سلطان جان کلیوال

11. ښاغلی انجنیر ستانه میر زهیر شینواري

12. ښاغلی قاري استاد بر کت الله سلیم چې په افغانستان کې د سپیڅلي قران نامتو قاري د ی۔ ۔

13. ښاغلی مثل خان شینواری

14. ښاغلی عبدالو کیل سوله مل شینواری

15. ښا غلی چټک شینواری چې د پښتو ژبې شا عر د ی ۔

16. اروابناد ښاغلی فضل هادي شینواری چې په شینوارو مولوي صاحب باند ې مشهور او د سترې محکمې رئیس و ۔

17. ښاغلی د کتور محمدابر اهیم شینواری چې ښه لیکوال، د سیاسي مسا یلو شنونکی اوژورنالیست د ی ۔

18. اروابناد ښاغلی ماما زرغون شاه شینواری چې مجرب عسکري صاحب منصب و ۔

19. په ولسي جر ګه کې د شینوارو د خلکو استازی ښاغلی ببر ک شینواری ۔

20. په ولسي جر ګه کې د خلکو استازې اغلې ملالی شینوارې ۔

21. د افغانستان د کریکیټ د بورډ غړی ښاغلی سمیع الله شینواری ۔

22. ښاغلی هنر غیرت

23. ښاغلی ډاکټر بر هان الله شینواری

24. ښاغلی شمله دار خان شینواری

25. ښاغلی غلام نبي شینواری

26. ښاغلی اجمل شینواری

27. د محاکمو پخوانی رئیسا روابناد حبیب الله خان شینواری

28. اروانښاد قاضي شيندي ګل خان شينواری ۰

29. ښاغلی قا ضي محب الله خان شينواری

30. انجنير هو ښيار شينواری ۰

31. په ولسي جرګه کې د شينوارو د خلکو استازی ښاغلی ډاکټر عصمت الله شينواری[306]

32. د افغانستان مشهور ليکوال، ژورنالیست او مبتکر کارتونيست ښاغلی هژبر شينواری ۰

33. ښاغلی مراد شينواری

34. ښاغلی عبدالمحمد شينواری

35. ښاغلی قاضي کمال شينواری چې د پښتو ژبې ښه ليکوال او متر جم و ۰

په پښتونخوا کې د شينوارو مشهورې خيرې په لاند ې ډول دي :

1. ښاغلی انجنير اعظم خان شينواری د ورسک د ډيم مشر انجنير

2. د وفدا مشر ښاغلی ذاکر شينواری

3. سيا ستوال ښاغلی ناظر خان شينواری

4. ښاغلی بريګيډر قيوم شهر شينواری

5. سيا ستوال ښاغلی شهباز ګل شينواری

6. د پوليسو افسر ښا غلی اسرار خان شينواری[307]

د ۱۳۸۳ کال په پيل کې يو شمېر شينوارو د کابل د ښار د باغ عليمردان په سيمه کې غونډه وکړه اود يوې قومي شورابنسټ يې کيښود چې د شينوارود قومي شوراپه نامه ونومول شوه چې نومورې شورابيادهمد ې کال د چنګاښ په مياشت کې په رسمي توګه د عد ليې وزارت د سياسي ګوند ونو او ټولنيزو سازمانونو په رياست کې ثبت اوراجستر اوپه فعاليت يې پيل وکړ ۰ نومورې شورا خپل يوځانګړی

306زما(د د ې مقالې د ليکوال) شخصي ياد د ښتونه ۰

307http://en.wikipedia.org/wiki/Shinwari_tribe

ویبسایټ (ویبپاڼه)هم لري چې پته یې په د ې توګه ده www.shinwari.org ۰د د ې شورامرکزي د فتر د کابل ښار د قوای مرکزداریانا کارتې د شینواري مارکیټ په د ریم پوړ کې د ی اوولایتی د فتر یی د ننګرهارولایت د مرکزجلال اباد د ښار د پوهنتون روغتون ته مخامخ موقعیت لري۔ ۰ داشورائانته یوه اساسنامه اونشان هم لري ۰

107 طوطا خېل

د پښتني قبیلو د پېژند نې په لړ کې داځل ګرانو لو ستو نکو ته د تو تاخېلو قبېله چې د طو طاخېلو په ښه هم راغلې ده د رپېژنم ۰ د توتا خېلو قبیله په اوسني وخت کې د پکتیا ولایت د مهمو قبیلو نه شمېرله کیږي ۰ د پښتني عنعنوي او روایتي شجرو پر بنسټ تو تاخېل له اره د پښتنو د غلجیو په ټولنیز ګروپ او ډلې پورې یوه اړونده قبېله ده او داند ړو د قبیلې یو ښاخ ګڼل کیږي ۔[308]

د توتاخېلو د قبیلې خلک د پکتیا ولایت د سید کرم په ولسوالۍ کې داحمد زیو د قبیلې د خلکوترڅنګ ژوند کوي ۰ داسې روایتونه شته چې توتاخېل په لو مړي سر کې د غزني ولایت داند ړو په سېمه کې ژوند کاوه، چې وروسته د ځینو بېلا بېلو عواملو په وجه د خپلې استو ګنې او سنۍ سیمې ته لیږ دید لي دي ۰ [309]

توتا خیل زړور، جنګیالي، غیر تي، میلمه پالو نکي او په پښتو او پښتونولۍ باند ې مین خلک دي ۰ دهېواد د خپلواکۍ په د ري ګونو جګړو کې یې د پکتیا د نورو پښتني غیرتمنو قبیلو په څېر یې دانګریزي یر غلګرو ځواکونو پر خلاف د ویاړه ډکې مبارزې کړي دي او کله چې روسي ښکیلاکګرو او بلو سګرو زمونږ په ټا ټوبې ګران افغانستان باند ې د وحشت نه ډک برید وکړ نو د توتاخېلو د قبیلې شاه زلمیو هم خپل هیواد نی رسالت په ښه تو ګه تر سره کړ ۰

د تو تا خیلو د قبیلې خلک زیاتره خلک د کرنې اومالدارۍ په چارو بوخت دي، خو ځینې یې د سوداګرۍ چارې هم پر مخ بیا یې ۰ هغه خلک یې چې د کرنې او مالدارۍ په چارو بوخت دي نو دوی

308معلومات مختصر د رباره اقوام وقبایل سر حدي کشور، ۵۳ مخ ۰

309پښتني قبیلې، د د کتور لطیف یاد تالیف، ۱۹۰ مخ د پېښور د دانش چاپ ۰

غوايي، غواګاني، پسونه، وزې او ميږې هم ساتي ۰

د تو تا خيلو د قبيلې رواجونه او د ود ونه کټ مټ دهغو قبيلو په څېر دي چې دوی ورسره ژوند کوي په دوی کې پښتني د ود ونه او په تېره بيا د جرګې سيستم پياوړی د ی او خلک خپلې لانجې د قومي جر ګو له لارې اواروي ۰

د غې قبيلې ځينې کورنی د پکتيا ولايت په مرکز ګرد ېز او ځينې يې په کابل کې هم استوګنه لري۔

107.1 مشهور شخصيتونه

د توتا خېلو قبيلې په خپلې غيږ کې ځينې نامتو شاعران، استادان او د علم او پو هې لارويان روزلي دي چې د ځينو نومو نه يې په لاند ې ډول دي:

1. د کابل د پو هنتون استاد ښا غلی پو هندوی نسيم ګل تو تاخېل
2. د کندهار د پو هنتون رئيس ښاغلی ډاکټر حضرت مير تو تاخيل[310]

د ١٣٥٤ لمرېز کال د سر شميرنې له مخې د پکتيا په ولايت کې د تو تا خېلو د قبيلې د خلکو شمېر ٢٢٣٤٠ تنه ښود ل شوي دي چې ښايې اوس به يې په شمېر کې څو برابره زياتوالی راغلی وي ۰ [311]

108 علي خېل

که چيرې د پښتنو د نسب شجره يا د نسب ونه په غور سره تر څېړنې لاند ې ونيوله شي نو جوته به شي چې علي خېل د غلجيو پښتنو په ټولنيز ګروپ کې يوه مهمه قبيله ده، ځکه چې سليمان چې او لاده يې د سليمان خېلو په نامه سره يادېږي دهغه د ويم ورور علي نو ميد چې اوس دهغه او لاده په علي خېلو سره مشهوره ده ۰

---

310 د توتا خېلو د قبيلې په اړوند زما شخصي يا د دابښتونه

311 پښتني قبيلې، ١٩٠ مخ ۰

تاريخ حيات افغاني چې له نن نه ۱٤٦ کلونه وړاند ې ليکل شوی د ی د علي خيلو غلجيو په اړوند داسې ليکلي دي :

" د زرمت سېمه چې پښتانه يې زرمله هم بولي نيمايې او سيد ونکي يې علي خېل دي ۰ پا تې علي خېل په مقر او نورو سېمو کې استوګنه لري ۰ د علي خېلو د مند وزي د ښاخ يوه څانګه اسما عيلزي دي چې د وې وړې څانګې يې پيد ن خېل او چند ې خېل نو ميږي چې د د رې کو تې په نامه سره هم يادېږي چې د خوست په سېمه کې د دوی څلور سوه کورنۍ مېشته دي ۰"[312]

د علي خېلو د قبيلې نورې څانګې دادي :

ممـوزي، مش خېل، يوسف خېل، علي خان خېل، علي شېر خېل، منـد وزي، کريـم خېل، مشي خېل، نوروز خېل، باړي خېل، ازاد خېل، کړو خېل، خيـري خېل، جبـاري خېل، اد م خېل، جـانو خېل، اخونـد خېل، سر مسـت خېل، ازارخېل، بنګي خېل، فـرار خېل، فتـح خېل، د ريا خېل، نيکنـام خېل، ميرزاخېل، ګيدازي، زيبا خېل، عمر خېل، پـارو خېل، سـلطاني، اسـماعيلزي، پيراخېل، مقـرب خېل، تـتي خېل، شکي خېل، ملککي، شالي خېل، شهباز خېل، فاطمه خېل، نيـک زنخېل، تـاو خېل، کشي خېل، هبت خېل، محمد خېل، مقام خېل، پيرخې، جـوري زي، غـو رګي، ميـر خانخېل، د وري خېل، کمـال خېل، اعظم خېل، سني خېل۔ [313]

يو زيات شمېر علي خېل د پکتيکا ولايت په مرکز شرنه کې هم استوګنه لـري چې د دوی شـمېر د ۱۳٦۰ لمرېز کال د سر شميرنې له مخې ۳٦۸٤۸ تنه د ی چې ښا يې اوس به يې شـمېر تـرد ې لا نـور هـم زيات وي ۰

د غزني په ولايت کې د علي خېلو د قبيلې خلک د دغه ولايت په مرکز او هـم د مقـر، ګيلان، قـره باغ او داب بنـد پـه ولسـوالیو کې استوګنه لـري چې په نـو مـوړي ولايـت کې د ۱۳٦۰ لمرېز کـال د سـر شـمېرنې پـر بنسـټ د دوی مجمـو عـي شـمېر ۳۲۸٤۸ تنـه ښـود ل شـوی دي چـې ښـايې اوس بـه يـې

312تاريخ حيات افغاني، ۲۸۷-۲۸۸ مخونه، د دانش چاپ، پېښور ۰

313دياد شوی اثر د ۲۸٦ مخ د نسب ونه ۰

شمېرډېروي .[314]

د ننګر هار د ولايت مرکز جلال اباد ښار ته نږد ې د علي خېلو په نامه يو کلی شته . همداراز دهند د پنجاب ايالت په جلندهر کې هم د علي خېلو د قبيلې خلک شته . د سهيلي پښتونخوا د ژوب په سېمه کې هم د علي خېلو په نامه يو ښا رګو ټی شته، خو هغه علي خېل چې د پکتيا ولايت د ځا ځيو په ولسوالۍ کې استوګنه لري هغه د ځا ځيو په قبيلې پورې اړه لري . هغه علي خېل چې په وزير ستان کې استوګنه لري هغه د وزېرو د قبيلې يوه څانګه ده .[315]

علي خېل زړور، جنګيالي، ميلمه پا لونکي او په پښتني نګ او غيرت ټينګ خلک دي . دوی ډېر ښه اس ځغلوونکي دي او په نېزه بازۍ او سانګې وهلو کې مشهوردي .

لنډه دا چې په ټول افغانستان کې د دوی شمېر ۸۳۵۴۳ تنو په شا او خواکې اټکل شوي وو چې ښا يې اوس به يې شمېر خورا زيات وي .

109 عمر خېل

د پښتني قبيلو د پيژند لو په لړ کې داځل يوه بله قبيله د رپېژنو چې عمر خېل نو ميږي او د غلجيو پښتنو په ټولنيز ګروپ پورې اړه لري .

د عمر خيلو د قبيلې خلک د لغمان ولايت د مرکز پورې اړونده چهاردهي او همداراز د ميدان ولايت د نرخ په ولسوالۍ، د کند ز ولايت د علي اباد په ولسوالۍ او د بلخ ولايت د شولګرې او بلخ په ولسواليو کې هم استوګنه لري .

عمر خېل زياتره د کرنې او مالدارۍ په چارو بوخت دي، خو څرنګه چې د د غې قبيلې خلک د علم او پو هې سره زياته مېنه لري نو زياتره يې د ولتي د ند ې هم لري .[316]

314پښتني قبيلې، ۱۹۱-۱۹۲ مخونه، د دانش چاپ، پېښور .

315 د د ې مقالې د لېکوال شخصي ياد داشتونه .

316 د کتور لطيف ياد، پښتني قبيلې، ۱۹۲ مخ، د پېښور چاپ .

عمر خپل د نورو پښتنو قبيلو په څېر ميلمه پا لونکي، په هېواد مين اوپه پښتني ننګ او غيرت ټينګ خلک دي ۰ د عمر خپلوقبيلې ډېرپوهان، ډاکټران، انجنيران، ليکوال او د علم اوپو هې د ګر نا متو کسان ټو لنې ته وړاند ې کړي دي ۰

د عمر خپلو د قبيلې نامتو کسان دادي :

1. اروابنـاد عبـدالکريم عمـر خپـل چـې د لغمـان ولايـت د چهـاردهي د سـيمې د عمـر خيلـونه و او داعليحضرت محمد ظا هرشاه د واکمنۍپه وخـت کـې يې د حکمرانـۍ او ولايـت د نـد ې تر سره کړي دي ۰
2. د کتور عبـدالکبير رنجبر چې داروابنـاد عبـدالکريم عمـر خپـل په کـورنۍ پورې اړه لري۔ ۰ نومورۍ مورخ، ليکوال او د ډېرو علمي مقالو خاوند د ی ۰ د د کتور نجيب الله د حکومت په وخـت کـې د افغانستان د علو مو داکيډيمۍ رئيس او په ټېره د وره کې د ولسي جر ګه کې غړۍ هم و ۰
3. د کتور عبدالبصير رنجبر چې د افغانستان بانک رئيس و ۰
4. عبدالصمدازهر چې په هند کې د افغانستان د د ولت سفير و.[317]

د ١٣٥٤ کال د مرکزي احصا ئيې د سر شميرنې پر بنسټ د لغمان ولايـت د عمـر خپلـو د قـبيلې د خلکو شمېر ٢١٨٨ تنه ښود ل شوی و چې ښايې اوس به يې په شمېر کې ډېروالی راغلی وي ۰ [318]

110 عيسی خپل

عيسی خپل له ا ره د پښتنو د لودي قبيلو پورې يـوه اړونـده قـبيله ده او د لـودي د زوی نيـازي اولاده ګڼله کيږي ۰ نيازي د خپلو د ريو مېر منو نه د رې زامن د رلود ل چې با هي، جمال او خاکو نو مېد لـ ۰ عيسی په اصل کې د خاکو زوی و چې د ده اولاده د عيسی خپلو په نامه سره يادېږي ۰[319]

---

317 د مقالې د ليکوال(لطيف ياد) شخصي ياد ښتونه ۰

318 معلومات مختصر د رباره اقوام وقبائل سر حدي کشور، ٤٢٥ مخ، د کابل چاپ ۰

319 تاريخ حيات افغاني، د پېښور چاپ، ٣١٤ مخ ۰

په پیل کې د نیازیو قبیله چې عیسی خیل یې یوه ځانګه ګڼله کیږي د افغانستان د غزني ولایت د شلګر په سیمه کې میشته ول چې وروسته داند ړو او نورو غلجیو قبیلو د غلبې په وجه له دغه ځایه لیږدید لو ته اړ ېستل شول او د سلیمان د غره ختیزو بر خو او د ټانک په سیمه کې میشته شول .د شلګر د سیمې نه د دوی د لیږدید و اصلي وجه داوه چې د دوی شمیر لږ وو او د غلجیو قبیلو سره یې د مقابلې توان په ځان کې نه لیده . په دغه وخت کې دوی زیاتره د پوونده او سوداګرو په ډول ژوند کاوه او لږه اندازه د کر کیلې په چارو هم بو خت ول .[320]

هغه وخت چې بهلول لودي په ۱٤٥۰ زیږدیز کال کې دهند وستان واکمن شو، نو د خپل ځواک د پیاوړتیا لپاره یې د افغانستان یا روه نه د خپلې قبیلې خلک او نور پښتانه د نوکرۍ او نورو پو ځي د نـد و د تر سره کو لو لپاره هند و ستان ته ور وغو ښتل او په هند و ستان کې یې د پښتنو د میشته کیـد و لپـاره یـو ځانګړی فرمان جاري کړ . په دغه وخت کې د نیا زیـو د قبیلې ډېر ښا خـونه او خـانګې هنـد و ستان تـه وکو چیـد ل او د لو دیانو په د ربار کې یې لـوړ لـوړ منصبونه او د نـد ې تـر لا سـه کړې . همـداراز دهنـد وستان د بل پښتون واکمن سوري شېر شاه په وخت کې هم ډېر نیازي پښتانه په شاهي د ربار کې لـوړ لـوړ منصبونه تر لا سه کړل چې دهغوی له ډلې نه هیبـت خـان نیـازي او عیسـی خـان نیـازي چې اولاده یې په عیسی خېلو سره شهرت لري د سوري شېر شاه د واکمنۍ په وخت کې د خپل لیا قـت او پـو هې په وجـه دامارت رتبې ته ورسېد ل او د ومره شهرت یې تر لا سه کړ چې هیبت خان نیازي ته د سـوري شېرشـاه لـه خوا داعظم همایون خطاب وشو او د پنجاب صو بدار یې وټاکه او عیسی خان نیازی د شېر شـاه سـوري د د ربار ځانګړی سلاکارو چې ورو سته د سلیم شاه سوري سره په جګړه کې ووژل شو .[321]

110.1 د عیسی خېلو د قبیلې ښا خونه

د عیسی خېلو د قبیلې ځینې مشهور ښا خونه دادي:

اپو خېل، زکـو خېـل، میـرزو خېـل، سـنځله خېـل، خـواجه خېـل، علـي خانخېـل، لنـډو خېـل، خـاني خېل، د لو خېل، کربوس خېل، ممون خېل، بادین زي، پیرالي خېل، پهاړ خېل، یعقوب خېل، فتـح خېـل،

320 د کتور لطیف یاد، پښتني قبیلې، د دانش چاپ، پېښور، ۱۹۳ مخ .

321 تاریخ حیات افغاني ٦۲۷-٦۲۸ مخونه .

صاحبو خېل، بيرم خېل، او رپه خېل، ملتاني خېل، عمر خېل، سيد خېل، سارنګ خېل، چهنګي خېل، شيخ عمر خېل، غازي خېل، صابو خېل، شيخ احمد خېل، عثمان خېل، د رپه خېل، عمر خېل، احمد خېل، شيخ مهلي خېل، احمد خېل، سيد خېل، حرزاخېل، سکند ر خېل، خضر خېل، شيخ فريد خېل، عمر خاني، شېر خاني، سليم خاني، جلال خاني، بهايي خاني، ماچهي خاني، پهاړ خېل، شمسي خېل، نورنګ خېل، سيد و خېل، سرور خېل، غالي خېل، سهالت خېل، زمان خېل، بهاد ر خېل، همل خېل، جهته خېل، د رويش خېل .[322]

110.2 د قبيلې حال د تاريخ په رڼا کې

لکه چې د مخه وويل شول په پيل کې عيسى خېل د افغانستان د غزني ولايت د شلګر په سېمه کې اوسېد ل چې بيا وروسته داند ړو او نورو غلجيو د غلبې په وجه يې خپله سېمه پر ېښود له او د سليمان غر ه په ختېزو لمنواو ټانک کې مېشته شول . تر هغه ورو سته د نيازيو او له هغې جملې نه د عيسى خېلو د قبيلې ډېر خلک په ١٤٥٠ زېږد ېز کال کې دهغه فر مان له مخې چې لودي ټولواک سلطان بهلول پښتنو ته دهند و ستان د تلو لپاره جاري کړی وډېر شمېر يې هلته ولېږد ېد ل او هيبت خان نيازي، قطب خان نيازي او عيسى خان نيازي د سوري شېر شاه د واکمنۍ په وخت کې لوړلوړ منصبو نه تر لا سه کړل، خو ورو سته بيا هيبت خان او عيسى خان نيازى د سليم شاه سره مقا بله وکړه، خو هغوى ماتې وخوړله او د نيازيو قبيله د عيسى خان او هيبت خان تر مشرۍ لا ند ې وټکېد ل او د دهن کوټ سيمې ته چې د سنده د رياب په لوېد ېزه ځنډه کې پر ته ده ورغلل .

د تاريخ حيات افغاني ليکوال محمد حيات خان له نن نه ١٤٦ کلونه وړاند ې په د ې اړوند داسې ليکلي دي :

"په ٩٥٤ هجري کال کې خواجه اويس سروانى چې د سليم شاه سوري د پوځ پر مشرۍ مغرور و او د نيازيو د ټکولو لپاره رورغلى و په لو مړي ځل يې دهيبت خان نيازي او عيسى خان نيازي د زړورتيا له کبله ما تې وخو ړله، خو د ويم ځل يې د تازه د مو لښکروپه ملګر تيا هغوى له دهن کوټ نه پر شا وتمبول او عيسى خان نيا زي او هيبت خان نيازي د خپلو ملګرو سره د راولپنډۍ په شمالي غرو نو کې د

322 نوموړى اثر، د ٦٣٠ مخ د نسب ونه(شجره)

ګهګړو قبيلې ته پناه يووړه، خو شاهي پوځ او لښکرو په دغه ځای کې هم دهغوی د تعقيب نه لاس وانه خيست او تر د وو کلو نو پورې ګهګړو هم د شاهي لښکرو سره جګړې وکړې ۰ کله چې ګهګړ و هم ماتې وخوړه نو نيازي د ځمکو اوځا يو نو د تر لا سه کو لو لپاره کشمير ته لاړل او کله چې د کشمېر واکمن پوه شو چې دوی د ډهلي د سوري واکمن سليم شاه د قهر او غضب وړ ګر ځيد لي دي نو دهغوی مخه يې ونېوله او دوی تر مينځ سخته جګړه وشوه چې په پای کې عيسی خان او هيبت خان نيازي د خپلو څو تنو زامنو او ورونو سره ووژل شول او دهغوی سرونه په ډېرې بير حمې نه د دوی د تنو نو جلا اود نورو بنديانو سره د سليم شاه سوري د ربار ته ولېږل شول ۰[323]

د د ې الو ګو لو په پای کې چې کوم نيازي او په تېره بيا عيسی خېل بچ پاتې شول هغوی په ټانک کې د خپلې قبيلې سره يو ځای شول، خوتر څو کلو نو وروسته په دغه سېمه کې د لو حاني(لوانې) د قبيلې د غلبې په وجه د نيا زيو د قبيلې نبا خو نه له دغه ځا يه د دامان سېمې ته چې اوس يې مروت بولي لا ړل اوتقر يبا د ېرش کلو نه د مروتو په تهل کې اوسېد ل ۰ د پهاړ خېلو د سيمې تر څنګ د کو رمې د روداو د ګميله د ويالې تر مينځ د نيا زيو لوی کلي پر اته وواو د مدي سر هنګ په نامه يو تن د دوی مشر او لوی شتمن و ۰

په دغه وخت کې د نيازيو قبيلې د سيمې ځمکې سره ووېشلې، خو د مهيار نباخ تړې يې بر خې پا تې شو د مهيار نباخ په دغه خبرې سخته واشيې ونښود له او د مروتو نه يې د مر ستې غو نښتنه وکړه او پر د غې پلمې مروتو پر نيا زيو ير غل وکړ او د نيازيو لاس يې له د غې سيمې نه لنډ کړ او د تهل په سېمه کې چې دوی يې اوس مروت بو لي دوی پخپله استو ګن شول او نيازي په متفرق ډول سره خواره واره شول ۰عيسی خان نيازي اته زامن د رلود ل ۰ کله چې د عيسی خان او لاده د نيازيو د پاتې قبيلې سره د تهل مروت نه د ټاک سيمې ته تلل، نو دوی پر هغې سيمې با ند ې قبضه وکړه چې اوس هلته د لکي روت سيمه ده چې د ګميل د رود شمال او د کورمې د رود سهيل ته موقعيت لري ۰ کله چې نيازي د مروتو له خوا د دغه ځايه وايستل شول نو په هغه وخت کې د د ره تنګ نه راووتل او لو مړی په مميت کې په يوه ځای کې مېشته شول او بيا يې د کورمې د رود په سهيلي برخه کې يو کلی جوړ کړ چې په ټيټې مينې سره مشهورو ۰

---

323 تاريخ حيات افغاني، ٦٢٨ مخ ۰

همداراز دوی د سند د د ریاب پر غاړه نور کلي هم اباد کړل ۰ کله چې بیا د عیسی خېلو د د وو څانګو ممو خېلو او زکو خېلو تر مینځ د ښمني را مینځ ته شوه نو عیسی خېل سره خواره واره شول او بیا په ۱۸۸۵ بکر ماجیتي [324] کال کې د عیسی خېلو د قبیلې مشر احمد خان د عیسی خېلو په نامه نوې قصبه جوړه کړه اود دوی سېمه د عیسی خان نیازي د نامه په وجه په عیسی خېلو سره ونو موله شوه ۰ کله چې عیسی خېل د لو مړي ځل لپاره د عیسی خېلو په نامه نوې سیمه کې مېشته شول، نو هیڅ ویاله د کورمې د رود نه نه وه ورایستل شوې او د لوړو ځمکو نه به ټیټو ځمکو ته د یوه لرګي په ذریعه چې دوی ترنا باله او به بهید لې او ځمکې به یې خړو بولې، نو ځکه په د ې سیمه کې د ترنا په نامه یاد ېد له چې په عامو خلکو کې د تر نه په نامه مشهوره وه ۰هغه وخت چې عیسی خېلو پر د غې سیمې خپلې واګې ټینګې کړې نوشیخ فرېد چې د شیخ مهلي زوی او د عیسی خېلو د ممون خېلو په ښاخ پورې یې اړه د رلوده اود ډېر ښه نیت خاونداو خدای پالونکی انسان و د عیسی خېلو د ټولې قبیلې ښاخونه را وغو ښتل او د عیسی خېلو ټوله سېمه یې په لاند ې ډول د دوی تر مینځ وویشله:

ممون خېلو ته یې یوه برخه، بادین زیو ته یې یوه برخه، زکو خېلو ته یې یوه برخه او اپو خېلو ته یې یوه برخه ورکړه چې دغه ویش پر څلورو ښا خو نو باند ې عملي شو ۰

که څه هم د عیسی خېلو اصلي ښا خونه پورتني ښا خو نه ول، خو دوی په پلو منځو نو کې بیا په شپاړسو بر خو باند ې دغه ویش د کو چنیو څانګو تر مینځ ترسره کړ ۰

دافغاني واکمنانو په تېره بیا د د راني واکمنانو په وخت کې به چې لښکر ته اړتیا لید له کېد له نو عیسی خېلو به د د غو څلوروښا خو نو لښکر ورته برابراوه ۰

که څه هم عیسی خېلو د پخوانیو زمانونه د مروتو سره شخړې او لانجې د رلود لې، خو سره له د ې هم چې عیسی خېل د شمېر له مخې تر مروتو لږ ول د مروتو له لا سه مات نه شول ځکه چې د شخړو او جګړو په وخت کې په مجموع کې ټول نیازي او دهغې نه د عیسی خېلو د قبیلې ټول ښا خونه سره یو موتی کېد ل۔

همداراز که څه هم په پیل کې د عیسی خېلو د قبیلې د ښاخونو تر مینځ شخړې او لانجې لږې وې

---

324 بکر ما جیتي سنه دهند داوجین د راجاد بکر ما جیت د نوم له کبله ده ۰نوموړي په ۵۷ قبل ا لمیلاد کې پر ساکانو بری وموند ۰داتر عیسوي سنې ۵۷ کاله مشره ده ۰(یاد)

او خلکو د شخړو او لا نجو نه ډ ډه کوله، خود د راني احمد شاه د واکمنۍ په زما نه کې د دوی تر مینځ د قبیلې د سرداری او مشری بر سر اختلا فونه ر او ټوکېد ل او دوی په خپلو منځو نو کې پر د وو ګوند ونو وویشل شول یعنې سنځله خېل، ممون خېل او با دین زي په یوه ګوند کې وو او زکو ځېل په بل ګوند کې ۰

د د راني وا کمنۍ په وخت کې د عیسی خېلو مشهور مشران او سردارن په لاند ې ډول وو:

د لیل خان، خان زمان اواشپر خان۔

همداراز دانګړېزانو د واکمنۍ په وخت کې د دوی مشهور مشران عالم خان، سرفراز خان، عبدالله خان، غازي خان، شېر خان، حسن خان، محمد خان، نوازخان، خان زمان او حسین ۰

په او سني وخت کې عیسی خېل د پاکستان د پنجاب د میانوالۍ د ډسټرېکټ(ولسوالۍ) یو تحصیل د ی او د عیسی خېلو ښار د دغه تحصیل مرکز د ی ۰ همداراز کمر مشاني او کالا باغ هم همد لته مو قعیت لري ۰

میانوالي تر ۱۹۰۱ عیسوي کاله پورې د پخواني صوبه سرحداو اوسنۍ پښتونخوا یوه ولسوالي وه چې بنو یې مرکزو، خو بیا د بنو نه جلا او په پنجاب پورې وټړل شوه ۰ د عیسی خېلو د تحصیل د وګړو شمېر ۷٦۳۰ تنه د ی او ٤۳ کلي لري ۰همداراز د کالا باغ د و ګړو شمېر ٥۸۲٤ تنه ښود ل شوي دي۔ ۰ د عیسی خېلو د تحصیل خلک د پښتو ژبې سر بېره په سرائیکي ژبه هم ګړیږي ۰[325]

د عیسی خېلو سېمه دابا سین یا سند د ریاب په اوږد و کې تر د پرشو میلو نه زیاته غځید لې ده، سوریې د ولس میله د ی او په د ریو خواوو کې لوړو غرو نو په غېږ کې نیولې ده ۰ دوی سیمه ډېره حا صلخېزه ده چې پرېمانه او به او ګڼ شمېر نفوس لري او ډېر ښه کښت پکې کیږي ۰[326]

---

325 http://en.wikipedia.org/wiki/Isakhel_Tehsil

326 مونټسټوارټ الفنسټن، د کابل سلطنت بیان، د پوهاند محمد حسن کاکړ او سر محقق نصرالله سوبمن ژباړه، د ویم ټوک، ٤۷ مخ

111 غلجي يا غلزي يا غرزي

غلجي په افغانستان کې تر د رانيو ورسته د پښتنو د ويم ستر ټولنيز ګروپ د ی چې د پښتني شجرو اوروايتونو له مخې د بي بي متو او لاده ګټل کيږي چې د بيټ نيکه لوروه ۰ د غلجي د قبيلې نوم د خلجي، غلزي او غرزي په بنو سره هم راغلي د ی ۰[327]

د غلجيانو په اړوند تاريخ پو هانو او ختيځ پيژند ونکو ښلا بيلې ليکنې کړي دي ۰ ځينې دوی ترکان او غزان بولي چې د غز نو يانو او سلجو قيانو د واکمنيو په وخت کې ا فغا نستان ته راغلي او د غزني او زابلستان په سيمو کې مېشت شوي دي ۰ ځينو بيا دوی د مغولي چنګيزخان د زوم خالج خان د نامه له کبله دوی خلجيان ګڼلي دي او ځينو هم دوی دهفتا ليانوبقايا او پا تي شوني بللي دي ۰

د افغانستان نامتو مؤرخ اروابناد علامه عبدالحی حبيبي د پښتو اد بياتو په تاريخ کې د غلجيو پښتنو په اړوند داسي کښلي دي:

"خلجي، غلجي يا غلزي په اصل کې غرزی د ی چې په د ري ژبه کې يې کو هزاد بولي يعنې د غرو خلک چې دا کلمه په غرچ، غر چه، غلچه او نورو ډېرو تا ريخي کلما تو کې شته او کله (غ) په (خ) هم او ښتی د ی او غلجی، خلجی شوی دي او غلجي له لر غو نو زما نو د غزني په غرو او رغو کې اوسي او د زاولستان يا اوسني زابل پخواني خلک دي ۰"[328]

بار تولد وايي:

"د غرج، غرچ يا غرش کلمه يوه پخوانی ار يا بي کلمه ده چې د مر غاب په ټا پو کې داريا ئيانو استو ګڼځي ته ويل کيږي ۰"

تو ماشک عقېده لري چې:

د ګر Gar يعنې غر کلمه لر غونې با کتري کلمه ده او غر چه د غزني دارياېي او سېد ونکو نوم د ی او له د پ کبله خلج، غرج او غر چ د غره زوی يا غرزی د ی ۰غر اوس هم په پښتو کې يوه ژوند ی

327 د کتور لطيف ياد، پښتني قبيلې، ۱۹۷ مخ، د پېښور چاپ ۰

328 علامه پو هاند عبدالحی حبيبي، د پښتو اد بياتو تاريخ لومړی او د ويم ټوک، ٤٠٥ مخ، د پېښور چاپ ۰

کلمه ده ۰ داوستا په" هوم یشت" کې غر د ګیري په بنه راغلی د ی چې په خرده اوستا کې هم لید ل کیږي او په سنسکریت کې هم ګیر او ګیري د غره په مانا د ی ۰ ان عربانو پخواني ګر شاه ته د (ملک الجبال) لقب ورکړی و چې په عربي کې جرشاه د ی ۰ په پښتو کې غر څه، غر څنی د غرني په ماناد ی چې د غر چه، غلچه او غلجي نوم هم له هغه ځایه راوتلی د ی ۰

عربي جغرافیا لیکونکو هم د ې ټکي ته اشاره کړې ده چې غر د جبل په مانا د غر شستان او غر جستان په تاریخي نو مو نو کې د خیل و ۰ یاقوت دالبشاري په حواله وایي: چې غرج په اصل کې د غره په ماناد ی او خراساني مؤ رخینو چې داکلمې له خپلو هېواد والو نه اورید لي دي هم د غر جستان نوم په اصلي بنه غر ستان لیکلي د ی چې غر ستان د غره داوسید ونکو او دوی داستو ګنې د ځای نوم د ی ۰

زمونږ دهېواد مشهور مؤرخ منهاج السراج جوزجاني د عربي مؤر خینو پر خلاف د غر جستان او غرشستان پر ځای غر ستان لیکلی د ی او د طبقات نا صري په زړو نسخو کې هم څو واره غر ستان لید ل کیږي ۰[329]

په هر حال غلجی یا غلزی یو پخوانی او لر غونی نوم د ی چې مانا یې د غره زوی د ی او د پښتنو غلجیانو لو مړنی نېکه غلجی با با و چې د ري زامن یې د رلود ل چې توران، تولر او بولر نو مېد ل چې د زامنو نو مونه یې هم زړو او لر غو نو اریایي نو مو نو ته ورته والی لري ۰ د تور کلمه په اوستا کې هم شته او دانوم تر او سه هم په پښتو ژبه کې په بېلا بېلو بنو(تور، تورانی، تورک، توری او توره کي) شته ۰ همداراز بولر یا بلور یوزوږ تاریخي نوم د ی چې د ګېلګته نیولی د نورستان تر سېمو خلکو باند ې اطلا قېده او د بارتولد په وینا تر اوسه پورې هم دهغه ځای ځینې تور پوښه قبایل ځانونه بلور بولي او داکلمه تر اتلسمې پېړۍ پورې په چیني کتا بو نو کې لید له کېد له ۰

دافغانستان په تاریخ کې د غلجیو قبیله ځکه د زیات اهمیت نه بر خمنه ده چې دوی داتلسمې عیسوي پېړۍ په پیل کې د میرویس خان هوتکي ۱۷۰۹-۱۷۱۵عیسوي تر مشر تابه لاند ې وشول کولای چې په کندهار کې د صفویانوبیګلر بیګي ګرګین له مینځه یوسي اود یو خپلواک ملي د ولت بنسټ کیږدي۔

---

329 قد رت الله حداد، غرزی، غلجي او خلجی د تاریخپو هانو له نظره، د کابل مجله، ۳ ګڼه، ٤١ مخ، ١٣٣٨ کال ۰

همداراز دهمد ې کورنۍ یو بل واکمن شاه محمودهوتکي په ۱۷۲۲ عیسوي کال کې ایرانی شاه حسین صفوي د واکمنۍ نه را وپرزاوه او پخپله داصفهان پر تخت کښیناست ۰

غلجیانوپه هند کې هم واکمني چلولې ده چې بنسټ یې د سلطان جلال الدین غلجي له خوا په ۱۲۹۰ عیسوي کال کې ایښود ل شوی واورپسي د د غې کورنۍ نورو واکمنانو لکه:

سلطان علا ؤالدین غلجي، سلطان قطب الدین مبارکشاه غلجي، محمود غلجي او غیاث الدین غلجي په خپل وار سره پر هند و ستان واکمني کړې ده.

د پښتو ژبې مشهور شاعر او د توري اوقلم خاوند ستر خوشال خټک په خپل کلیات کې په هند کې د غلجیانو د واکمنۍ بنسټ ایښود ونکی سلطان جلا ل الدین ۱۲۹۰-۱۲۹۶ عیسوي په زغرده او صراحت سره غلجی بللی د ی لکه چې وایي:

بیا سلطان جلا ل الدین پر سریر کښیناست چې په اصل کې غلجی د ولایت و[330]

111.1 د غلجیو د قبیلې وېش

لکه چې د مخه وویل شول د غلجیو د ټولنیز ګروپ لوی نیکه غلجی بابا و ۰ د غلجیو ټولنیز ګروپ په لو مړي سر کې په د وو سترو ښا خو نو ویشل شوي دي چې لو مړی یې توران او د ویم ابر اهیم د ی ۰

د د ې لپاره چې توران د غلجي مشر زوی و نو ځکه دغه ښاخ لو مړی د رجه ګڼل کیږي۔ ۰ د توران ښاخ په د وو څانګو ویشل شوی د ی چې لو مړی یې هو تک او د ویم یې تو خی د ی چې دغه د وه عمده ښا خونه بیا پر نورو ټرو څانګو باند ې ویشل شوي دي ۰

د غلجي د ویم زوی ابراهیم د وه زامن د رلود ل چې دهغه د شپږولمسیانو نه شپږ لوی ښا خونه رامینځ ته شوي دي یعنې: سلیمانخېل، علي خېل، اکا خېل، سهاک، اند ړ او تره کي ۰

د غلجیو د ټولنیز ګروپ مهمې قبیلې په لا ند ې ډول دي:

هوتک، توخي، اند ړ، سلیمانخېل، احمد زي، ابراهیم خېل، تره کي، اټوال، ادین خېل، اکاخېل،

330 د خو شال خان خټک کلیات، ٦٦٩ مخ، د کندهار چاپ ۰

الياس خېل، خروټي، امرخېل، اوريا خېل، حسين خېل، هود خېل، بابکر خېل، جبارخېل، کړو خېل، معروف خېل، ستانکزي، ستاني زي، پياروخېل، د ولت زي، د ستو خېل، څلوزي، زاري خېل، ټغر، جلال زي، څينزي، خد رزي، د رې کوټي، د فتاني(د وتاني)، دينارخېل، زير ماني، ساک، سلطان خېل، شملزي، توتا خېل، اد ريمزي، علي خېل، عمر خېل، عيسى خېل، قلندر خېل، کورم خېل، ګاړي، ملا خېل، ملک زي، نا صر، يو سف خېل، رستم خېل ۰

111.2 د غلجيو د قبيلې داستو ګڼې سيمې

په اوسني وخت کې غلجي قبايل په افغانستان کې يوه پر اخه سيمه په ولکه کې لري چې د دوی داستو ګڼې سيمې زابل، غزني، پکتيکا، ميدان ورد ګ، لوګر، کابل، پروان، د پکتيا ځينې ولسوالی، د کابل او ننګر هار تر مينځ واد ی اولغمان او ننګر هار دي ۰همداراز د افغانستان په شمالي ولا يتونو لکه بغلان، کند ز، بلخ، تخار، سمنګانو، جوزجان، فارياب، سرپل، بلخ او هم د باد غيس او هرات په شااوخواکې هم غلجي پښتا نه استوګنه لري ۰

د افغانستان سر بېره ډېر شمېر غلجي په نورو هيواد ونو کې هم استوګنه لري۔ ۰ د تاريخ حيات افغاني په قول: داېران په کرمان، نرمان، شمير جنس، اصفهان، دازبيکستان په بخارا، هند وستان او د روسيې په داغستان کې هم غلجي پښتانه استوګنه لري، خو دوی خپل د ود، د ستور او ژبه له لاسه ورکړې ده[331]

په افغانستان باند ې د روسانو تر ير غل وروسته ډېر شمېر غلجي پښتانه پښتونخوا، سهيلي پښتونخوا او پاکستان ته لېږ ديد لي دي چې ډېر شمېر يې په پېښور او کوئيټه کې دافغاني کډوالوپه پنډ غالو او يا هم په شخصي او کرايي کورونوکې ژوند کوي ۰ نورشمېر يې د پاکستان په نورو لو يو ښارونو په تېره بيا په کراچۍ کې په مزد وريو او خواريو او غر يېيو اخته دي ۰

د غلجيو د ټولنيز ګروپ دهرې قبيلې پېژند نه په خپل خپل رديف کې شوې ده ۰

---

331 تاريخ حيات افغاني، ۲۹۱ مخ، د پېښور چاپ

112 غرغښت

غر غښت د پښتنو په قبيلو کې يو مشهور ټولنيز ګروپ د ی چې په دغه ټولنيز ګروپ پورې يو شمېر قبيلې، ښاخونه، څانګې، خيلونه او پښې ترې لې دي چې پښتانه يې غر غښتيان هم بولي ۰ غرغښت په پښتنو کې يو مشهور نيکه تېر شوی د ی او له پخوا زما نو نه مؤرخانو د ده نوم او حال ليکلی د ی۔ ۰ په پښتني عنعنه کې هم غر غښت يو خورا لوی پښتو ن او مشهور نيکه ګڼل کيږي۔ ۰ د د ې عنعنې تصديق په بهرنيو مؤ رخينو کې ابو الفضل علامي(۱۰۰۶ هجري) چې د مغولي واکمن جلال الدين محمداکبر د د ربار نا متو مؤرخ اکبر او د شيخ مبارک ناګوري زوی او د مغولو د د ربار د ملک الشعرا ابوالفيض فيضي ورورد ی په د ې ډول سره کوي :

" په پښتنو کې د رې ورونه بيټنی، غرغښت او سړبن ډېر مشهور نيکونه دي ۰" [332]

د تاريخي روايتو نو پر بنسټ غر غښت د ۳۸۸ هجري کال په شا او خوا کې ژوند ی و ۰

پرو فيسور ولي محمد خان سيال کاکړ په خپل مشهور اثر" پښتو او پښتانه په سهيلي پښتونخوا کې" د غر غښتي پښتنو په اړوند داسې کښلي دي :

" غرغښت په اصل کې له د وو کلمو نه مرکب د ی چې غر او غښت د ی او دغه زړه اريايي کلمه د ګور ګښت، ګر ګښت او غر ګښت نه راوتلې ده چې مانا يې د غرو ګر ځيد ونکي يا په بله ژبه د غرو او سيد ونکي او مور غر غښتيان د غروال او غر زيو په نو مو نو سره هم ياد ولای شو ۰"[333]

د روايتونو له مخې غرغښت نيکه د رې زامن د رلود ل يعنې داني، بابي او مند و چې په دوی کې د داني داولاد ې شمېر د نورو په پر تله زيات د ی او د داني په اولاده کې د کاکړو قبيله ډېره مهمه ګڼله کيږي ۰[334]

---

332 ابوالفضل علامي، ائين اکبري، لومړی ټوک، ۱۹۱ مخ ۰

333 پروفيسور ولي محمد خان سيال کاکړ، پښتو او پښتانه په سهيلي پښتونخواکې، ۳۷ مخ ۰

334 تاريخ حيات افغاني، ۲۴۹-۲۵۰ مخونه ۰

غر غښتي پښتانه نه يوازې دا چې په افغانستان، سهيلي پښتونخواو پښتونخواکې مېشته دي، بلکې د پاکستان د پنجاب په چهچه او هزاره او هند وستان کې هم ډېر شمېر غر غښتيان مېشته دي .

په مجموعي ډول د غر غښتي پښتنو په ټولنيز ګروپ کې دالاندينۍ قبيلې ډېرې مشهوري دي:[335]

1. ساپيان
2. کاکړ
3. ناغر
4. داوي
5. ګډ ون يا جد ون
6. بابي
7. مند و خيل
8. پنې
9. خوندي
10. لودين
11. مشواني

113 غرشين

غرشين د پښتنويوه مشهوره او ستانه قبيله دهـ . د تاريخ حيات افغاني ليکوال ډېټي محمد حيات خان له نن نه ١٤٦ کلونه وړاند ې د غر شين قبيلې په اړه داسې کښلي دي:

" د غر شين د قبيلې د تسميې د وجې په اړوند داسې ويل کيږي چې د د غې قبيلې ستر نېکه يو ډېر منلی او خدای لما نځونکی انسان وچې د خپلې د عا له کبله بې يو وچ غر شين کړ، نو له همد ې

335 http://en.wikipedia.org/wiki/Gharghasht

کبله د ده اولاده په غر شین سره مشهوره شوه ۰ غرشین زیاتره د کندهار په غر نیوسیموکې میشته دي اودوی ته خلک په د رنه ستر که ګوري ۰ د غر شین د قبیلې څوکورنۍ د راولپینډۍ د بر هان د سیمې په غر شین نو مې ځای کې هم استوګنه لري ۰ چې د د غې قبیلې نه لعل شاه یو ډېر ښه او منلی سړی و ۰ [336]"

د پښتنو د غر شین قبیلې پورې تړلی یوستر شخصیت ملکیار غر شین د ی چې د ۵۸۰ هجري په شا او خوا کې بې ژوند کاوه چې د پښتنو مؤ رخانو د ده نوم په خپلو مشاهیرو کې راوړی د ی او مشهور مؤرخ نعمت الله هروي په خپل تاریخ مخزن افغا ني کې لیکلي دي چې ملکیار غر شین د شیخ ابو بکر طوسي معا صر و او په ډیلي کې یو ځای د رلود چې سلطان شها ب الدین غوري د ملتان دیر غل په وخت کې ده ته ور بخښلی و او د ده مر قدهم هلته د ی ۰[337]

د نعمت الله هروي د د ې روایت نه څو سوه کاله د مخه سلیمان ماکو ٦١٢ هجري چې د پښتو ژبې له پخوانیو لیکوالو او نثر لیکو نکو نه د ی د ملکیارغر شین په اړونداسې لیکلي دي:

" نقل کاوه شي چې په روزګار د غازي شهاب الدین چې په ډیلي کې هغه ستر واکمن تا تۍوبی ورو ښانده او هم هورې مړ شو ۰ نقل کاوه شي چې په جوبله(جګړې) کې مسلمانان تر شا ولاړل او کفارو بری وکړ ۰ لیرې نه وه چې مسلمانان شي د کفارو په کتارو(نېزو) پو پنا او د ښمن(د ښمن) بری وکړي، نا څا په شیخ ملکیار راغی او پر د ښمن بې یر غل وکاوه او ډېر زښت بې ووژل ۰ نرو مسلما نا نو هم د ملکیار تر اړخ تورې وکښې او سره ومروړل بې د ښمن، ستر څښتن دوی ته په مېړانه د شیخ ورکړله سو به او بری چې پخوا هم نه وه په برخه شوې د چا، هیڅکله په هیڅ ځای کې"

د سلیمان ما کو له د ې بیانه جو تیږي چې ملکیار غر شین یو غښتلی او تو ریالی سړی وچې د تورې او اد ب له څښتنانو نه واود سلطان شهاب الدین سره بې په جګړو کې ملګر تیا کو له ۰ سره له د ې چې ملکیار غر شین د جګړو د ډګر اتل و اد بې ذوق بې هم د رلود ۰ نوموړی پخپله هم شاعر و او د

---

336 تاریخ حیات افغاني، ۱۷۸ مخ، دانش خپرند ویه ټو لنه، پېښور ۰

337 پوهاند علامه عبدالحی حبیبي، د پښتو اد بیاتو تاریخ، لومړی او د ویم ټوک، ۵۱۰ مخ، دانش خپرند ویه ټولنه، پېښور

نورو پښتنو شا عرانو اشعار يې هم لو ستل.

ويل کيږي چې د جګړې په ډګر کې کله چې شيخ مکيار غر شين د سلطان معزالدين د لښکرو سره يو ځای جنګېده او نږد ې وچې د سلطان لښکرې ماتې وخوري نو د ې توريالي اديب د لښکرو د مورال د لوړلو لپاره يوه د ننګ او غيرت نه ډکه سند ره و ويله چې ژوبله ور راوپارېد ل او پر د ښمن يې بری تر لا سه کړ ۔سليمان ماکو ليکي: په جوبله کې ملکيار دا پاړکي وويل چې غا زيان وپارېد ل او په څېر د زمر يو ورتوی شول: [338]

خښتن مو مل د ی　　اوس مو يرغل د ی

هېواد د بل د ی　　غازيانو ګورئ

خښتن مو مل د ی

تورې تېرې کړئ　　د ښن مو پرې کړئ

منګولې سرې کړئ　　څله به تښتو

خښتن مو مل د ی

که ټينګ کړو زړونه　　پر بري يونه

چې زمری يو نه　　اسلام را څخه د ی

خښتن مو مل د ی

غازيانو راشئ　　ټول شا اوخواشئ

د شهاب په ملا شئ　　د ښن مو غوڅ کړئ

خښتن مو مل د ی

ملکيار غرشين په ډيلي کښې اوسېده او هماغلته مړشو او په دغه ښار کې د شيخ ابوبکر طوسي له مزاره سره يو ځای ښخ د ی. د شيخ ابوکبر طوسي مزار په اوسني وخت کې د پورانا کلا او د پرګتهي

---

338 د سليمان ماکو تذ کرت الاوليا، د ملکيار غر شين حالات .

میدان تر مینځ په یوه لوړ ځای کې موقعیت لري .[339]

114 غوریا خېل

چې داستا د نامې بوی اخلي حمیده!

څه به نه وي خوش د ماغه غوري، خښي

(حمید بابا)

زمونږ پښت پو هان او تو کم پیژند ونکي غوریا خېل سړښي پښتانه ګڼي او د پښتنو د عنعنوي شجرو پر بنسټ غوریاخېل د سړبن د زوی خر شبون اولاده ده . ویل کیږي چې خر شبون د ري زامن د رلود ل کند، جمندیا ځمنداو کاسي . کند بیا د وه زامن د رلود ل یو یې غری یا غوریا نو مېد چې دهغه او لاد ې ته غوریاخېل ویل کیږي او د ویم زوی یې خښی یا خوخي نو مېد چې د خښي او ښاخي خېلو په نامه سره هم یادیږي چې یوسفزي، مندړ او تر کلانې یې اولاده ده .

د روایتونو پربنسټ غوریا څلور زامن د رلود ل: لومړی د ولت یار چې د نوموړي له اولاد ې نه د مو مند و او داؤد زیو د وه مهم ښا خونه مینځ ته راغلي دي، د ویم زوی یې خلیل و، د ریم یې څمکنی او څلورم یې زیړان نو مېد چې اولاده یې د زیړانیو په نامه یادیږي .[340]

داسې مستنداو تاریخي روایتونه شته چې په پیل کې غوریا خېل د کندهار په ارغستان کې مېشت ول چې وروسته بیا د غزني سهیلي او لو ېدیزو برخو ته ولیږد ېد ل چې غا لبا به دغه وخت د ۹۱۰ هجري کال په شا او خواکې وچې په کابل کې د بابر د واکمنۍ لومړۍ شپې او رځې وې . داسې ویل کیږي چې په هغه وخت کې د د غې قبیلې ټول خلک پوونده او د مالدارۍ په کارونو بوخت ول، خو څرنګه چې وروسته د د غې قبیلې د خلکو په شمېر کې زیاتوالی راغی نودوی بیا له غزني نه د کابل شا اوخواته راولیږد

---

339 د ځینو پښتو زړو لغاتومعناوې په قو سو نو کې تو ضیح شوي دي(یاد)

340 پښتني قبیلې، د کتور لطیف یاد، ۲۰۰ مخ .

پد ل۔[341]

د پښتنو د تاریخ مؤلف اروانباد قا ضي عطا ؤالله خان د غوریا خپلو پښتنو په اړوند داسې لیکلي دي:

" مومند و، خلیل او داؤد زیو ته غوریاخپل وایي ۰ غوریاخپل د ۱٤٥۰ عیسوي کال په شا اوخواکې د غزني لویدیز ته د تر نک سیند پر غاړو اوسېد ل چې بابر په خپل تزک کې د غوریا خیلو د قبیلې داستو ګڼې ځایونه د مشداو سمکانه کلي ښود لي دي او تر څېړنو وروسته دا جوته شوه چې نو موړي کلي د غزني جنوب ته پراته دي ۰ کله چې بابر د غلجیو د سیمې د ویش لپاره په ۱۵۰۷ عیسوي کال کې غزني ته روان شو او د سرده په مقام کوزشو(سرده ۲۵ یا ۳۰ میله د غزني سویل ته موقعیت لري) نو بابر وایي چې ما ته خبر وشو چې د مو مند وځینې قبیلې په مشداو سمکانه کې پرتې دي ۰ امیرانو ماته وویل چې د دوی لوټ کول په کاردي، خو بابرو ایي چې ما ورته وویل چې موږ خپل رعیت ته نقصان رسول مناسب نه ګڼو ۰"[342]

لکه چې د مخه وویل شول غوریا خپل لو مړی د کندهار په ا رغستان کې ا وسېد ل بیا له هغه ځایه غزني او له غزني نه کابل ته راولېږد ېد ل ۰

د تاریخ حیات افغاني د لیکنې پر بنسټ وروسته بیا غوریا خپل له کابله ننګر هار ته ولېږد ېد ل او ننګر هار ته تر تلووروسته یې چې کله په شمېر کې نورهم زیاتوالی راغی د خیبر د تاریخي د رې له لارې پښور ته ولېږد ېد ل او د د لا زاکو د قبیلې سره چې لا د مخه یې پر پښور باند ې قبضه ټینګه کړې وه د سلطان پورې په سېمه کې چې خلکوو رته په هغه وخت کې جنګ پوره هم و یله د غوریا خپلو او د پښتنو د لا زاکو تر مینځ خو ځلې او سخته جګړه پېښه شوه ۰ د یوه روایت له مخې میرزا کا مران د د ې لپاره چې د غوریا خپلو ځواکمنه قبیله دهمایون سره د جګړې لپاره د ځان ملګرې کړي په دغه جګړه کې یې د غوریا خپلو سره مر سته وکړه چې په پایله کې د لا زاکو ماتې وخوړله چې ځینې خلک یې د جګړې په ډګر کې ووژل شول او ځینې یې هم دهزار خانې په نهر کې ډوب شول ۰ که څه هم دغه نهر د ومره

---

341 حیات افغاني، ۲۳٦- ۲۳۷ مخونه، د پښور چاپ ۰

342 د پښتنو تاریخ، قاضي عطاؤالله خان، لو مړی ټوک، کابل ۱۳٥٦

ډېرې او به نه د رلود لې چې څوک د ې ډوب کړای شي، خو د تصاد ف له مخې په دغه ورځ د دغه نهر په پورتنۍ برخه کې د ومره ډېر باران اورید لی و چې د د لا زاکو جنګیالي يې ډوب کړل .[343]

پر د لا زاکو باند ې د غوریا خیلوتر د غې سوبې او بر یالیتوب وروسته دغه سیمه د مو مند و، داؤد زیو او خلیلو لاس ته ورغله او د لازاک د لنډې سیند نه پورې وتل او د لنګر کوټ په میره او نورو ځا یو نو کې مېشته شول . بیا وروسته هغه وخت چې د یوسفزیو مشر خان کجو و نو د غوریا خېلو او یو سفز یو تر مینځ د شیخ ټپور په سیمه کې سخته جګړه شوه او غو ر یا خېلو ته سخت زیان ورسید، په تیره بیا د غوریا خیلو د قبیلې د خلیلود ښاخ خلک چې ډېر جنګیالي وو زیات شمېر کسان يې ووژل شول، خو د دوی د ماتې سره سره بیا هم یوسفزیو د د ې جرئت ونکړ چې د دوی پر سیمو باند ې قبضه وکړي . د د غې قبیلې ملک یا خان ته په پېښور کې غوریا خېل ارباب وایي .[344]

د پښتنو ستر شاعر رحمن بابا (۱۶۵۰-۱۷۱۵)، ستر مؤرخ او قانونپوه اروابناد قاضي عطا ؤ الله خان (۱۸۹۵-۱۹۵۲)، او د خداي خد متګارو د تحریک غړی ژبپوه او فیلا لو جیست اروابناد حسین بخش کو ثر غوریا خیل (مړ ۱۹۹۰) د غوریا خیلو پښتنو قبیلې ته منسوب ول .[345]

داخبره هم دیاد ونې وړ ده چې د خپل اصلي ټا ټوبي نه د غوریا خېلو د لېرد په وخت کې د دوی یو شمېر په غزني، لو ګر، کابل او ننګر هار کې پا تې شول چې د ځینو اولاده تر اوسه هم په د غو سیمو کې شته .

د غوریا خېلو د سترې قبیلې د بېلا بېلو ښاخونو لکه مومند و، خلیلو، څمکنیو، داؤد زیو او زیړ انیو یاد ونه د د ې مقالو په لړ کې په الفبایي تو ګه سره شوې ده .

---

343 حیات افغاني، ۲۳۷ مخ .

344 نوموړی اثر ۲۳۷ مخ .

345 http://en.wikipedia.org/wiki/Ghoria_Khel

115 کاسي

زمور پښت پوهان او توکم پيژند ونکي، کاسيان د پښتنو د سړبن په ټولنيز ګروپ پوري يوه اړونده قبيله ګڼي ۰ د پښتنو د عنعنوي شجرو له مخې کاسي د شر خبون زوی او د سړبن نيکه لمسی د ی۔ ۰ شر خبون د ري زامن د رلود ل چې کند، زمند (ځمند)ا و کاسي نو ميد ل ۰[346]

د کاسيانو د قبيلې زياتره خلک د سهيلي پښتونخوا په مرکز کوئيټه او کچلاغ کې اوسي ۰

د پښتونخوا نا متو مؤرخ سيد بهاد رشاه ظفر کاکا خيل په خپل مشهور اثر "پښتانه د تاريخ په رڼا کې" د کاسي پښتنو په اړوند داسي کښلي دي:

" د پټې خزانې د روايت نه معلوميږي چې د خر شبون په اولاده کې د کنداو زمند (ځمند) اولاده د غوړې مرغی نه لومړی د غزني او ورپسې د کابل او پيښور د واد ی په لور مها جرت وکړ ۰ په دغه وخت کې کا سيان بېرته د سليمان غره ته لاړل او هلته مېشته شول، البته د دوی يوه قبيله چې شينواري دي د خانې خيلو سره مها جرت وکړ او د خيبر په غر نيو سيمو کې ميشته شول چې تر اوسه پورې هم هما غلته اوسيږي ۰"[347]

"د پښتنو قبيلو د شجرې او مېنې" په نامه اثر کې د کا سيانو پښتنو د قبيلې په اړوند داسې راغلي دي:

"د تاريخونو په حواله ويل کيږي چې کا سيان نږد ې اووه سوه کلو نه پخوا د سليمان له غره نه د کچلاغ په سيمه کې مېشته شول اوورپسې د کوئيټې ښار ته راوليږديد ل ۰ د کا سيانو لو مړني خانان د عر ب خيلو مشران وو ۰ ورپسې دانګړېزانود واکمنی په وخت کې د کا سيانو د قبيلې مشري ارباب خيلو ته وليږديد له چې اوس په کو ئيټه کې ډېر مشهوردي ۰"[348]

---

346 د کتور لطيف ياد، پښتني قبيلې، ۲۰٤ مخ ۰

347 پښتانه د تاريخ په رڼا کې، ۱۳۲۷ مخ ۰

348 د پښتنو قبيلو شجرې او مېنې، د پو هنوال محمد عمر روند ميا خيل تاليف، ۲۱۳، ۲۱٤او ۲۱۵مخونه ۰

په کوئيټه کې د کا سيانو کلي د دوی د ښاخونو او خيلونو په نومو نو سره شهرت لري د بيلګې په ډول د علمو چوک چې د ملک عالم خان کاسي د نامه په وجه د علمو د چوک په نامه سره يادېږي اويا هم سمن ګلي چې مشر يې عثمان خان کاسي و او همداراز احمد خان زي چې پخوانی ارباب يې نواز کاسي و ۰

د کاسي د قبيلي خلک خپل مشران د ملکانو او اربا با نو په نامه سره ياد وي۔ ۰ د سمنګلی کلی چې د کا سيانو د يوه مشر نيکه سمن خان په نامه سره په سمن ګلي سره يادېږي او د کا سيانو د ۸۰۰ په شا وخواکې کورنی پکې ژوند کوي ۰[349]

په ۱۸۹۵ ميلادي کال کې چې په کو ئيټه کې کو مه زلزله وشوه او د کوئيټې په ښار کې يې لويه تبا هي راوستله نود بده مرغه د کا سيانو د قبيلې خلکو ته پکې د سر د رانه زيا نونه ور ورسيد ل چې ويل کيږي د دوی د ټول نفوس اوومه برخه ژوندي پا تې شول او پا تې نور يې د زلزلې قر باني شول ۰

کاسيان په عمومي تو ګه ميلمه پالونکي، ننګيالي، توريالي او په پښتني ننګ او غيرت ټينګ خلک دي ۰ دوی د ښو کړو وړو څښتنان او په علم او پو هې ډېر مين خلک دي اود نورو پښتنو په تناسب د علم او پو هې کسان پکې ډېر دي ۰

تاريخ حيات افغاني تقر يبا ۱٤٦ کلونه وړاند ې د کاسي د قبيلې د ښا خونو شمېر ۱۱ ښود لي دي چې د ځينو نو مو نه يې په لاند ې ډول دي:

الوزي، ژمرياني، محمد زي، موسيغ، سيرون، کيتران، سام، سلټ، همړ، شينواري.[350]

د کاسي قبيلې د ځينو مشهورو کسانو نو مونه دادي: [351]

1. ارباب عبدالظا هر کاسي
2. مير ايمل کاسي

---

349 د د ې مقالې د ليکوال(د کتور لطيف ياد) شخصي يداشتونه ۰

350 تاريخ حيات افغاني، د د کتور لطيف يداو فرهاد ظريفي پښتو ژباړه، د پيښور چاپ، ۲٤۷-۲٤۸ مخونه ۰

351 http://wiki.answers.com/Q/Kasi_tribe_of_pashtun

3. شهيد غلام حسين كاسي
4. نواب ارباب محمد عمر كاسي
5. نواب ارباب خدايداد خان كاسي
6. ارباب عبدالقاد ر كاسي
7. د رمحمد كاسي
8. ډاكتر عبدالقيوم كاسي
9. ډاكتر عبدالملک كاسي
10. ملک ګل زمان كاسي

116 كاكازي

كاكازي چې لوی ماموندیې هم بولي له اره تركلانې يا تركانې پښتانه دي او د ماموند و د قبيلې يو ښاخ ګڼل كيږي او تركانې په اصل كې ښاخي خيل پښتانه دي چې د پښتنو د سړبن په ټولنيز ګروپ پورې اړه لري.

د تاريخي روايتونو پر بنسټ يوسفزي، مندړ او تركانې يا تركلانې په مجموعي ډول د ښخي يا ښاخي خيلو پښتنو په نامه سره يادیږي ۰ داسي ويل كيږي چې د دوی اصلي ټاټوبی د كندهار دار غستان په حدود و كې د غونډان او سره غره په شا اوخوا كې سيمه وه چې وروسته بيا د ځينو ټولنيزو عواملو په وجه له هغه ځايه لومړی د غزني د مقر سيمې ته او تر هغې وروسته د كابل شا او خوا ته وليږديد ل۔ ۰ په هغه وخت كې مغولي ميرزا الغ بيګ د كابل واكمن و ۰ تر څه مود ې وروسته د ښاخي خيلو او ميرزا الغ بيګ تر مينځ اړيكي مخ په خرابيد و او ترينګلي شوې ۰ همدا وجه و چې ميرزا الغ بيګ د يوسفزيو او په مجموع كې د ټولو ښاخي خيلو اته سوه تنه مشران ميلمانه او وروسته تر هغوی يې دوی يې وسلې او بيا يې ټول له تيغه تېر كړل ۰[352]

352 د كتور لطيف ياد، پښتني قبيلې، ۱۰۸ مخ، د پيښور چاپ ۰

ترد ې خواشينوونکي او زړه بو ګنونکې پېښې وروسته ښاخي خېل د ننګر هار خواته ولېږ ديد ل ۰ترکلا نيو په لغمان کې واړول او يو سفزي، ګګيانې او اتمانخيل [353] په ننګر هار کې او سېد ل ۰ وروسته دغه د ړې واړه قبيلې د خيبر د تاريخي د ړې له لارې لو مړی پېښور او بيا د خپلو استوګنې په او سنيو سيمو، سوات، دير او با جوړ کې مېشته شوې ۰ تر کلا نې هم څه موده وروسته ميرزا الغ بيګ ته د لغمان د خلکو د شکايت په وجه له هغه ځا يه ولېږ ديد ل او با جوړ ته لا ړل چې تر او سه پورې هما غلته مېشته دي۔[354]

په لغمان کې د ترکلانيو د مېشته کېد و او بيا له هغه ځايه د دوی د ليږد په اړوند ډېر تاريخي مستند رو ايتو نه شته، د ببلګې په ډول ابوالمحمود مو لوي هدايت الله سود روي وزير ابادي په خپل کتاب هدايت افغا ني [355] کې او خان روشن خان په تذکره خان روشن خان کې [356] د کاکا زيو او په مجموع کې د تر کلا نيو د قبيلې ياد ونه کړې ده او ويلي يې دي چې دوی د لغمان په سره کلا او سه صده کې او سيد ل چې د سه صده په نامه کلی تر او سه هم د لغمان په ولا يت کې شته ۰

لکه چې د مخه مو وويل کاکازيو ته لوی ما موندهم وايي۔ ۰ لوی ما موند د مامونډ و د سيمې په جنوب ختيز او جنوب لويديز کې مېشته دي ۰ په ختيز کې د لو يو ما موند و او سا لارزيو تر مينځ برېد (حد) د ملا سيد غر د ی او د لو يو او وړو ما موند و تر مينځ برېد لوی خوړ د ی ۰[357]

د لويو مامونډ و يا کا کا زيو د مشهورو خيلو نو نومونه په لا ند ې ډول دي: [358]

د ولت خېل، خلوزي، مسعود خېل، عمر خېل، يوسف خېل، سليمان خېل او مغد ود خېل ۰

---

353 اتمانخيل په اصل کې کرلانې پښتا نه دي ۰

354 پير معظم شاه، تواريخ حافظ رحمت خاني، ٦-٧ مخونه ۰

355 هدايت افغاني معروف په تاريخ کاکازي، د مولوي هدايت الله سود روي وزير ابادي تاليف، په ارد و ژبه ۱۰۷-۱۱۷ مخونه، ۱۹۳۳کال، د وزير اباد چاپ، لاهور ۰

356 تذکره خان روشن خان، ۱۷٦ -۱۷۷ مخونه ۰

357 د پښتنو ټولنيز-اقتصادي جوړښت، ۳۲۵ مخ، د پښتو څېړنو نړيوال مرکز، ۱۳٦۲ کال، کابل ۰

1. په افغانستان کې د کا کا زیو یا لویو ما مو ند و داستو ګنې سیمې دادي : کاکازي یا لوی ماموند دافغانستان د کو نړ ولایت په مروړې، شوړتن، بر کانې، دانګام او پیچ د ره کې او سیږي ۰

2. په پښتونخوا کې: کاکا زي یا لوی ما موند د پښتونخوا د باجوړ ایجنسۍ په غاښې، شبنتر، ذکي، کټوټ، ګیري، زري، ترخو، لغړی، کالوزی، کږه، موخه او میانه کې او سیږي ۰ همداراز په پښور او ایبټ اباد کې هم استوګنه لري ۰

3. په سهیلي پښتونخوا کې: د سهیلي پښتونخوا په کو ئیته او پښین کلي کا کا زي کې ۰

4. په پاکستان کې: یو ډېر شمېر کاکازي د پاکستان په لاهور، کراچۍ، کشمیر، جهیلم، بهلوال، سرګودا، سیالکوټ، دیره غازي خان، چکوال، عیسی خیلو او موسی خېلو کې استوګنه لري ۰

5. په هند وستان کې: په هند و ستان کې کا کا زي د پنجاب ایالت په ګرداس پور، بابل چاک، فیض الله چاک، ست کو ها، وزیر چاک او دهاریوال کې استوګنه لري ۰

د کاکا زیو د ځینو مشهورو کسانو نو مو نه په لاند ې ډول دي: [359]

1. د پاکستان ډېټي اډیټور جنرال ریحان ملک

2. بهاد ر یار خان سیاسي شخصیت او د محمد علي جناح ملګری

3. غلام احمد بلور

4. منیر احمد خان

5. ډاکټر اشفاق احمد

6. جسټیس عبدالو حید خان

7. اسما جها نګیر

8. شعیب ملک د پاکستان د کر یکیټ ټیم پخوانی کپتان

---

358 http://en.wikipedia.org/wiki/Kakazai

359 http://en.wikipedia.org/wiki/List_of_Kakazai_people

9. ډاکټر رضوان ملک

117 کاکړ

زمونږ پښت پوهان او توکم پېژند ونکي کاکړ د پښتنو د غرغښت په ټولنیز ګروپ پورې یوه اړونده قبیله ګڼي. د پښتنو د عنعنوي شجرو د روایا تو له مخې د غر غښت د زوی دانې په څلورو زامنو کې کا کړ تر ټو لو مشرو چې اولاده یې نن په یوه لویه او پر اخه سیمه کې پر اته دي ۰

د یوه بل روایت پر بنسټ کاکړ د کاک نیکه او لاده ده چې دهغه د نامه له کبله په کاکړو سره مشهور شوي دي او داسې ویل کیږي چې کاک نیکه یو زاهداو نیک انسان و چې د سلطان غیا ث الدین غوري د واکمنۍ په وخت کې وفات شو او مزار یې دهرات د جامع جومات ته څېر مه د ی ۰[360]

په پخوانیو زړو تاریخي متو نو کې د کاکړو اصلي او پخوانی ټا ټوبی د کا کړ ستان په نامه یاد شوی د ی او تر اوسه پورې د سهیلي پښتونخوا خلک د ژوب او بورې تاریخي ناوې د کا کړستان په نامه یاد وي ۰

په تاریخ حیات افغاني کې د کاکړو د سیمې په اړوند داسې راغلي دي:

" د کاکړو د ملک شمالي خواته د غلجیو د سیمې جنو بي برخې پر تې دي، شمال لوید ېز ته یې دارغستان سیمه او هم د توبې هغه برخه مو قعیت لري چې اخکزي د رانیان پکې او سیږي ۰ لوید ېز او سهیل ته یې د بلو چستان سیمه د سپینو ترینو د علا قې یوه برخه او د سلیمان غره یو ښاخ پروت د ی۔ ۰ د کاکړو ټوله سېمه له هرې خوانه د سلو میلو په اندازه پلنوالی لري او ټوله سېمه یې غرنی او د غرونو له خوا احاطه شوې ده او تر ټو لو لوړ غر یې د شمال نه جنوب خواته غځید لی د ی ۰ که چیرې د دغه غره د لویدیزې خوانه څوک شمالي خواته راشي نو لو مړی به د سیو نادا غ سیمې ته راورسیږي چې یو لوړ میدان د ی چې یوازې د څارویو د څرولو لپاره مناسب ګڼل کیږي، خو لویدیز ته یې ډېرې لو یې وادي ګانې چې د غرونو تر مینځ پرتې دي شته چې په هغو کې د تورې مرغې، برشور، ترین، توګي او هنه وادي

---

360 د کتور لطیف یاد، پښتني قبیلې، ۲۰٤ مخ ۰

ګاني ډېرې مشهورې دي۔" [361]

ارواښاداستاد عبدالرؤف بينوا په خپل مشهور اثر پښتونستان کې د کاکړو سيمې داسې راپيژني: [362]

1. د برشور وادي يا د ره: دغه وادي له لوړې چينې نه پيل او د پشين تر سيمې پورې غځيد لې ده، شمال ته يې د توبې سيمه ده ۰ په د غې د رې کې د کاکړو د قبيلې د تره غرې او سنټيا ښاخونه اوسيږي ۰

2. دهنه د ره: دهنه وادي د شال د علاقې سره لګيد لې دۀ ۰ داعلاقه دافغانستان د ټولواک اعليحضرت احمد شاه بابا ابدالي له خواد قلات والي نصير خان ته د ده دهغه خد متونو په بد ل کې ورکړل شوې وه چې ده ورته سر ته رسولي ول ۰

3. د کنچوغې د ره: دايوه تنګه د ره ده چې د کنډ د غره لويد ږ ته پرته ده چې ډېرې ښې ځمکې لري او زياتره ځا يو نه يې ښه اباد دي ۰ د پسرلي په مو سم کې د د غې د رې غرنې سيمې شنې او له ګلانو نه ډکې وي ۰ د کنچوغې د وادي پورتنۍ برخه تنګه، خو کښتنۍ بر خې يې په تد ريج سره پراخيږي او تقر يبا د ږش ميله اوږد والی لري۔ ۰ په د ې سيمه کې د کاکړو د قبيلې د سنټيا ښاخ استوګنه لري اود د ې سيمې خان په ورګس کې اوسيږي ۰

4. د بوري سيمه: دايوه ښه اباده او زرخيزه سيمه ده ۰ يورودهم پکې بهيږي ۰ د دغه ځای ځمکې په غر نيو ويالوسره خړوبيږي په د ې سيمه کې د کاکړو د قبيلې د ولس ښا خونه اوسيږي چې په د غو د ولسو ښا خونو کې داري خيلو د ښاخ د خلکو شمېر زيات د ی ۰

په پو رتنيو سيمو سر بېره توره مرغه، ترين او تو ګي يې هم مشهورې د رې او سيمې دي ۰

پرد ې برسېره د سهيلي پښتونخوا په لا ند نيو سيمو کې هم کا کړ ژوند کوي: [363]

1. د کوئيټې په هنه، غبرګ.کچلاغ، سره غوړګی، نوی کلی اوکوټوال کې ۰ د

---

361 تاريخ حيات افغاني، پښتو ژباړه د لطيف ياداو فر هاد ظريفي، ۲۵۱ مخ ۰

362 پښتو نستان، دارواښاد عبدالرؤف بينوا اثر، ۱۳۷ مخ، ۱۳۳۰ کال، د کابل چاپ ۰

363 د پښتني قبيلې شجرې وپيژ نئ په فيس بوک کې د ښا غلي محمد فاروق خان کاکړ مقاله "د کاکړو قبيله"

2. د زیارت په ږرنده، ورچوم.احمد ون، ګوګی، چونګی، کځ، منه، چینه، سنځاوی، ریګوړه، سملن اوپوئ.بغاوه کې.

3. د مسلم باغ په کان مهتر زی، تور غبرګی اوچرمیان کې ۰

4. د کاریزات په خانزی، بلوزی، شرنه، ګوال، خانی، زرغون اورود ملازی. کې ۰

5. د سیوی‌په کړک، خجک، زردالواوکهوست کې ۰

6. د ږوب په شیرک کلا، مرغه کیږی، شاهیغالو، پلن کلی، بندات موسی زی، قمر د ین، لاکا بند، اغبرګی، سورکځ، مینا بازار، زاروزي، زرداو مسافر پور کې.

7. د کلای سیف الله په ګوال حید رزی، شرن جوګیز، تریخ کلی، سیب زي، باران کلی.چارګل برج، تانیشپه، تنګی زیرت، کلی چینه، سنځل بند .باغ اوانځرګی کې ۰

8. د .لورلایي په بوری، پټانکوټ، زنګي واله، پوټی.تاتی، باور، د رګی شبوزي، میختز، کینګری، راړاشم، ږږ کاریز، رود لین، خانکی، اصغر لون، اونوا کلی کې ۰

9. د پشین په سرانان، یاروبرشور اوتوبه کاکړي ګانګلزی کې ۰

10. د چمن په نورک سلیمانخیل، مئ زی، حبیب ز، .عبدالرحمان زی اومجک کې

117.1 د کاکړو د قبیلې ښاخونه

د کاکړو قبیله په ډېر زیاتو ښا خونو او څانګو با ند ې یشلې شوې ده خو د لته به د د غې قبیلې د ځینو مشهورو ښاخونو یاد ونه وکړو:

117.1.1 سنځر خېل

د روایاتو له مخې سنځر نیکه یو تورزن مشر او منلی روحاني شخصیت و چې د مغولو پر خلاف یې اوږد ې مبارزې کړي دي او یل کیږي چې د ده مزار د ژوب په کوسه نومي ځای کې د ی چې ډېر شمېر خلک د ده مزار ته ورځي ۰

پروفیسر ولي محمد خان سیال کاکړ د سنځر خېلو کاکړو په اړوند په خپل کتاب" پښتو او پښتانه

په سهيلي پښتونخوا کې" کې داسي ليکي:

"د کاکړونوابي او سرداري له پخوانه د سنځر خېلو په لاس کې ده او دوی د شمېر له پلوه د کاکړو تر بل هر تبر زيات دي ۰"

د سنځر خېلو ښاخ په لاند نيو څانګو او خيلو نو باند ې ويشل شوی د ی:

علي زي، عبدالله زي، کب زي، برن خېل، سنخېل، هر مز ئي، تيمني، عرب خېل، پنيزون، نيسي، کديزي او د ومړان ۰

117.1.2 سنتيا

داهم د کاکړو يو ښاخ د ی ۰ د تاريخي روايتو نو له مخې دوی د سنټ نيکه او لاده دي ۰ د تاريخ په اوږد و کې سنتيا کاکړانو ډېرې توريې وهلي او تا ريخي رجال او شخصيتونه يې پيدا کړي دي ۰ په کا کړو کې د شمېر له پلوه له سنځر خيلو وروسته د سنتيا کا کړو شمېر زيات د ی ۰ هيبت خان کاکړ چې د خانجهان لودي له لوري د سمانا حاکم او د مخزن افغاني په تاليف کې لويه برخه لري د سنتيا کا کړو نه و۔

دوی په هند وباغ، کان مهتر زي، کچلاغ، هنه، سره غوړګی، سره خوله، نو حصار، غبر ګ غو څکی، خانوزي، بلوزي، رود ملازي، مستنګ او په ځينو نورو ځايو نو کې ميشته دي۔[364]

د کا کړو د سنتيا ښاخ په لاند نيو خيلو نو ويشل شوي دي : پانيزي، مهتر زي، بازيان، سا رينګ زي، شموزي، ملا زي او عيسی خېل ۰

117.1.3 تره غري

د کاکړو دغه ښاخ د کاکړ ستان د بوري د تاريخي ناوې په موسی خېل تحصيل کې ميشته دي ۰ په کندهار، زابل، سيوی او د غزني په ولايت کې له پخوانه موسی خېل کا کړ استوګنه لري ۰

---

364 پرو فيسر ولي محمد خان سيال کاکړ، پښتو او پښتانه په سهيلي پښتونخوا کې ۷۷-۷۸ مخونه ۰

117.1.4 کسابي

کسابي د کاکړو ښاخ د ی چې د شال په د ره کې استوګنه لري، خو احمد شاه ابدالي دا د ره د بلو څو مشر نصير خان ته دهغه د خد متو نو په بد ل کې ورکړې وه ۰اوس دغه د ره د بلو چستان يوه برخه ګڼله کيږي ۰[365]

همدارازپه بيلا بيلو تاريخي منا بعو او اثارو کې د کاکړو د قبيلې شجرې کښل شوي دي چې د ځينوښا خو نو نو مو نه يې دادي: سام خېل، يونس خېل، موسی زي، تره غري، سر ګړي، د رپي خېل، جلال خېل، ختن خېل، چرمي خېل، زنغوزي، سين، سوران، عيسی زي، يعقوب زي، شادي خېل، با جو خېل، ايوب خېل، مند وزي، شاد زي، انګوزي، فاطمه زي، انوزي، الياس زي، تاجوزي، مما خېل، با جو خېل، سالار خېل، سودان زي، علي خېل، برات خېل، هرم زي، اتمان خېل، کيوي، خضر خېل، عبد لزي، شازي، زکوزي، مرزي، غوري زي، ملي زي، اميزي، ابر اهيم زي، انوزي، محمد زي، رجر زي، حسن خېل، يا سين خېل، احمد زي، کمالزي، ابو سعيد زي، مردان زي، اد و خېل، شکور خېل، سنټيا، پا نيزي، مهترزي، بازيان، سارينګزي، شموزي، عيسی خېل، موسی خېل، سنځر خېل، تره غري، کسابي، پنيزون، موسی زي، د رپي خېل، سام خېل او نور ۰۰۰[366]

117.2 د کاکړو قبيلې ته يوه ځغلنده کتنه

په سهيلي پښتونخوا کې د کاکړو د قبيلې خلک په مجموعي تو ګه د کرنې او مالداری په چارو بو خت دي، خو د دوی د کر نې ځمکې د دوی ورځنی اړ تياوې نه شي پوره کولای ۰ ځينې کاکړ کو چياني ژوند لري او د خپلو رمو او ګلو په د رلود لو خپل ژوند پر مخ بيايي ۰ځينې خلک يې د سو داګر يوپه چارو هم بو خت دي ۰ د دوی د ود ونه او رواجونه کټ مټ د دوی د نورو پښتنو ګاونډيو قبيلو په څېر دي ۰

کاکړ زړور، غيرتي او په پښتني ننګ او ناموس ټينګ خلک دي ۰ دوی همداراز ميلمه پالو نکي

---

365 قاضي عطاؤالله خان، د پښتنو تاريخ، ۲۸ مخ، د کابل چاپ ۰

366 حيات افغاني، پښتو ژباړه، د ۱۵۰ مخ شجره ۰

دي ۰ دوی سپين زړي اد د زړه او خو له خبره يې يوه وي ۰ د کاکړو خلک داتهونو او مو سيقی سره ډېره مينه لري ۰ د دوی کاکړی غاړې ډېرې مشهورې دي ۰

کاکړ په علم او پو هې مين خلک دي له همد ې کبله ده چې د دوی په قبيله کې ستر عالمان، پو هان، شاعران، مورخين او ليکوالان تير شوي او اوس هم شته دي ۰

د سهيلي پښتونخوا نه پر ته ډېر شمېر کاکړ په افغانستان، پښتونخوا، پاکستان، هند و ستان او ايران کې هم استوګنه لري.

په افغانستان کې کاکړ د افغانستان په ېلا ېيلو ولا يتونو لکه کندهار، هيلمند، زابل، هرات، غور، فراه، باد غيس، فاريا ب، سر پل، مزار شريف، کند ز، تخار، کابل، پروان، ننګر هار او لغمان کې استوګنه لري ۰

1. د کندهار ولا يت کا کړ: د دغه ولا يت په مرکز کندهار، پنجوايي، ارغنداب، پا شمول او ځينو نورو ولسو اليو کې استوګنه لري ۰
2. دهرات ولايت کاکړ: د دغه ولا يت په مرکز هرات او همداراز داوبې، پښون زرغون، کرخ، ګذرې، اد رسکن او انجيل په ولسو اليو کې استوګنه لري ۰
3. دهيلمند ولايت کاکړ: د دغه ولايت په مرکز لشکر ګاه، ناوې، ناد علي، مار جې او ځينو نورو ولسواليو کې او سيږي ۰
4. د باد غيس ولايت کاکړ: د مرغاب په ولسواليو کې د کاکړو په نامه يوه سيمه شته چې زه د د ې مقالې ليکوال هلته تللی يم او له نږد ې مې ليد لې ده چې خلک يې زياتره د پسونو او رمو لـه لارې خپله ګوزاره کوي اود کرنې د لږو ځمکو په د رلود لو سره خپل ژوند مخته بيايي ۰
5. د فاريا ب کاکړ: د فريا ب او سر پل د ولايت په ېيلا ېيلو ولسواليو کې هم يو شمېر کاکړ استوګنه لري ۰
6. د کند ز ولايت کاکړ: د کوند وز په مرکز دامام صاحب، خان اباد، د شت ارچي، چارد ره، علي اباداوکلای ذال په ولسواليو کې هم ډېر شمېر کا کړ استوګنه لري ۰ چې د ځينو مشرانو نو مو نه يې غلام محمد خان، صالح الدين خان، وکيل ميرزااو رئيس عبدالله دي ۰

7. د تخار ولایت کا کړ : د دغه ولایت په مرکز او د خواجه بهاوالدین، د رقداو خواجه غار په ولسوالیو کې استوګنه لري ۰

8. دارزګان ولایت کاکړ: د دغه ولایت په مرکز او ځینو نورو ولسوالیو او په تېره بیا د چار چینو په سیمه کې استوګنه لري ۰

9. د زابل ولایت کا کړ : د دغه ولایت په ځینوو لسو الیو او له هغې جملې نه د شهر صفا په ولسوالۍ کې استوګنه لري ۰

10. د پروان ولایت کا کړ: د دغه ولا یت د غو ربند په ولسوالۍ کې د خیشکو د قبیلې په ګا وند کې استوګنه لري ۰

11. د غور ولایت کا کړ: د دغه ولایت په مرکز او ځینو نورو ولسوالیو کې استوګنه لري ۰

12. د کابل ولایت کاکړ: د کابل ولایت د سروبي په ولسوالۍ کې هم یو شمېر کاکړ پښتا نه استوګنه لري ۰

13. د لغمان د ولایت کا کړ: د دغه ولا یت په مرکز د مهترلام د ښار پورې اړوند د د یوې او عمر زیو په کلیو کې استوګنه لري چې د افغانستان ستر مورخ پو هاند محمد حسن کا کړ دهمد ې سیمې کاکړ پښتون د ی ۰

14. د ننګرهار ولایت کاکړ: د دغه ولایت د سره رود، بهسود و او چپر هار په ولسوالیو کې استوګنه لري ۰ د چپر هار کاکړو ته خلک په د رنه ستر ګه ګوري او د ستانه وو په نامه د دوی د رناوی کوي ۰

117.3 دهند وستان کاکړ

په پښتنو کې به یوه داسې لو یه او کو چنۍ قبیله نه وي چې دهند و ستان په ښلا ښلو سیمو کې د ې شتون ونه لري د د ې له کبله چې پښتانه د لر غو نو زمانو نه د سوداګریزو چارو د تر سره کو لو او نورو خواریو او مزد وریو لپاره د ې هېواد ته تلل او له بلې خوا هند د افغانستان په ګا وند کې یو هیواد و چې مور تل ورسره ښې اړیکي د رلود ل ۰ له بله پلوه د تاریخ په اوږد و کې ډېرو پښتنو واکمنانو پر هند و ستان

واکمني کړېده چې ښې بیلګې یې غلجیان (خلجیان)، لودیان او سو ریان دي ۰ د د غو واکمنیو په وخت کې ډېر پښتانه د منصبونو او د پو ځي د ند و د تر لا سه کو لو لپاره د ې هیواد ته تللي دي چې ځینو یې نو موړو پښتني واکمنا نو ته د چو پړ په بد ل کې ډېر جاګیر ونه هم تر لا سه کړي دي ۰

د پیر نګیانو نه دهند و ستان د خپلواکۍ تر وخته یعني د ۱۹٤۷ زېږد ېز کاله پورې یوازې په هند وستان کې ۵۰ پښتني ریا ستو نو شتون د رلود چې د د غو ریا ستو نو مشري به یوه پښتون نواب ته ورپه غاړه وه چې د د غو ریا ستونو په لړ کې کولای شو چې د بهو پال، ټونک، فرخ اباد، رامپور، ملیر کو ټلې او ځینو نورو نو مو نه واخلو ۰

کاکړ هم د نورو پښتنو په څېر دهند و ستان په ببلا بیلو بر خو کې میشته دي۔ ۰ لکه د تاریخ حیات افغاني په قول چې له ننه ۱٤٦ کلو نه وړاند ې لیکل شوی د ی دهند و ستان دهاریانا دایالت د رهتک د ضلعې په کو هانه نومې سیمه کې د کاکړو داولاد ې د علي خیلو له ښاخ نه دابو سعید زي څانګه او نور کاکړ استوګنه لري ۰ ویل کیږي چې په هند کې د پښتون واکمن سلطان ابر اهیم لودي د واکمنۍ په وخت کې د عبدالمالي یا عبدالعلي ابو سعید زي کا کړ د سهیلي پښتونخوا د بوري له سیمې نه له خپلو د ریوو رونو سره هند و ستان ته لاړ او په کو هانه کې میشته شو ۰ د سلطان ابر اهیم لودي تر مړینې وروسته نو موړی بېرته خپل اصلي ټا ټوبي بوري ته ستون شو، خو دهغه د وه نور ورونه له نورو کاکړو سره هلته پاتې او هما غلته میشته شول چې په هغه وخت کې دوی شمېر ۳۰۰ تنه ښود ل شوي دي ۰

همداراز د تاریخ حیات افغاني د لیکنې پر بنسټ دهند داتهر پرادیش دایالت د بلند شهر په ولسوالۍ کې هم د پښتنو ۹٦ سیمې شته چې په هغو کې ۱۲ سیمې یې زیا تې مشهورې دي او هلته هم ګڼ شمېر پښتانه کا کړ اوسي، په تېره بیا د دوی زیات شمېر په خو رجه نو مې سیمه کې هم میشته دي چې شمېر یې د ٤۰۰۰ کسا نو په شا اوخواکې اټکل شوی د ی۔[367]

همداراز دهند په بینګال، د کن او د راجستهان د مرکز په جیپور کې هم کا کړ استوګنه لري ۰

په د ې وروستیو کې دهند وستان د جیپور په ښار کې دهندي پښتنو له خوا د "کاکړي ګلدان" په نامه یوه ټولنه هم رامینځ ته شوه چې موخه یې په دغه سیمه کې د پښتو ژبې او د پښتني د وداو د ستور

367 نوموړی اثر، ۲٦۵ مخ ۰

ژوندي ساتل او وده ده.د د ې ټولنې بنسټ اښبود ونکې شیلپې بترا ده چې ځان پښتنه کا کړه بولي او د پښتو ژبې او د کاکړو پښتنو د د وداو کلچر را ژوندي کول غواړي ۰

117.4 د کاکړو د قبیلې مشهور شخصیتونه

1. مولوي حبیب الله مشهور په محقق کندهاري ۰
2. د پښتو ژبې ستر لیکوال، محقق او نو ماند مورخ اروابناد علا مه عبدالحی حبیبي چې په سلګو نو کتا بونه او په زرګو نو علمي مقا لې یې کښلي دي ۰
3. د پښو ژبې شاعر پیر محمد کا کړ ۰
4. د پښتو ژبې شاعر د وست محمد کاکړ ۰
5. د پښتو ژبې شا عر شمس الدین کاکړ ۰
6. د پښتو بو ستان منظو مه شاعره زر غونه کاکړ ۰
7. دافغانستان وتلی مؤرخ پو هاند ډاکټر محمد حسن کا کړ ۰
8. اروابناد پو هاند عبدالغفار کاکړ ۰
9. عبدالعلي اخند زاده کا کړ ۰
10. دافغانستان د خپلو اکې د لارې ملي مبارز حاجي محمدایوب کاکړ ۰
11. شهید ملک احد کاکړ چې په ۱۸۹۳ زېږدیز کال کې په پښین کې دانګرېزانو له خوا شهید شو ۰
12. میا عبدالحکیم کاکړ مشهور په نانا صاحب ۰
13. سخي خان احمد خان د سهیلي پښتونخوا د کچلاغ د سیمې پا نیزی کاکړ ۰
14. د سهیلي پښتونخوا نامتو لیکوال او مؤرخ پروفیسر ولي محمد خان سیال کاکړ ۰
15. د پښتو ژبې لیکوال خانزمان کاکړ ۰
16. د پښتو ژبې لیکوال محمد فاروق خان کاکړ ۰

17. شهيد مولوي عبدالغفار بر يا لی کاکړ ۰

18. عبدالسلا م جو ګيزی ۰

19. ډاکټر کرام الدين کاکړ ۰

20. خان محمد سرور خان کا کړ ۰

21. د ميرويس خان هو تکي د پوځ مشر يو نس خان کاکړ ۰

22. ملک حا جي نور علي کا کړ ۰

23. ملا دادالله کاکړ ۰

24. ډاکټر فيض الله کاکړ ۰

25. ملا بورجان کاکړ ۰

26. سردار شاه وزير کا کړ ۰

27. ايډوکيټ عزيز الله خان کاکړ مشهور په عزيز ما ما ۰

28. عبدالغني خان غنو کاکړ پا نيزی ۰

29. خان محمد سرور خان کاکړ ۰

30. ملا محمد رباني ۰

31. د افغانستان د پوځ پخوانی جنرال هاشم خان کاکړ ۰

32. د پيرنګيا نو پر خلاف مبارز شهيد شير جان کاکړ چې په ژوب کې اعدام شوی و ۰

33. سردار شيرک کاکړ ۰

34. سردار شاه وزير کاکړ ۰

35. ډاکټر صاد ق فطرت نا شناس ۰

36. جنرال عبدالو حيد کاکړ ۰

37. فريداحمد کاکړ ۰

38. عبدالله احسان کاکړ (د لراوبر پښتوویب پاڼې مسول چلونکی)

39. فریبا احمدي کاکړ (په ولسي جرګه کې د کندهار د خلکو استازې) [368]

118 قلندر خېل

زمونږ پښت پو هان او توکم پېژند ونکي قلندر خېل د سلیمان خیلو د لوی ټبر پورې یو اړونده ښاخ ګڼي ۰ د قلندر خېلو د قبیلې زیاتره خلک د کټواز په سېمه کې ا ستو ګنه لري چې د غزني په سهیل کې د د ېرشو میلو په واټن پرته ده ۰[369]

د کټواز شمال ته داند ړو سېمه، جنوب ته یې اورګون، ختیز ته یې ګردیز او زرمت او لوید ېز ته یې د غزني لویه ناوه پر ته ده ۰

د کټواز د ځمکو لسمه برخه په کاریزونو او به کیږي او پا تې ځمکه یې د د ښت اومال څړ په بنه ده چې په د ې وروستیو وختو نو کې د ځینو سو داګرو او هغو کسا نو له خوا چې په هند کې یې پیسې بند ې کړي دي د کټواز د ځمکو یوه برخه یې د ژورو څاه ګانو او واټر پمپونو په لګولو سره تر کرنې لاند ې نیولې ده او د ډاډ وړ حاصل ځیني اخلي ۰مهم حاصلات یې غنم، جوار او پالیزونه دي۔[370] د قلندر خېلو ځمکې زیاتره یو فصله دي یعنې په یوه کال کې یو ځل ترې حاصل اخلي ۰ د دوی د سیمې هوا په ژمي کې خورا سړه او په د وبي کې خورا توده دهـ ۰ میوي یې انګور، زردالو، منې، هند وانې او خټکي دي ۰

قلندر خېل په خوړو کې د غنمو له ډوډۍ نه ډېره ګټه اخلي۔ ۰ د د ې کبله چې دوی په مالداری هم بو خت دي نو د کور تو، شېد و، مستو، کو چو او هګیو نه هم استفاده کوي ۰ د ژمي په مو سم کې

---

368 http://en.wikipedia.org/wiki/Kakar

369 مونټ ستوارټ الفنستن، د کابل سلطنت بیان، پښتو تر جمه د پوهاند محمد حسن کاکړ او نصرالله سوبمن، د ویم ټوک، ۱۳٦ مخ ۰

370 د غزني تاریخي جغرافیا، د محمد ولي ځلمي تالیف، ۱٦۰-۱٦۱ مخونه، ۱۳٦۲ کال، کابل ۰

د و چو میوو استعمال هم پکې رواج لري، خو د وریجو استعمال پکې لږد ی ۰

د قلندر خپلود قبیلې خلک خورا غټې لو نکی په سروي چې زیاتره ژیړ بخون رنګو نه لري۔ ۰ دوی پر خپلو اوږو څاد رو نه هم اچوي چې په خپله لهجه کې تازر بولي ۰

د ښځو جا مې یې په عمو مي تو ګه سرې او شنې دي ۰ په پېغلو نجونو او ځوانو ښځو کې یې د ګنډونواستعمالول هم شته ۰دوی په جامو کې ډېرې مرۍ هم استعمالوي چې د کمیسو نولستونې په زرتارو، لیسو او چر مو باند ې ښکلي کوي ۰ ښځې یې په عمو مي ډول پټې په پښو کوي چې دوی یې په خپله لهجه کې کپۍ بولي ۰

قلندر خپل په پښتني ننګ او غیرت ټینګ خلک دي ۰دوی میلمه پا لو نکي او د علم او پو هې سره مېنه لري ۰ دوی دیني عالمانو او پیرانو ته ډېر د رناوی لري ۰

دافغان- انګرېز په دري ګونو جګړو کې قلند خپل د انګریزي ښکیلا ککړو سره جنګیدلي او هم یې د روسي یر غلګرو په ماتولو او ګونډو کولو کې یې خپل هیواد نی رسالت سرته رسولی د ی۔ ۰ یو شمېر قلندر خپل کو چیاني ژوند هم لري ۰

له بده مر غه چې دافغانستان یوه رژیم هم د کټواز سیمې ته پا ملر نه نه ده کړې چې هلته دهغه ځای د خلکو لو مړنۍ اړتیاوې لکه: روغتون، کلینیک، سړ کونه، داوبو بند ونه او د نجونو او هلکانو ښوونځي جوړ کړي چې خلک تر اوسه پورې د ژوندانه د د غو ټولو لو مړنیو اړتیاوو د د رلود لو نه بې برخې دي ۰

پر افغانستان برسېره ډېر شمېر قلندر خپل په پښتونخوا او هم د پاکستان د کراچۍ په ښار کې استوګنه لري ۰

یو شمېر قلندر خپل دهند و ستان په ختېز بنګال په تېره بیا کلکته (کولکته)، بمبئي (مومبای)، داسام په ایالت چې دوی یې اشام بولي، بیهار او اوړیسا کې استوګنه لري او خپلې سوداګرېزي چاري او معاملې پر مخ بیایي۔ [371]

371 د قلندر خپلو د قبیلې په اړوند د د ې مقالې د لیکوال (د کتور لطیف یاد) یاد داشتونه ۰

119 قوال خپل

لکه څرنګه چې د یوسفزیو، ګګیا نیو او ترکلانیو پښتنو د پیژندنې په برخه کې راغلی دي په هغه وخت کې چې خانبي خپل او غو ریا خپل په مجموع کې او په تیره بیاد یوسفزیو قبیله په ځانګړي توګه د کندهار د شاوخوا سیمو نه د کابل خواته راو لیږدید ل و په هغه وخت کې مغولی واکمن سلطان ابو سعید د کابل د حکومت واکدار و ۰ په همد ې وخت کې د خانبي خیلو لوی مشر ملک سلیمان شاه وچې د ملک تاج الدین زوی او د ملک رئړ لمسی و ۰ کله چې مرزا الغ بیګ پاچا شو، ملک سلیمان شاه خپله لور مرزا الغ بیګ ته په نکاح کړه ۰ په پیل کې د یوسفزیو او میرزا الغ بیګ تر مینځ اړیکې ښې وې خو وروسته بیا ترینګلې شوې او ورپسې د یوسفزیو او میرزا الغ بیګ تر مینځ مخالفتونه رامینځ ته شول۔

میرزا الغ بیګ هم د یوسفزیو پښتنو پر خلاف پلمې لټولې تر څو یوه ورځ یې د یوسفزیو پښتنو اته سوه تنه مشران میلمانه کړل او په ډېر چل او د وکې سره یې د خپلو کسانو له خوا دوی بې وسلې کړل او غو ښتل یې چې دغه ټول کسان له مینځه یوسي چې په پای کې یې همدا سي وکړل۔[372]

د تواریخ حافظ رحمت خاني مولف پیر معظم شاه په خپل کتاب کې د یو سفز یو د مشرانو د بند ی کید و په اړوند داسي لیکلي دي :

" کله چې د یوسفزیو دغه مشران په هغه میلمستیاکې چې میرزا الغ بیګ ورته جوړه کړې وه بې و سلې او بندیان شول نو د د غو بندیا نوپه ډله کې یو تن قد وت المکاشفین شیخ عثمان بن موتي مولیزی هم شا مل و ۰ نوموړی دهغه وخت له لو یو ولیانو نه شمیرل کیده او د یوسفزیو ولس ورته ډېر عقید ت او اراد ت د رلود ۰ په دغه وخت کې چې مېرزا الغ بیګ دغه کسان بې وسلې او بندیان کړي ول نو د یوسفزیو یوتن نامتو شیخ او د رویش (تورقوال) چې د یوسفزیو د مولیزي ښاخ نه و او کندهار ته د سیاحت لپاره تللی و هم په دغه وخت کې د ربار ته راغی، په دغه وخت کې شیخ عثمان غږ کړ چې تور قوال هم راغی او په دغه پیښه کې راسره شریک شو ۰"[373]

---

372 حیات افغاني، ۱۲۶ مخ، د دانش چاپ، پیښور ۰

373 تواریخ حافظ رحمت خاني، د پیر معظم شاه تالیف، ۲۴ مخ، پښتو اکیډیمي، پیښور یونیورسټي، پبلیک ارټ پرېس، پیښور، ۱۹۷۱ع کال ۰

لنډه دا چې میرزا الغ بیګ د ملک احمده پرته د یوسفزیو پښتنو دغه اته سوه تنه مشران ټول له تیغه تېر کړل .

چې ویل کیږي د کابل په سیاه سنګ کې د یو سفز یو له د غو وژل شوو مشرانود مړو نه یوه لویه هدیره جوړه شوه . هغه یو سفزي چې له دغه مغولي ناتاره بچ پاتي شول له کابله ننګرهار ته او بیا له غه ځایه د خیبر د تاریخي د رې له لارې پښور او بیا له هغه ځایه د سوات په سیمه کې میشته شول .

په اوسني وخت کې هم د یوسفزیو د مولیزي په څانګه کې یوه ډله شته چې دهمدې تور قوال اولاده ده او د قوال خپلو په نامه سره هم یادېږي .[374]

د افغانستان د لغمان د ولایت د مرکز مهترلام پورې یو اړونده کلی شته چې د قوال خیلو په نامه سره یادېږي .[375]

120 کړو خپل

کړوخپل له اره غلجي پښتانه دي چې ځانونه په احمد زیو ور ګډوي چې زیاتره یې دکابل ولایت په شا اوخوا سیمو لکه خورد کابل، خاک جبار، چکړیو او دبت خاک په شا اوخواکې تر سروبي ولسوالۍ پورې میشته دي .

د کړو خیلو قبیله پر پنځو خیلو نو ویشلې شوې ده او دغه خیلونه په دې ډول دي: عنایت خپل، عبدالله خپل، دوران خپل، شریف خپل او ولي خپل .

عنایت خپل چې د کړو خپلو د قبیلې تر نورو خیلو نو په پر تله یې شمېر زیات دی او دمشر زوی اولاده ګڼل کیږي هم په پنځو کو چنیو څانګو ویشله شوي ده چې نو مونه یې دادي:

فتح خپل، رحمن خپل، دلور کورنۍ، دطلب کورنۍ او دنذیر کو رنۍ چې دغه څانګې زیاتره د کابل ولایت دخاک جبار په ولسوالۍ کې استو ګنه لري،خو ددوی نه یو شمېر یې د لوګر، کندز او تخار

---

374 پښتني قبیلي، د دکتور لطیف یاداثر، ۲۰۳ مخ .

375 د دکتور لطیف یاد شخصي یاد داشتونه .

په ولا يتو نو کې هم استو ګنه لري. همداراز د کړو خيلو دقبيلې دشريف خيلو څانګه هم پر دوو خيلو نو ويشل شوي دي چې فقير خپل اوګودر خپل نو ميږي .[376]

داسې مستند روايتو نه شته چې کړو خپل د امير شير علي خان دواکمنۍ له زمانې نه دمخه په نيمه کو چې ډول ژوند کاوه او ځمکې يې نلرلې . په هغه وخت کې جبار خپل په هغه سيمه کې اوسېدل چې نن ورځ يې خاک جبار بولي . هماغه و چې د کړو خپلو او جبار خپلو تر مينځ چې هغې هم دغلجيو پښتنو يوه قبيله وه خپل منځي اختلافات را مينځ ته شول . ددغو اختلا فا تو خبر امير شير علي خان ته ورسيد .

امير شير علي خان د کړو خيلو او جبار خيلو دقبيلو مشران چې سعد الله خان کړوخيل او غازي ې اوارې کړي، چې دواړو غاړو دامير شير علي خان امر ومانه او سوله يې سره وکړه . ددې سولې دټرون له مخې دخاک جبار سيمه کړو خيلو ته ورکړل شوه او دهغې په بدل کې يې دننګر هار ولايت پورې اړونده سيمو جوکان او حصارک کې يې جبار خيلو ته ځمکې ورکړې .

څر نګه چې په هغه وخت کې دکړو خيلو دقبيلې خلکو په خپل مينځ کې ډېر ټينګ يو والی درلود نو دامير شير علي خان موخه او مقصد داو چې په خاک جبار کې دانګر يزي ښکيلاګګرو په وړاندې يوه پياوړې دفاعي کر ښه رامينځ ته کړي او دانګريزانو په ټکولو کې فعاله ونډه واخلي چې همداسي هم وشول . کړو خيلو دانګريزي ښکيلاګګرو سره ډېرې جګړې وکړې او دکابل په بالا حصار کې يې دنورو پښتنو ملي مبارزينو سره يو ځای دکيوناري په وژلو کې هم ستره ونډه واخيستله .

120.1 دوه وروستيو پيړيو کې کړو خيلو مشران

لکه چې د مخه وويل شول چې دکړو خيلو دقبيلې يو ښاخ عنايت خپل و چې په کړوخيلو کې دقبيلې مشر توب تل دعنايت خپلو دښاخ په يوې څانګې فتح خپلو پورې اړه درلودله چې په دوو وروستيو پيړيو کې ددغې قبيلې ځينې مشران په لاندې تو ګه درپېژ نو:

علي مدد کړوخپل، دهغه زوی سعدالدين کړو خپل چې په سعدو کړوخپل سره يې شهرت درلود، دسعدالدين کړو خپل زامن هريو محمد رحيم کړوخپل او محمد شاه خان کړوخپل ول (چې د افغانستان په

376 لطيف ياد، پښتني قبيلې، ۲۱٤ مخ، دپښور چاپ .

تاریخ کې په غازي محمد شاه خان) سره هم شهرت لري اودانګریزي ښکیلا ککړو یو سر سخته دښمن و۔ د محمد رحیم زوی بیرګډ عمراخان او د غازي محمد شاه خان کړوخېل زوی کر نیل میرداد خان کړ وخیل ۰ د پورتنیو مشرانو وروسته ددغې قبیلې مشري دمحمد رحیم خان کړو خیل د لمسیانو او دمیر داد خان کړو خېل دزامنو په لا س کې وه۔[377]

د ضیا الملت والدین ا میر عبد الر حمن خان ۱۸۸۰ - ۱۹۰۱ زیږدیز دواکمنۍ په وخت کې کړو خیل تبعید او فرار شول، ځکه چې هغوی امیر عبد الر حمن خان دواکمن په تو ګه ونه مانه او هغه ته یې بیعت ونکړ ۰ د دغې قبیلې یو شمېر د پښتو نخوا دتیراه د دوتوی سیمې ته ولیږدیدل ۰

همداراز یو شمیر کړو خیل دارګون په میر زکه او د ننګر هار په شینوارو کې هم دامیر عبد الر حمن خان د پو ځ سره وجنګېدل،خو کو مه سو به یې په بر خه نه شوه او دماتې سره مخا مخ شول ۰

د امیر عبد الر حمن خان تر مړ ینې وروسته یې چې زوی سراج الملت والدین ۱۹۰۱ - ۱۹۱۹ زیږدیز واکمني تر لا سه کړه دکړو خیلو دقبیلې خلکو ته یې فر مانو نه ولېږل چې با ید بېرته خپلو اصلي سیمو او مېنو ته را ستا نه شي چې دنو موړي فر مان له مخې کړو خیل دخپلې استو ګنې اصلي سیمو ته را ستانه شول ۰

کړو خیل غیر تي، میلمه پا لونکي او په علم او پو هې مین خلک دي ۰ دوی د هیواد په خپلو اکۍ مین او د پښتو او پښتو نولۍ سره زیاته مینه لري ۰ دافغان- انګرېز په دري ګو نو جګړو کې ددوی ځلانده او تاریخي کار نامې څر ګندې دي ۰ د کړوخیلو د قبیلې زیاتره خلک د کرنې او مالدارۍ په چارو بو خت دي، خو یو شمېر خلک یې دولتي دندې هم لري ۰

دکړو خیلو دقبیلې یو شمېر نا متو کسان په لا ندې ډول دي:

1. دکړو خیلو دقبیلې قو مي مشر ښاغلي ولي خان کړو خیل ۰
2. د افغا نستان په ولسي جرګه کې د کابل دخلکو استازې اغلې شینکۍ کړو خېل ۰
3. افغان ژورنالیست ښاغلی دانش کړو خیل ۰

---

377 د اغلې نو شیروان کړو خېل نه دکړو خیلو د قبیلې په اړوند معلومات ۰

4. دښځو دحقو قو مدافعه اغلې نو شیروان کړوخیل[378]

دلته به بیځایه نه وي چې د کړو خیلو د قبیلې د ملي اتل اود انګریزي ښکیلا کګړو پر خلاف د ملي مبارز غازي محمد شاه خان په اړوند هغه شعر ولولو چې دده په ستا ینه کې ویل شوی دی او دهغه وخت سندر غاړو به هم وایه:

کوز لـه لنـدنه ګورکیـان [379] راغلـل پـه پښـتو نخـوا کـې یـې حملـې کـړې
محمـد شـاه خـان غـازي ور مـاتې رسـالې کـړې دکـړو خیلـو پـر ځوانـانو یـې نـارې کـړې

غازي محمد شاه خان

ورونـو راپـاڅئ پـه وطـن یـې سترګـې سـرې کـړې بیـا پـرې ځوانـانو د ټوپکـو سـرې لمـبې کـړې
محمد شاه خان غازي چې الله اکبر نارې کړې د بـاجوړ او بـه یـې بیـا پـه وینـو سـرې کـړې

غازي محمد شاه خان

---

378 دکړو خیلو د قبیلې په اړوند زما (لطیف یاد) شخصي یا دښتونه ۰

379 ګورکه چې کله کله دګور کهه په بڼه هم لیکل شوي دي له اره دنیپال هېوادګورکهه قبیلې ته منسوب دي او په همدې نا مه په نیپال کې یوه ولسوالۍ هم شته چې دهمدې خلکو داستو ګنې اصلي ځای ګڼل کیږي۔ ۰ کله چې انګرېزان دهند په نیمې وچې واکمني کوله په ۱۸۵۷ زیږدیز کال دهندو ستان ټول ولسونه او پرګنې که هندوان ول او که مسلمانان په ګډه سره دپر نګیانو پر خلاف پا څون وکړ چې ډېر شمېر یې شهیدان شول چې د ۱۸۵۷ کال پاڅون ته دهندو ستان په تاریخو نو کې ایام غدر هم ویل کیږي ۰ ګو رکهه چې ډېر جنګیالي او د نښې په ویشتلو کې مهارت درلود انګرېزانو په خپل پوځ کې برتي یا استخدام کړي وو ۰ همدغو ګو رکه وو د ۱۸۵۷ کال په پا څون کې دانګرېزانو په ګټه ډېر خلک ووژل ۰ ګورکهه و نه یوازې په هندوستان کې دانګرېزانو لپاره وجنګیدل، بلکې انګرېزانو په افغا نستان، پښتو نخوا، بر ما، بوټان او ان د تر کیې په هېواد کې هم دخپل ځان په ګټه وجنګول۔ په لو مړۍ نړیواله جګړه ۱۹۱٤- ۱۹۱۸ کې دوه سوه زره تنه ګورکه د انګرېزانو په پوځ کې شتون درلود۔ د ګورکهه پو ځیان دهند تر خپلواکۍ ۱۹٤۷ کاله پورې په هندو ستان کې انګرېزانو ته ښه خد متونه وکړل او هغوی هم پرې ډېر باور درلود ۰ د هند تر خپلواکۍ وروسته دګورکهه و پوځیان اوس هم دهند په پوځ کې شته چې ګورکهه ریجمنټ یاپلی پوځ یې بولي ۰

په هغې ورځې يې ور ګډې رسالې کړې له سينه پورې يې خيمې دود او لمبې کړې
له انګريزانو نه يې ميمې[380] را ستنې کړې له پر نګيانو سره يې نر مې بيا پنجې کړې

غازي محمد شاه خان

دپرنګيانو په چو نيو يې حملې کړې نو يې ور تشې بيا توبرې کړې
دمشهديو، دکلدارو يې ولجې کړې د بابوګانو خيټې يې ځيرې په نيزو کړې

غازي محمد شاه خان

د باجوړ له سينه يې پورې چې حملې کړې د پر نګيانو يې پلتنې ور ستنې کړې
دشنو زمريانو يې سواتيانو نندارې کړې د ګورکيانو په خيمو يې ولولې کړې

غازي محمد شاه خان

121 کرلانې

د پښتنو يو مهم ټولنيز ګروپ کرلانې پښتانه دي چې ډېرې مشهورې پښتنې قبيلې په دغه ټولنيز ګروپ پورې اړه لري ۰ د کرلانې نوم په هغو تاريخونو کې چې د هندوستان په مغولي دورې پورې اړه لري لکه د عباس سرواني (۹٤۷ هجري) په شير شاهي تاريخ يا تحفه اکبر شاهي کې، د شيخ رزق الله دهلوي (۸۹۷ – ۹۸۹ هجري) په واقعات مشتاقي کې، د جهانګير د دورې دمؤرخ عبد الله (۱۰۳۷ هجري) په تاريخ داودي[381] کې، د احمد يادګار (۱۰٥٤ هجري) په تاريخ سلاطين افا غنه کې چې په تاريخ شاهي

---

380 د انګرېزانو مير مني

381 تاريخ داؤدي د عبد الله تاليف دی چې دهند دمغولي واکمن نو رالدين جهانګير دواکمنۍ ۱۰۱٤ - ۱۰۳۷ په وخت کې ليکل شوی دی ۰ دغه کتاب ما ددې مقالې ليکوال په ۱۳٦۸ لمريز کال کې دافغا نستان دعلو مو اکيډيمۍ دپښتو څېړنو نود ټريوال مر کز د سپا رښتنې له مخې په کابل کې دسوري شير شاه د زوکړې د ۵۱۰ کليزې دنړ يوال سيمينار لپاره وژباړه چې په هماغه کال داريانا په مطبعه کې د ٤۰۰۰ ټوکو په شمېر چاپ شو ۰ دغه کتا ب ددويم ځل لپاره د دانش دخپر ندويې ټو لنې له خوا په ۲۰۰۷زېږ ديز کال کې د پښتو نخوا په مرکز پيښور کې د

سره هم شهرت لري، د خواجه نعمت الله (۱۰۲٤ هجري) په تاريخ خانجهاني کې او د محمد کبير په افسانه شاهان هند[382] کې دکران کرران او کراني په بنه هم راغلی دی ۰

د کرلانيو په اړوند په بيلابيلو تاريخي کتا بونو کې مختلف افسا نوي روايتونه شته دي، دبيلګې په توګه تاريخ حيات افغاني په دې اړوند داسي ليکي :

"ددلازاکو دقبيلې خلک چې دکرلانې پښتنو يو پياوړی ښاخ ګڼل کيږي په دې اند دي چې دکرلاڼ پلار سيد قاف نومید چې د نسب شجره يې په اتم پښت کې حضرت امام حسين (رض) ته وررسيږي ۰ د خټکو د قبيلې خلک دکرلاڼ پلار هوني بولي او خپله شجره هم د سړبني پښتنو سره ګډوي۔ شيتک عقيده لري چې کرلاڼ د کوم شهزاده زوی و ۰ همداراز د خوږيانيو د قبيلې خلک عقيده څرګندوي چې کرلاڼ د عبد الله اورمړ زوی و ۰ د کرلانې د اولادې ځينې خلک وايي هغه وخت چې کرلاڼ نومی ماشوم دې نړۍ ته سترګې پرانيستلې نو په هغه ځای کې کوم لښکر يوه شپه تم شوی او بيا له هغه ځايه تللی و او دغه ماشوم بيا د اورمړو د قبيلې د يوه تن له خوا چې عبد الله اورمړ نومید د اوسپنې تر يوې کړايې لاندې ومونډل شو، نو ځکه د کړايې د نوم په وجه يې کرلانی نوم پرې کيښود[383] او د دې لپاره چې عبد الله اورمړ کوم نارينه اولاد نه درلودکرلانی يې په زويتوب ونيو او د ده روزنه او پالنه يې وکړه چې دکرلاڼ نه بيا دوه زامن پيدا شول چې يو يې کودی او بل يې ککی و خو لکه چې د مخه وويل شول چې پورتني روايتونه افسا نوي بنه لري او يو روايت له بله سره هيڅ ورته والی نلري ۰

۱۰۰۰ ټو کو په شمېر چاپ شو ۰

382 افسانه شا هان دمحمد کبير اثردی چې مو رنی نيکه يې د پښتنو دسوريانو په قبيلې پورې اړه لري ۰ دغه اثر په هند کې دسور ي او لو دي پښتني واکمنا نو او په بينګال کې دپښتني کر لانې واکمنانو په اړوند ليکل شوی دی ا وتر او سه لا چاپ شوی نه دی ۰ دقلمي نسخو مايکرو فلمو نه يې دلندن په پريتيش ميوزيم، دهندوستان دعليګر دپو هنتون په کتا بتون په ۱/ ۹ شمېره او په نوي ډيلي کې دايران دعلم او فر هنګ دخونې په نور مايکرو فيلم سينټر کې شته ۰ ماد دغې مقا لې ليکوال دغه کتاب دعليګړ دپو هنتون دميکرو فيلم نه رانقل او پښتو ته مې ژباړلی دی،خو لا تر او سه مې چا پ کړی نه دی ۰ چې ددغه اثر دکتا بت کال ۱۱۸۹ هجري دی ۰(لطيف ياد)

383 حيات افغاني، پښتو ژباړه ددکتور لطيف ياد او فر هاد ظريفي،۳۲۱ مخ، دپيښور چاپ ۰

د افغانستان نومیالی مؤرخ لوی استاد اروابناد علامه عبد الحی حبیبي په خپل اثر د "افغانستان لنډ تاریخ" کې لیکي:

"په پښتني نسب نامه کې دکرلانې یا کرلانې په نامه یوه بله څا نګه هم شته چې دوی د پښتنو له هغو دریو نورو څانګو سړبن، غرغښت او بیټنیو سره خپلوي لري او سوچه پښتانه دي۔ " [384]

د پښتو ستر شاعر خوشال خان خټک هم د کرلانیو او په مجموع کې د ټولو پښتنو ترمینځ د خپلوۍ د اړیکو په اړوند داسې یو شعر لري:

پښتون په اصل سړبنی دی
یا غورغښتی دی یا بیټنی دی
لودي، غلجي د بیټ له لوره
په سړبن پورې بیا کرلانی دی
(خوشال خان)

زما (د دې مقالې لیکوال) په اند کرلانې هغه پښتانه دي چې د نورو پښتني ټولنیزو ګروپونو لکه (سړبن، غرغښت او بیټنیو) سره خپلوي لري او هم کرلانې پښتانه هغه پښتانه دي چې د کرکیلې او کرنې په چارو بو خت دي، له همدې کبله د کرلانې کلمه د کر او کرنې سره اړخ لګولای شي . [385]

په تا ریخ حیات افغاني کې چې د کرلانیو د نسب کومه شجره راغلې ده نو د ښاخونو، خیلونو او څانګو نومونه یې په دې ډول راغلي دي:

کودی، ککی او بیا موسی زي، منګل، توري، هني، وردګ، دلازاک، اورکزي، موسی خیل، جاني خیل، لوري خیل، یعقوب خیل، ذکریا خیل، امازي، یاسین خیل، مندیزي، ماني زي، مو ني زي، حیدر زي، حسني زي، حسي زي، احمد خیل، وتک زي، عمر خیل،یحیي زي، سمر زي، سلطان خیل، امبره خیل، لښکري خیل، حاجي میر خیل، میر وعظ خیل، بډا خیل، ناغه خیل، بر هان، خوګیاني، سلیمان، شیتک، اپریدي، خټک، ځدران، اتما نخیل، میرل خیل، خوجړه، مو ګی، کمال

384 پوهاند عبد الحی حبیبي، دافغا نستان لنډ تاریخ، ۱۸٤ مخ .

385 وګورئ، پښتني قبیلې، د دکتور لطیف یاد تالیف، ۲۱۱ مخ، لمن لیک .

خيل، علي زي، مسوزي، دولت زي، اسماعيل زي، لشكر زي، محمد خيل، ستاري خيل، فيروز خيل، نپيروني، سه پای، عبد العزيز خيل، ماني خيل، بر احمد خيل، بيداد خيل، اصغر خيل، صبوره خيل، احمد خيل، ساوزي، مست علي خيل، سلار خيل، خويداد خيل، علي خواجه خيل، سيد خيل، مير زای خيل، رابيا خيل، ممازي، ابا خيل، خدي زي، علي شير زي، ماموزي او پاړي۔[386]

په او سني وخت کې کرلانې پښتانه پر ډېرو قبيلو ويشل شوي دي چې دغينو مهمو قبيلو نومونه يې دادي:

دلازاک، اورکزي، منګل، هني، وردګ، اپريدي، ختک، ځدران، اتمانخيل، خوږيانې، پړبه، عبدالرحمن يا درمان، ځائي، توري، وزير، مسيد يا مسعود، ګوربز، دور، تنې، شيتک، بنوڅي، بنګښ، مقبل، سبري، مندوزي، اسماعيل خيل، زموخت يا زويمشت اوسبري چې دغې قبيلې بيا په ډېرو خيلونو، ښاخونو او څا نګو با ندې ويشل شوي دي۔[387]

کرلانې پښتانه نه يوازې په افغا نستان کې اوسي، بلکې په پښتونخوا، پاکستان او په هند کې هم استو ګنه لري ۰ کرلانې پښتانه په عمو مي ډول د ډيورنډ د پولي دواړو غاړو ته په داسې سيمو کې پراته دي چې د پوځي او سوق الجيشي پلوه ډېر اهميت لري، له همدې کبله ده چې کرلانې قبيلې د پولې دواړو خو اووته د دواړو هيوادونو افغانستان او پاکستان په برخليک کې مهم رول لوبوي چې دغه واقعيت همدا اوس هم موږ په عملي توګه ګورو او انکار ترې نه شو کولای ۰

کرلانې پښتانه په مجموع کې تورزن خلک دي ۰ دوی د خپل هيواد افغانستان سره ژوره مينه لري دسکندر، چنګيز، انګريز، روس او تر او سني وخته پورې واخله دوی دبلو سګرو او تيري کو نکو ځواکونو پر خلاف په ميراني راپورته شوي دی۔ ۰ له همدې کبله ددوی رول ددې هيواد په سياسي او ټولنيز بر خليک کې له پا مه نه شو غورځولای او ډېر مهم ګڼل کيږي ۰

386 حيات افغاني،۳۲۳ مخ دکرلانيو شجره ۰

387 پښتني قبيلې، ۲۱۲ مخ ۰

121.1 د هند په بنګال کې د کرلانې پښتنو واکمنې

که څه هم په هند کې د پښتني لودیانو په وخت کې کرلانیو پښتنو یو شمیر پو ځي دندې درلودلې، خو دوی په هغه وخت کې دومره مشهور نه وو ۰ د دوی د شهرت انګازې هغه وخت خپرې شوې چې په هند کې سوري واکمنانو واکمني درلوده او په اصل کې په هند کې دکرلانې قبیله د خپلو دوو نامتو شخصیتونو یعنې تاج خان کر لانې ۱۵٦٤ زیږدیز او سلیمان کرلانې ۱۵۵۵-۱۵٦۱ زیږدیز چې د جمال خان کر لانې زامن وو له کبله مشهوره شوه ۰[388]

121.1.1 تاج خان کرلانې

تاج خان کرلانی د هند په بیهار او بنګال کې دکرلانې پښتنو د واکمنی بنسټ ایښودونکی۔

د هند په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د تاج خان کرلانې او سلیمان کرلانې نومونه چې د سوري شیر شاه پوځي جنرالان وو د قنوج په جګړه کې لید لای شو ۰ دا هغه جګړه وه چې شیر شاه د مغولي واکمن همایون پر خلاف ګټلې وه او دغو دوو تنو کرلانیو دهغه خدمت په بدل کې چې شیر شاه ته یې کړي وو د شیرشاه له خوا دوی ته په خواص پور، ټانډه او د جنوبي بیهار په سیمو کې جاګیرونه ورکړل شول ۰

دغه دواړه ورونه ډېر هو ښیار او ځیرک اود ډېر ې پو هې اوسیاسي تد بیر خا وندان ول او شیر شاه ددواړو قدر او درناوی کاوه او په تیره بیا دتاج خان کرلانې وړتیا او بیسارې پوهې پر شیر شاه ډېره اغیزه کړې وه او نو موړی یې دخپل زوی جلال خان چې وروسته یې داسلام شاه لقب درلود ښوونکی او استاد ټا کلی و ۰

د اسلام شاه دواکمنی په وخت کې هم تاج خان د ډېر ځواک څښتن و او ډېر اعتبار یې پرې کاوه ان تردې چې دخپلې مړینې په وخت کې یې هم نو موړی ته دخپل نابالغ زوی فیروز شاه روزنه او پا لنه سپارلې وه ۰ دې له کبله چې پر اسلام شاه باندې تاج خان ډېر ګران و او پرده یې ډېر اعتماد کاوه، نو هغه امیران چې د اسلام شاه سره جوړ نه وو دتاج خان په مخالفت کې ولاړ وو ۰ کله چې بیا عادل خان

---

388 سید بهادر شاه ظفر کا کا خیل، پښتانه د تاریخ په رنا کې، ٦٤۰ مخ ۰

داسلام شاه پرتخت کښيناست نو دتاج خان کر لانۍ لپاره خبره نوره هم ګرانه شوه ۰ ددې لپاره چې تاج خان يو مدبر او دستر ځواک څښتن و،نو عادل شاه په څر ګنده تو ګه دهغه سره دخپلو اړيکو خرابول نه غو ښتل، خو په پټه او په زړه کې يې نوموړی نه خوښيده ۰

وروسته بيا چې دده په وړاندې دعادل شاه او نورو اميرانو په کړووړو کې بدلون رامينځ ته شو نو دی هم په چو په خو له د عاد لشاه له درباره وتښتيد او جنوبي بيهار ته لاړ ۰ په ۱۵۵۷ زيږديز کال کې چې دمحمد شاه سوري زوی بهادرشاه دعاد ل شاه پر خلاف برید وکړ نو تاج خان يې ملګر تيا کوله ۰

د عادل شاه تر مړينې وروسته چې بهادر شاه بيهار په خپله ولکه کې راووست، نو تاج خان يې د دغې صوبې ګورنر وټاکه ۰

په کال ۱۵٦٤ زېږ ديز کې تاج خان کر لانۍ پر بينګال برید وکړ او دبينګال او بيهار صوبې دده په ولکه کې راغلې او په دې ډول يې دهند په ختيز کې دکرلانيو پښتنو دواکمنۍ بنسټ کيښود ۰

لکه چې د مخه وويل شول چې تاج خان کرلانۍ يو مدبر پښتون او د سياست په رموزو پوه سړی و۔ هغه په دې پو هيده چې مغولي واکمن جلا ل الدين محمد اکبر دبيهار او بينګال دنيولو سره څومره ډېره ليوالتيا لري، له همدې کبله نوموړي له پيله دا پا ليسي غوره کړه تر څو په بيهار او بينګال کې خپله واکمني ټينګه او مستحکمه نکړي نو دمغو لو سره ډغرې وهل څه اسا نه کار نه دی ۰ همدا وجه وه چې نو موړي دمغولو دختيزو صو بود وايسرا ی خانزمان سره دوستانه اړيکي ټينګ کړل، خوژوند ورسره ملګر تيا ونکړه او دبينګال تر سو بې وروسته په ۱۵٦۵ زيږ ديز کال کې مړشو ۰

بايد زياته کړو چې مؤرخينو د تاج خان کرلانۍ د پوهې، زړورتيا او تدبير ډېره ستا ينه کړې ده۔ د هند د مغولي واکمن جلال الدين محمد اکبر د دورې د مشهور مؤرخ او د منتخب التواريخ د مولف ملا عبد القادر بدايوني ۹٤۷ - ۱۰۰۳ هجري په قول تاج خان کرلانۍ په پښتنو کې يو پوه، مدبر او فاضل شخصيت تير شوی دی۔[389]

121.1.2 سليمان کرلانۍ

د تاج خان کرلانۍ تر مړينې وروسته د هغه ورور سليمان کر لانی (۱۵٦۵ - ۱۵۷۲ زيږديز) د بينګال

389 http://en.wikipedia.org/wiki/Taj_Khan_Karrani

او بیهار د واکمنۍ پر ګدۍ کښیناست ۰

په ختیز هندوستان کې دسلیمان کر لانې د واکمنۍ دوره یوه روښانه او ځلانده دوره ګڼل کیږي ۰ سلیمان کر لانی هم دخپل ورور تاج خان کر لانې په څېر یو مدبر او هوښیار سیا ستپوه و ۰ دی دتا ج خان کر لانې د پا لیسۍ لاروی واو هغې پا لیسۍ ته یې نوره هم وده ورکړه ۰سلیمان کر لانې د خپل ورور تا ج خان کر لانې په څېر دمغولو دوایسرای خانزمان سره خپلې اړیکې خوږې کړې ۰ ده په بینګال کې د پښتنو دیوې پیاوړې واکمنۍ په جوړولو کې ستر رول ولو باوه ۰ سلیمان کر لانی په داسې وخت کې دچارو واګې ونیولې چې د سوري قبیلې بیلا بیل ښا خونه او څانګې لو مړی دخپل منځي جګړو او بیا د مغو لو سره دجګړو له کبله ځپل شوې وې او پښتانه په عمو مي تو ګه بې مشره پاتې ول او دغه دسیا سي واک نه بې برخې پښتانه چې د یوه لیډر شیپ په تلا ش کې ول دسلیمان کر لانې پر شا اوخوا راټول شول او نه یوازې یې دهغه په دربار کې یې منصبو نه تر لا سه کړل،بلکې دسلیمان کر لانې سیاسي او پو ځي قوت یې نور هم پیاوړی کړ ۰

سلیمان کر لانی یو ډېر پر هیز ګاره، په علم او پو هې مین او نیاو من واکمن و ۰ دده دعصر ټول مؤ رخین په دې خبرې سره یوه خوله دي چې نو موړی یو پر هیزګار او عادل واکمن و او دعالمانو او پو هانو ډېر درناوی او قدر یې کاوه او تل به دعالمانو او پو هانو په ټولې کې نا ست وو او ددوی د عالمانه ارشاداتو نه به یې خوند اخیست.

د بدایوني په قول کله چې اکبر پا چا ددې خبرې نه خبر شو چې سلیمان خان کر لانی په دومره زیاته اندازه دعا لمانو قدر او درناوی کوي،نو دهغه په زړه کې هم دا تلو سه او لیو التیا پیدا شوه چې هغه دې هم یو داسې ځای جوړ کړي چې عالمان او پو هان پکې راغونډ او ناسته پاسته ولري او په فلسفې او مذهبي مسائلو بحثونه وکړي ۰

د واکمنۍ په چارو کې هم سلیمان خان کر لانی یو بې تعصبه انسان و ۰ ده دمسلمانانو او هندوانو سره مساوي چلند کاوه ۰دده دواکمنۍ په وخت کې هندوان په ډېرو مهمو دولتي دندو ګو مارل شوي وو۔ یو بنګالی هندو رامانندا ګوها او دهغه زامن بها یا نندا، ګوننداا او سبا نندا لوړې دولتي څوکۍ درلودلې او ان چې د وزارتونو دندې یې هم تر لا سه کړې ۰ دبها یا نندا زوی سري هاري دسلیمان دزوی داؤد خان کر لانې دکو چنیوالي ملګری او دوست و ۰ کله چې داؤد خان کر لانې د واکمنۍد چارو واګې تر لا سه

کړې نو دسري هاري رتبه او منصب نور هم لوړ شو ۰ داؤدخان هغه ته دوزیر اعظم دنده ورکړه او دهغه سلا او مشورو ته به يې په درنه ستر ګه کتل ۰

1. د اوړيسا سوبه

د سليمان خان کرلانې دواکمنۍ دوخت يوه مهمه پېښه داوه چې اوړيسا فتحه شوه او دبينګال په واکمنۍ کې يې شا مله کړه ۰ په هغه وخت کې داوړيسا صو به يا ايالت ديوه هندو راجا په ولکه کې وه او ابر اهيم خان سوري چې دهر ځای نه نا هيلې شوی او دسياسي ځواک نه يې بر خې سا تل شوی وهغه اوړيسا دصوبې واکمن يا راجا ته پناه وړې وه او دهغه ځای راجا هم نو موړي ته په دې شرط پناه ورکړې وه چې دسليمان خان کر لانې پر خلاف به جګړه کوي او بينګال او بيهار به ورته فتحه کوي ۰ سليمان کر لانی هم دې وضعې او حالت نه ښه خبر و او ديوه منا سب وخت په لټه کې و ۰

په ۱۵٦۷ زيږ ديز کال چې مغولي واکمن جلا ل الدين محمد اکبر دراجستهان پرچتو رګړ باندې پر پوځي عمليا تو بو خت و سليمان کر لانی د خپل زوی بايزيدمړ ۱۵۷۲ زيږديز او خپل يوه جنرال کالا پهاړ تر مشرۍ لا ندې پر اړيسا برید وکړ او تر يوې خو نړۍ جګړې وروسته سليمان کر لانې ته داوړيسا سو به ور په بر خه شوه او دغه صو به يې دبينګال په واکمنۍ کې شا مله کړه ۰ ددې سوبې په تر سره کولوسره نه يوازې دسليمان کر لانې دواکمنۍ لمنه پر اخه شوه، بلکې له مالي پلوه هم ډېر پياوړی شو ۰ سليمان کر لانې په او ړيسا کې خپل يو وفاداره وزير ميا لودي چې په لودي خان سره هم مشهور و د اوړيسا دګورنر او خپل بل جنرال قتلو خا ن لوانی(لو ها نی) يې دپورې دسيمې ګورنر وټا که ۰

لکه چې دمخه وويل شول اکبر پا چا دخپلې واکمنۍ له پيله دا هوډ کړی و چې په هر ډول کيدای شي بايد په هند کې پښتانه دسياسي ځواک او برم نه يې بر خې کړي او دهمدې مو خې د تر لا سه کو لو لپاره يې مو قع لټوله ۰

د سليمان کر لانې واکمني داکبر پا چا په ستر ګو کې يو اغزی و او دی يې نشو زغملای ۰ له بلې خوا سليمان کر لانی هم يو مدبر او دسيا سي پو هې خاوندو او تر څو يې وسه رسيدله دپو ځي زور از مو ينې نه يې ځان ليرې ساته او په دې لړ کې يې ډېره محتا طا نه پا ليسي غوره کړې وه، سره له دې چې د هغه په واکمنۍ کې دبينګال، بيهار او اوړيسا په څېر زر خيزه سيمې او صو بې شا ملې وې اودهغه مالي وسايل او پو ځي ځواک ډېر پياوړی و ۰

په ۱۵٦۷ زیږ دیز کال کې کله چې دهند د ختیزو سیمو لپاره د مغو لي حکومت وایسرای خانزمان ووژل شو، نو سلیمان کرلانۍ له دې کبله خپه شو چې دده سره یې خوږې اړیکي درلودلې، خو سلیمان کر لانۍ بیا هم دخپل پوه او تجر به لرونکي وزیر لودي خان په سلا او مشورې سره هغه زړې پا لیسۍ ته دوام ورکړ او دمغولو دنوي وایسرای منعم خان سره یې هم دوستانه اړیکي ټینګ کړل او تر هغه پورې چې ژوندی و د خپل تدبیر او سیاسي پو هې په وجه یې په بینګال کې یې د پښتنو لپاره یوه پراخه او پیاوړي واکمني رامینځ ته کړه او پښتنو امیرانو ته یې دچارو اکې سپارلې وې،تر څو چې د مغولو دربار ته لاړ نه شي او دستر خو شال بابا په خبره دمغولو دمنصبو نو په هوس نه شي ۰ دا یو حقیقت دی چې دسلیمان کر لانۍ تر مړینې وروسته دپښتنو یو والي ته سخت زیان ورسید، ځکه دده تر مړ ینې وروسته یې زامنو هر یوه بایزید خان کر لانۍ او داؤد خان کر لانۍ دخپل پلار دپا لیسۍ پر خلاف ګا مو نه او چت کړل.[390]

2. دکوچ بیهار سوبه

دسلیمان خان کر لانۍ په وخت کې دکوچ بیهار دنیولو لپاره نو موړي خپل لوی پو ځي افسرکالا پهاړ ولیږه ۰ کالا پهاړ دبراهما پورترا دسیند نه هم ور تیر شو او دکاماتا جنرال شوکلادهواجا چې دکو چ بیهار دواکمن وشوا سنګها دریم زوی یې مات کړ او تر تیجپور پور ې یې چې اوس یې دینا چپو ر بولي او دبنګله دیش هېواد یوه ولسوالي ده پر مختګ وکړ اوپه دې تو ګه کو چ بیهار هم فتحه شو.[391]

لنډه داچې سلیمان کر لانۍ یو عادل او سوله خو ښوونکی واکمن و چې دده دواکمنۍ په وخت کې دبینګال او بیهار خلک خو شاله وو ۰ نوموړی په ۱۵۷۲ زیږ دیز کال کې له دې فاني نړۍ نه ستر ګې پټې کړې ۰

121.1.3 بایزید خان کرلانۍ

هغه وخت چې سلیمان خان کر لانۍ د ۱۵۷۲ زیږدیز کال د اکتوبر په میاشت کې وفات شو نو دهغه پر خای بایزید خان کر لانۍ (۱۵۷۲ زیږدیز) د بینګال پر تخت کښیناست ۰ تر تخت کښینا ستلو

---

390 http://www.banglapedia.org/httpdocs/HT/S_0593.HTM

391 http://en.wikipedia.org/wiki/Sulaiman_Khan_Karrani

وروسته هغه دخپل پلار سلیمان خان کر لانې پا لیسي او تګلاره پر یښودله او خطبه او سکه یې په خپل نا مه جاري کړه ۰ با یزید خان کر لانې نه یوازې دواکمنۍ په چارو کې دخپل پلار تګلاره پر یښودله، بلکې دهغو پښتنو امیرانو سره یې هم مخالفت پیل کړ چې دده دپلار دواکمنۍ په وخت کې یې ستر ستر منصبو نه درلودل ۰ ددې پا یله دا شوه چې ټول پښتانه امیران له ده نه په ډار

کې شول او دده پر خلاف یې ساز شو نه او منصو بې جوړې کړې چې مشري یې دسلیمان خان کر لانې یوه جنرال قتلو خان لوانې (لوهانې) ته ور په غاړه وه ۰ د همدې سازشونو په نتیجه کې با یز ید خان دخپل اوښې هنسو نو مې له خوا دخپلې واکمنۍ په اتلسمه ورځ ووژل شو ۰ دبا یزید وژنې دپښتنو امیرانو تر مینځ قبیلوي شخړو او تعصباتو ته لمن ووهله او امیران په خپلو کې په جلا جلا ډلو سره وویشل شول او دتخت دنیولو لپاره دري تنه کاندیدان ودریدل چې دغو شخړو او لا نجو ته دسلیمان خان کر لانې وفاداره وزیر میا لودي دپای ټکی کیښود او هغه داچې د سلیمان خان کر لانې دویم زوی داؤد خان یې دواکمنۍ لپاره مناسب تن وباله او په دې تو ګه داؤد خان کر لانې دبینګال دپښتون واکمن په تو ګه دواکمنۍ پر ګدۍ کښیناست[392]

121.1.4 داؤد خان یا داؤد شاه کر لانی

لکه چې د مخه وویل شو داود خان کر لانی (۱۵۷۲- ۱۵۷۶) د خپل ورور با یزیدخان تر وژلوو روسته دبینګال دکرلانیو پښتنو پر تخت تکیه وکړه چې په دې برخه کې لودي خان دده سره مر سته وکړه او نور پښتانه امیران یې په دې خبرې قا نع کړل چې داؤد خان دواکمنۍ لپاره یو منا سب شخص دی ۰

لودي خان یو ریښتینی پښتون وچې دټولو پښتنو یو والی یې غو ښت ۰دده دتد بیر او پو هې په وجه تر ډېره حده پورې په پښتنو کې یو والی رامینځ ته شو ۰ داؤدخان کرلانې هم تر یوې مودې پورې دلودي خان سلا او مشورو ته غوږ نیوه، خو دې حا لت ډېر دوام ونکړ ۰ داؤدخان یو احسا ساتي ځوان و او ویل به یې چې زه دومره پر اخه واکمني لرم او بیهار، بینګال او او ړیسا زما دواکمنۍ په ولکه کې دي نو زه د اکبر پا چا نه په څه کې کم یم ۰ هماغه و چې دخپل ورور با یز ید خان په څیر یې خطبه او سکه په خپل نامه جاري کړه او دمغولود حکومت په څېر خپلو وزیرانو او امیر انو ته یې القاب ور کول او ځان یې په

---

392 http://www.banglapedia.org/httpdocs/HT/B_0365.HTM

هندوستان کې دیوه جلا او خود مختاره واکمن په توګه اعلان کړ .

اکبر پا چا چې دده دپلار سلیمان کر لانې له وخته دپښتنو واکمنې نه شوه زغملی نو ځکه یې خپل وایسرای منعم خان ته امر وکړ چې پر بیهار برید وکړي. لکه چې دمخه وویل شول دبایزید خان کرلانې تر وژلو وروسته په پښتنو کې یووالی کمزوری شوی و،که څه هم دلودي خان دتدبیر او سیاسي پوهې په بر کت دغه پښتانه سره لږ شانته راغونډ او یو مو تی شوي وو، خو دځینو امیرانو تر مینځ لا هم مخا لفتونه او تر بګنیو شتون درلود .دې مخا لفتونو دداؤدخان کر لانې په زړه کې شکو نه راپیدا کړل او په پا یله کې یې لو مړی د لودیخان زوی او تر هغه وروسته یې دهغه پلار لودي خان وواژه . دلودي خان او دهغه دزوی وژنې نه یوازې دپښتنو یووالي ته سخت زیان ورساوه، بلکې دهغه په وژنې سره دمغولو په وړاندې یو لوی خنډ هم له مینځه ولاړ اودا یو داسې حقیقت دی چې دمغو لي دربار مؤرخ ابو الفضل هم پرې اعتراف کوي او ایي:

"دا داکبر پا چا نیکمر غي وه چې دهغه دښمن داودخان کر لانې پخپله لودي خان وواژه اودا هغه کار و چې داکبر پا چاپو ځیانو دډېرو هلو ځلو سره سره هم نه شو تر سره کولای . "[393]

د پو رتنی خبر ې نه دا جوتیږي چې لودي خان د څو مره ستر شخصیت خاوند و چې مغولي واکمن اکبر هم د هغه نه ویره درلوده او دهغه دځپلو په فکر کې و . دتاریخي مستندو روایتو نو پر بنسټ داؤد خان کر لانی، میالودي یا لودي خان د قتلو خان لوانې، ګجر خان کر لانې او سري هاري چې دداؤد خان دکو چنیوالي ملګری و په لمسون وواژه . دلودي خان تر وژنې وروسته قتلو خان لوانې ته دوزارت دنده او سري هاري ته دو کالت دنده ورکړل شوه . قتلو خا لوانې او سري هاري نه یوازې چې دلودي خان په وژنه کې لاس درلود،بلکې دغو دواړو امیرانو په ډېرو نازکو شیبو کې دخپلو شخصي ګټو لپاره دمغولي دربار سره سازشو نه هم وکړل او دداؤد خان کر لانې دواکمنی بیړی یې ډوبه کړه .

د داؤدخان کر لانې له خوا دلودي خان وژنې په پښتنو کې ډېره ستره بې اتفاقي رامینځ ته کړه . اکبر پا چا خو هسې هم پښتنو ته په او بو کې خولې خولې کیده او داسې ښه وخت په لاس ورغلی و چې باید له هغه نه یې ګټه اوچته کړې وای . همداو چې اکبر پا چا د جو نپور ګورنر منعم خان په دې کار وګوماره چې باید دداؤد خان سره جګړه وکړي . ویل کیږي چې داؤدخان ۱٤۰۰۰ تنه پلي سر تیري،

---

393 پښتا نه د تاریخ په رڼا کې، ٦٤٩ مخ .

٤٠٠٠٠ تنه سپاره، ٢٠٠٠٠ توپک اوتوپونه او ډول ډول وسلې، ٣٦٠٠ جنګي ها تیان او په سلګونو جنګي بیړۍ درلودلې او په خپل پو ځي ځواک ډېر نازیده او ځان یې ددې جوګه ګانه چې داکبر پا چا سر ه وجنګیږي ۰ هماغه و چې منعم خان په ١٥٧٣ زیږدیز کال کې دیوه لوی پوځ سره پر بیها ر برید وکړ ۰

که څه هم داود خان کر لانۍ دمغولو سره دمقا بلې لپاره یو ستر پوځ درلود،خو هغه پټنې ته لاړ او په پوځي کلا اوچاونې کې پا تې شو ۰ مغولي پو ځونو کلا محا صره کړه، خو مغو لي پو ځو نو دغه محاصره نه شوه ما تولی ۰

په پای کې په ١٥٧٤ زیږدیز کال کې پخپله اکبر پا چا په داسې حال کې چې دوه نور جنرالان تودرمل او مان سینګ هم ورسره ملګري ول پر حاجي پور برید وکړ، ځکه چې داؤدخان او دپټنې دکلا محصو رینو ته به خواړه او دجګړې سامان الات دحا جي پور نه رارسیدل ۰ اکبرپا چا دحا جي پور سیمه تر یوې سختې خو نړۍ جګړې نه وروسته فتحه کړه چې دحا جي پور په نیولو سره د پښتنو زړونه مات شول، خو سره له دې هم داؤدخان کر لانۍ دکلا پر ینبو دلو ته تیار نه و ۰ ویل کیږي چې هغه په نا خبرۍ کې نشه کړل شو او په هماغه شپه یې دکلا نه راویو ست او دبینګال خو اته یې بوته ۰ ویل کیږي چې دکلا دخالي کو لو کار ګوجر خان کر لانې ته سپارل شوی و او په دې کار سره پښتنو ته ډېر زیان ورسید ۰ هغه داچې مغو لو دشپې په توره تیاره کې دسیند بند مات کړ او دومره او به ډېرې شوې چې دپښتنو دپوځ ډېر شمېر هاتیان او اسونه دمغولو دپوځ لا س ته ورغلل او ډېر شمېر پښتانه په سیند کې لا هو شول او ډېر شمېر هم دمغولو دتورو په ګوزارونو ووژل شول او پا تې یې ژوندي ونیول شول ۰

د مغو لو له خواپټنې دکلا ترنیو لو وروسته په ١٥٧٤ زیږ دیز کال کې مغولو له پښتنو نه سراج ګړهه، مو نګهیر، بهاګلپور او کول ګنک او نورې ډېرې سیمې ونیولې ۰

تر دې ماتې وروسته داود خان کر لانۍ بینګال ته لاړ اود بینګال دخوندي ساتلو لپاره یې د تیلو ګړهي دره پیاوړې کړه ۰ دا دره د لر غو نو زما نو راپدېخوا دشمالي هند نه بینګال ته دور ننوتلو دروازه ګڼله کیدله ۰ ددې درې دخوندي سا تلو لپاره سوري شیرشاه د خپلې واکمنۍ په وخت کې یوه کلا هم جوړه کړې وه ۰ مغولي واکمن اکبراګړې یعنې خپلې پلا زمیښې ته دېرته ستنیدو په وخت کې منعم خان د بیهار او بینګال ګورنر وټاکه او تودرمل یې هم ورته پر ښبود څو له ده سره مر سته وکړې ۰ په دغه وخت کې د مغولي پوځ مشر منعم خان هم داودخان تعقیباوه او دخپلو پو ځو نو سره یې ځان دتیلو ګړهي درې

ته ورورساوه، خو منعم خان ته پردې دري باندې تير يدل څه اسا نه خبره نه وه ۰ دمنعم خان په دغې ستو نزې کې د سيمې ځينو ځمکه والو مر سته وکړه او هغه ته يې بينګال ته د ننوتلو لپاره يوه بله پټه لاره ور وښو دله ۰منعم خان هم خپلې پو ځې ډلګۍ له دې لارې دبينګال خو اته وليږلې ۰ کله چې دتيلو ګړ هې دري دساتنې پو ځيانو چې د داؤدخان کر لانې له خوا په دې دندې ګومارل شوي وو دا حالت وليد نو دتيلو ګړ هي دره يې پر يښودله او د تيلو ګړ هي دره دکو مې جګړې پر ته د مغولو دپوځ په ولکه کې راغله ۰ دمغولو له خوادتيلي ګړ هي دري نيول په حقيقت کې دټول بينګال دنيولو په مانا و ۰ داؤدخان کر لانې چې ددې حالاتو نه خبر شو نو خپله پلا زمينه يې دټاندې نه ستګاون ته وليږدوله،خو منعم خان د ۱۵۷٤ زيږديز کال دسپتمبر په ميا شت کې يې ټانده او ستګاون هم ونيول او په بينګال کې يې خپل وړاندې تګ ته دوام ورکړ ۰

په کال ۱۵۷۵ زيږديز کال کې دتوکاري په سيمه کې چې اوس دبينګال دميد ناپور په ولسوالۍ پورې اړه لري دمغولو او پښتنو تر مينځ يوه خو نړۍ جګړه وشوه او سوبه دپښتنو په بر خه شوه چې په دې جګړه ې ددا ؤدخان پوځي جنرال ګو جر خان ښه وځليد، خو له بده مر غه پښتانه پو ځيان دغليم دپوځ په ولجو را ټولولو بو خت شول ۰ مغولي پوځ چې ددوی دغه حالت وليد نو بيا يې پر دوی بريد وکړ چې په پا يله کې ډېر پښتانه پو ځيان ووژل شول

او ډېر شمېر دمغو لو پو ځيانو ته ژوندي په لاس ورغلل چې دپښتنودا ټول جنګي بنديان دمنعم خان په امرووژل شول او ددوی دککريو او سرونو نه يې اتيا لوړې مناري جوړې کړې ۰

دې ماتې دپښتنو پوځي او جنګي مورال او ددا ؤدخان پوځي پياوړتيا ته سخت زيان ورساوه ۰ مغول چې دپښتنواو داؤدخان کر لانې په حال ښه خبر وو، نو داؤدخان ته يې ديوې شيبې لپاره دساه ايستلو مجال او وخت نه ورکاوه او تر دې ما تې وروسته داؤدخان کرلا نې دکټک کلا ته لاړ اوهلته يې پناه يوړه او دمغولو سره يې دسولې دخبرو غو ښتنه وکړه او دسولې خبرې اترې پيل شوې ۰ که څه هم مغولو جګړه ګټلې وه، خو جګړو دوی هم ځپلي وو نو دوی هم مجبور شول چې د داؤدخان سره دسولې خبروته غاړه کيږدي ۰ په پای کې ددوی تر مينځ يو ټرون لا سليک شو چې دهغې له مخې داؤدخان کر لانې دبيهار او بينګال صو بې مغولو ته ورکړې او داوړيسا صو به د داؤدخان سره پا تې شوه، خو پښتنو اميرانو په بيهار او بينګال کې دمغولو ځواک ونه مانه او په دغو سيمو کې يې له مغولو سره جنګونه کول، په تېره بيا دبينګال شمالي او دبيهار جنو بي برخې د پښتنو په لا س کې وې ۰

تر دې ټرون شپږ میا شتې ورو سته منعم خان د ۱۵۷۵ کال داکتو بر دمیا شتې په ۲۳ نېټه مړ شو ۰ دمنعم خان تر

مړ ینې وروسته داؤدخان بیا دبیهار او بینګال د نیولو هوډ وکړ، هغه په ډ ېرې چو پتیا سر ه پر بینګال برید وکړ او خپله زړه او پخوانۍ پلا زمیښه ټاټوبې بیا په خپله ولکه کې راوسته او دتیلو ګر هي دره بې هم ښه پیاوړې کړه ۰ د داؤدخان کرلانې دې نا ببره بریدونو په بینګال کې مغولي پو ځو نه وویرول او هغوی دجګړې نه پر ته بینګال

اکبر پا چا چې په خپلې دارالخلا فه یا پلا زمیښې اګره کې ددې پیښو نه خبر شو نو دخا ن جهان او تودر مل تر مشرۍ لاندې بې یو ستر پو ځ دبینګال دبیا نیولو لپار ه وګو ماره او دغه پوځ د ۱۵۷۵ زیږ دیز کال دنوامبر په

میا شت کې د اګرې نه دبینګال په لور وررروان شو او بها ګلپور ته نږدې د بینګال نه دمغو لو تښتیدلی پوځ هم ورسره یو ځای شو، خو دې تښتیدلي پوځ دومره ویرې اخیستی و چې دنوي پوځ سره په سختۍ دبینګال دتلو لپاره چمتو شو ۰

داځلې داؤد خا ن کر لانې د تیلي ګړ هي دپیاوړتیا لپاره ۳۰۰۰ تنه پښتا نه ګو مارلي ول، خو دیوه خو نړۍ جګړې په ترڅ کې مغول په دې وتو انډل چې دا مهمه دروازه ونیسي ۰ خانجهان دټانډې خواته مخه کړه او داؤد خان دده سره د مقا بلې لپاره دراج محل دره نیولې وه او دلته داؤد خان کر لانې خپل ځواک دومره پیاوړی کړی و چې مغول پو ځو نه بې پوره اووه میا شتې ایسار او ځای پر ځای تم کړل ۰ دې اووه میا شتني ایسارتیا، دخوړو کموالي او دپر له پسې بارانونو اورښت دمغولي پو ځو نو زړونه وغورزول۔

پردې بر سیره مغولي پوځ چې زیات شمېر بې سني مذ هبه ول د حسین قلي بیګ چې اکبرپا چا ورته دخانجهان لقب ورکړی او شیعه مذ هبه و تر مشرۍ لاندې جګړې کو لو ته تیار نه ول او دا داسې عوامل ګډل کیدای شي چې د داؤدخان کر لانې په ګټه وو ۰ خانجهان چې دخپل پوځ حالت درک کړ نو سمدلاسه بې داکبر پا چا نه د خوراکي تو کو او پوځیانو دور لیږلو غو ښتنه وکړه او اکبر هم هغه ته سمد لاسه خوراکي توکي او سا مان الات او پو ځیان ور ولیږل ۰له بلې خوا خانجهان د داؤدخان کر لانې دوه مشهور امیران یعنې سري هاري او قتلو خان لوانۍ دځان پلو یان کړ ل ۰ دادواړه کسان هغه خلک وو چې

داؤد خان ددوی په لمسون او شیطانیِ خپل نامتو او مدبر وزیر لودي خان وژلی و ۰ په دې حسا سه شیبه کې چې د داؤد خان کر لانې اود ټو لو پښتنو ژوند،عزت او نا موس له خطر سره مخا مخ و، ددؤدخان ددغو دووتنو یادو شوو امیرانو غداري یو نه بخښل کیدونکی جرم ګڼل کیږي ۰ ویل کیږي چې سري هاري د مغولو دپوځ جنرال خانجهان ته د داؤد خان کر لانې دواکمنیِ مهم سندونه او پو ځي پټ رازونه ور څر ګند کړل او مغو لي جنرال د هغه سره داژمنه وکړه چې په بدل کې به ورته دجیسور سیمه دجا ګیر په ډول ور کوي ۰ سري هاري نه یوازې داچې مهم سندونه او پټ پو ځي رازونه دمغولو په واک کې ورکړل، بلکې په دې نا زک وخت کې یې ددؤد خان کر لانې ټوله خزانه په کښتیِ کې بار کړه او په پته یې دخپل جا ګیر سیمې جیسور ته ورسوله او خپل ورور یې هم له ځانه سره بوت ۰ په همدې تو ګه قتلو خان لوانې هم د مغو لو سره ژمنه وکړه چې په جګړه کې به د مغو لو په ګټه کار کوي چې په بدل کې ورته مغولو په اوړیسا کې دجاګیر د ورکولو ژمنه وکړه ۰

د مغو لو سره د راج محل ترجګړې دمخه داؤد خان کر لانې ته دا پته ولګیدله چې سري هاري چې ده پرې اعتبار او باور درلودله ده سره غداري کړې، نو دی په د ې خبره دو مره نا هیلی او نا امیده شو چې سمدلاسه دراج محل په ډګر کې د مغو لو سره جګړې ته چمتو شو ۰ دا فیصله کوونکي جګړه د ۱۵۷۶ زیږدیز کال د جولای دمیا شتې په ۱۲ نیټه دراج محل په ډګر کې وشوه ۰ دهندي تا ریخو نو په قول په دغه جګړه کې داؤدخان کر لانې پخپله د یوه زمري په څیر دمغولي دښمن سره تر پا یه وجنګید ۰

دراج محل جګړه دکر لانې پښتنو او مغو لو تر مینځ وروستنیِ فیصله کوونکې جګړه وه ۰ له بده مر غه په دغه جګړه کې د داؤد خان کر لانې د پو ځ یو ډېر تو ریالی افسر جنید خان چې هغه هم کر لانې پښتون اود داؤد خان کر لانې له تر بورانو نه ګڼل کیده هم دجګړې په پیل کې ډېر سخت ژوبل شو، خو سره له ې هم چې ژوبل و په میرانې سره و جنګید،خو ورو سته بیا د مغو لو له لا سه ووژل شو ۰ همداراز په دغه جګړه کې د داؤد خان کر لانې دپوځ یو بل نو میالی افسر کا لا پهاړ هم سخت ژوبل شو۔ د دې پیا وړو افسر انو په وژلو سره دجګړې په ډګر کې دپښتنو پو ځیانو مورال کمزوری او پښې یې سستې شوې او ماته یې وخوړه ۰ په دغه وخت کې داؤد خان کر لانی چې دزمري په څېر جنګېده د مغو لي دښمن لا س ته ورغی ۰ مغولي جنرال خا نجهان دده دوژلو امر وکړ چې تر وژلو ورو سته یې سر له تنې غوڅ او داکبر دربار ته ولیږل شو ۰

دراج محل جګړې په ختیز هند یعنې بینګال،بیهار او اوړیسا کې د پښتنو واکمنیِ ته دپای ټکی

کیښود ۰

د تاریخ خانجهاني ۱۰۲۱ هجري دلیکوال نعمت الله په قول دراج محل په ډګر کې دپښتنو د ماتي سبب دداؤدخان کر لانې سره دده د دوو تنو امیر انو یعنې قتلو خان لوا نې او سري هاري غداري وه۔

د هند د منځنیو پیړیو دتا ریخ دیوه زده کوونکي په تو ګه زما ددې مقالې دلیکوال په اندکه څه هم پخپله داؤد خان کر لانی یو زړور واکمن و خو ځینې سترې تیر وتنې یې هم کړې دي چې زه یې ځینې بیلګې په لاندې ډول پر ګو ته کوم:

1. داؤد خان کر لانې با ید دخپل پلار سلیمان کر لانې پا لیسي تعقیب کړې وای او ډېر احسا سا تي ګا مو نه یې نه وای او چت کړي دمغو لو سره یې دسازش او نرمی لاره غوره کړې وای ۰
2. ده باید پر خپلو دوو تنو لوړ پورو چا رواکو یعنې قتلو خان لوا نې او سري هاري باندې دومره زیا ت باور او اعتبار نه وای کړی ۰
3. داود خان باید دقتلو خان لو انې او سري هاري په لمسون خپل نامتو امیر لودي خان نه وای وژلای، ځکه چې لودي خان چې کوم خد متو نه ده ته کړي و هغه یې با ید له یاده نه وای ایستلي ۰
4. داؤد خان باید هیڅکله هم دمغو لو سره دسولې په تړ ونو باور نه وای کړای، ځکه چې مغول په هر وخت او شیبه دې ته چمتو وو چې د پښتنو ځواک وځپي [394]

394 د داؤدخان کر لانې دواکمنی په اړوند زما(ددې مقالې دلیکوال)یا دداشتونه

پای